د افغانستان د خپلواکۍ بېرته اخیستلو د سلم کال په ویاړ

# تاریخ څه ته وایي؟

لیکوال: اي، ایچ، کار
ژباړن: پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ

بسم الله الرحمن الرحيم

د افغانستان د خپلواکۍ بېرته اخیستلو د سلم کال په ویاړ

---


**د کتاب ځانګړنې:**

**نام کتاب:** تاریخ څه ته وايي؟

**لیکوال:** اي، ایچ، کار

**ژباړن :** پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ

**سال چاپ:** ۱۳۹۸ هـ ش

# یادښت

دا کتاب د افغانستان د خپلواکۍ د سلم کال په ویاړ چاپ شوی دی.

په همدې مناسبت د جلالتمآب جمهور رییس محمد اشرف غني له هدایت سره سم د ګڼو نورو چارو تر څنګ یو زیات شمیر کتابونه هم لیکل شوي، ژباړل شوي او خپاره شوي دي.

شاه امان الله او د استقلال د تر لاسه کولو په مبارزه کې د هغه نورو ملګرو ارزو لرله چې افغانستان په واقعي معنا مستقل او د پردو له منګولو راوتلی هیواد وي. دوی دغه سپېڅلي هدف ته د رسېدو لپاره د هیواد ترقي ته توجه واړوله.

په اماني دوره کې غلامي منع شوه. په مرکز او ولایتونو کې ګڼ ښوونځي پرانیستل شول. خارجي هیوادونو ته محصلان واستول شول چې ځوانان نوي علوم او مهارتونه زده کړي. د مطبوعاتو وده چټکه شوه. د وګړو تر منځ د مساوات د اصل رعایت قانوني بڼه خپله کړه. نجونو او ښځو د زده کړې حق تر لاسه کړ. هیواد په لومړي ځل د اساسي قانون څښتن شو. د دولت د درې ګونو قواوو عصري کولو او سره بېلولو ته توجه واوښته چې د استبداد په مخنیوي کې اساسي مرسته وشي. ګڼ شمېر قوانین او مقررات تدوین شول چې د هر چا د صلاحیت حدود معلوم وي او په دولتي چارو کې د خودسري مخه ونیول شي. مالیاتي سیستم عصري شو، د جنسي مالیې ځای نقدي مالیې ونیو. له مختلفو هیوادونو سره سیاسي روابط ټینګ شول او افغانستان له هغې انزوا راووت چې د هیواد د خپلواکۍ مخالفانو ورباندې تحمیل کړې وه. د اقتصاد د ودې لپاره مهم اقدامات پیل شول. افغانستان ورو ورو

پـه یـو داسـې هیواد بدلېـده چې د پـردو لـه احتیاجـه راوتلـی وي. اوس مـوږ ته لازمه ده چـې د وطـن د ترقـي لپاره شـوی مـزل جـاري وسـاتو او د ناتمام فصل بشـپړولو ته ملا وتړو.

د خپلواکـۍ د سـلم کال پـه مناسـبت د اسـتقلال د پاکـو شـهیدانو، غازیانـو او مخکښـانو د روح د خوشـحالولو یـوه ډېـره ښـه ذریعـه همـدا د کتابونـو خپـرول او د معرفـت د مشـالونو بلـول بلـلای شـو. لـه ټولـو هغـو لیکوالـو مننه کـوو چې پـه دې بختـور مناسـبت یـې د کتابونـو پـه لیکلـو، ژباړلـو او چـاپ ته چمتـو کولو کـې برخه واخیسـته. پـه اوسـنۍ پرمختللې زمانـه کې د اسـتقلال د سـاتلو او د واقعي خپلواکۍ د لرلـو لپـاره پـکار ده چـې پوهـه خپـره شي، فرهنـگ وغوړېـږي، مهارتونـه زیات شي او وگـړي د ښـه ژونـد کولـو پـه چـل پوه شي. شـاه امـان الله د لـوی اختر په مناسـبت یـوه وینـا کـې ویلي وو چـې: «دا د قلـم ورځې دي، نه د تـورې.» د کتابونـو د دې لړۍ خپـرول د لیکوالـو د ملاتـړ او د هغـوی د آثـارو د چـاپ یو بختـور باب دی چـې ادامه بـه مومي.

پـه درنښـت

اسدالله غضنفر

د جمهور رییس فرهنگي سلاکار

کابل/۱۳۹۸

# فهرست

| | |
|---|---|
| یادښت | و |
| نظر یک استاد در باره این اثر | ۱ |
| د مؤلف لنډه پېژندنه | ٤ |
| سریزه | ٦ |
| مورخ او د هغه حقایق | ۱۲ |
| جامعه او فرد | ۳۸ |
| -۳- | ٦۸ |
| تاریخ، ساینس او اخلاق | ٦۸ |
| -۴- | ۱۰۳ |
| په تاریخ کې علت موندنه | ۱۰۳ |
| ـ۵ـ | ۱۲۷ |
| تاریخ د ترقۍ په حیث | ۱۲۷ |
| پراخېدونکې غاړې | ۱٥٤ |
| ښکارندوی Index | ۱۸۰ |
| د اصطلاحاتو فهرست او معنی GlossRY | ۱۸۸ |
| د اروابناد پوهاند محمد حسن کاکړ خپاره شوي اثار | ۱۹۳ |

# نظر یک استاد در باره این اثر

چند سال پیش در محضر مرد دانشمندی بودم که برمن حق استادی و در علوم ادبی مقام شامخ انکار نه شدنی داشت در آنجا صحبت از تاریخ تحصیل و تعلیم آن به میان آمد. آن مرد بزرگ می گفت : تاریخ تحصیل نه میخواهد چون بخواهند درین رشته مطالعه ای بنمایند کافی است .کتاب های محمد بن جریر طبوی(وفات ۳۱۰ هجری) تاریخ ابو الفضل بیهقی (وفات۴۵۱ ) زین الاخبار عبدالحی ضحاگ گردیزی، راحة الصدرور ابوبکر محمد راوندی، تجزیة الامصار و تجزیة الاثار معروف به تاریخ وصاف شهاب الدین عبدالله شیرازی ملقب به وصاف الحضره ( وفات ۶۹۸ )، ومجمل التواریخ والقصص و امثال آنرا بخوانند و مطلبی را از آنها استخراج و بیان نماید .

این بود نظر مرد دانشمندی راجع به تاریخ که چند سال قبل ازین محضر مفتتم علمی داشت. طرفداران این نظر هنوز هم در کشور ما زیادند. عده ای از نویسندگان مخصوصاً آنهایکه تابع مکاتب فکری قدیم، هستند عقیده دارند که با آموختن مقداری سواد و مطالعه کتب تاریخ از تالیفات قدما بزبانهای عربی یا فارسی یا هر دو می توان تاریخ را مطالعه و در صورت داشتن ذوق سلیم حتی می توان آنرا تالیف کرد. باین ترتیب ماخذ غالب ما در تاریخ نویسی آثار کتبی و روش تحقیق ما (تابع ذئق سلیم که لاابد شخصی است)نویسندگان بوده .

علت همه اینها حتماً بی توجهی ، نداشتن معلومات کافی راجع به فلسفه

تاریخ روش تحقیق و نگارش آن و عدم وجود ماخذ درین مباحث و موضوعات می باشد . راستی کتابها ی که در فلسفه تاریخ بحث در موضوع تاریخ و بروش نگارش آن، نوشته شده بزبانهای افغانستان پشتو و دری بسیار کم بوده و حتی بزبانهای اروپائی هم از شمار انگشتان تجاوز نه می کند .

وقتی شنیدم همکار ارجمند من کاکر مشغول ترجمه کتاب تاریخ چیست؟(ای،اچ،کار) است باو در اشتغال درین امر تحسین گفتم . این کتاب را چند سال قبل در انگلستان بوسیله همین دوست عزیز که در آنوقت ها مشغول تحصیل در پوهنتون لندن بود دیده و خوانده بودم .

کار در تاریخ معاصر نه تنها مورخی است برجسته و نامدار و دارای آثاری ارزنده چون انقلاب بولشویک در سه جلد ( ۱۹۱۷ــ۱۹۲۳ )،روز فترت ۱۹۲۳ــ۱۹۲۴ ، و سوسیالزم در یک کشور ، ۱۹۲۴ــ۱۹۲۶ در سه جلد بلکه مردی صاحب نظر در فلسفه تاریخ و صاحب بصیرت خاص در تاریخ نویسی می باشد. کتاب حاضر مثال خوبی است برای اینکه او را در شمار مردان بصیر در تاریخ و تاریخ نویسی بیارد. همچنانکه مولف فاضل این کتاب مردی است دارای احاطه کامل در تاریخ مترجم محترم آن ښاغلی کاکړ که به حق او را باید مورخ جوان گفت مردی است صاحب مطالعه و تجربه کافی در مطالعه تاریخ و تالیف آن و مخصوصاً تاریخ معاصر افغانستان.ښاغلی کاکړ مطالب این کتاب را در مجالس بحث انگلستان شنیده و در آنجا در موضوعات مختلف نظریات مولف بحث نموده است و باین ترتیب شاید وارد ترین شخصی است در افغانستان به نظر مولف این کتاب ومطالب کتاب .برای من مسیر نیست راجع به انشای کاکر در پشتو قضاوت کنم،ولی با آشنایی که به نوشته های او درین زبان دارم می دانم ساده و روان می نوسید. این خوصوصیت درین ترجمه او نیز موجود است، ترجمه کتاب کار به زبان دیگری (پشتو) کار آسانی نیست اما کاکر از عهده آن بخوبی در آمده است.

مطلب قابل توجه در ترجمه کتاب تاریخ جیست؟ دقت ترجمه آن است. کاکر با آنکه سعی می کند مطالب را ساده بنویسد جداً متوجه است منظور مولف فوت نگردد. باین ترتیب کار خود را بیشتر قابل اعتماد ساخته است.

در پایان این تذکار مختصر باید بگویم که حسن کاکر با ترجمه کتاب تاریخ

چیسـت؟ کار بسـیار مفید علمی را انجام داده اسـت. امیدوارم کار ایشـان مقدمه ترجمه و احیانـاً تالیفـات دیگری در فلسـفه تاریخ و تاریخ نویسـی باشـد، تاباین وسـیله تاریخ در جامعـه مـا بـه معنـای که امروز به آن میدهنـد مطالعه و تحقیق و تدریس شـود . برای مترجـم محترم توفیق بیشـتری در کارهای علمـی میخواهم .

میر حسین شاه
۲۸ سرطان ۴۹
پوهنځی ادبیات

# د مؤلف لنډه پېژندنه

اي. ايچ. کار[١] پـه ۱۸۹۲ کـې زېږېدلـی او پـه لنـدن کـې يـې د مر چنـټ تيلرز په ښـوونځي[٢] او پـه کيمـبرج کـې يـې د تـرې نټي پـه پوهنځي[٣] کـې تحصيل کـړی دی. پـه ۱۹۱٦ کـې د باندنيـو چـارو پـه وزارت کـې شـامل شـو، وروسـته تـر دې چـې پـه هغـه وزارت پـورې اړونـدې يو شـمېر داخـلي او بهرنۍ دنـدې تر سره کړې پـه ۱۹۳٦ کـې يې اسـتعفی وکـړه او دويلـز[٤] د پوهنتـون په پوهنځـي[٥] کې د بين المللي سياسـت دويلسـن پروفيـسر[٦] مقـرر شـو. لـه ۱۹۴۱ څخه تـر ۱۹۴٦ پـورې د ټايمـز[٧] ورځپاڼې مرسـتيال مديـر او لـه ۱۹۵۳ څخه تـر ۱۹۹۹ پورې د ليـول[٨] په پوهنځ(اکسـفورډ) کې پـه سياسـت کـې ټيوټر[٩] او پـه ۱۹۵۵ کې د کيمـبرج د ټرې نټي په پوهنځـي کې فيلو[١٠] مقـرر شـو. د ده يـو شو خپرونـې دا دي: رومانتيکـي جلا وطني[١١] (۱۹۳۳)، شـل کلن

---

1 . Edward Hallet Carr
2 . Merchant Taylors school
3 . Trinity College
4 . Wales
5 . University College
6 . Wilson professor
7 . The Times
8 . Balliol

۹ هغـه ښـوونکی چې د پوهنتون د لومړۍ شـهادتنامې دپاره د زده کوونکـو د تحصيل او هدايت کولو چـارې ور پـه غـاړه وي(م) Tutor .

۱۰ د انگلستان په ځينو پوهنتونونو کې د مديره هيئت غړی(م) Fellow.

11 . The Romantic Exiles

بحران ۱۹۳۹-۱۹۱۹ [1](۱۹۳۹)، د سولې شرایط[2] (۱۹۴۲)، پر لویدیځې نړۍ د شوروي اتحاد اغېزه[3] (۱۹۴٦)، نوې جامعه[4] (۱۹۵۱) او د شوروي روسیې د تاریخ په باب یو لړ کتابونه چې دغه لاندنې یې تر اوسه وتلي دي:

د بولشویک انقلاب[5] ۱۹۳۳-۱۹۱۷ درې جلده (۵۳-۱۹۵۰)، وقفه ۱۹۲۴ – ۱۹۲۳[6]، (۱۹۵۴)، سوشلیزم په یوه ملک کې ۱۹۲۴ – ۱۹۲٦[7] درې جلنده(٦۴ – ۱۹۵۸)، او د پلان شوي اقتصاد بنسټونه ۱۹۲۹ – ۱۹۲٦[8]، (۱۹٦۹). وروستی کتاب ۹۰۰ مخه دی او د ار. دیبلو دی ویس[9] په همکارۍ لیکل شوی دی.

1 . The Twenty Years Crisis, 1919-1939
2 . The conditions
3 . The Soviet impact on the Western World
4 . The New Society
5 . The Bolshbevik Revolution
6 , The interegnum
7 . Socialism in one coutry
8 . Foundation of a planned Economy
9 . R. W. Davies

# سریزه

هـر څـوک لـه دې سره علاقـه لـري چـې د خپلـې جامعـې د مـاضي پـه بـاب پوه وي، مگـر لـږ کسـان مونـده شي چـې دا هيله يـې تر سره شـوې وي. څومـره چې موږ تـه مشـکله ده چـې خپلـه اوسـنۍ جامعـه وپېژنـو، تـر هغـو لا ډېـره سـخته ده چې له پخوانـۍ جامعـې نـه خبـر واوسـو. د هـرې جامعـې- مـاضي وي کـه د اوس د سـمې پېژندنـې د پـاره د تحقيـق د خاصـو روشـونو په بنا پـه پـوره آزاده فضا کـې ژور او پر له پسـې مطالعـات ضروري دي. دغسـې مطالعات هلته ښـه نتېجه ورکولـی شي چې يو څـوک د نـورو شـيانو په جمله کې، د خپلې موضوع د اسـاسي مسـايلو په اړه فلسـفي نظـر ولري.

مگـر د فلسـفي نظرياتـو د معرفـت او حصـول لومړنـی شرط دا دی چـې ذهـن د مختلفـو نظرياتـو د فهـم د پاره خلاص پرېښـوول شي. پيشرفـت او تکامل که په علمي يا فلسـفي سـاحه کـې وي، هغه وخت ښـه ممکنېدلـی شي چې د همدغسـې نظرياتو د ظهـور لـه پـاره لاره هـواره وي. کـه داسـې نـه وي د ژوند د بېـلا بېلو اړخونـو په باب بـه مختلفـې فلسـفې په منظم او منسـجم ډول ظهـور ونه کړي او انسـانان بـه په ذهني لحـاظ متحجـر او ځـای په ځـای پاتې وي.

چېرتـه چـې د نظرياتـو د ظهور له پاره کوښـښ کېـږي هلته نظر او علم ښـه په مخ ځـي د نقيضـو او مختلفـو افـکارو لـه تصـادم څخه نـوي څـه راوځـي او وړاندې تگ دوام کوي.

تاریخ څه ته وايي؟ په واقعیت کې د همدغسې حالت نتیجه ده. په تېرو څلوېښتو کالونو کې په اروپا کې عموماً او په انګلستان کې مخصوصاً د تاریخ ماهیت او فسلفې په اړه تاوده بحثونه روان دي او دغه کتاب د همدغسې بحثونو په لړ کې یو وروستی اثر دی. په دغه اثر کې د تاریخ په حقله هم د نورو پوهانو نظریات چاڼ شوي او هم نور پرې ور اضافه شوي دي او په دغه ډول په دې برخه کې پرمختګ شوی دی.

د دغه مطلب د ایضاح له پاره به لومړی د جبر او اوروسته د ترقۍ د مفکورې په باب د پروفیسر کار د نظریاتو لنډیز وړاندې کړم او په ضمن کې به یو څه پرې ولیکم.

پروفیسر کار دغه اثر په څلورم فصل کې په تاریخ کې د چانس او جبر په اړه د پروفیسر کارل پاپر او ایسایه برلین پر۷ هغو نظریاتو انتقادونه کړي چې وروستیو په خپل وار د اپلاتون، هیګل او مارکس نظریات کاواک او خالي ښوولي دي. د دغې موضوع په هکله دوه ټکي مهم ښکارېږي. لومړی دا چې اجتماعي واقعات ولې پېښېږي؟ په بل عبارت انسان په خپلو کړو کې څومره او څنګه ازادي لري؟ دا پوښتنه په واقعیت کې یوازې د تاریخ په فلسفې پورې اړه نه لري، بلکې د ټول انساني کردار پوښتنه ده او د فلسفې مهمه موضوع تشکیلوي. پروفیسر کار یوازې تر هغه حده د معین توب یا د جبر په عقیدې دی چې وايي« ... هر هغه څه چې پېښېږي علت یا علتونه لري او په بل ډول به پېښ شوي نه وای، تر هغو چې په علت یا علتونو کې بل څه پېښ شوي نه وای».

لکه څرنګه چې معلومېږي، ده په څلورم فصل کې چې په تاریخ کې علت موندل یې نومولی دی، د علت په موندلو یې ډېره زور اچولی دی. دا روش په تاریخ کې سرې د پېچلو او مجردو فلسفي مسئلو په لور بیايي او دا وېره شته چې تاریخي مطالعات بالاخره په فلسفي مطالعې واړوي، که څه هم دی په خپله دغه ټکي ته پوره متوجه دی، چې بحثونه مجر د فلسفې نه کړي او نظریات یوازې په مشخصو تاریخي شواهدو بیا وښیي. سره له دې هم دا به ښه وای چې ده د نتایجو او اغېزو په اړه هم په همغې اندازې لیکنه کړې وای. د اجتماعي پېښو د اغېزو ښوول علمي او تطبیقي ګټه لري او تر څه حده د نامطلبو پېښو مخنیوی پرې کېدلی شي.

مګر د پروفیسر کار پـه نظر د معین توب فلسـفه قطعـاً میخانیکي نـه ده، د هغه په قـرار به انسـاني فـرد دیـوه کهال عنصر پـه حیث یـوازې متابعـت کـوي.دی وايي چې «د جامعـې او فـرد انګشـاف اوږه پـه اوږه پـر مـخ ځـي او یـو پر بـل تاثیر کـوي». دی د همدغـه فکـر پر بنسـټ د فـرد په ډینامیـزم، ابتـکاري او اخلاقي ارادې معتقـد دی او پـه دې اړه د مارکـس دا نظریـه تائیـده وي چـې وايـي: «تاریـخ هېڅ نه کوي هغـه زیاته شـتمني پـه تـصرف کې نه لـري. هېـڅ جنګونه نه کـوي. دغه انسـان، حقیقـي ژوندی انسـان دی چـې هـر څه کـوي، تملـک کـوي او جنګونـه کوي». خـو دغـه «حقیقي، ژونـدی انسـان» پـه خپله د جامعـې زېږنده او په جامعـه کې داخل دی. مجـرد فرد، فرد دی چـې د عنقـا پـه حیـث له جامعې نـه بهر په کوم هسـک ځـای کې مقام لـري او له هغـه ځایـه به جامعـه او حـوادث زېـږوي او رهبري به یـې کوي.

دوهـم ټکـی یـوازې پـه تاریـخ پـورې اړه لـري او هغـه دا پوښـتنه ده چـې مـوږ له تاریخـي پېښـو نـه څنګـه خبرېږو؟ څرنګـه چـې د تاریخـي حقایقـو ثبتـول او د هغو تعبیـرول مـوږ ته د مـاضي طرحه او د حرکت لوری راښـيي، له دې املـه ثبت کوونکی او مـورخ د مـاضي پـه معـرفي کولـو کې اسـاسي اهمیـت لري. مګـر پروفیـسر کار د مـاضي د فهـم پـه برخـه کـې د معینتـوب د اصل پر کلـک نظر قایـم دی. دی وايي «د پېښـو کښـوونکو، لیکونکو او مورخانو د نسـلونو مـړه لاس د ماضي طرحـه ټاکلې ده، بې لـه دې چـې د هغه په باب څـه وکړل شي». دغـه ټینګار تر حده زیـات معلومېږي، دومـره زیـات چـې د مـؤرخ رول نفـي کوي. په دې کې څه شـک نه شـته چې د ماضي پـه بـاب ټـول تاریخـي حقایـق زموږ لاس تـه راتـلای نـه شي او هغه څه چـې لاس ته راتللـی شي د خـاص نظـر پـه رڼا کـې ثبت شـوی دي، یعنـې عندي دي، نـه عیني.

دغـه محدودیـت هر وخت پـه تاریخ کې لیـده شي. خو د پورته پوښـتنې ځواب د دغـې پوښـتنې په ځـواب کې مونـدل کېدای شي، په داسـې حالت کې د مـؤرخ دنده څـه ده؟ مـؤرخ د حقایقـو تعبیـر او توجیـې نـه عـلاوه یـا تر هغـه دمخـه دا وظیفه لري چـې تاریخ لیکنـې د عـصري میتود په رڼـا کې هغه سـوړې ډکې کړي، چـې د نیمګړو او محـدودو حقایقـو لـه املـه پیـدا شـوې دي او د غه کار د نـورو اجتماعـي علومو په مرسـته وکړي.

په غه حساب یو مؤرخ باید:

۱ . د تاریخ لکینې یو منظم او دقیق روش او میتود تعقیب کړي.

۲ . د تاریخ د ماهیت او فلسفې په باب د یوه منسجم او منطقي نظر خاوند وي.

۳ . د نورو بشري او حتی تر څه حده د ساینسي علومو په باب لږ تر لږه عمومي معلومات ولري.

۴ . ذهین او نوښتگر وي او د استنتاج پوره قدرت ولري. ډاکټر جی التمن حتی پر دې فکر دی چې تخصصي مؤرخ یوازې هغه څوک کېدای شي چې د لوړو شهادتنامو له پاره یې لومړی تحقیقي تیسونه او وروسته تحقیقي اثار لیکلي وي او ورسره جوخت په تدریس بوخت وي.

دا نظر د هغه نظر په ضد دی چې وایي هر څوک مؤرخ کېدای شي، یوازې دومره چې د سلیم عقل خاوند وي، د شجره نامو او قبالو په ثبتولو او ضبطولو کې مهارت ولري، د لمن لیکونو (فوټ نوټونو) په ښوولو کې ښه وار دوی معلومات او حقایق ښه قطار کړی شي، بې له دې چې د هغوی ترمنځ منطقي اړیکه ټینگه کړي او هغه د عصري علومو په رڼا کې تاویل او تفسیر کړي او نتیجه ترې وباسي، پروفیسر کار هم څه وخت چې وایي( ... یو څوک کولی شي د ماضي د پېښو په باب لیکل او لوستل وکړي بې له دې چې وغواړي په دې پوه شي هغه څله واقع شول) هم په همدغه ټکر اصرار کوي؛ خو پروفیسور کار پر دې ټینگ دی چې په دغسې حال کې دی بیا د دې غلطي ونه کړي چې ځان مؤرخ یا د تاریخ محصل وگڼي؛ ځکه د ده په عقیده د تاریخ مطالعه د علتونو مطالعه ده.

پروفیسر کار د ترقۍ په عقیده ټنگ ولاړ دی، دی د ځینو نورو مفکیرینو پر خلاف د تمدن او جهان په باب د بدبینۍ وېره نه لري، بلکې په دنیایي او انساني چارو کې د عقل د پر له پسې او پراخېدونکي رول په باب خوش بین دی او د نورو توجه ور جلبوي. دا یو ستر او بې سابقې تحول دی چې د دوه سمتونو یعنې د عمق او افق په لور روان دی. د عمق په لور یې د تحول ممثل مفکران هیگل، مارکس او فروید دي چې هر یوه په خپل وار سره په انساني چارو کې د عقل برخه ډېره کړې ده. په نتیجه کې انسان اوس زیار باسي چې د لومړي ځل له پاره خپل کړه او جامعه د عقل په رڼا کې په اگاهانه ډول له سر تنظیم کړي.

افقي تحول د نړۍ د مخ اوښتی شکل دی. مطلب د ختیځ په لور د ثقل د مرکز

یـا د تمـدن انتقـال دی. تمـدن نـور نـو هغه نـه دی چې مرکـز به یـې اورپا، یـا امریکا، یـا اتلانتیـک او یـا انګلیـسي ویوونکې نـړۍ وي، بلکې نـوی تمدن دې تـه تمایل لري چـې د شرق پـر محـور وڅرخېږي. دلتـه د بشر ډېر ګڼ ولسـونه پراتـه دي چې د غربي تخنیـک او سـاینس پـه برکـت د لومـړي ځل لـه پاره پـه ډېـره پراخه انـدازه پـه تفکر او سـوچ کولو پیل کوي، سـیاسي شـعور پکـې پیدا او قـوي کېږي، په تاریـخ کې ننوځي او د خپـل جهـان مـخ اړوي. دغه انتقال، مخصوصاً د غرب نسـبي انحطـاط د غرب یو شـمېر مفکـران بدبین کـړي دي. دوی وړاندوینه کـوي چې د تمدن کښـتۍ د انحطاط پـه بـې پایانـه بحـر کـې د ډوبېـدو پـه حـال کـې ده، مګـر پروفیـسر کار دغه انتقـال د تکامـل په لـور ترقـي او پرمختګ ګڼي.

هیلـه کـوم چـې د دغه اثر په پښـتو کولو سره تاریخي مسـایل او نظریـات د نوورو مفهومونـو پـه جمله کـې طرحـه او تعمیـم شي او دا واضحـه شي چې هغه یـوازې په تتبـع او د مشـخصو او مسـتندو حقایقـو په بنا په اسـتقرایي ډول قایـم کېدلی شي، لکه څرنګـه چـې دلتـه رواج لري هغـه د وچ تفکـر او تخیـل او یا قبلي تحکـم محصول نه وي او کـه وي هغـه پـه تاریخ پـورې څـه اړه نه لري.

دغـه اثـر لومـړی پـه ۱۹۶۱ کال کـې د کیمـرج پوهنتـون د پوهانـو پـه وړانـدې د جـارج مـکالي تـړي ولین، د انګلسـتان د یو مشـهور مـورخ لیکچرونـو په نامـه اورول شـوی او وروسـته د کتـاب پـه شـکل راوتـی دی. پـه ژبـاړه کې یـې ما کوښـښ کړی، چـې مسـتقیم نقـل قول هغسـې او لمنلیکونه(فـوټ نوټونه) پوره وښـیم یعنـې د کتاب هـر څـه پـه پښـتو واړوم. سر بېره پـر دې مې د لوسـتونکو په خاطر د ځینـو موضوعاتو او نومونـو پـه بـاب مختـصر معلومـات اضافـه کـړل او د هغـو په اخـر کې مـې (م) د مترجـم د مخفف پـه حیث په قـوس کې وښـوده. په دې حسـاب ټولې هغـه لاندینې لیکنـې چـې (م) یـې پـه اخـر کې نـه شـته د مؤلـف دي او نور یـې زما زیاتونـې دي.

د ادبیاتـو او بـشري علومـو پوهنځـي له رئیس پوهنـوال ډاکټر مجروح او مرسـتیال پوهانـد میـر حسـین شـاه نـه مننـه کوم چـې د دغـه کتـاب د ژباړلـو له پـاره یـې زما له غوښـتنې سره موافقـه وکـړه او د پوهنځـي لـه خوا یـې د چاپولو ترتیب ونیـوه. د وړمې مجلـې له مسـئول مدیـر پوهیالي محمد طاهر علمـي او د مجلې مهتمم ښـاغلي وزیر زحمتونـه د پـوره قـدر وړ بولم چـې د کتاب د صحیح چاپولو په منظـور یې ګاللي دي،

کورودانــی ورتــه وایــم او نور بریالیتوب یــې غواړم.

محمد حسن «کاکړ»
د ادبیاتو پوهنځي د تاریخ استاد
ازاد بهاوان، نوی دهلي
۱۹۷۰/اپریل/۷

یادونه: دا لیکنه مې په ډهلي کې، چې د یوه لنډ سفر له پاره تللی وم، کړې وه.

# مورخ او د هغه حقایق[۱]

تاریخ څه ته وایي؟ د دې اثر له پاره چې څوک فکرونه کوي چې دا پوښتنه یې معنی یا سطحي ده، د کیمبرج د معاصر تاریخ له لومړي او دوهم چاپ نه دلته دوه فقرې را نقلوم. په لومړني چاپ کې اکتن[۲] د خپل اثر په باب چې د هغه تألیف یې په غاړه اخیستی و، یوه لیکنه لري. ده دا لیکنه په هغه رپوټ کې وړاندې کړله چې د ۱۸۹۶ په اکتوبر کې یې د کیمبرج د پوهنتون په مطبوعاتو کې اتحادیو د وړاندې کړې وه. دی وایي:

«دا تالیف د ثبتولو بېجوړې فرصت دی. په داسې طریقه چې د زیات شمېر له پاره ډېر ګټور دی، د پوهې غنا ده، چې نولسمه پېړۍ به یې ډېر زر په میراث پرېږدي.... د کار په معقول وېش سره به موږ دا کار وکولی شو او د هر یوه شخص د پاره به موږ وروستی سند او د بین المللي تحقیق ډېرې پخې نتېجې کور ته راړو».

«نهایي تاریخ موږ په دغه نسل کې لرلی نه شو، خو د دودیز او عنعنوي تاریخ چاره کولی شو او هغه ټکی ښودلی شو چې موږ په لارې کې له یوه ځخه وبل ته رسېدلي یو، په دې چې اوس ټول اطلاعات زموږ په احاطه کې دي او هره مسئله د حل وړ ګرځېدلې ده[۳]».

---

1 . Facts

۲ John D.Acton. (۱۸۳۴ – ۱۹۰۲) انګلیسي رومن کاتولیکي مورخ. په ۱۸۹۵ کې په کیمبرج کې پاچایي پروفیسر (Regius professor) وټاکل شو. هلته ده د نورو په مرسته د کمبرج د معاصر تاریخ د لړ لومړي ټوک په لیکلو پیل وکړ. د ده لبرالي نظریات د برتانیې د تاریخي مطالعاتو په انکشاف کې د ده په معاصرو ژور تاثیرات کړي دي.(م)

۳ . د کیمرج معاصر تاریخ: منبع، تالیف او تولید یې(۱۹۰۷)، مخونه ۱۰-۱۲.

نږدې پوره شپېته کاله وروسته، سرجارج کلارک[1] د کیمرج د معاصر تاریخ په سریزه کې دا کتن او د هغه د همکارانو په دې نظریې چې یوه ورځ به دا ممکنه شي«نهایي تاریخ» ولیکل شي، داسې ولیلکل:

«وروستي نسل مورخان دغسې انتظار ته هېڅ امید نه کوي. دوی هیله کوي چې د دوی اثر به بیا بیا عوض شي. فکر کوي چې د ماضي پوهه د یوه یا ډېرو دماغونو له لارې را نقله شوې ده او دغو دماغونو په هغې (عملیه) جارې کړې ده. نو نه شي کېدلی چې دا پوهه ابتدایي او غیر شخصي ذراتو نه جوړه وي چې هیڅ شی به تغییر نه کړي.... داسې ښکاري چې اکتشاف او لوځول انجام نه لري او ځینې بې صبره پوهان شکاکیت ته رجوع کوي ای لږ تر لږه هغه نظر ته رجوع کوي چې (وایي) ځنګه چې ټول تاریخي قضاوتونه د اشخاصو او د هغوی د نقاط نظر په باب دی، یو قضاوت هغومره ښه دی، لکه ها بل چې دی، او هیڅ «افاقي» تاریخي حقیقت وجود نه لري».[2]

دا چې دغه پندتان چېرته یو بل په واضح ډول نقضوي، د بحث له پاره خلاصه موضوع ده. هیله کوم چې زه به په عصري معلوماتو په کافي اندازه مجهز اوسم چې وښیم هر هغه څه چې د ۱۸۹۰ په لسو کالونو کې لیکل شوی دی باید ارومرو نامعقول وي؛ خو زه لا دومره پر مخ تللی نه یم چې په دې نظر شم چې هر هغه څه چې د ۱۹۵۰ په لسو کالونو کې کښل شوي دي، ارو مرو به مفهوم ولري. ممکن تاسو ته لا دمخه دا فکر پیدا شوی وي چې دغه تحقیق به د تاریخ له ماهیت نه کوم بل ډېر پراخ میدان ته سر ووهي. دا کتن او سرجارج کلارک تر مینځ تصادم د هغه تحول انعکاس دی کوم چې زموږ په مجموعي نظر کې د جامعې او د هغې وقفې په باب پېښ شوی دی په کومې کې چې دا دواړه نظریات قایم شوي دي. اکتن د ویکتوریا د عصري له یوې مثبتې عقیدې، د پوره بینا او اعتماد په نفس نه غږېږي. سرجارح کلارک د مغلوب نسل د حیرانۍ او د وارخطا شکاکیت انعکاس کوي. څه وخت چې موږ زیار باسو چې د دغې پوښتنې د پاره چې «تاریخ څه ته وایي؟» ځواب ومومو ، زموږ ځواب په شعوري یا غیر شعوري ډول سره زموږ په

1 . Sir Geoge clark

۲ .2 د کیمرج نوی معاصر تاریخ، (۱۹۵۷)، مخونه xxy-xxiv

عـصر کـې زموږ خپـل دریځ منعکـس کـوي، او د هغې پراخې پوښـتنې په بـاب زموږ د ځـواب یـوه برخـه تشـکیلوي چې مـوږ د هغـې جامعې پـه اړه چې ژوند پکـې کوو، څـه نظـر لـرو. زه لـه دې څخه څـه وېره نه لـرم چې که ښـه ځیرکتیـا وشي، زما د بحث موضوع به ورته ښـکاره شي؛ خو له دې څخه وېرېږم چې ښـایي زه مغرور ښـکاره شـم چې داسې سـتره او پراخه پوښـتنه مې میـدان را میدان تـه کړې ده.

نونسـمه پېـړۍ د حقایقـو یو ډېـره لوی عصر و. ښـاغلی ګریـد ګرنډ پـه هادتایمز کـې وویـل چې «هغه څـه چې زه یې غـواړم حقایـق دي.... پـه ژوندانه کـې یوازې حقایقـو تـه ضرورت دی». د نونسـمې پېړۍ مؤرخان په عمومي ډول لـه ده سره موافق وو. کـوم وخـت چـې رانګ کې د ۱۸۳۰ په لسـو کالونـو کې د تاریـخ د اخلاقي کولو پـه ضـد درد او اعـتراض په توګـه وویل چـې د مؤرخ وظیفـه دا ده چې «یوازې وښـیي چـې هغـه حقیقتاً څنګـه و»[1] دغـې دورمـره ژورې وجیـزې حیرانوونکـی بریالیتـوب ومونـد. د جرمنـي، انګلیـس او فرانسـوي مؤرخانو دریو نسـلونو په دغو سـحر لرونکو کلماتـو لکـه د اوراد او دعاګانـو پـه ویلـو سره د جنـګ میدان ته پـه خـواږه اواز منډې ووهلـې، چـې د تفکـر له سـتومانه کوونکي مصیبت څخـه ځان وژغـوري، لکه څنګه چـې ډېـرو رد او دعا ویونکي همدغسـې څه غـواړي. مثبتیونو[2] یعنې هغو کسـانو چې غوښـتل یـې د تاریـخ لـه پـاره د سـاینس ادعا وکـړي، د حقایقـو د لمانځلـو او درناوي لـه پـاره لـه خپل نفوذ نـه کار واخیسـت. دوی به ویل، لومـړی حقایق معلـوم کړئ، بیا خپـل نتایـج تـرې وباسـئ. پـه برتانیـه کـې د تاریخ دغـه نظر د دغـه ملک لـه تجربوي عنعنې سره چـې لـه جـان لاک[3] څخه تـر برتر اندرسـل[4] پـورې په برتانوي فلسـفه کې یـو مسـلط نظر و، پـوره اړخ ولګاوه. د علم تجربـې نظریه د فاعـل[5] او موضوع[6] ترمنځ د کامـل بلیتـون فرضیـه مني. حقایق د حسـي انتباهاتو په څېر له بهر څخه په مشـاهده ټکـر کـوي او د هغـه لـه شـعور څخـه مسـتقل وي. د جذبولو عملیـه غیر فعالـه وي،

1 . Wie es eigentlich gewesen.
2 . Positivists
3 . John Locke انګلیس فیلسوف، (۱۶۳۲-۱۷۰۴).(م)
4 . Bertrand Russel.د انګلسیان معاطر فیلسوف (۱۸۷۲ – ۱۹۷۰). (م)
5 . Subject.
6 . Object

داسې چې مشاهد هغه وخت چې مفورضات[1] ومومي، وروسته پر هغو عملیه جاري کوي. د اکسفورډ کوچنی قاموس چې ګټور مګر د تجربې ښوونځي غرض ناک اثر دی د حقیقت[2] په تعریفولو کې د دواړو عملیو بیلتون په واضح ډول ښيي او لیکي چې حقیقت هغه « د تجربې مفروضه ده چې له نتایجو څخه بیله وي».
حقایق د مؤرخ له پاره په سندونو، کتیبو او نورو کې موجود وو، لکه څنګه چې ماهیان د ماهي خرڅوونکي په تبنګ کې موجود وي. مؤرخ هغه ټولوي او په هره سلیقه او ذوق یې چې خوښه وي، هغسې یې پخوي او خوړلو ته یې تیاروي. د اکټن د پخلي ذوق ساده او بې تکلفه و. نو غوښتل یې چې ماهي ساده وخوري. د کیمبرج معاصر تاریخ د لومړي چاپ لیکونکو ته یې د لارښوونکي په لیک کې دغه شرط اعلام کړ چې زموږ واټرلو[3] بیا داسې وي، چې فرانسویان، انګلیسان، جرمنیان او هالنډیان یو راز قانع کړي، چې هیڅوک د مؤلفانو د لست له لیدلو نه غیر ونه شي ویلی چې د اکسفورډ اسقف قلم چېرته کېښود یا دا چې فیربیون[4] یا ګاس کیت[5]، لیبریمان[6]، یا هري سن[7] هغه را جګ کړ که نه؟[8] حتی سرجارج کلارک که هم چې د اکټن د رویې منقد و، په تاریخ کې یې د « د حقایقو د ټینګښت زړی»د «مشکوک تعبیر له چاپیر مغز» سره پرتله کړی دی. ده په دغسې حکم کولو سره ممکن دا له یاده ایستلي وي، چې د میوې مغز تر ټینګ زړي څخه ډېر خوندور وي. لومړی خپل حقایق سم کړه. بیا د ځان په خاطر سره د شګو په ښوئیدونکي تعبیر کې ځان د ننه کړه. د تاریخ د تجربې او سلیم عقل د مکتب نهایي عقل. دا عقل موږ ته د هغه سترلبرال جورنلست سي پي سکاټ[9] په زړه پورې وینا را په زړه کوي چې وايي« حقایق مقدس دي او نظریه ازاده ده».

---

1 . data

2 . fact

۳ . Waterloo د بلجیم ښار یعنې چېرته چې ۱۸۱۵ کال د جون په اتلسمه ناپلیون بوناپارت شکست خوړلی و.(م).

4 . Fairbarin

5 . Gasquet

6 . Liebermann

7 . Harrison

۸ . اکتن، د معاصر تاریخ په باب لیکچرونه، (۱۹۰۶)، مخ ۳۱۸.

9 . C.P. Scott

خـو ښـکاره ده چـې دا لیکنې زموږ قناعـت حاصلولی نه شي. زه بـه د ماضي په په اړه زمـوږ د پوهـې د ماهیـت په هکله پر فلسـفي بحـث لاس پورې نه کـړم. د موجودو مقصدونـو لـه پـاره به دا فـرض کړو چې دا حقیقت قیـصر[١] د روبیکان[٢] لـه ویالې څخه تېـر شـو او دغـه حقیقـت چـې د خونې پـه منځ کې یـو میز پـروت دی، دواړه یو شـان پرتلـه کېدونکـي حقایـق دي او دواړه حقایـق زموږ په شـعور کې په یو ډول یـا په پرتلیز ډول سره ننوځـي او دواړه حقایـق زمـوږ د هغـه چا لـه پاره چې هغه پېژني یـو راز افاقي خصوصیت لـري ؛ خـو حتی له دغـه زړور او چنـدان نه منطقـي او کېدونکي احتمال سره سره، زموږ دلیل سمدلاسـه له مشـکل سره مخ کېږي. مشـکل دا دی چې د ماضي پـه اړه ټـول حقایـق تاریخـي حقایق نـه دي. یا دا چې یـو مؤرخ به همدغسـې ګڼي؛ نو هغـه محـک کـوم دی چـې د ماضي پـه بـاب تاریخـي حقایق لـه نـورو حقایقو څخه بېلوي؟

تاریخـي حقیقـت څـه شـی دی؟ دا یوه مهمه پوښـتنه ده چـې باید موږ ور ته ښـه ځیر شـو. د سـلیم عقـل د نظر پر اسـاس، ځینې باوري اسـاسي حقایق شـته دي چې د ټولـو مؤرخانـو لـه پـاره یـو شـان دي او د تاریـخ بنسـټ جـوړوي، لکه د هیسـټنګز[٣] جګـړه چې پـه ١٠٦٦ کـې شـوې وه، نه پـه ١٠٦٥ یا ١٠٦٧ کـې او دا چـې دا جګړه پـه هیسـټنګز کـې شـوې وه نه په ایسـټ بـورن[٤] یا پـه برایټن[٥] کـې. کله چې پر دغسـې ټکـو بحث کېـږي، ماتـه د هوس میـن وینـا را پـه زړه شي چـې وایي: «صحیـح والی یـوه وظیفـه ده، صفـت نـه دی»[٦]. د صحیـح والي لـه پـاره د مؤرخ سـتایل داسـې مثال لـري، لکـه یـو معمار چې په ودانۍ کې د ښـو موسـمي لرګیـو او د مناسـب مخلوط کانکریت په اسـتعمال سره وسـتایل شي. دا د هغه د کار یو ضروري شرط دی، اسـاسي وظیفـه یـې نـه ده، د همدغسـې موضـوع ګانو په وجـه ده چې یو مؤرخ د دې مسـتحق ګڼـل کېـږي چـې پـه هغو چـې د تاریـخ د «مرسـتیالو علومـو» په نامـه یاد شـوي دي،

---

1 . Gaius j. Caesar .(١٠٠- ۴۴ ق.م)
2 . Rubicon
٣ . Hastings د انګلستان په جنوب کې یو بندري ښار دی.(م).
4 . East Bourne
5 . Alfred e. Housman
6 . M. Manilii Astronomicom: liber primus.

لکـه ارکیالوجـي[۱]، د کتیبو د لوسـتلو په علـم[۲]، صکوک پېژندنـې[۳]، نیټه لیـک[٤] او نورو باندې اعتـماد وکړي.

لـه مـؤرخ څخـه دا نـه غوښـتل کېـږي، چـې دی په خپلـه داسـې خاص فنـون او مهارتونـه زده کـړي چـې هغـو سره یـو متخصـص کولـی شـوي، د یـوه ټوټه کـودي یا مرمـر اصـل او عـصر معلـوم کـړي او یـا کومـه مجهولـه کتیبـه ولـولي او یـوې نېټې د ټاکلـو لـه پـاره نجومي حسـابونه وکـړي. دغه تـش په نامه اسـاسي حقایق چـې د ټولو مؤرخانـو د پـاره یـو شـان حیثیـت لـري، پـه مشـترک ډول د یـوه مـؤرخ د اومـو موادو پـه نـوع پـورې اړه لـري، نـه دا چـې هغه په خپلـه تاریـخ دی. دوهمـه کتنـه دا ده، هغه ضرورت چـې دغـه اسـاسي حقایـق قایـم او مسـتقر کـړل شي پـه خپلـه د حقایقـو په کیفیـت پـورې څـه اړه نه لري، بلکـې هغه د یو مـؤرخ په ړومبنۍ[٥] فیصلـې متکي وي.

د سي. پـي. سـکاټ لـه متـل سره، نـن ورځ هر جورنالیسـت پـر دې پوهېـږي چـې د مناسـبو حقایقـو انتخـاب او ترتیـب پـر ذهـن د اثر اچولـو یوه ډېـره مؤثـره طریقه ده. حقایـق پـه خپلـه غږېـږي، خو دا حکم سـم نـه دی. حقایـق هغه وخت غږېـږي، چې مـؤرخ پـرې نـارې کـړي. دا فیصلـه د مـؤرخ پـه لاس کـې ده چـې کومو حقایقـو ته په کـوم ترتیـب او کومـې قرینـې کـې د غږېدلـو وار ورکـوي. زما پـه خیـال دا د پیرانډېلو[٦] یـو لوبغـاړی و چـې ویـلي یـې و حقیقـت د یـوه جـوال په شـان، پـه خپلـه دریدلی نه شي، چـې یـو شـی پکـې وانـه چـوې. هغـه یوازینـی علت چـې موږ یـې لـه پوهېدلو سره علاقـه لـرو چـې د هیسـتنګز جګـړه پـه ۱۰٦٦ کـې شـوې وه، دا دی چـې مـؤرخ دغـه پېښـه د یوې سـترې تاریخي پېښـې په حیث ګڼـي ، دا مؤرخ دی چې د شـخصي دلایلـو لـه مخـې یـې فیصلـه کـړې ده، چـې لـه هغـې وړې ویالـې روبیکـون څخه د قیـصر تېرېـدل د تاریـخ یـو حقیقـت دی، په داسـې حـال چې پـه میلیونو نور انسـانان لـه دې ویالـې څخـه تېـر شـوي دي، او د هیڅـا پـام یـې ځـان تـه ګرځولی نـه دی. دا حقیقـت چـې تـه نیم سـاعت دمخـه دې ودانـې کې پښـې ابلـی، یا پـه بایسـکل یا په

---

1 . Archaeology.
2 . Epigraphy.
3 . Numismatics.
4 . Chronology.
5 . a priori.
٦ . L. Pirandello (۱۸٦۷ – ۱۹۴٦). ایټالوي ډرامه لیکونکی او ناول لیکونکی(م).

موټـر رانوتلـې، د مـاضي په باب هغومـره يو حقيقـت دی لکه قيصر چې لـه روبيکان څخـه تېـر شـوی دی. خـو مؤرخانو ممکـن دغـه حقيقت ليدلی نـه و، ګنـې پروفيسر ټـال کـوټ پارسـتر[۱] يو وخت ويـلي و چې سـاينس «حقيقت تـه د ادراکـي جهتونو يو انتخـابي سيسـتم»[۲] دی. دا خبره ممکن تر دې سـاده هم شـوې وای؛ خـو تاريخ د نورو څېزونـو پـه جملـه کې همدغـه دی. مؤرخ لزومـاً انتخـابي دی. دا عقيده چـې د تاريخ د حقايقـو ټېنـګ مغـز د مـؤرخ له تعبيـر څخـه ازاد دی او افاقـي وجود لري، يوه سـتره غلطـي ده، مګـر دا داسـې غلطـي ده چـې ورکاوی يې ګـران دی.

اوس بـه هغـې عمليـې تـه لـه نـږدې نـه وګـورو چـې پـه هغـې سره د مـاضي پـه بـاب يـو محـض حقيقـت څنګه پـه تاريخـي حقيـت اوړي. پـه ۱۸۵۰ کې په سټالي بـرج ويکـس[۳] کـې خلکو يـو تند مـزاج بايع په يـوې وړې شـخړې کې قصـداً په مرګ وواهـه. ايـا دا د تاريـخ يـو حقيقـت دی؟ تـر يـوه کال دمخـه به ما پـه زغـرده ويل چې «نـه». دا پېښـه يـو کتونکـي کښـلې وه[٤]. مګـر د ده لـه ليکنې څخـه ډېر خلـک خبر نه وو، مـا کـوم مـؤرخ ليدلی نه دی چې دغه پېښـه يې د ذکر وړ ګڼلـې وي. يو کال دمخه دغـه پېښـه ډاکټر کټسـن کلارک[٥] په اکسـفورډ کـې د خپل فـورډ په ليکچرونـو کې ياده کړه[٦].

دا بـه يـې اوس پـه تاريخـي حقيقـت واړوي؟ ګمان کوم چـې تر اوسـه لا نه. زما پـه فکـر چـې دغـه پېښـه اوس د تاريخـي حقايقو پـه انتخابي کلـب کـې د غړيتوب په عـرض وړانـدې شـوې ده. يوه تائيـد کوونکي او نګرانانـو ته انتظار لـري. دغه حقيقت ممکـن پـه څو کلونو کې، انګلسـتان د نونسـمې پېړۍ په بـاب په کتابونـو او مقالو کې لومـړی پـه فوټ نوټوو او وروسـته پـه متن کې وليـدل شي. يا دا چې هيڅـوک به ورته پـام ونـه کـړي، او پـه دې ډول بـه د غيـر تاريخي حقايقو په سـمندر کـې ورک شي، له کـوم څخـه چې ډاکټـر کلارک کوښـښ کړی دی، چې خـلاص يې کړي. کوم شـی به فيصلـه وکـړي، چـې دغه يا هغـه حال به دغـه حقيقت راشي؟ زمـا په فکر دا بـه په دې

---

1 . Talcott parsons

۲ . (E. shills) د عمل عمومي په لور(دريم چاپ، ۱۹۵۴). مخ ۱٦۷.

3 . Stalybridge Wakes.

۴ . لار ډجارج سنګر، او يا کاله ننداره ښوونکی، (دوهم چاپ، ۱۹۲٦). مخونه ۱۸۸ - ۱۸۹.

5 . Dr. Kitson clark.

٦ . ډاکټر کلارک، د ويکټورويايي انګلستان جوړول(۱۹۲٦).

پـوري اړه ولـري، چـې نـور مؤرخين به هغـه ټيس يا تعبير چـې ډاکټر کتسـن کلارک د دغـې پېښـې پـه طرفدارۍ ذکـر کړی دی مهـم وګڼي، يا نـه. د دغې پوښـتنې موقف به د تاريخي حقيقـت پـه حيثـت د تعبيـر پر مسـئلې و څرخېـږي. د تعبير دغـه عنصر په هـر تاريخي حقيقت کـې داخلېږي.

اجـازه بـه وي، چـې يـوه شـخصي خاطـره يـاده کړم؟ څـو کالـه مخکـې، چې ما پـه دغـه پوهنتون(کيمـرج) کـې د لرغـوني تاريـخ تحصيـل کاوه، يوه خـاص مضمون مـې پـه نامـه د «يونـان د پاريـس پـه جنګونو کې» لوسـته. پنځلـس يا شـل کتابونه مې پـه المـارۍ کـې راغونډ کـړي وو او دا مـې منلې وه، چې ټـول حقايق په دغـو کتابونو کـې موجـود دي، چـې زما په مضمـون پورې اړه لـري. را ځئ چې دا وګڼـو او دا تقريباً صحيـح هـم وه چې دغـو کتابونـو پـه دې بـاب ټول حقايـق لـرل، چـې هغـه وخت معلـوم وو او يـا معلومېدلـی شـول. دا مـې ګـرد سره فکـر تـه نـه لوېدله، چې پوښـتنه وکـړم، چـې دغه حقايق په کـوم تصادف او عمليـې سره چې د حقايقـو انتخاب کوي، لـه هغـو ډېـرو حقايقو څخـه چې يو وخت بـه چا ته معلـوم وو، را ژوندي پاتې شـوي دي او تاريخـي حقايـق ګرځېدلي دي.

ګـمان کـوم چې نن ورځ هـم د پخوانيو او منځنيـو پېړيو د تاريخ يو سـحر دا دی، چـې مـوږ داسـې تېر بـاسي چې مـوږ ګواکې ټـول حقايق پـه لاس کې لـرو. د ماضي پـه بـاب د تاريخي حقايقو او نـورو حقايقو متناز فيه فرق ورک شـوی دی، په دې چې معلـوم حقايـق ټول تاريخي حقايـق دي، بری[1] چـې د دواړو عصرونو پـه باب تحقيق کـړی دی، ليکـي:«د پخواني او منځني تاريخ اسـناد ډېرې سـوري لري»[2].

تاريـخ يو داسـې ماشين بلل شـوی دی چې ډېرې پـرزې يې ورکـې دي، خو لوی مشـکل پـه سـوري کې نـه دی. د يونـان د پنځمـې ق.م تصوير اساسـاً پـه دې ناقص نه دی چـې ډېـرې پـرزې يـې په تصـادفي ډول ورکـې شـوې دي. نيمګړتيا پـه دې کې ده چـې تصويـر پـه زياتـه انـدازه د اتن ښـار د يـوې ډېـرې وړې ډلې له خوا کښـل شـوی دی. مـوږ پـر دې ډېـر ښـه پوهېـږو چـې د هغـه وخـت يونـان د اتـن د يـوه مـدني فرد

1 . Bury

۲ . J. B . Bury د غوره ليکنې (۱۹۳۰)، مخ ۵۲.

پـه نظـر ښنگـه ښـکارېده، خو پـر دې په ډېر مشـکل پوهېـږو د سـپارټا[1] یـاد کورنت[2]، یادتـب[3] د فـرد پـه نظـر ښنگه معلومېـده، د فارس فرد د غـلام یا د اتن غیـر مدني فر خو لا پـه ځـای پـه پرېـږده. زموږ تصویـر زمـوږ د پاره پخـوا تر پخوا غـوره شـوی او ټاکل شـوی دی، نـه دومـره پـه اتفاقـي ډول، بلکـې د هغو خلکو له خـوا چې په شـعوري یا غیـر شـعوروي ډول پـه یـوه خاص فکـر وو، او په داسـې حقایقـو یې سـوچ کاوه چې د دوی پـه نظـر د سـاتلو وړ وو. کلـه چـې زه د منځیـو پېړیـو پـه بـاب په کـوم معاصر تاریـخ کـې داسـې یـو څه لولم چـې وایـي د هغـو وختونو خلک لـه مذهـب سره ډېر علاقمـن وو، نـو ماته دا پوښـتنه په زړه شي چې ښـه مـوږ دا معلومات لـه کومه کړل او هغـه درسـت دي او کـه نـه. هغه څه چې مـوږ یې د منځینـو پېړیو په بـاب د حقایقو په څېـر پېژنـو، مـوږ ته نږدې ټول د پېښـو کښـوونکو[4] نسـلونو له خـوا غوره شـوي دي او دوی د فـن او کسـب پـه لحـاظ پـه عمل او نظـر کې مذهبـي کسـان وو. دوی هغه څه وکښـل او هغـه څـه ور تـه مهم برېښـېدل چې په مذهـب پورې یـې اړه لرلـه. دوی نور څـه هیڅ ضبط نـه کړل.

د روسـیې د کرونـده گر هغه تصویر چې دی د زړه له کومـې مذهبي دی، د ۱۹۱۷ انقـلاب درې وړې کـړ. دا چـې د منځنیـو پېړیو انسـان تصویـر د زړه لـه کومې مذهبي دی، ممکـن درسـت وي، یـا درسـت نـه وي، مگـر نـه ماتېدونکـی دی، پـه دې چې د ده پـه بـاب تـول حقایـق د هغـو خلکو لـه خوا ټاکل شـوي او غـوره شـوی دي چې په همـدې عقیـده وو او غوښـتل یـې چې نـور هم پرې معتقـد کړي. هغه نـور ډېر حقایق چـې ښـایې د هغـو په رڼا کـې د دغه نظر عکـس ثابت شـوی وای، ټول له لاسـه وتلي دي. د مؤرخانو، کایناتو او پېښـو کښـوونکو دور کوشویو نسـلونو مړو ولاسونو موږ ته د مـاضي طـرح او ترتیـب بې لـه دې چې موږ په دغـه باب څه وکولی شـو، ټاکلی دی. پروفیـسر بـره کلف[5] چې پـه خپله د منځنیو پېړیـو متخصص دی، لیکي: «که ښـه ځیر شـو، هغـه تاریـخ چې مـوږ یې لولـو، که څه هـم چې پـه حقایقو مسـتند دی، حقیقي

1 . Sparta
2 . conrinth
3 . theb
4 . Chronic lers
5 G. Barraclough

نـه دی، بلکـې د منل شـویو قضاوتونو یو لـړ دی»[۱].

خـو را ځـئ چـې د بـل معـاصر مـؤرخ ، مگـر پـه مسـاوي ډول، مهـم مشـکل ته مـخ وگرځـوو. د پخوانیـو یـا منځنیـو پیړیو مؤرخ بـه د بېلولـو له هغـې پراخې عملیې څخـه منـندوی وي، چې په هغـې سره یې ده تـه د تاریخي حقایقو زیات شـمېر مرتب حقایـق ور پـه لاس کـړي دي، لکـه چـې لیټن سټراچي[۲] ویـلي دي: «ناپوهـي د مؤرخ لومړنـی شرط دی، هغـه ناپوهـي چې سـاده کول کـوي، واضح کول کـوي، غوره کول کـوي او حذفـول کوي»[۳].

څـه وخـت چـې زه دې تـه متمایـل شـم، لکـه چـې کله کلـه کېـږم، چـې د خپلو همکارانـو پـر نهایـي اسـتعداد رخـه وکـړم چـې د پخوانیـو او منځنیـو پیړیو پـه تاریخ لیکلـو بوخـت دی، پـه دغه فکر سره ارام شـم چـې دوی ځکه لیاقت لـري، چې زیاتره یـې پـه خپلـې موضوع کې ناپـوه دي. معـاصر مؤرخ له دغسـې طبعي ناپوهۍ څخه محـروم دی. دی بایـد دغـه ناپوهـي پـه ځان کې تـر زیق کـړي، څومره چـې دی خپل وخـت تـه را نـژدې کېږي، دی باید دغـه کار زیات وکړي، دی یـوه دوه اړخیزه وظیفه په مـخ کې لـري. باید څو نوي مهم حقایق وسـپړي او پر تاریخي حقایقو یـې ورواړي او ډېـر غیـر مهم حقایـق د غیر تاریخـي حقایقو په نامـه رد کړي، خو دا د نونسـمې پېړۍ د بدعـت معکـوس شـکل دی چـې وایي تاریـخ د زیات شـمېر افاقي او نـه ردېدونکو حقایقـو لـه تدویـن او تألیف څخه عبـارت دی. هر هغـه څوک چې دغسـې بدعت ته تسـلیمېږي، بایـد تاریخ د یو بد مسـلک پـه حیث لـه سره پرېږدي، یا د پوسـتي ټکټونو لولـو یـا د عیقـه پېژندنې کسـب ته ملا وتـړي او یـا دارالمجانین ته منتهـي شي. په تېرو سـلو کلونـو کې، دغسـې بدعت په معـاصر مؤرخ ډېـر ورانوونکي اثرونه کـړي دي، په جرمنـي، لویـې برتانیـې او امریـکا کې یې داسـې تاریخونـه تولید کـړي دي، چې بس یـوازې یـې وچ حقایـق لـرلي دي او یـا یـې د کېدونکو شـاگردو مؤرخانـو اختصاصي مونوگرافونـه ثبـت کـړي دي، داسـې مؤرخان چې د لږو لـږو په باب ډېـر ډېر پوهېږي، او د حقایقـو پـه سـمندر کـې یې له کومې نښـې نښـانې څخـه ډوب شـوی دی. زما په فکـر چـې د همدغـه بدعـت رواج و، نـه د لـبرالي یـا کاتولیکي وفـادار یو گنل شـوی

۱ . بره کلف، تاریخ په اوربېدونکي جهان کې.(۱۹۵۵)، مخ ۱۴.

2 . Lytton Strachey

۳ . لیټن سټراچي، وتلیوویکټوریانالو ته مقدمه.

تضاد ي اکټن يې د يوه مؤرخ په حيث زړه تنګی کړ. ده په يوې ړومبنۍ مقاله کې د خپل ښوونکي ډالنجر[۱] په باب ويلي و: «ده نه غوښتل چې په ناقصو موادو سره ليکل وکړي، او مواد ده په فکر تل ناقص وو»[۲]. اکټن دلته په يقين سره په ځان يو قبلي حکم کاوه يعنې د مؤرخ په هغه عجب خاصيت چې نور به يې په دغه پوهنتون کې د (معاصر تاريخ د څانګې ډېر وتلی پاچايي پروفيسر) ګڼي، خو دی په خپله هېڅ تاريخ نه ليکي.

اکټن د کيمبرج د معاصر تاريخ د لومړي ټوک په سريزې کې چې د ده له مړينې څخه وروسته ډېر ژر چاپ شو، خپله شناخته وليکله او دا هغه وخت و چې ده پر دې افسوس وکړ چې قوې تقاضاګانې مؤرخ داسې«رټي چې له اديب څخه يې د دايرة المعارف په مؤلف بدل کړي»[۳]. غلطي په دې عقيده کې وه، چې د مسلمو او ثابتو حقايقو د نه ستړي کېدونکي او بې انجامه ټولولو کار د تاريخ اساس ګڼل شوی و، يعنې هغه عقيده چې وايي حقايق په خپله ګړېږي او ځان ښيي او موږ له حده زيات حقايق لرلی نه شو. په هغه وخت کې دا دومره مسلم ګڼل شوی و چې يوازې يو څو مؤرخانو دا لازمه بلله – ځينې يې اوس هم غير لازمي بولي چې له ځانه پوښتي چې (تاريخ څه ته وايي؟).

د نونسمې پېړۍ د حقايقو درناوی د اسنادو په لمانځلو سره روا وګڼل شو او تکميل شول. اسناد د حقايقو په عبادت ځي کې د تړون يخدان[۴] وګڼل شول. محترم مؤرخ د هغه په مقابل کې د احترام سر ټيټ کړ، او د هغو په باب يې په ډېر احترام او خوف سره ويل شروع کړل. دا عقيده عمومي شوه چې که ته يې په اسنادو کې ومومې، نو همدغسې به وي. خو که موږ ښه ځير شو دغه اسناد – فرامانونو، تړونونه، د کراه طومارونه، حکومتي خپرونې، رسمي ليکونه، شخصي ليکنې او ليکونه – موږ ته څه شی ښيي؟ هيڅ سند تر دې نه چې د هغه په باب يې مؤلف څه فکر کړی دی، موږ ته زيات نور څه ښوولی نه شي، يعنې هغه څه

---

۱ . جرمنی مؤرخ Dollinger(۱۷۹۹ - ۱۸۹۰)، (م).

۲ . د کيمبرج معاصر تاريخ، (۱۹۰۲)، مخ ۴.

۳ . د کيمبرج معاصر تاريخ، (۱۹۰۲)، مخ ۴

. . د يهودانو په تاريخ کې هغه لرګين يخدان چې د قانون جدولونه پکې خوندي شوي وي. – 4 the ark covenant.

چې د ده په فکر پېښ شوی دی او کوم هغه څه چې ده فکر کړی دی چې باید پېښ شي، یا به پېښ شي، یا ممکن یوازې دا چې نور خلک په دې سوچ ووهي چې ده څه فکر کړی دی او یا حتی یوازې دا چې ده په خپله فکر کړی دی، چې ده سوچ وهلی دی. دا یو هم، هیڅ مفهوم نه لري، مگر تر هغو چې مؤرخ په هغو عملیه جاري کړې نه وي، او لوڅ و بربنډ کړي یې نه وي. حقایق که په اسنادو کې موندل شوي وي، یا نه وي، پخوا له دې چې مؤرخ ترې استفاده وکولی شي، باید د هغه له خوا تر عملیې لاندې ونیول شي. هغه استفاده چې دی یې له هغو څخه کولی شي، زما په فکر چې د عملیې عملي کول دي.

زه به خپله وینا په یوه مثال کې سره شرح کړم، داسې مثال چې داسې پېښه شوې چې زه پرې ښه پوهېږم. کله چې په ۱۹۲۹ کې گوستاو شترزیمان[1] د وایمار جمهوریت د باندنیو چارو وزیر مړ شو، له ده هم ډېرشو بکسونو کې ډېر رسمي او نیمه رسمي او خصوصي پاڼې پاتې شوې، چې هغه ټول د ده د شپږ کلنې دورې وزارت ته مربوط وو. ملگري او خپلوان یې په دې فکر شول چې د دغسې یو ستر شخصیت په خاطر باید یو منار ودرول شي. د ده باوفا منشي برنهسار[2] د دې کار ته ملاوتړله او په دریو کالونو کې یې درې غټ کتابونه چې هر یو یې ۶۰۰ مخه وو، را وایستل او د ده له هغو دېرشو بکسونو څخه انتخابي اسناد په نامه د (Stresemanm vermachtnis) چاپ شول. په عادي حالت کې دا اسناد ممکن په کومې الماری، یا تاریخچې کې پټ او د تل له پاره ورک شوي وای، یا ممکن په سلو کالونو کې کوم محقق پرې پېښ شوی وای، خو هغه څه چې پېښ شول، تر دغو احتمالاتو ډېر برجسته وو. په ۱۹۴۵ کې اسناد د برتانیې او امریکې حکومتونو ته په لاس ورغلل. دوی د ټولو سندونو عکسونه واخیستل او د پوهانو د استفادې له پاره یې په لندن کې د عامه سند دفتر[3] او واشنگټن کې یې په ملي ارشیفونو[4] کې کېښوول.

---

۱ . (Gustar Streseman ) (1878 – 1929), جرمنی سیاستمدار اود ملی لیبرالانو د گوند مشر او د وایمار د جمهوریت د خارجه چارو وزیر.(م)

2 . Bernhard

3 . Public Record Office

4 . the natlonal Ar chives

اوس نـو کـه مـوږ پـوره حوصلـه او کنجـکاوي ولرو، دغه کشـف کولی شـو چې برنهـارد څـه وکـړل. هغـه څـه چـې ده وکـړل، نه غیـر معمـولي او نـه لړزوونکـي وو. څـه وخت چې شـترزیمان مړ شـو، داسـې برېښـېده چـې د ده لویدیځ سیاسـت په یو لـړ موفقیتونـو ښـکلی شـوی دی. لوکارنـو[1]، د ملتونـو په لیـګ[2] کې د جرمني شـمول د ډاوز[3] او ینګ[4] پلانونـه، د امریکـې پورونـه، د رایـن لـه سیمې څخـه د متحدینـو د لښـکرو ایسـتل، دا د شـترزیمان د خارجـي سیاسـت مهـم او د جایـزې وړ یـوه برخـه معلومېدله.غیـر طبعـي نـه ده چـې دا ټـول د برنهـارد دسـندونو پـه انخـاب کـې غـوره ښـکاره شي او ډېـره توجـه ورتـه وشـی. لـه بلې خـوا د شـترزیمان ختیځ سیاسـت، له شـوروي اتحاد سره د هغه اړیکې، داسـې برېښـېدلې چې په خاص ډول کومې نتیجې تـه نـه وي رسـیدلي. د مذاکـرو پـه بـاب، هغـه نـور ډېـر سـندونه چـې یـوازې جز یې نتایـج یـې ورکـړی و او پـه زړه پـورې نه وو او شـترزیمان نوم او شـهرت یې نـه اضافه کاوه، انتخـاب نـه شـول. مګر شـترزیمان په واقعیـت کې، له شـوروي اتحـاد د سره د مناسـباتو پـه بـاب ډېـره دوامـداره او له اندېښـني نـه ډکه توجه وکـړه. په عمومـي ډول، دغـو مناسـباتو د ده پـه خارجـي سیاسـت کـې ډېـر لـوی رول لاره نظـر دې تـه چـې د برنهـارد د انتخاباتـو لوسـتونکی بـه یـې قیاسـوي. سره لـه دې هم زمـا په فکـر د برنهار کتابونـه د ډېـرو هغو چاپ شـویو اسـنادو په مجموعـې سره چربي هغه چـې یو عادي مؤرخ پـرې اسـتناد کوي.

زمـا قصـه لا دلتـه نـه خلاصېـږي. د برنهـارد د غـوره شـویو سـندونو لـه چـاپ نه وروسـته ډېـر زر، هټلـر د واک څښـتن شـو. د شـتر زیـمان نـوم پـه جرمنـي کـې لـه یـاده ووت او د هغـه کتابونـه لـه دوران څخـه ولویـدل. ډېرې، یا شـاید د هغو نسـخو زیاتـره برخـې حتماً له منځـه تللـې وي. نـن ورځ(Stresemann vermachtnis) یو څه انـدازه نـادر کتـاب دی. خـو پـه لویدیځې نړۍ کې د شـترزیمان نوم ښـه وتلـی و. په ۱۹۳۵ کـې یـو انګلیس ناشر، د برنهارد د کتاب یوه اختصار شـوې ترجمه را وایسـتله.

---

۱ . Lucarno. مراد دلو کارنو تړونونه دي، چې په ۱۹۲۵ کې شوي دي

2 . the league of Nation

۳ . Dawes plan. دا پلان په ۱۹۲۵ کې د یوې کمېټې له خوا چې مشر یې امریکایی و

۴ . د دغـه پـلان په اسـاس چې پـه ۱۹۲۹ کې طرح شـو د جرمني له خوا د جنګ د تـاوان ورکولو انـدازه څلورمـې برخـې ته لږه شـوله، تـاوان باید ۵۸.۵ کالسـونو کـې ادا شـوی وای، مګر کله چـې هټلـر پـه واک راغی، د هغـه له تادیې څخه یـې غـاړه وغړولـه.(م) Young plan.

دا ترجمه په حقیقت کې د انتخاب انتخاب و. ممکن د اصل دریمه برخه پکې حذفه شوې وي. ستن[1] له جرمني ژبې څخه خپل کار ښه او په کفایت سره اجرا کړی و. ده په سریزه کې وویل چې انگلیسي ترجمه« لږ څه زبېښل شوې ده، خو یوازې د ځینو برخو په حذفولو سره چې گمان کېده ډېره کم دوامه او .... انگلیسي لسوتونکو یا زده کوونکو ته د لږې علاقې موضوع ده»[2]. دا هم بیا طبعي ده ، مگر نتېجه یې دا شوه چې د شتر زیمان ختیځ سیاست چې یې لا پخوا د برنهارد په انتخاب کې لږ ذکر شوی و، لا هم په یوه گوټ کې تخته شو، له نظره ولوید او شوروي اتحاد د ستن په کتابونو کې د شترزیمان لویدیځ ته په متمایل ښودل شوي سیاست کې، فقط کله کله د یوه نامقبول مزاحم په څېر ښکاره کېږي. سره له دې هم دا درسته ده چې د یو څو متخصصانو نه غیر نور نو د ټولو له پاره د ستن کتابونه (دبرنهارد کتابونه نه) او په خپله اسناد لا تر هغو کم د لویدځې نړۍ په باب د شترزیمان صحیح اواز تمثیلوي. که اسناد په ۱۹۴۵ کې د بمبارۍ په اثر له مینځه تللي وای او د برنهار د پاتې کتابونو ورک شوي وای، د ستن د منتخباتو صحت او صلاحیت به هیڅکله مشکوک نه وای. دسندونو ډېرې چاپ شوې مجموعې، چې د مؤرخانو په نزد د اصلي نسخو په نسبت ناقصې دي، تر دې نه زیات په کوم مصون اساس تکیه کولی نه شي.

خو زه غواړم چې دا قصه یو گام بیا هم مخه ته بوځم. راځئ چې ستن او برنهارد له یاده وباسو او له دې څخه خوښ واسو چې کولی شو د هغه چا اصلي اوراق وگورو چې ده د معاصرې اروپا د تاریخ په ځینو پېښو کې ستره برخه اخیستې ده. دا اوراق موږ ته څه شی ښیي؟ دا اوراق د نورو څېزنو په جمله کې په برلین کې د شوروي اتحاد له سفیر سره د شترزیمان په سلگونو او له چې چې رین[3] سره د یو څو مرکو تصویر او ثبت را ښیي، دا ثبتونه یو مشترک خاصیت لري. دوی په مرکو کې د شترزیمان برخه ښه غوره کوي او ستره ښیي. د هغه دلایل منسجم او قوي معرفي کوي، په داسې حال کې چې د هغه د مقابل دلایل په ډېرو ځایونو کې گډوډ او غیر مقنع ښکاره کوي. دا د ټولو ډیپلوماتیکي مرکو د یادښتونو یو معلوم

1 Sutton

۲ . کستاو شتریزیمان، د ده لیکونه، یادښتونه او اوراق(۱۹۳۵ . د مؤلف نوټ.

3 . Chicherin

خصوصیت دی. سندونه د واقعاتو په باب موږ ته پوره معلومات نه را کوي. دوی هغه څه وايي چې شترزيمان فکر کوي چې پېښ شوي دي. يا هغه څه دي چې ده غوښتل چې په خپله فکر وکړي، چې پېښ شوي دي. دا په خپله شترزيمان و، نه برنهارد او ستن چې د انتخاب عمليه يې غوره کړې وه. د مثال په توګه، که موږ د همدغو مرکو ثبتونه د چې چې رين په قلم لرلی، نو موږ به بيا هم له هغه څخه هغه څه زده کړي وای، چې چې رين فکر کاوه. هغه څه چې په واقعيت کې پېښ شوي دي، هغه بايد د مؤرخ په ذهن کې له سره تيار شي. په دې کې څه شک نشته چې حقايق او سندونه د مؤرخ له پاره اساسي اهميت لري، خو مه ترې بوت جوړوئ او مه يې لمانځئ. دوی په خپل ذات کې تاريخ نه جوړوي. دوی د دې ستړې کوونکې پوښتنې له پاره چې (تاريخ څه ته وايي؟) تيار ځواب نه لري.

په دغه ځای کې غواړم په دې باب يو څو خبرې وکړم چې د نونسمې پېړۍ مؤرخان ولې عموماً د تاريخ د فلسفې په حقله بې علاقې وو. د تاريخ د فلسفې اصطلاح ولتير[1] ايستلې ده او له هغه وروسته په بېلو بېلو مفهومونو استعمال شوی ده. خو زه به يې که چېرې ګرده سره استعمال کړم، د دغې پوښتنې چې تاريخ څه ته وايي؟ د ځواب له پاره په کار کړم. نونسمه پېړۍ د لويديځې اروپا د روڼ اندو له پاره ارامه دوره وه چې ويسا او خوش بيني يې محصول و. حقايق په عمومي ډول قناعت ښوونکی وو، چاره نه کاوه چې د هغو په باب زيږو پوښتنو ته ځوابونه ووايي. رانګ د زړه له کومې معتقد و چې که لوی څښتن د حقايقو غمه و خوړله، د تاريخ د مفهوم غمه به يې هم خوړلې وی. برک خاردت[2] د عصري شکاکيت په يو څه روحيې سره وويل چې «موږ د دايمي عقل د مقصدونو له پاره پيدا شوی نه يو». پروفيسر بټر فيلډ[3] لا حتی په ۱۹۳۱ کې په ظاهري قناعت سره ښکاره کړله چې «مؤرخان د حيزونو په ماهيت او حتی د دوی د خپلې موضوع په ماهيت ډېر لږ سوچ وهلی دی»[4]. خو په دغو ليکچرونو کې زما سلف ډاکتر ای. ايل. راوس[5]

۱ . Francois M.A Voltair (1694-1778) فرانسوي فيلسوف او ليکوال.(م).

2 . burckhadt

3 . H. burckhadt

۴ . ايچ، ټرفيلډ، دويګانو د تاريخ تعبير(۱۹۳۱)، مخ ٦٧.

5 . A.L. Rowse.

تـر نـورو عـادل منقـد د سرونسـتن چرچیل[1] د نـړۍ د بحـران نومې کتاب پـه باب چې د نـړۍ د لومـړۍ جګړې پـه اړه د ده تألیـف دی، ولیکل چې دغه تألیف د شـخصیت، وضاحـت او حیانیـت پـه لحـاظ د تراتسـکي[2] دروسي انقـلاب تاریـخ لـه تألیـف سره دغـرې وهـي، مګـر پـه یوه لحـاظ تر هغـه ضعیـف دی او هغـه دا چې دغـه تألیف «د تاریـخ پ کومې فلسـفې بنا نـه دی»[3].

برتانـوي مؤرخانـو لـه دې څخـه ډډه وکـړه چـې میـدان تـه کـش کـړل شي، نـه له دې املـه چـې د دوی پـه عقیـدې تاریخ مفهـوم نه لاره، بلکـې له دې امله چـې د دوی پـه فکـر د تاریـخ مفهوم بـلا اعتراض، واضح او مشـهود و. د نونسـمې پیـړۍ د تاریخ لـبرالي مفهـوم دلیسـه فر له اقتصـادي دوکتورین سره، چـې هغه هم د نـړۍ په باب پر ځـان ویسـا او ارام نظـر محصـول و، نـږدې ارتبـاط لاره. پرېږدئ چې هـر څوک خپله وظیفـه پـر مـخ بوځـي. د قدرت نـه لیدونکی لاس بـه بیا عالمـي انتظام پـه خپله کړی و. د تاریـخ حقایـق پـه خپلـه د لـوړو څیزونو په لرو د لـوړ حقیقت د ظاهراً بـې انتها او نیکـې ترقـۍ یـوه مظاهـره وه. دا د معصومیت عصر و. مؤرخـان به باغ عـدن ته، بې له دې چـې د فلسـفي جامـه یـې په تن وي او بـې له کومه شرمـه لوڅ او بربنـډ ننوتل او د تاریـخ د څښـتن پـه حضـور کې بـه درېدل لـه هغه وروسـته موږ ګنـاه وکړه.

ولویـدا وایسـتل شـولو، هغـه مامـور خـان چې نـن ورځ پلمـه کوي چـې د تاریخ لـه فلسـفې نـه صرف نظر وکـړي، یوازې بیهـوده زیار باسي چـې د بربنـډو او لوڅو د سـیمې د غـړو پـه حیـث د خپل بـاغ په احاطه کـې باغ کې بـاغ عدن لـه سره جوړ کړي خـو نـن ورځ د تاریـخ لـه هغـې زیږې او دردوونکې پوښـتنې څخه خلاصـون ممکن نه دی.

پـه تېـرو پنځوسـو کالونـو کې د دغې پوښـتنې په باب چـې «تاریخ څه تـه وایي؟» ښایسـته ډېـری لکینې شـوې دي. په تاریـخ کې د حقایقـو د اسـتقلال او لومړیتوب په مقابـل کـې چیلنـج لومـړی د ۱۸۸۰ او ۱۸۹۰ پـه لسـو کالونـو کې له جرمنـي څخه ورکـړل شـو. جرمنـی هغـه ملـک دی چـې د نونسـمې پیـړۍ د لبرالیـزم ارام عصر یې ډېـر نـارام کـړی دی. هغو فیلسـوفانو چـې چیلنجونه ور کـړل اوس یې یـوازې نومونه

1 . Sir Winston Churchil(1871-1965). انګلیسي سیاستمدار او مؤلف.(م).

۲ . Leon Trotsky (۱۸۷۷ - ۱۹۳۹) روسي سیاسي مشر او مؤلف (م).

۳ . اي.ایل. راوس د یوه عصر پای (۱۹۴۷) ، مخونه ۲۸۲ – ۲۸۳.

پاتې دي. لـه هغـو څخـه دل دی[۱] لومړنـی کـس دی، چې په سـترې برتانیـه کې اوس مشـهور شـوی دی. د نونسـمې پېړۍ له اوښـتلو نـه د مخه، پـه دغه ملک کې شـتمن او یـا دومـره قـوي وو چې د بدعت څښـتنانو ته چـې دوی د حقایقو پـه لمانځلو انتقاد کاوه، چـا هیـڅ توجـه نـه لرلـه. خو مشـعل د نـوې پېړۍ پـه سر کـې ایتالیې تـه لاړ او هلتـه کروسـې[۲] د تاریـخ د فلسـفې په پیلو پیـل وکړ. دغه پیـل په ښـکاره ډول د جرمني د فیلسـوفانو مدیـون وو. د کروسـې پـه عقیده[۳] ټول تاریـخ «معاصر تاریـخ» دی معنی یـې دا چـې تاریـخ اساسـاً د اوس پـه سـترگو او د اوسـنیو مسـایلو په رڼا کـې د ماضي لـه لیدلـو څخـه جـوړ دی او د مـؤرخ مهمـه وظیفـه دانـه ده چـې ثبـت وکـړي، بلکې ارزیـابي وکـړي، ځکـه کـه دی ارزیابي ونـه کړي، موږ به څنگه پوه شـو چې څه شـیان د ثبتولـو وړ دي. پـه ۱۹۱۰ کـې کارل بیکـر امریکایي مـؤرخ، قصداً پـه پارونکي ژبه داسـې اسـتدلال وکـړ چـې « د تاریـخ حقایق تـر هغو چې یې مـؤرخ په خپلـه خلق نه کـړي، د هغـه لـه پـاره هیڅ وجـود نه لـري»[۴]. دغـو چیلنجونو تـه اول د جابـس لږ څه پـام شـو. یـوازې لـه ۱۹۲۰ څخه وروسـته و چې د کروسـې نوم په فرانسـې او جرمني کې ښایسـته ښـه خپور شـو. دا شـاید لـه دې امله نه و، چې کروسـې تـر خپلو جرمني اسـلافونه ډېـر دقیـق مفکـر او یا د لیا ښـه اسـلوب څښـتن و، بلکې لـه دې امله و چې لـه لومـړي جهـاني جنگ نـه وروسـته، حقایقو نظر تـر ۱۹۱۴ څخـه ړومبـی، له موږ سره لـږ خنـدل او مـوږ دغسـې یـوې فلسـفې تـه لاره ومندلـه، چـې د حقایقـو حیثت یـې کـماوه. کروسـې د اکسـفورډ پـه فیلسـوف او مـورخ کالینـگ ووډ ژوراثر کـړی و. وروسـتنی په اوسـنۍ پېړۍ کې هغه یوازنی مفکـر و چې د تاریخ د فلسـفې له پاره یې جـدي خدمـت کـړی دی. دی ژونـدی پاتې نه شـو چې خپلې مقالـې، لکه څنگه چې یـې پخپلـه طرحه کـړې وې، په منظـم ډول ولیکي، مگـر په همدغې موضـوع باندې د ده چاپـي او نـه چاپـي مقالـې د ده له مړینې نه وروسـته په یوه کتاب کې را ټولې شـوې

---

۱ . (۱۸۳۳-۱۹۱۱). جرمي فیلسوف.(م) William Dilthey .

۲ . (۱۸۶۶ - ۱۹۵۲). ایتالوي فیلسوف.(م) B.croce

۳ . د دغسـې مشـهورې شـوې وجیـزې قرینـه دا ده: « هغه عمـلي شرایط کوم چې د هغو په اسـاس تاریخـي قضـاوت کېږي، ټولـو تاریخونو تـه «معاصر تاریـخ» خصوصیت ورکوي. علـت یې دا دی چـې کـه څـه هـم په څومـره لیـرې زمانه کـې وقایع شـمېرل کېږي، داسـې ښـکاري تاریخ په واقـع کې اوسـینو احتیاجاتو تـه راجع کېږي او داسـې حالات د مخه کوي، چـې دغه وقایع پکې اهتـزاز کـوي. (بي. کـروسي، تاریـخ دازادۍ د قصـې په حیث، انگریـزي ترجمـه، ۱۹۴۱). مخ ۱۹ .

۴ . ۷۹ میاستې اتلانتیک، کتوبر ۱۹۱۰، ۵۲۸ مخ. Carl Beckwr.

او په ۱۹۴۵ کې د تاريخ د نظر په نامه چاپ شولې.

د کالنګ ووډ[۱] نظريات په دغه ډول خلاصه کېداى شي. د تاريخ فيلسوف نه (پخپله له ماضي) سره او نه (په همغه باب پخپله د مؤرخ له فکر) سره سروکار لري، بلکې (له دواړو څېزونو سره د دوى له متقابلو مناسباتو سره سروکار لري، دا حکم د تاريخ د کلمې دوه جاري معنى ګانې منعکسوي، هغه پلټنه چې مورخ يې کوي او د تېرو شويو پېښو يو لړ چې دى پکې پلټنه کوى). ماضي چې مؤرخ يې مطالعه کوي مړه ماضي نه ده، بلکه داسې يوه ماضي ده چې په يو څه لحاظ تر اوسه هم په اوسنۍ زمانه کې ژوند کوي. خو د ماضي عمل مړ دى، يعنې مؤرخ ته کومه معنا نه لري، مګر تر څو چې دى هغه فکر درک کړي، چې د هغه شاته پروت دى. په دې لحاظ « ټول تاريخ د فکر تاريخ دى» او «تاريخ د مؤرخ په ذهن کې د هغه فکر بيا ژوندى کول دي، د کوم تاريخ چې دى لولي». د مؤرخ په ذهن کې د ماضي بيا تشکيلول په تجربې شواهدو اړه لري. خو دا په خپل ذات کې کومه تجربوي عمليه نه ده او يوازې د حقايقو په لوستلو سره تشکيل کېداى نه شي. بر خلاف، د بيا تشکيلولو عمليه، د حقايقو په انتخاب او توجيه کې مؤثره دى. په حقيقت کې همدغه عمليه ده چې له هغوى څخه تاريخي حقايق جوړوي. پروفيسر اوک شاټ[۲]، چې په دې باب له کالنګ ووډ سره نږدې دى، وايي چې « تاريخ د مؤرخ مهارت دى. له مؤرخ نه پرته يې نور هيڅوک (نه جوړوي) د تاريخ ليکل د هغه د جوړولو يوازينۍ لاره ده»[۳].

دغه لټوونکى منقد، که څه هم د نظريو منل يې ځينې جدي احتياطونه غواړي، په يو څو هيرو شويو حقيقتونو رڼا اچوي. لومړى دا چې د تاريخ حقايق موږ ته هيڅکله (خالص) نه راځي، په دې چې دوى په خالص شکل نه وجود لري او نه وجود لرلاى شي. تل د ثبت کوونکي له لارې انعکاس کوي. له دې څخه دا ښکاري چې څه وخت چې موږ د تاريخ په کوم کار لاس پورې کوو، زموږ لومړنۍ انديښنه بايد د حقايقو په باب نه وي، بلکې بايد د هغه مؤرخ به باب وي، چې تاريخ يې ليکلى دى. که اجازه وي زه به د هغه ستر مؤرخ، جى. ايم. ټرى ويلين

۱ (۱۸۸۹-۱۹۴۳) انګليسي فيلسوف مؤرخ.(م). R. G. Colling wood.

2 . M. Oakesshott.

۳ . ايم. اوک شاټ، تجارت او د هغه طرزونه(۱۹۳۳)، مخ ۹۹.

مثال راوړم، د چا په باب چې دغه لکچرونه ورکول کېږي. ټرې ویلین[۱]، لکه څنګه چې پخپلې اټوبیوګرافي کې لیکي «په کور کې یو څه قدر ته دوګ[۲] په فراوانۍ کې روزل شوی وم»[۳]. زما هیله دا ده چې دی به دغه عنوان رد نه کړي، چې دی د انګلستان دوګ د عنعنې د ستر لبرالې مور خانو وروستی مؤرخ دی، مګر کمکی مؤرخ یې نه دی. دا هسې بې مفهومه خبره نه ده چې دی خپل فامیلي نسب دګ د ستر مؤرخ جارج او ټوټري ویلین[٤] له لارې مکالې[٥] یعنې هغه چا ته رسوي، چې دوک په مؤرخانو کې بې جوړې دی.

د ټرې ویلیین ډېر ښکلی او پوخ اثر انګلستان د ملکې این په عصر کې – د همدغې سابقې په رڼا کې لیکل شوی دی او لوستونکي ته به یې پوره معنی او اهمیت هلته واضح شي، چې کتاب یې یوازې د دغې سابقې په رڼا کې ولوستل شي. مؤلف یې، په واقعیت کې لوستونکي ته هیڅ پلمه نه پرېږدي، چې همدغسې ونه کړي، ځکه که تاسې د پولیسي داستانونو له انتقاد او تخنیکونو څخه کار واخلي، لومړی یې پای ولولي، په دې صورت به په وروستیو څو مخونو کې یوه ډېره ښه خلاصه و مومي چې په دې وختونو کې دوګ د تاریخ تعبیر نومېږي. تاسو ته به دا څرګنده شي چې هغه څه چې ټرې ویلین یې کوي، هغه دوګ د عنعنې د اصل او انکشاف پلټل او د هغه د موسس – دریم ویلیم[٦] له مړینې څخه وروسته د دغې عنعنې ریښې په ښه او محترم ډول خوندي کول او غزول دي. که څه هم شاید دا د ملکې این دسلطنت د پېښو یوازینی درک کېدونکي تعبیرونه وي، مګر دا یو درست او د ټرې ویلین په ګوتو یو مثمر تعبیر دی. خو که تاسې غواړئ د هغه د پوره ارزښت قدر وکړئ، باید پر دې پوه شئ چې دغه مؤرخ څه کوي. ځکه، لکه څنګ چې کالنګ ووډ وایي، که یو مؤرخ باید هغه څه چې د ډرامې د اشخاصو په ذهن کې تېر شوي دي، بېرته را ژوندي کړي.

---

۱ .(۱۸۷٦)، انګلیس مؤرخ (م). G.M. Trevelyan .

2 . Whig

۳ . جي. ایم. ټرې ویلین، اټوبیوګرافي(۱۹٤۹)، مخ ۱۱ .

٤ . (۱۸۳۸ - ۱۸۵۹) انګلیس مؤرخ، سیاستمدار او شاعر .(م) GEORGE Otto Trevelyan.

٥ . (۱۸۰۰-۱۸۵۹) انګلیس مؤرخ، سیاستمدار او شاعر(م) Macaulay.

6 . William III- (1650 – 1702).

لومړی تاسې مړرخ مطالعه کړئ، بیا حقایق مطالعه کړئ. دا دومره ډېره پېچلې کار نه دی. دا هغه څه دي چې لا دمخه د یوه ذکي شاګرد له خوا اجرا شوي دي. هغه وخت چې ده ته سپارښته شوې چې د هغه ستر عالم د سان جو دجونز اثر ولولئ،[1] دی د جونز ملګرو ته ځي او له هغو څخه پوښتې چې جونز څنګه سړی و، چې زمیندار و، څنګه روش یې لار ه؟ څه وخت چې تاسې د تاریخ کوم کتاب لولئ، باید تل بزهاري ته غوږ ونیسئ. که مو کوم بزهاری تر غوږ نه شو، یا به تاسې کاڼه یاست او یا به مو مورخ د نه پارونکي سپي په شان وي. حقایق په واقع کې د هغو ماهیانو په څېر نه دي چې د ماهي خرڅوونکي په تبنګ کې پراته وي. حقایق د هغو ماهیانو په څېر دي، چې په یوه پراخ او کله کله په نه رسیدونکي سمندر کې لامبي، او هغه څه چې مورخ ته ترې په ګوتو ورځي څه یې په تصادف، مګر زیات یې په دې اړه لري چې دی د سمندر کومه برخه د ماهي نیولو له پاره ټاکي او د نیولو له پاره یې څنګه چنګک او جال انتخابوي. دا دواړه عوامل البته په دې اړه لري، چې دی غواړي څه راز ماهي ونیسي. په عمومي ډول مورخ چې څه قسم حقایق غواړي حاصلولی یې شي. تاریخ د تعبیر مفهوم لري. په حقیقت کې که سر جارج کلارک په سر ودرېږي او زه مجبور شم چې ووایم تاریخ د « تعبیر یو ټینګ زړی دی چې د مشکو کو مغزونو له خوا احاطه شوی دی» زما وینا به بې له کوم تردید څخه یوه اړخیز او غلطه کوونکې وي. مګر ګمان کوم چې تر اصل حکم نه به ډېره یوه اړخیزه نه وي.

دوهم ټکی تر نورو ډېر اشنا دی. دا ټکی د مورخ هغه ضرورت دی، چې دی یې د خلکو د ذهنونو او کړنو شاته فکر د ابتکاري معرفت په عرض لري. زه وایم «ابتکاري معرفت» نه «زړه سواندی» او دا د دې له پاره چې له وروستي څخه د موافقت مفهوم وانه خیستل شي. هغه اثار چې په نونسمه پېړۍ کې د منځنیو پېړیو په باب لیکل شوي وو، ډېر ضعیف وو. علت یې دا و چې د منځنیو پېړیو په باب لیکل شوي وو، ډېر ضیف وو. علت یې دا و چې د منځنیو پېړیو او هامي عقاید په کې دومره رد شوي وو، چې د هغه عصر د خلکو د معرفت له پاره د ابتکاري پوهې له پاره ځای نه و پاتې. د دېرشو کالو د جګړې په باب د برک خاردت تبصره

---

1 . Jones of st. jude.

راواخلئ«د یوه ملت له پاره کاتولیکي وي که پروټسټان، دا رسوا کوونکې ده چې خپل خیر د ملت لـه تمامیت څخه پورته وګڼي»[۱]. د نونسمې پېړۍ لبرال مورخ ته دا ډېره ګرانه تماميدله چې د هغو خلکو په ذهن کې ننوځې چې د دېرشو کالو په جګړه کې برخه اخیستې وه ځکه چې دی په دې عقیده روزل شوی و، چې د هېواد دفاع لـه پاره وژل روا او د ستاینې وړ دی، مګر د مذهب له پاره وژل شرارت او سرزوري ده. دا مشکل مخصوصاً په هغې ساحې کې جدي دی، په کومې کې چې زه په کار لګیایم. زیاتره هغه څه چې په وروستیو کالونو کې د شوروي اتحاد په حقله په انګلیسي ویونکو هېوادونو او معکوساً د انګلیسي ویونکو هېوادو په حقله په شوروي اتحاد کې لیلک شوی دی، د همدغه نقص په اثر باطل شوی دی او یوې خوا هم حتی د ابتکاري فهم هغه ابتدایي درجه نه ده په کار کړی چې معلومه کړي د ها بل په ذهن کې څه تېر شوی دی. نتیجه دا شوې چې د یوه ویناوې او کړنې د هغه بل تر ویناوو او کړنو ډېرې شریرې، بې مفهومه او له ریسانه ډکې ښکاره شوې دي. د تاریخ لیکل تر هغو امکان نه لري، چې تر څو مورخ د هغو خلکو له ذهن سره چې د هغو په باب لیکل کوي، یو قسم تماس پیدا نه کړي.

دریم ټکی دا دی چې مونږ ماضي یوازې د اوس په سترګو لیدلې او د هغه په باب خپل فهم ته پرې رسیدلی شو. مورخ د خپل عصر یو شخص دی، او د بشري وجود شرایط ور پورې تړلي دي. هغه جاري او مصطلح کلمات لکه ډموکراسي، امپراتوري، جنګ، انقلاب چې دی یې استعمالوي، جاري اشارې او مفهومونه لري او مورخ ترې مجرد او ګوښه کېدای نه شي. پخوانیو مورخانو د پولیس[۲] او پلبز[۳] کلمات په اصل شکل لیکلي دي او دا د دې لـه پاره چې وښیي دوی په دغه تلک کې ګیر نه شي. خو دا روش لـه دوی سره مرسته نه کوي. دوی هم په اوس کې ژوند کوي، د نامانوسو او زړو کلماتو په استعمال سره ځانونه داسې غولولی نه شي چې ګواکې دوی په ماضي کې دي او دوی به هغه وخت د لرغونې یونان اورم ښه مورخان شي که دوی خپل لیکچرونه په

---

۱ . جې. برک خاردت، د تاریخ او مورخانو په باب قضاوت(۱۹۵۹) مخ ۱۷۹.

2 . polis، (ښار)

3 . piebs.(م)، (د ښکته طبقو اعضا)

ټوګا[1] یا کلامیز[2] کې ورکړي. هغه نومونه چې په هغو سره فرانسوي مورخانو پر له پسې هغه پاريسيان بيانول چې هغوی د فرانسې په انقلاب کې مهم رول لوبولی دیLes sans – culottes , le people, lacanaille , les bras - nus ټول د هغه کسانو له پاره چې د لوبو پر قاعدو پوهېږي، د يوه سياسي ارتباط او د يوه خاص تعبير اعلاميي دی. له دې سره سره مورخ مجبور دی چې انتخاب وکړي. د ژبې استعمال يې له دې څخه منصرفوي چې دې بې طرفه اوسي. دا يوازې د کلماتو موضوع هم نه ده. په سلو وروستيو کلونو کې په اروپا کې د قوت اړول شوې موازنې د لوی فريدريک[3] په اړه د برتانوي مورخانو روش معکوس کړی دی، چې په عيسوي کليساګانو کې د کاتوليکيت او پروټسټانيت تر منځ اړول شوې موازنه د دوی روش د هغو اشخاصو لکه لويولا[4] لوتر[5] او کرومول[6] په باب په اساسي ډول اړولی دی.

د فرانسې د انقلاب په باب په وروستيو څلوېښتو کلونو کې د فرانسوي مورخانو چې اثارو باندې يوه سرسري پوهه ښيي چې ۱۹۱۷ کال روسي انقلاب دوی څومره متاثره کړي دي. مورخ په ماضي پورې نه، بلکې په اوس پورې اړه لري. پروفيسر ټرورروپر[7] مونږ ته وايي چې مورخ «بايد له ماضي سره مينه ولري»، دا يو تېر ايستونکی دستور دی. له ماضي سره مينه لرل، ممکن په اسانۍ سره د زړو اشخاصو او زړو جامعو د پاره د وطن نمانځلو د رومانتسزم يوه افاده وګرځي او دا د اينده او اوس په باب د عقيدې د بايللو علامه[8] ده. که زه کليشه د کليشې له پاره وکاروم، زه هغه ښه بولم چې هغه د «ماضي له مړه لاس څخه» د ځان د ازادولو په عرض وي.

---

۱ ۱. په لرغوني روم کې اوږدې او خلاصې جامې لکه چپنې چې يوازې مدني افرادو به اغوستلې(م). toga

۲ ۲. يو راز خلاص څادر () په لرغوني يونان کې معمول و.(م)

۳ . Frederick the great . (م). (۱۷۹۴ – ۱۸۴۰) د پروس پاچا

4 . I. Loyola.(م)(۱۴۹۱ – ۱۵۵۶)، د جيزويټانو د ټولنې مؤسس

5 . oliver cromwell.(م)(۱۵۹۹-۱۶۵۸)، انګليس جنرال او سياستمدار

6 . Trever – Roper.

۷ . د جي، برک خاردت په تاليف په تاريخ او مورخ قضاوتونه، مقدمه(۱۹۵۹) مخ ۱۷.

۸ . د تاريخ په باب د نيچې نظر ور سره پرتله کړی. « په تاريخي ثقافت کې، د بوډاشانه نظر اچول او د ده قصه ګوي او د ماضي په خاطرو کې تسليت لټول، زاړه عصر ته تعلق نيسي»(له موسم نه وتلي افکار، انګريزي ترجمه، ۱۹۱۹، مخونه، ۶۵، ۶۶.

د مورخ وظیفه دا ده چې نه له ماضي سره مینه ولري او نه له ماضي څخه ځان ازاد کړي، بلکې دی باید ماضي د اوس پېژندلو له پاره د یوې کلې په حیث وپېژني او حاکمیت پرې وکړي.

که څه هم دا د هغو بصیرتونو یو څه وي چې زه یې د کالنګ ووډ د تاریخ نظر بولم، نو اوس د دې وخت را رسیدلی چې خطرات یې هم بیا ن کړم. د تاریخ په جوړولو کې، مورخ په رول ډېر زور اچول، که د هغې منطقي نتېجې پورې تر اخره ورسول شي، د تردید مفهوم لري په دې حساب تاریخ هغه څه کېږي چې مورخ یې جوړوي. داسې ښکاري چې کالنګ ووډ په واقعیت کې یو وخت په یوې ناچاپ شوې لیکنې کې چې د ده د کتاب د مدون له خوا اقتباس شوې دي، دې نتېجې ته هم رسیدلی وي. سان اګوستاین[1] تاریخ د لومړي عیسوي په نظر وکتل. تیلي مونټ[2] د اوولسمې پېړۍ فرانسوي، ګیبون[3] د اتلسمې پېړۍ د انګلیس، موم سن د نولسمې، پېړۍ د جرمني په نظر ور ته وکتل. په دې کې هیڅ ګټه نه شته چې وپوښتل شي، کوم نظر سم و. هر نظر د هر یو له پاره چې اظهار یې کړی دی یوازنی، ممکن نظر و. دا بل څه نه دي مګر یو کلي شکاکیت هغسې شکاکیت لکه د فروډ[4] چې وايي تاریخ «د یوه ماشوم د توریو بکس دی چې په هغه سره موږ کولی شو د خپلې خوښې کلمه مرتبه کړو»[5]. کالنګ ووډ په خپل عکس العمل کې د « بیاتي او سریښ تاریخ» په مقابل کې یعنې د هغه نظر په مقابل کې چې تاریخ یوازې د حقایقو تدوین او تالیف ګڼي، په خپله هغه روش ته په خطرناک ډول سره نږدې کېږي چې تاریخ د انسان د ذهن محصول ګڼي او بېرته هغې نتېجې ته رسېږي چې د سرجارج کلارک له خوا په یوې فقرې کې ورته اشاره شوې ده او مایې دمخه ذکر کړي دي داسې چې «افاقي، تاریخي حقیقت وجود نه لري». د تاریخ د هغې نظریې پر ځای چې وايي تاریخ هیڅ مفهوم نه لري. دلته د لایتناهي مفهومونو تیوري وړاندې شوې ده چې یوه یې هم تر بلې سمه نه ده، او د دواړو

---

۱ . saint augstine. (۳۵۴- ۴۳۰)، عیسوي اسقف.(م)

2 Tillamont.

۳ (۱۷۳۷- ۱۷۹۴)، انګلیسي مورخ.(م)E. Gibbon.

۴ . (۱۸۱۸- ۱۹۰۳)، جرمنی مورخ(م)Theodor Mommsem.

۵ )-James a. Froude 1818-1894. انګلیس مورخ(م)

نتېجـه یـوه کېـږي. دوهم نظـر، هم یقیناً هغومـره بې منطـق او غیر قابل دفـاع دی، لکه لومړنـی چـې دی. څنګـه چـې یـو غر د لیـد له بېلـو بېلو ګوټونـو څخه شـکلونه غوره کـوي، د دې نتېجـه دا نـه کېـږي چـې غر پـه افاقـي ډول سره نه کوم شـکل لـري، او یا یـې شـکلونه لایتناهـي دي. دا نتېجه یې هم نـه کېږي چې څنګه چـې د تاریخ حقایقو پـه ثبتولـو کـې تعبیر مهـم رول لوبـوي او څنګه چې هیـڅ موجود د تعبیر کامـلاً افاقي نـه دی، یـو تعبیـر د هـا بـل پـه انـدازه ښـه دی او د تاریـخ حقایـق اصـلاً په افاقـي ډول تعبیریدلـی نـه شي پـه تاریـخ کـې د افاقیـت د موضـوع په بـاب بـه زه وروسـته یو څه ووایم.

د کالنـګ ووډ پـه فرضیـې کـې تـر هغـه لا هـم یـو بل خطـر شـته دی. کـه مورخ لزومـاً د خپلـې مطالعـې عصر تـه د خپل وخت په سـترګو وګوري او د ماضي مسـایل د اینـده مسـایلو د پاهـر د کلي پـه حیث مطالعـه کړي، دی بـه د تاریـخ د خاص عملي نظـر پـه تلـک کـې ګیر نـه شي او په دې فکـر به نه شي چـې د سـم تعبیر محـک دا دی چـې هغـه لـه کوم موجود مقصد سـهر متوافق کـړي؟ د دغې فرضیې ل مخـې د تاریخ حقاییـق هیڅ شـی نـه دی او تعبیر هر څـه وي. نیچې لا دمخه یو اصل ایسـتلی دی: « د یـوې نظریـې غلطـي مور ته هغې پـه ضد د اعتراض معنـی نه لري .... خـبره په دې کـې دی چـې هغه څومـره ژوند وړاندې بیوونکی، ژوند سـاتونکی، انـواع –پالونکی او ممکـن انـواع خلکوونکـی وي»[1]. امریکایي پراګمتېسـتانو[2] هـم په دغـو لاړو یون وکړ، خـو دوی تـر هغـو زړه نـازړه او لـږ واضـح وو. پوهـه د کـوم مقصـد د پاره پوهـه ده. د پوهـې صحـت او اعتبـار د مقصـد پـه اعتبار پـورې تړلـی دی. حتی په کـوم ځای کې چـې پـه دغسـې تیـورۍ اعتراف شـوی نـه دی، عمـل د اندیښـنې وړ دی. مـا د خپلې مطالعـې پـه سـاحه کـې د مبالغې له ډکـو تعبیرونو لـه حده زیـات مثالونـه لیدلی دي، داسـې مثالونـه چـې به نعل شـویو حقایقـو سـواره دي او د دغه خطر واقعیـت پرې اثر نـه دی کـړی. د حیرانـۍ ځـای نـه دی چې د شـوروي او ضد شـوروي تاریـخ لیکنې[3] د ځینـو لیـا افراطـي محصولاتـو مطالعـه کله کلـه د نونسـمې پېړۍ د خالـص حقیقي

---

۱ . د نیک او بدشانه، لومړی فصل.

۲ . ( د عمل اصالت) Pragmaism هغه اصل دی چې تاریخي حقایق د عملي نتایجو او درسونو په منظور تر بحث لاندې نیسي. پراګمتېستان یعنې د عمل د اصل طرفداران.(م)

3 . Historiography

تاریـخ د غیـر واقعي پنـاه ګاه د پـاره مینه او تعلـق خلق کړی.

نـو موږ د شـلمې پېـړۍ په منځ کـې د حقایقو په مقابـل کې د مـورخ وجیبه څنګه تعریـف کـړو؟ ګـمان کـوم چې ما پـه دې وروسـتیو کالونو کـې کافي وخـت تېر کړی دی، چـې سـندونه ویلټـم او خپـل تاریخـي حکایـت پـه موزونو ماخذ ښـودل شـویو حقایقـو وښـیم او پـه دې ډول لـه دې تومـت څخـه خـلاص شـم چـې ګواکـې ما له حقایقـو او سـندونو سره په سـطحي او سرسري ډول معامله کـړې ده. د مورخ دا وظیفه چـې حقایقـو تـه احـترام وکـړي پـه دې وجیبـې سره نـه تـر سره کېـږي چـې بایـد دی ملتفـت وي چـې د ده حقایق سـم ا ودرسـت وي.

دی بایـد پلټنـه وکـړي تر څو ټول معلـوم او د معلومیدلو وړ حقایـق د ننه په تصویر کـې راوړي، کـوم چـې پـه یوه یـا بـل مفهـوم سره د ده تر مطالعـې لاندې موضـوع او مجوز تعبیـر پورې ارتبـاط لري.

کـه دی پـه دې هڅـه کـې وي چـې د ویکټور یـا د انګلیـس د عصر یـو اخلاقي او عقـلي موجـود و ښـیي، باید هغه پېښـه چې په سـټالي بـرج ویکس کې بـه ۱۸۵۰ کې شـوې وه لـه یـاده ونـه بـاسي. خـو دا پـه خپـل وار د دې معنا نه لـري، چـې دی کولی شي لـه تعبیـر او توجیـه څخـه چې د تاریـخ د ژوند وینـه ده، بالکل منـصرف شي. غیر وارد یعنـې غیـر اکاډمیـک دوسـتان یـا د نـورو اکاډمیکـي دسـپلینونو دوسـتان کله کله ماپوښـتي چـې مـورخ کلـه چـې تاریـخ لیکي خپـل کار څنګـه او پـه څـه ډول کوي. داسـې ښـکاري چـې د تاریـخ لیکلـو ډېره رواجـي فرضیـه دا وي چې مـورخ خپل کار پـه دوو بېلـو بېلـو مرحلـو کې یـا دورونو ویشي. لومـړی، دی پـه یـوې اوږدې ابتدایي دورې کـې منابـع لـولي او د یادداشـت کتابونـه پـه حقایقـو ډکـوي. وروسـته بیـا خپل منابـع ایسـته اچـوي. لیکنې او یادداشـتونه اخلي او خپـل کتاب له سره تـر اخره لیکي. دا تصویـر زمـا پـه فکـر غیر مقنـع او غیر منطقـي دی. زه پخپلـه همدا چې یـو څو ثقه منابـع ولـولم، پـه دې هڅه کې شـم چـې باید لیـکل شروع کـړم. شروع بـه ارو مرو له اول نـه نـه وي خـو لـه یو ځـای او یـا له هـر ځای نه بـه وي.

نـو لوسـتل او لیـکل دواړه پـه عیـن وخت کـې په مخ ځـي او چې زما لوسـتل مخ پـه وړانـدې ځـي، لیکنـه مې یـا کمېږي، یـا اضافه کېږي، یا خپل شـکل بدلـوي ا ویا باطلېږي. لوسـتل په لیکلو سره هدایـت او اداره کېږي او نتېجه پیـدا کوي. څومره چې

زه ډېر لیکم، هغومره په دې ډېر پوهېږم چې څه شی په کار دی او زه هغه څه چې مومم په اهمیت او اعتبار یې تر پخوا لاښه پوهېږم.

ځینې مورخان ممکن دغه لومړنی لیکنه په خپل ذهن کې سطرنجوي، بې له دې چې تختو یا ګوټونو ته مراجعه وکړي. دا یو استعداد دی چې رخه مې پرې کېږي، خو سیالي ورسره کولای نه شم. خو زه قانع یم چې د هر مؤرخ له پاره چې د دغه نامه لیاقت لري، دواړه عملیې چې اقتصاد پوهان یې «دخل» او «خرڅ» بولي، په عین وخت کې پر مخ ځي، او په واقع کې دواړه د یوې عملیې دوه برخې دي. که ته زیار وباسې چې هغه سره بېل کړې، یا یو تر بل یې دمخه وګڼې، له دغو دوو بدوعتونو څخه به مو یو کړی وي. یا به د بیاتي-او-سریښ تاریخ ولیکې چې اهمیت او مفهوم به نه لري. یا به پروپاګند یا تاریخي داستان لیکې او د ماضي حقایق به یوازې د دې له پاره کاروې چې داسې لیکنه پرې وکړې، چې هغه به هیڅ تاریخ نه وي. د تاریخ له حقایقو سره د مورخ د مناسباتو په باب زموږ دا کتنه موږ ظاهراً د سولا او کاروبډس[1] تر منځ د بحري حساس سفر له خطرناک حال سره مخامخ کوي، یعنې د هغو دو خطرناکو تاریخي نظریو په لور مو بیایي چې لومړی یې د حقایقو په افاقي تدوین او په تعبیر باندې د حقیقت په غیر مقید اولیت قایل دی او بل یې تاریخ د مورخ د ذهن عندي محصول بولي، داسې چې مورخ د تاریخ حقایق تثبیت کوي او د تعبیر عملیې په وسیلې سره، په هغو حاکمیت کوي. په بل عبارت د تاریخ د هغو نظریو په لور مو بیایي چې د یوې د ثقل مرکز په ماضي او د هغې بلې په اوس کې دی.

خو دا دواړه نظریې غیر منطقي او نه مدافعه کېدونکې دي، خو زموږ حال تر هغه چې ښکاري، لږ خطرناک دی. موږ به د حقیقت او تعبیر همدغه دوه ګون توب وروسته په نورو شکلونو -خاص او عمومي، عملي او نظري، افاقي او عندي کې وګورو. د مورخ مشکل او حساس حالت د انسان د ماهیت نعکاس دی. انسانان

---

۱ . Charybdis, Scylla. د هومر په دولسمې اودیسې کې د هغه شپږ سرې ځناور نوم دی، چې هم په ګرداب او هم په غټه تیږه کې اوسي. څنګه چې ګرداب او غټه تیږه د میسینا په تنګۍ کې سره مخا مخ واقع دي. یو څوک نه شي کولای له هغه ځایه تېر شي، بې له دې چې د یوه له خوا ګیر نه شي. سولا او کارو په اسو وخت کې د دوو خطرناکو، یا د شیطان او زور سین، تر منځ په معنی سره استعمالیږي.(م)

نـه پـه خپلـه محیـط کې پـه بشپړه توګه ننوتی وي، خو پـه ټولـه معنـی دخیـل دی. او نه پـه کلي ډول د هغـه د شرایطو تابـع دی. لـه بلـې خـوا دی هیڅکله لـه خپل محیـط څخه نـه پـه کلي ډول ازاد دی او نـه یـې بـې شرط او قیده بـادار دی. له محیط سره د انسـان مناسـبت، لـه موضوع سره د مـورخ د مناسـبت پـه شـان دی. مـورخ نـه د خپلـو حقایقـو لاس پـه نامه غـلام او نه د هغـو ظـالم بـادار دی د مـورخ او دهغـه د حقایقـو تـر منځ مناسـبات به مسـاوي، پر روغـې او مصالحـت بنا دي.

څنګـه چـې هـر کارکوونکی مورخ پوهیږي چـې که دی د لیکلو او سـوچ وهلو په وخـت کـې د تفکـر له پـاره توقیـف وکړي، نـو دی په حقیقـت کې په دغسـې مداومې عملیـې کـې بوخـت او دخیـل دی چـې حقایق د خپـل تعبیـر ، او خپل تعبیـر د خپلو حقایقـو پـه قالـب کې اچـوي، دا ممکنه ده چـې یو دې مقـدم وګڼل شي.

مـورخ د حقایقـو لـه موقتـي انتخـاب او د دغـه انتخـاب پـه رڼـا کې له یـو موقتي تعبیـر څخـه پیل کـوي، دا کار په خپله او د نورو په وسـیله او مرسـته کوي، څنګه چې دی کار کـوي او پـر مـخ ځـي تعبیر او د حقایقـو ترتیب او انتخـاب دواړه یـو راز تغییر کـوي، چـې ممکـن یـو څه یې غیـر شـعوري وي او دا تعبیـر د یو یا بل پـه مقابل عمل سره کـوي، دغـه دوړه اړخیـز عمل بیا د مـاضي او اوس تر منځ دوه اړخیزتوب راولي، ځکـه چـې مـورخ د اوس جـز دی او د حقایقـو ماضي پـوې اړه لري مـورخ او د تاریخ حقایـق دیـوه بـل د پـاره ضروري دي. مـورخ له خپلـو حقایقو نه پـه پرته بې ریښـې او باطـل دی او حقایـق یـې لـه مورخ نه مـړه او بې مفهومـه دي. نو د تاریخ څـه ته وایي؟ د سـوال پـه مقابـل کې زما لومړی ځـواب دا دی چې تاریخ د مـورخ او د هغه د حقایقو تـر مینـځ د دوه اړخیـز تاثیـر یـوه دوامـداره عملیـه او د اوس او مـاضي تـر منځ یوه نه تمامیدونکـې مکالمه ده.

## جامعه او فرد

دا پوښـتنه چـې جامعه لومړی ده که فرد، د چرګې او هګې په شـان ده. که تاسـې دغـې پوښـتنې تـه په منطقي یا تاریخي نظر وګورئ، تاسـې نه شـی کولـی چې د هغې پـه بـاب یـو قسـم یا بل قسـم حکـم وکړئ، بـې لـه دې چې هغـه حکم د هغـه په ضد او یـا مسـاویاً پـه یـوه اړخیز حکم سره او سـم او صحیح نـه شي. جامعه او فـرد سره نه

بېلېدونکـي دي. يـو و بل تـه ضرور او مکمل ته دي. ضدونه نه دي. ډون[۱] په مشـهورو کلماتـو «هيـڅ انسـان کاملاً په خپـل ذات کې يو ټاپـو نه دی.

هـر انسـان د براعظـم يـوه ټوټـه ده، دا يې يوه برخـه ده[۲] دا د حقيقت يـو مظهر دی. لـه بلې خـوا د د جي.اس. مل[۳] کلاسـيکي فردپرسـت وينا را واخلئ«انسـانان کله چې يـو ځـای کـړل شي، پـه يوه بل قسـم جوهر نـه بدليږي»[۴] البتـه نه، خو خطا پـه دې کې ده چـې داسـې ګڼلـه کېـږي، چـې ګواکې يو وخـت موجود و يـا پخوا لـه دې چې «يو ځـای کـړل شي» يـو راز جوهر يـې لاره. همدا چې مـوږ وزېږېدل شـولو، چاپېره نړۍ پـر مـوږ عمليـه اجرا کـوي او لـه محض بيالوجيکـي واحدونـو څخه مو پـه اجتماعي واحدونـو اړوي. هـر انسـان پـه تاريخي او يـا له تاريخ نـه دمخه مرحلې کـې زېږېدلی دی او لـه خپلـې ابتدايـي مرحلې څخـه د هغې جامعې لـه خوا يې شـکل اختيار کړی دی. هغـه ژبـه پـه کومـې چـې دی ګړېـږي، فردي ميـراث نـه دی، بلکې لـه هغې ډلې څخـه چې دی پکـې ژوند کـوي، يو اجتماعي اکتسـاب دی.

ژبـه او چاپېريـال دواړه د هغـه فکر په ټاکلو کې مرسـته کوي. لومـړني نظريات يې لـه نـورو څخـه اخيسـتل کېږي. لکـه چې ډېر ښـه ويـل شـوي دي: فرد به لـه جامعې نـه غيـر نـه ژبه ولري، نه فکر. درابن کروسـو[۵] د خيالي افسـانې هميشـنی سـحر د هغه زيـار لـه برکتـه دی چـې يو فرد له جامعې نه مسـتقل پـه خيال کې نيول شـوی دی. خو دا زيـار نـه تـر سره کېـږي. رابن سـن کـوم مجرد فـرد نـه دی. دی د ديارک د سـيمې يو انګليـس دی، لـه ځان سره خپـل انجيل وړي او خپـل قبيلوي خدای لمانځي. افسـانه زر هغـه تـه د هغـه نارينـه فـرای ډې[۶] ور اعطا کوي او پـه دې ډول د يـوې نوې جامعې جوړېـدل شروع کېـږي. موضوع ته مربوطه بله افسـانه د داستايوفسـکي[۷] په (شـيطان) نومـي داسـتان کـې د کيرولـوف[۸] ده. دی د دې لـه پـاره چې خپلـه پوره ازادي وښـيي،

۱ (۱۵۷۳ - ۱۶۳۱) انګليس شاعر(م). John Donne.

۲ . د ظاهر شويو مواقعو په باب فداکاري، لمبر ۱۷ .

۳ (۱۷۷۳-۱۸۰۶) انګليس فيلسوف او اقتصاد پوه(م). JOHN Stuart mill.

۴ جي.اس. ميل، د منطق سيستم، ۷۱۱..

۵ Robinson Crusoe .

۶ . فرې ډې اصلاګډ يو ه رب النوع نوم دی(م). Man Fridy .

۷ . (۱۸۲۱ - ۱۸۸۱) روسي ناول ليکونکی (م).FEODOR F. Dos toyevsky.

۸ Kirolov .

ځان وژني. انتحار هغه یوازنی پوره ازاد عمل دی، چې د یوه فرد له پاره میسر دی. هر بل عمل هر راز چې وي په جامعې کې د فرد د غړیتوب حتمي کوي[١].

انسان پېژندونکي عموماً وايي چې ابتدايي انسان نظر مدني انسان ته لږ فردي دی او جامعې تر زیاتې اندازې دویته شکل او صورت بښلی دی. په دغه حکم کې د حقیقت یو عنصر شته دی. بسیطې جامعې تر پېچلو جامعو زیاتې په یوه شکل وي، په دې مفهوم چې بسیطې جامعې نظر پېچلو او پر مختللو جامعو ته د فردي مهارتونو او مشغولیتونو د پاره لږ چانس او محدوده تنوع ور کوي. په دغه مفهوم سره د افرادو له پاره زیاتېدونکی تشخیص یا فردي کېدل د عصري پرمختللې جامعې یو ضروري محصول دی او له سره تر اخره یې په ټولو فعالیتونو کې جریان لري. خو دا به یوه جدي اشتباه وي چې که د فردي کېدلو د دغې عملیې او د جامعې د التصاق او زیاتېدونکې قوت تر منځ تضاد ومنل شي. د جامعې او فرد انکشاف لاس په لاس په مخ ځي او یو په بل اثر کوي.

په حقیقت کې زموږ په فکر، پېچلې یا پرمختلللې جامعه هغه ده چې هلته پر یوه بل باندې د افرادو تکیه او ارتباط پر مختللي او پېچلي شکلونه غوره کړي وي. دا به خطرناک وي که وګڼل شي چې د عصري ملي جامعې قوت نظر ابتدايي قبیلوي جماعت ته کم دی چې د فردي غړو یو سجیې او فکر ته شکل او صورت ورکړي او د هغوی ترمنځ د مطابقت او هم شکله کېدلو یوه معینه درجه وټاکي. د بیالوجیکي اختلافاتو په اساس د مهلي خصوصیت زړه مفکوره ډېره دمخه تر دې له اعتبار نه لویدلې ده؛ خو د ملي خصوصیت له اختلاف نه چې د یوې جامعې د مختلفې ملي سابقې او معارف څخه پیدا کېږي انکار نه شي کېدلی.

هغه تېر ایستونکی واحد چې د «بشري طبیعت» په نامه یاد شوی دی له یو ملک نه و بل ملک ته، او یوې پېړۍ نه وبلې ته توپیر لري. اوس مشکله ده چې دا فرق یوه تاریخي حادثه وګڼل شي، چې مسلطو اجتماعي شرایطو او عادتونو یې شکل ور ټاکلی دی. د مثال په ډول د امریکایانو، روسانو او هندیانو تر منځ هم ډېر

١ . دور کهایم د انتحار په باب په خپل مشهورې مقالي کې د ()کلمه وضع کړې ده، مطلب یې د هغه فرد د حالت ښوول دي چې ل خبلې جامعې څخه ګوښه شوی. دا هغه حالت دی چې د جذباتي احتلال او انتحار د پاره مساعدوي، خو دا هم وښودله چې انتحار په هیڅ وجه د جامعې له حالاتو څخه بهر او مستقل نه وی.

توپیر نه شته، خو ځینې اختلافونه، یا ممکن د هغو ډېر مهم اختلافونه د افرادو تر منځ د اجتماعي مناسباتو په مقابل کې شکل نیسي. د کومې په اساس چې باید جامعه جوړه شي چې د امریکایي، روسي او هندي جامعې تر منځ د اختلافاتو مطالعه د فردي روسانو، امریکایانو او هندیانو ترمنځ د اختلافاتو د مطالعې له پاره یوه ډېره ښه وسیله او طریقه وګرځي. متمدن انسان هم د ابتدایي انسان په شان د جامعې له خوا د فردي مهارتونو او مشغولیتونو د پاره لږ چانس او محدوده تنوع ورکوي. په دغه مفهوم سره د افرادو له پاره زیاتېدونکی تشخیص یا فردي کېدل د عصري پرمختللې جامعې یو ضروري محصول دی او له سره تر اخره یې په ټولو فعالیتونو کې جریان لري؛ خو دا به یوه جدي اشتباه وي چې که د فردي کېدو د دغې عملیې او د جامعې د النصاق او زیاتېدونکي قوت تر منځ تضاد ومنل شي. د جامعې او فرد انکشاف لاس په لاس پر مخ ځي او یو پر بل اثر کوي.

په حقیقت کې زموږ په فکر، پېچلې یا په مختللې جامعه هغه جامعه ده چې هلته په یوه بل باندې د افرادو تکیه او ارتباط په مختللي او پېچلي شکلونه غوره کړي وي. دا به خطرناک وي که وګڼل شي چې د عصري ملي جامعې قوت نظر ابتدایي قبیلوي جماعت ته کم دی چې د فردي غړیو سجیې او فکر ته شکل او صورت ورکړي او د هغوی ترمنځ د مطابقت او هم شکل کېدلو یوه معینه درجه وټاکي. د بیالوجیکي اختلافاتو په اساس د ملي خصوصیت زړه مفکوره ډېره دمخه تر دې له اعتبار نه لویدلې ده؛ خو د ملي خصوصیت له اختلاف نه چې د یوې جامعې د مختلفې ملي سابقې او معارف څخه پیدا کېږي، انکار نه شي کیدای.

هغه تېرایستونکی واحد چې د «بشري طبیعت» په نامه یاد شوی دی له یوه ملک نه وبل ملک ته او له یوې پېړۍ نه وبلې توپیر لري. اوس مشکله ده چې دا فرق یوه تاریخي حادثه ونه ګڼله شي، چې مسلطو اجتماعي شرایطو او عادتونو یې شکل ور ټاکلی دی. د مثال په ډول د امریکایانو، روسانو او هندیانو تر منځ هم ډېر توپیرونه شته ، ځینې اختلافونه یا ممکن د هغو ډېر مهم اختلافونه د افرادو تر منځ د اجتماعي مناسباتو په مقابل کې د مختلفو سلوکونو شکل نیسي. په بل عبارت دغه اختلافونه د هغې طریقې په مقابل کې را منځ ته کېږي، د کومې په اساس چې باید جامعه جوړه شي، تر څو د امریکایي، روسي او هندي جامعې تر منځ د اختلافاتو

مطالعـه د فـردي روسـانو، امریکایانـو او هندیانو تر منځ د اختلافاتـو د مطالعې له پاره یـوه ډېره ښـه وسـیله او طریقه وګرځـي. متمدن انسـان هم د ابتدايي انسـان په شـان د جامعـې لـه خـوا هغومـره په موثـر ډول شـکل و صورت غـوره کوي، لکـه څومره چې جامعـه د هغـه لـه خـوا شـکل و صورت غـوره کـوي. نه نه شـي کولی چـې چرګې نه نـورې هګـې ولرلـی شـې، څومره چې ته چرګـه بې له هګـۍ نه لرلی نه شـې.

لازمـه نـه ده چې په دغو ښـو واضحو حقیقتونـو دومره بحث شـوی وای. بحث د دې لـه پاره اوږد شـو چې دغه حقیقتونه د تاریخ په هغه اسـتثنايي او فـوق العاده دورې کـې زمـوږ لـه سـترګو نـه پټ شـوي دي، له کومـې څخـه چـې لویدیځه نـړۍ همدا اوس سر راپاسـي. د فردیـت د لمانځـول ائیـن[1] د معـاصر وتاریخي افسـانو خوار قوي افسـانه ده. د بـرک خـاردت د هغـه اشـنابیان لـه مخـې چـې (پـه ایټالیې کـې د مدنیت رنسـانس) نومـي کتـاب کې یې ذکر کـړی دی او دوهمـه برخه یې د «فرد انکشـاف» په نامـه عنـوان شـوی دی، د فـرد لمانځلو ائیـن له رنسـانس سره شروع شـوی دی، یعنې هغـه وخـت چې انسـان چې تر هغـو پورې یـې (د یوه نـژاد، خلکو، ګونـد، کورنۍ او صنـف د غـړي پـه حیث آګاهـي لرله) بالاخـره «د یـوه روحي فـرد خاوند شـو او ځان یـې همدغسـې وپېژند». وروسـته دغه ائیـن د سرمایـه دارۍ د اصل او پروټسټانیت له ظهـور او د صناعتـي انقـلاب لـه شروع او د لیسـه فـر لـه نظریاتـو سره مربوط شـو. د انسـان او مـدني افـرادو حقوق چې د فرانسـي انقلاب اعـلام کړل، د فرد حقـوق وو. د فـردي لمانځلـو اصل د نونسـمې پېړۍ د سترې فلسـفې د ګټې اصل[2] بنسـټ و.

د مورلـې[3] مقالـې د (روغې پـه باب) چې د ویکټوریا د عصر د لبرالزم یو مشـخص سـند دی، د فردیـت اصـل، او د ګټـې اصـل یـې د «انسـان د سـعادت او رفـا مذهب» وبالـه. «کرښـټه فردیـت» د بشري ترقۍ کلي لـوی اصل و. ممکن دا بـه د یوې خاصې تاریخـي دورې د ایډیالوجـۍ[4] پـوره سـم او درسـت تحلیـل وي. خو هغه څـه چې زه یـې غـوارم واضـح کـړم دا دی چې زیاتېدونکـی فردي کېـدل چې د معـاصرې نړۍ له ظهـور سره ملګـری و، د مدنیـت د پر مختللـو یوه طبیعي عملیـه وه. اجتماعي انقلاب

1 . The cult of individuaalism
2 . Utalitarianism
۳ (۱۸۳۸ - ۱۹۳۲)، انګلیس لیکوال او سیاسي.(م) John Morley.
۴ . د افکارو او نظریاتو مجموعه او هیئت.(م) Ideology.

نـوې اجتماعـي ډلـې د قـوت ډګرونـو ته هسـکې کړلـې. دغه انقـلاب د تل په شـان د افـرادو په وسـېله او د فردي انکشـاف په لـور د نويو مواقعو په ميندلـو او تقديمولو سره کار وکـړ. څنګـه چـې د سرمايـه دارۍ د اصـل په لومړنيـو پوړونو کې د توليـد او وېش واحدونـه پـه زياتـې انـدازې د واحدو افـرادو په لاس کـې وو. په اجتماعـي نظام کې د نـوی اجتماعـي نظـم ايډيالوجي په فـردي ابتکار ډېـره زوره واچوله. خـو دا ټوله عمليه يـوه اجتماعـي عمليـه وه چې په تاريخي انکشـاف کې يـې يوه خاصه مرحله ښـودله. دا مرحلـه د جامعـې پـه مقابـل کې د افـرادو په قيام يا لـه اجتماعي قيدونـو څخه د فرد پـه ازادۍ تعبيرېدلی شي.

ډېـرې علامـې ښـيي چـې حتـی پـه لويديځـې نـړۍ کـې چې د دغـه انکشـاف او ايډيالوجـۍ مرکـز و، د تاريـخ دغـه مرحلـه پـای تـه رسـېدلې ده. لازمه نـه ده چې دلته پـه هغـه څـه چې د تـودې په ډموکراسـۍ يـاده شـوې ده، ډېر ټينګار وکړم. داسـې هم لازمـه نـه بـولم چـې پـه دې زيـات بحـث وکـړم چـې د اقتصـاد توليـد او تنظيـم قوياً اجتماعـي شـکلونو د قوياً فردي شـکلونو ځای پـه تدريجي ډول سره نيولـی دی. هغه ايډيالوجـي چـې دغـې اړدې او مثمـرې دورې زېږولـې ده، تـر اوسـه هم پـه لويديځه اروپـا او انګريـزي ويونکـو هېوادونـو کې يو مسـلط او غالب قـوت دی. کله چې موږ د ازادۍ او اجتماعـي مسـاوات تـر منـځ خرېړتيـاوې پـه مجـردو اصطلاحاتو يـادوو، ممکـن مـوږ دا لـه ياده وباسـو چې مجـرد افکار په خپـل منځ کې سره جنګ نه کوي.

دا د همدغسـې وګـړو او جامعـې تر منځ جګـړې نه دي، بلکې د جامعـې د افرادو او ډولـو ترمنځ جګـړې دي، داسـې چـې هـره ډلـه زيار بـاسي چې هغسـې اجتماعي سياسـتونه پـه مـخ بوځـي چې پـه ګټـه يـې وي او هغسـې اجتماعي سياسـتونه شـنډ کـړي چـې پـه تـاوان يـې وي. د فرديـت اصـل په دغـه مفهـوم سره چې نور نويو سـتر اجتماعـي نهضـت نـه بلکې د فـرد او جامعې تر منځ يـو دروغي تضـاد دی، نن ورځ د ليوالـې ډلـې شـعار ګرځېدلی دی او د خپـل متنازع فيه خصوصيت له املـه، د هغه څه د پوهېدلـو لـه پـاره چې په نـړۍ کې واقع کېږي، مانـع شـوی دی. زه د هغـه انحراف پـه ضـد چې فرد يوه وسـيله بـولي او جامعـه يا دولـت هدف ګڼـي، د فـرد لمانځلو د اصـل پـر ضـد د ويلو هيڅ شـی نه لـرم؛ خو موږ به د مـاضي يا د اوس پـه باب حقيقي پوهـې تـه ونـه رسـېږو چې که د فـرد په هغسـې مجرد مفهـوم سره چې لـه جامعې نه

بهر ګڼل کېږي، عمـل وکړو.

دغـه بحـث نـو اوس مـا د خپـل ګریـز ټکي تـه راولي. د تاریـخ د سـلیم عقل نظر هغـه یـو داسـې څـه ګڼي چې د افـرادو په بـاب د افـرادو له خـوا لیکل شـوی وي. په دې کـې څه شـک نه شـته چې دغه فکر د نونسـمې پېـړۍ لبرالي مورخانو اخیسـتی او رواج کـړی و او پـه اصـل کې نادرسـت نه دی. هغه اوس له حده ډېر سـاده شـوی دی او غیـر مکفـی شـمېرل کېږي او ښـایي موږ هغه ته ښـه ځیر شـو. د مـورخ پوهه د هغه خـاص فـردي ملکیـت نه دی، بلکـې د ډېرو نسـلونو او ډېرو مختلفو ملکونو انسـانانو د هغـې پـه ټولولـو کـې برخـه لرلې ده. هغـه انسـانان چې مـورخ د هغو کړنـې مطالعه کـوي ګوښـه شـوی او مجـرد افـراد نه وو چـې خلا کـې یـې عمـل کاوه. دوی د یوې تېـرې جامعـې په قرینې کـې او د هغې پـه خوځېدلو سره عمـل کاوه.

مـا پـه یـوه پخواني لکچر کـې تاریـخ د یـوې دوه اړخیـزې عملیې په حیـث او په اوس کـې د مـورخ او پـه مـاضي کـې د مـاضي حقایقو تـر منځ یـوه مکالمه بللـې وه. اوس غـواړم د معادلـې پـه دواړو خـواوو کـې د فـردي او اجتماعي عناصرو په نسبي وزن وګړیـږم. مورخـان څومره شـخصي افـراد او څومـره د جامعـې او عصر محصول دي؟ د شـخصي افـرادو پـه بـاب حقایق څومـره تاریخـي او څومـره اجتماعي دي؟

مـورخ یـو فـردي انسـان دی، د نورو افـرادو په حیـث دی هم یـوه اجتماعي حادثه ده. هـم د هغـې جامعـې چـې دی ور پـورې اړه لـري محصـول دی، او هـم د هغـې شـعوري او غیـر شـعوري ویاند دی.

دی پـه همدغـه حیث سره د تاریـخ مـاضي حقایقـو ته وړانـدې کېـږي او مطالعه کـوي یـې. کلـه کله موږ د تاریخ سیر تـه یوه«خوځېدونکـې اجتماع» وایو. دا مسـتعار نـوم ښـه مـوزون او پـه ځـای دی، پـه دې شرط چـې مـورخ پـه دې فکـر نـه شي چې دی د ګربتـې پـه څېـر یـوه ګوښـي کمـره څخـه د منظرې ننداره کـوي او یا د یـوه ډېر مهـم شـخص په شـان له لېرې څخه سـلام اخلي. دی داسـې یـو هم نـه شي کېدلی. مـورخ هـم بـس د یـوه بل فرد پـه حیث د اجتـماع په یوې برخـې کې یون کـوي او چې اجتـماع کـره وړه درومـي، کلـه ښـې خـوا ته کـږه شي، کلـه کیڼې تـه او کله کلـه لا په شـا لوېږي، اجتـماع د بېلـو بېلو برخو نسـبي موفقونه هم تـل تغییروي، دغـه حرکتونه ممکـن دغسـې مفهـوم ولري چـې مثلاً وویـل شي موږ لـه خپلو غورنیکونـو څخه نن

ورځ منځنیو پېړیو تـه ډېر نږدې یـو، یا دا چې د قیـصر عصر موږ تـه د دانته[1] تر عصره نـږدې دی. څنګـه چـې اجتماع پـه مـخ درومـي او ورسره ورسره مورخ حرکـت کوي، نـوي رازونـه او د لیـد کنجونه پر له پسې را ښکاره کېږي. مـورخ د تاریخ یـو جز دی. د اجتـماع هغـه برخه چـې دی پکې ځان مومـي، د ماضي په بـاب د ده د بصیرت زاویه ټاکي.

دا ښکاره حقیقـت د هغـه عـصر پـه بـاب هم پـوره صدق کـوي، چې مـورخ یې مطالعـه کـوي او د ده د خپـل عـصر څخـه لېـرې دی، څـه وخـت چـې مـا د لرغوني یونـان تاریـخ لوسته په دغه مضمون کې کلاسیکي کتابونـه د ګروټ[2] د (یونـان تارخ) او مومـزس[3] د روم تاریـخ و. دا کتابونـه ممکـن تر اوسـه هم د کلاسیکي اثارو حیثیت ولـري. ګـروټ یـو منور انقلابي بانـک لرونکی و چـې د ۱۸۴۰ په لسـو کلونو کې یې لیکنـې وکـړې. ده په خپلـو اثارو کې د اتن د ډموکراسـۍ په مطلـوب او ایډیالي تصویر کـې چېرتـه چـې پریکلس[4] د بنتهامي مصلح[5] په حیث ښـکاره کېـده او اتن په لږ وخت کـې د امپراتـورۍ خاونـد شـو، د برتانیـې د مخ په ظهور او په سـیاسي لحـاظ د مترقي متوسـطې طبقـې هیلـې او اسرې ځایولـې. دا بـه خیالي نـه وي چې وویـل شي په اتن کـې د غلامـۍ د مسئلې نـه ذکر کـول، د ګـروټ د ډلې ناکامي ښـیي په کومـې پورې چـې دی منسـوب و او ویـې نـه شـو کولـی چـې د نـوي انګلیسي فابریکـو د کارګرو د ډلـې مسـایل حـل کـړي. موم سـن یـو جرمنـی لـبرال و چـې د جرمنـي د ۹-۱۸۴۸ انقلابـات ګـډوډۍ او نـا کامیـو سر ګیچ کـړی و. د ده لیکنې د ۱۸۵۰ څخـه د ۱۸۶۰ پـه لسـو کالونـو کـې یعنـې پـه هغـه وخت کـې چـې وشولې چـې د ملي سیاسـت[6] مفهـوم او نـوم پکـې ظاهـر شـوی و. مـوم سـن د یـوه قـوي شـخص د لټولـو پـه فکر شـو چـې هغـه ورانـې ویجاړې سـمې کـړې کومې چـې جرمنیانـو ته د سـیاسي هیلو

۱ . A. Dante . (۱۲۶۵-۱۳۲۱) ایټالوي شاعر(م)

۲ . George Grote (۱۷۹۴ - ۱۸۷۱) انګلیسي مورخ (م)

۳ . Theodor Mommsen (۱۸۱۷-۱۹۱۳) جرمنی مورخ (م)

۴ . Pericles. (۴۹۵-۴۲۹)، د اتن سیاستمدار.(م)

۵ . Bentham Benthamite. (۱۷۴۸-۱۸۳۳) انګلیسي فیلسوف او حقوق پوه. د ده مشهور اصل ډېره ګټه د ډېر شمېره دپاره په نولسمې پېړۍ کې قوي انعکاس وموند.(م)

۶ . . Realpolitk هغه سیاست ته راجع کېږي، چې د هغه له مخې د یوه ملت مادي ستر توب او کامیابي په نورو ملتونو مقدمې ګڼل کېږي.(م)

د نـه تـر سره کېدلـو لـه ناکامۍ څخه پيـدا شـوې وې. موږ بـه د ده د تاريـخ په حقيقي ارزښـت پـوه نه شـو تـر څو پر دې پوه شـو چې د يوه قوي شـخص د پـاره د ده د قيصر تصويـر کښـل د ده د هغـې هيلـې محصـول دی چې جرمنـی له تباهـۍ څخه خلاص کـړي. د همدغـه فکـر په اسـاس و چې مقنن- سـياس سـيسرو[1] چې دغـو روبکس او ښـوېډونکی مسـامحه کوونکی ګڼل شـوی دی، پـه فرانکفورت کې د پـالي کرشي[2] له بحثونـو څخـه نيغ پـه وتلو کې ښـودلی شـوی دی. پـه واقع کې زمـا په فکر بـه دا بې معنـی ونـه بريښـي چې که څـوک ووايي د ګـروب د يونـان تاريخ به نـن ورځ د ۱۸۴۰ نـه تـر ۱۸۵۰ پورې د انګليسي راډيکالي فلسـفې پـه باب هغومره څه ښـکاره کړي کله چـې د ق.م. پنځمـې پيـړۍ د يونان د دموکراسـۍ په بـاب به يې ووايي. داسـې هم هر هغـه څـوک که غـواړي پر دې پـوه شي چـې ۱۸۴۸ کال په جرمني ليبرالانـو څه وکړل د مومسـن د روم تاريخ دی د درسي کتابونو په حيث اسـتعمال کړی. دا کار به د سـترو تاريخـي اثـارو پـه حيـث د دغو کتابونو حيثيـت کم نه کـړي. زه د هغه معمـول په باب چـې پـرې پـه خپلو افتتاحـي ليکچرونو کـې رواج کـړي دي، صبر او حوصلـه نه لرم چـې وايـي د مـوم سـن لـوی والی د هغـه د روم تاريـخ په وجه نـه دی، بلکـې د هغه د نـورو ليکنـو او د روم د اسـاسي قانـون د اثـر پـه وجـه دی. پـه دغه حکـم سره تاريخ د تاليـف او تدويـن سـطحې تـه کوزول دی. سـتر تاريخ هغـه وخت ليکل کېـږي چې د مـاضي پـه بـاب د مورخ ديد او خيال د حاضرو مسـئلو په بصيرتونـو سره روڼ شي. ډېر کلـه حيـراني پـه دې کې ښـودله شـوې ده چې مومسـن ونه شـو کولای خپـل تاريخ د جمهوريـت لـه ړنګيـدو نه اخوا بوځـي. ده هم وخـت لاره، هم موقع او هـم علم. کله چـې مـوم سـن خپـل تاريخ ليکـه په جرمنـي کې لا کوم قوي شـخص هسـک شـوی نـه و. څـه وخـت چـې يو قـوي شـخص د اختيـار خاوند شـو، هغه مسـايل چې پېښ شـوي وو، لا حقيقـي شـوي نـه وو. هيـڅ څيـز موم سـن ونه شـو تخنولی چـې خپله مسـئله بيرتـه د روم په صحنې کې طرح کـړي او د امپراتورۍ تاريخ ناليکلی پاتې شـو. دا بـه مشـکله نـه وي چـې د دغې حادثې مثالونـه په عصري مورخانو کې وښـودل

---

۱ . Marcus J . Cicero(۱۰۶-۴۳ ق. م) د روم مبلغ، ليکوال. (م)

۲ . Paulikirche و هغو مباحثو ته اشاره ده چې ۱۸۴۸ کې د فرانکفورت د ښار په دغه سالون کې د منځنيو طبقو ته منسوبو روشنفکرانو له خوا د جرمني د بيا متحده کولو او مشروطه کولو د پاره وشوې او ناکامې شوې.(م)

شي. په وروستي لیکچر کې مې د جي.ایم.ټریولیین د انګلیستان د ملکې این په عصر کې دوګ[1] د عنعنې د یادګار په حیث په کومې کې چې دی روزل شوی دی ولمانځه.

اوس به د هغه چا پر مهم او درانده اثر یو څه ووایم چې مؤلف یې زموږ د زیاترو له خوا د برتانیې ډېر ستر مؤرخ ګڼل کېږي چې له لومړني جهاني جنګ نه وروسته د برتانیې په علمي ډګر کې را هسک شوی دی. سرلویي تامییر[2] یو رښتینی محافظه کار و، نه یو سوچه انګلیس محافظه کار چې که ښه وګرول شي په سلو کې پنځه اویا یې لبرال وځي. دی داسې محافظه کار و چې موږ په څه باندې سلو کالو کې د برتانیې په مؤرخانو کې لیدلی نه دی. د برتانیایي مورخ د پاره د تېرې پېړۍ د نیمایي او ۱۹۱۴ تر منځ کالونو کې کله کله دا ممکنه ده چې د تاریخي تحول درک وکړي، مګر د هغه تحول درک چې د ښه والي د پاره و، د ۱۹۲۰ په وروسته لسو کالونو کې موږ په یوې داسې دورې کې ننوتلو په کومې کې چې د اینده په باب تحول له ویرې سره تړلی و، کېدای شوای چې دغه تحول د بدوالي په لور تعبیر شي یعنې د محافظه کارۍ د تفکر د دور بیا ژوندي کېدل. د نامپیر محافظه کارۍ، د اکټن لبرالزم غوندې، قوت او عمق دواړه له دې څخه واخیست چې رېښې یې د اروپا په سابقه کې وې[3]. نامیر دفشر[4] اوټاین[5] بې په خلاف د نونسمې پېړۍ په لبرالزم کې ریښې نه لرلې او له هغه سره به یې د تعلق خیال نه ساته.

وروسته له هغه چې په لومړي نړیوال جنګ او ناکامه سولې کې د لبرالزم مفلسي ښکاره شوله، عکس العمل په دوو بڼو ښکاره کېدلی شو: سوشلزم یا محافظه کاري. نامییر د محافظه کار مورخ په حیث را هسک شو. ده په دوو غوره

---

۱ . Whig د انګلستان د هغه سیاسي ګوند غړی چې (۱۶۸۸ له انقلاب نه وروسته یې مقصد دا و چې د سلطنت اختیار د پارلمان او نورو لوړو طبقاتو تابع کړي. په نولسمې پېړۍ کې ویګان په لبرالانو یاد شول او دوهم قوي ګوند و مګر اوس د کارګرو او محافظه کار و له ګوند نه وروسته دریم ګوند دی.(م)

۲ . Sir Louis Namier.

۳ . ممکن دا د تبصرې وړ ټکی وي چې د دواړو جنګونو تر منځ یوازنی برتانیایي محافظه کار لیکوال یعني ښاغلي ټي.اس.ایلیټ هم د غیر برتانیایي سابقې رېښې لرلې. له ۱۹۱۴ څخه رومبی په سترې برتانیا کې داسې څوک نه و چې د لبرالزم عنعنې او نفوذ څخه پرار وکړي.

۴ . Fisher انګلیسي مورخ(م).

۵ . Arnold Toyanbee انګلیسی معاصر مورخ(م).

شـويو سـاحو کـې پخـه مطالعـه وکړلـه او د دواړو انتخـاب مهم و.

د انګلیـس پـه تاریـخ کـې وروسـتنۍ پیـړۍ تـه رجـوع وکړلـه پـه کومـې کې چې حاکمـه طبقـې وکړای شـوه په یوې منظمـې او عمـده سـاکنې او ولاړې جامعې کې د قـوت او موقـف پـه عقـلي لټـون کې بوختـه شي. یو چـا نامییر پـه دې تومتـي کړ چې روح یـې لـه تاریـخ څخـه بېـل کـړی دی.[1] ممکـن دا دومـره چندان ښـه افاده نـه وي، مګـر د منقـد مقصـد چې غـواړي پـه هغې کې یې ښـکاره کـړي، واضح لیـدل کېږي. د دریـم جـارج[2] د جلوس په وخت کې سیاسـت لا هم د شـدت او تعصـب او د ترقۍ پـه بـاب د کلکې عقیدې له شـدت څخه مامون و، کوم چې د فرانسـې لـه انقلاب سره پـه جهـان بانـدې را مـات شـول او د لبرالزم پـه کامیابۍ پیـړۍ کې ننوتل ، نـه انقلاب ، نـه نظریـات او نـه لبرالزم: نامییر د داسـې عـصر یو زبده تصویر و ایسـت چـې له دغو خطراتـو څخـه لا مامـون و، که څـه هم دغـه مصونیت ډېر ونـه پائید.

د نامیـر د دوهـم انتخـاب موضوع هم په همغسـې انـدازې اهمیت لرلـه. نامییر له انګلیـسي، فرانسـوي او روسي سـترو انقلابونـو څخه ښـه واړوله او په هغـو یې کومه مهمـه لیکنـه ونـه کړله. د اروپـا د ۱۸۴۸ انقـلاب موضوع یې غـوه کړلـه، او د هغه یې ژوره مطالعـه وکړلـه. دا هغـه انقلاب و چې ناکام شـو. د لبرالزم د راهسـکېدونکي امید لـه پـاره پـه ټولې اروپا کې مانع شـو. د مسـلحو قـواوو په مقابـل کې یې د افـکارو او د عسـکرو پـه مقابل کې یـې د ډموکراټانو پوچوالی وښـود. د سیاسـت په جدي سـاحې کـې د نظـر یو رسـوخ پـوچ او خطرنـاک وبلل شـول. نامییر لـه هغو نه اخلاقـي نتېجه واخیسـته او د ناکامـۍ توهیـن نـه ډک نوم یـې پرې کېښـود: (د روشـنفکرانو انقلاب)، زمـوږ نتېجـه هـم یـوازې د استنتاج د پـاره کومـه موضـوع نـه ده، ځکـه کـه څـه هم، نامییـر د تاریـخ د فلسـفې پـه بـاب کومـه منظمه لیکنـه کړې نـه ده، په یـوې مقالې کې

---

١ . د ۱۹۵۳ د اګسـت پـه اتمـه د ټایمـز د ورځپاڼـې پـه ادبي متمـم کې یـوه مقاله په مسـتعار نامه سره وایـي «ډارویـن پـه دې تومتـي شـوی و، لـه کایاتـو څخـه یـې روح بېـل کـړی دی او سر لوبي(نامییـر) لـه یـوه نـه زیـات پـه ډېـرو مفهومونـو سـهر د سیاسي تاریـخ دارویـن و».(م)

٢ . (۱۷۳۸ - ۱۸۲۰) د انګلسـتان پاچـا.(م) . د ۱۹۵۳ د اګسـت پـه اتمـه د ټایمـز د ورځپاڼـې په ادبي متمـم کـې یـوه مقاله په مسـتعار نامه سره وایـي «ډاروین پـه دې تومتي شـوی و، له کایاتو څخـه یـې روح بېـل کـړی دی او سر لوبي(نامییـر) لـه یـوه نـه زیات په ډېـرو مفهومونو سـهر د سیاسي تاریخ دارویـن و».(م)

. (۱۷۳۸ - ۱۸۲۰) د انګلستان پاچا.(م)George III.

چې يو څو کاله ړومبی خپره شوه په دغه باب يې خپله نظريه په خپل معمولي وضاحت او قطعيت سره ښکاره کړې ده. دی وايي: «نو څومره چې يو انسان د خپل ذهن ازاده لو به په خپل سياسي دوکتورين او جذم سره لږه محدوده کوي، د ده د تفکر د پاره به هغومره ښه وي». وروسته دی هغه تومت يادوي چې وايي ده له تاريخ څخه ذهن بېل کړی دی. تومت نه ردوي او ليکي: «ځينې سياسي فيلسوفان له (ستړې شوې ارامی) څخه او په اوس وخت کې په دغه ملک کې د عمومي سياساتو په باب د مشاجرې له غياب څخه گيله لري. په داسې حال کې چې پروگرامونه او هدفونه د دواړو گوندونو له خوا هير شوي دي د مشخصو مسايلو د پاره عملي فيصلې لټول کېږي. مگر ما ته دغه روش د ملي پاخه توب يوه لويه درجه ښکارېږي، هيله کوم چې دغه روش به يې له دې چې د سياسي فلسفو په اثارو نارام شي، تر زياتې مودې دوام وکړي[1]» زه نه غواړم اوس له دغه نظر سره په دعوه کولو پيل وکړم. دا کار به په يوه وروستي ليکچر کې وکړم. اوس مې مقصد دا دی چې دوه مهم حقيقتونه شرح کړم. لومړی دا چې تاسې نه شی کولی تر هغو د يوه مورخ په اثر پوه شئ او يا يې قدر وکړئ تر څو په هغه نظر يا ټکي پوه نه شئ د کوم له مخې چې ده خپل اثر تعقيب کړی دی. دوهمه دا چې خپله هغه نظريه اجتماعي او تاريخي پس منظر کې ريښې غزولې دي. لکه څنگه چې مارکس ويلي و، له ياده مه باسئ چې روزونکی بايد په خپله وروزل شي. د اوسنی اصطلاح له مخې د دماغ وينځوونکی دماغ په خپله ولل شوی دی. مورخ پخوا له دې چې د تاريخ په ليکلو پيل وکړي، د تاريخ محصول دی.

هغه مورخان چې مې اوس ياد کړل لکه گروټ، موم سن، ټرې ويلين او ناميرهريو په يوه واحد اجتماعي، سياسي، عصر کې لوی شوی دی. د دوی په لومړنيو او وروستيو اثارو کې، د جهان بينی کوم واضح اختلاف هيڅ نه ليدل کېږي. خو ځينو نورو مورخانو د چټک تحول په عصرونو کې، په خپلو ليکنو کې نه يوازې يوه جامعه او يو اجتماعي نظم، بلکې د بيلو بيلو نظمونو يو لړ منعکس کړی دی. ميانک[2] د جرمن ستر مورخ په دغه لړ کې يو ډېر ښه مثال دی، چې ما ته معلوم دی. د ده د ژوند او کار دوره ښه اوږده وه، په دغې دورې کې د ده د ملک

۱ . ايل، نامير، شخصيتونه او قوتونه(۱۹۵۵)، مخونه ۵-۷.

2 . Meinecke

په سرنوشت کې یو لړ انقلابي او له مصیبت نه ډک بدلونونه راغلل. په واقع کې موږ درې مختلف میانیکیان لرو. هر یو یې د یوې بېلې دورې ویاند دی او هر یو یې د خپل دریو سترو اثارو په خوله ګرځېږي.

میانک چې په ۱۹۰۷ کې چاپ شوی Weltburlgerthum and Nationalstaat دی په یقیني ډول د بسمارک[۱] په رایخ[۲] کې د جرمني ملي ایډیالونه د تحقیق په حال کې ګوري او له مازیني[۳] څخه را په دې خوا د نونسمې پېړۍ د ډېرو مفکرینو په شان د ملت غوښتلو اصل[۴] د عالم غوښتلو د اصل[۵] له ډېر عالي شکل سره یو ګڼي. دا د بسمارک تر عصره پورې دویلهلماین[۶] د دوام او تاثیر بې تناسبه محصول دی. د Die Idee der Staatsrasom میانک چې په ۱۹۲۵ کې خپور شوی دی، د وایمار د جمهوریت په ویشل شوی او سرګیچ دماغ ګرځېږي. په دغه اثر کې د سیاسیاتو جهان د وجود د دلیل[۷] او اخلاقیاتو تر منځ چې وروستی له سیاسیاتو څخه بری دی، مګر په نهایي تحلیل کې نه شي کولی، د دولت په مصونیت او ژوند غالب شي، د نافیصله شوې جګړې میدان دی. بالاخره د Die Ent theung Historismus میانک چې په ۱۹۳۶ کې خپور شوی دی، د خواشینۍ چغه وهي او د تاریخ هغه اصل ردوي چه وایي« هر هغه څه چې موجود دي، حق دي» او د تاریخي نسبیت او فوق عقلي مطلق ترمنځ په نارامۍ سره کولېږي. دا اثر ده هغه وخت لیکلی و چې د نازي سیلاو دی له علمي عزوتونو څخه محروم کړی و.

په اخر کې څه وخت چې میانک د عمر په وروستیو کالونو کې ولیدله چې

---

۱ . (۱۸۱۵ – ۱۸۹۸) جرمني سیاستمدار (م) Otto E. L . Bismarck.

۲ Reich. په عمومي ډول د جرمني کامنولت یا امپراتورۍ ته مراجع کېږي، د فرانسې د جمهوریت په شان د جرمني رایخ هم یوه سلسله لري. لومړی اریخ یا د روم مقدسه امپراتوري(۹۲۲-۱۸۰۶)، دوهم رایخ با د بسمارک رایخ(۱۸۷۱ - ۱۹۱۸)، دریم رایخ یا نازي رایخ(۱۹۳۳-۱۹۴۵). (م)

۳ (۱۸۰۵ - ۱۸۷۲)، ایټالیایی وطن خواه، او جمهوریت غوښتونکی چې په ۱۸۳۱ کې یې د (ځوانې ایټالیې ټولنې) ، را وایستله او د ایټالیې د اتحاد د پاره یې یو لړ جدي ابتکاري کارونه وکړل.(م)G. Mazzini.

4 . Nationalism.

5 . universalism.

6 . Wilhelmine.

7 . Baison d etat.

هېواد یې داسې نظامي ماتې ته تسلیم کېږي، کوم چې د ۱۹۱۸ له ماتې څخه ډېر زبون کوونکی او ماتوونکی و، د ۱۹۴٦ Die Deotsche Katastrophe ته په خواشینۍ سره مراجعه کوي او په دې معتقدېږي چې تاریخ د د سخت زړي او وړانده چانس په قبضه کې دی[1]. د روحیاتو عالم یا سوانح کښوونکی به دلته د یوه فرد په حیث د میانک له انکشاف سره علاقه ولري. هغه څه چې مورخ علاقمند کوي، هغه طریقه ده چې په هغه کې میانک د حاضر عصر درې یا ممکن څلور پر له پسې او واضحاً متضادې دورې په تاریخ کې ماضي کې منعکسوي.

اوس به کور ته نږدې یو وتلی مثال را واخلو. د ۱۹۳۰ او ۱۹۴۰ په لسو بت ماتوونکو کالونو کې، چې د لبرال گوند د یوه موثر قوت په حیث له سیاسي ډگر څخه ایستل شوی و، پروفیسر فلیډ یو کتاب ولیکه او نوم یې (د تاریخ وگت تعبیر) پرې کېښود. کتاب ستر او مستحق موفقیت وگاټه او په ډېرو لحاظونو یو وتلی کتاب و په دې چې که څه هم په ۱۳۰ مخونو کې یې د وکت توجیه و غندله له فاکس[2] نه غیر چې هغه مورخ نه و، یو بل وگت یې هم یاد نه کړ. داسې یې هم له اکثر نه په پرته، چې هغه وگت نه وی، د بل کوم مورخ نوم وانه خیست. خو کوم هغه څه چې دغه کتاب په تفصیل او دقت سره نه لاره، هغه ورته په واضحو او تروو او ترخو کلماتو کې جوړ شوي وو. لوستونکي ته به لاره هیڅ نه وه پاتې شوې، مگر دا چې ووایي د وگت توجیه بده وه. د وگت په ضد یو تومت دا و چې هغه «د اوس په ملاحظې، د ماضي مطالعه کوي». په دغې برخې کې پروفیسر بټرفیلډ بې رحم او قاطع و. وایي:

«د ماضي مطالعه په داسې حال کې چې د چا خبره یوه سترگه په اوس کې وي، په تاریخ کې د ټولو گناهونو او سفسطو سرچینه ده.... دا د هغه څیز جوهر دی چې موږ یې د (غیر تاریخي) په نامه یادووو»[3]. دوولس کاله تېر شول. د بت

---

۱ . زه د ډاکټر ډبلیو ستارک هغه اعلی تحلیل څخه امتنان کوم چې ده د میانک د انکشاف په باب کړی دی او هغه یې د هغه Die Idee Der Staadsrasom. د انگریزي ترجمې په مقدمه کې چې په ۱۹۵۷ کې یې د ماکیاولزم په عنوان خپور کړی دی، ډاکټر ستارک ممکن د میانک په دریمې دورې کې د مافوق -عقلي عنصر مبالغه وي.

۲ . Chrles G. Fox (۱۷۴۹ - ۱۸۰٦) انگلیس سیاستمدار (م).

۳ . ایچ، بټرفیلډ، د تاریخ وگ تعبیر(۱۹۳۱)، په ٦٧ مخ کې مولف، د (تجزیه شوی تعقل) په یوه سالمې رقمي بې اعتمادي باندې اعتراف کوي.

ماتولـو رواج يـې دود شـو. د پروفيسـر پټر فليډ هېواد په داسـې جنګ کې ونښـت چې زياتـره ويـل کېـده د هغـو قانـوني ازاديـو د دفاع لـه پاره و، چـې د وګټ لـه عنعنې سره يـې اړخ لـګاوه. جنـګ د داسـې چـا پـه مشرتابـه کېده چـې هغه پـر له پسـې و ماضي تـه پـه «يو سـترګه پـه اوس بانـدې» التـماس کاوه. پروفيسر بټر فيلـډ په يـوه واړه کتاب کـې د انګليـس او د هغـه تاريـخ - پـه نامه پـه ۱۹۴۴ کال خپور شـو، نه يوازې داسـې فيصلـه وکـړه چـې د تاريخ وګـت توجيه د «انګليـس» توجيه وه، بلکې «لـه تاريخ سره، د انګليـس پـه اتحـاد» پـه ډېر شـوق سره وګړيد. داسـې هـم دی د «مـاضي او اوس تر منځ پـه اتحـاد» وګړيد[۱].

دغـو معکوسـو جهان بينيو تـه توجه ګرځـول، يو غير دوسـتانه انتقادونـه دي. زما مطلـب دا نـه دی چـې لومړنـی بټـر فيلـډ په ثانـوي بټر فيلـډ رد کـړم، او يا خـمار فيلډ هـل پـه حـال بټر فيلـد سره مخامخ کـړم. زه پـه دې پوره پـوه يم چې که څـوک زحمت وګالي او زمـا هغـه ليکنـې مطالعـه کـړي، کومـې چـې ما له جنګـه دمخـه، د جنګ په دوران کـې او لـه هغـه وروسـته کـړې دي، ما بـه په اسـانۍ سره قانع کړي چـې په هغو کـې داسـې تناقضات او اختلافـات ومومی کومو ته چـې ماد نورو په ليکنو کې اشـاره کـړې ده. حقيقـت دا دی چـې زه يقيـن نـه کـوم چې په هغه مـورخ رخه وکـړم چې دی د دې رښـتينې ادعـا کولـی وشي چـې ده په تېرو پنځوسـو در دوونکو کالونـو کې ژوند کـړی دی، او پـه جهـان بينـۍ کـې يـې تغيير نـه دی پېښ شـوی. زمـا مقصد بـس دا دی، چـې وښـيم د يـوه مـورخ اثر د هغـې جامعې څومره نـږدې انعکاس کـوي، په کې کومـې کـې چـې دی ژوند کـوي. يـواځې وقايع پر له پسـې په تغيير کې نـه دي. پخپله مـورخ هـم پـه تغيير کـې دی. څه وخـت چې تاسـو ته کـوم تاريخـي اثر پـه لاس در شي، کافي نـه ده چـې د عنـوان پـه مخ بانـدې يې يـوازې د مؤلف نوم ولولـئ. د چاپ او يـا ليکلـو نيټـه يـې هم وګـورئ. کله کلـه دا حتی ډېر څه را ښـيي، که د فيلسـوف دا خبره سـمه وي چـې مـوږ ته وايـي موږ په يوه سـين کـې دوه ځلې ننوتلی نه شـو، دا هـم ممکـن پـه همغـې انـدازې او د عيـن دليل له مخـې، سـمه وي چې يو مـورخ دوه کتابونه ليکلـی نه شي.

کـه مـوږ د يـوې شـيبې له پاره لـه يو انفـرادي مورخ څخـه و هغه ته چې پـه تاريخ

۱ . ايچ، بټر فيلډ، انګليس او د هغه تاريخ(۱۹۲۴) مخونه ۲،۴،۵.

کې پراخ تمایلات ویل کېږي، مخ واړوو، هغه حد او اندزه لا هم واضحه کېږي، چې یو مورخ د خپلې جامعې محصول دی. په نونسمې پېړۍ کې برتانوي مورخانو یوازې په یوه استثنی سره د تاریخ سیر د ترقۍ د اصل مظهر ګاڼه. دوی د هغې جامعې د ایدیالوجۍ افاده کوله کومه چې د ترقۍ په حال کې وه. تاریخ د برتانیې مورخانو د پاره تر هغو مفهوم لاره، تر څو چې د دوی په لاره روان وو او تاریخ غلطه لار نیولې ده، د تاریخ په مفهوم عقیده لرل بدعت ګڼل شوی دی. له لومړي جهاني جنګ نه وروسته ټاین بي ناکام کوښښ وکړ چې د تاریخ مستقیم نظر په دوراني نظر سره عوض کړي، چې د هغې جامعې مشخصه ایډیالوجي ده، چې مخ په ځوړ وي.[1] د ټاین بي له ناکامۍ نه وروسته برتانوي مورخانو په زیاته اندازه قانع وو، چې لاسونه سره ورکړي او په ګډه اعلام کړي چې په تاریخ کې منظم ترتیب او طرحه هیڅ نشته ده. په دغه باب د فشر یوې مبتذلې تبصرې[2] دومره عمومیت وموند، لکه چې په تېرې پېړۍ کې د رانګ کې وجیزې موندلې و. که څوک راته کړي چې دغه تحول د برتانیا د تیرو دیرشو کلو مورخانو محض په شخصي تفکر سره د تر نیمو شپو مطالعو په اثر په نصیب کړی دی، زه به له دغه حقیقت سره د مقابلې په فکر نه شم. خو زه به دغه شخصي تفکر او د تر نیمو شپو مطالعات یوه اجتماعي حادثه او د هغه اساسي تحول او افاده وګڼم کوم چې له ۱۹۱۴ څخه راهیسې زموږ د جامعې په خصوصیت او جهان بینۍ کې پېښ شوی دی. د جامعې د خصوصیت په باب نظر دې ته چې هغه څنګه تاریخ تولیدوي او یا یې نه شي کولی تولید کړي، تر دې بل مهم مشعر او ښکارندوی نه شته دی. ګیل[3] هالنډی مورخ په خپل مهم مونوګراف کې په انګریزي کې په (ناپلیون: طرفداري او ضد) ترجمه شوی دی، ښیي چې د ناپلیون په باب د نونسمې پېړۍ فرانسوي مورخانو پر له پسې قضاوتونه په واقع کې د هغه متحول او متضادو ترتیبونو انعکاس وو کوم

---

۱ . مارکوس اورلیوس د روم د امپراتورۍ د انحطاط په وخت کې ځان ته په دغه تفکر سره ډاډینه ورکوله چې ټول شیزونه، چې څنګه اوس واقع کېږي، په ماضي کې پېښ شوي دي، او هم به په اینده کې پېښ شي. (ځانته ، مخ ۲۷)، څنګه چې ټ،لو ته ښه اوضحه ده، ټاین بي د دورانۍ حرکت نظر د د شپنګلر (۱۸۸۰-۱۹۳۶ جرمنی مورخ) او لویدیځ انحطاط څخه اخیستی و.

۲ . مقدمه(د ډسمبر، ۴، ۱۹۳۴)، د اروپا تاریخ.

۳ . . Pieter Geyl هالینډی مورخ.(م)

چې په همغې پېړۍ کې د فرانسې په سیاسي ژوند کې پېښ شوی و.

د نورو انسانانو د افکارو په شان، د مورخانو افکار هم د زمان او مکان په محیط سره شکل او صورت غوره کوي. اکټن چې دغه حقیقت یې پوره پېژندلی و، په خپله په تاریخ کې له هغه څه د پرار په لټون کې شو. دی لیکي:

«تاریخ باید نه یوازې موږ د نورو وختونو له بې جهت تاثیر بلکې پخپله زموږ له بې جهت تاثیر او د محیط له ظلم او د هوا له هغه فشار څخه چې موږ یې تنفس کوو، نجات ورکوونکي اوسو»[1]. دا به د تاریخ د رول په باب ممکن له حده ډېر د خوش بینۍ یو نظر وبریښي، خو زه به دا عقیده په زغرده ښکاره کوم چې هغه مورخ چې له خپل دریځ نه خورا ډېر اګاه وي، هم به ډېر قدرت ولري چې په هغه فوقیت پیدا کړي او هم به ډېر قدرت ولري چې د هغو اساسي اختلافاتو د ماهیت په قدر پوه شي کوم چې د هغه د جامعې او جهان بینۍ او د نورو ملکونو او عصرونو تر منځ وي. دی به نظر وهغه مورخ ته لیا ډېر قدرت ولري چې په ښکاره ډول اعتراض لري چې دغه اجتماعي حادثه نه ده، بلکې فردي حادثه ده. ښکاري چې د انسان هغه استعداد چې له خپل اجتماعي او تاریخي موقف څخه لوړ شي، په هغه حساب سره مشروط کېږي،چې په هغه سره دی په هغه کې د خپل شمول حد او اندازه پېژني. ما په خپل لومړي لیکچر کې ویلي و: پخوا له دې مورخ مطالعه کړئ، د هغه اجتماعي او تاریخي محیط مطالعه کړئ. مورخ هم د یو فرد په حیث د تاریخ او جامعې محصول دی. د تاریخ محصل باید دا زده کړي چې مورخ په همدغې دوه اړخیزې رڼا کې وپېژني.

اوس به مورخ پرېږدو او زما د معادلې هغه بله خوا- د تاریخ حقایق به د همدغې مسئلې په رڼا کې تر کتنې لاندې ونیسو. د مورخ د پلټنې هدف د افرادو سلو(ورو) کونه دی، که د اجتماعي قوتونو عملیه؟ دلته زه په ښې طرح شوي لارې درومم. څه وخت چې سرایسایه برلین[2] څو کاله رومبی یوه ځلانده او مقبوله مقاله د تاریخي حتمیت په نامه خپره کړله، ده هغه د ښاغلي تې.اس ایلیټ له اثارو څخه په یوې وجیزې شروع کړله: «پراخ غیر شخصي قوتونه». د مقالې اصلي

۱ . اکټن، د معاصر تاریخ په باب لیکچرونه(۱۹۰۶) مخ ۲۲.

2 . Slir Isaih Berlin.

موضـوع تـه بـه وروسـته وگرځـم. ده پـه دې مقالې کې په هغـو خلکو ملنـډې وهلې، چـا چې د تاريـخ د قاطع عامـل په حيث پـه پراخو غير شـخصي قوتونو، نه پـه افرادو بانـدې، عقيـده لرلـه هغـه چـې زه به يـې د بدجان پاچـا د تاريـخ تيورۍ[1] وبـولم يعنې هغـه نظـر چـې پـه تاريخ کـې يـوازې د افـرادو خصوصيـت او سـلوک اهميـت لري، يـوه اوږده ريښـه او شـجره لـري. دا هغـه څـه چې په تاريـخ کې فردي نابغـه د تخليقي قـوت په حيث مسـلم اصـل وګڼل شي د تاريخي شـعور د لومړنيو مراحلو خصوصيت دی. پخوانيـو يونانيانـو بـه غوښـتل چـې د ماضي کار نامـې د قهرمانانو پـه نامه حتمې کـړي او قهـر مانـان د همدغـو کارنامـو واجـدان وبـولي. دوی هڅـه کـوي لرلـه چې خپـل حماسـيات يـوه شـاعر تـه چې هومـر يې نـوم و، منسـوب کـړی، خپـل قوانين او موسسـات يـوه شـخص تـه پـه نامـه ولي کرګيـوس[2] يـا بـل شـخص تـه پـه نامـه د سـولون[3] منسـوب کـړی. همدغسـې هڅـه پـه رنسـانس کـې سر وهـي يعنې پـه هغه وخـت کې چې پلوتـارک[4] په اخلاقي اصولو پابند سـوانح ليکونکـی د پخوانيو علومو پـه بيـا ژونـدي کولـو کـې د پخوانيـو دورو له لـه مورخانو څخـه ډېر محبـوب او منقد شـخصيت و. دا نظـر پـه دغـه ملـک (انګلسـتان) کې د چـا خبـره مـوږ لا ان د مور په غېـږه کـې زده کـړې وه، او نـن ورځ به مـوږ په دغـه حقيقت ممکن اعـتراف وکړو چې دا نظـر د وړو او يـا د وړو د ذوق لـه پـاره دی.

دا نظـر پـه هغـه وختـو کـې چـې جامعـه ډېـره سـاده وه او داسـې ښـکارېده چې عمومـي چـارې يـوازې يـو څو نومياليـو اجرا کولـې، ممکن سـم او درسـت وي. خو زمـوږ پـه عـصر کې چـې جامعه ډېـره پېچلـې او مغلقـه ده، دا نظر هيڅ سر نـه خوري او پـه نونسـمې پېړۍ کـې د سوسـيولوجۍ پـه نامه د يـوه نوي علـم ظهـور د همدغه پيچلتوب نتيجه وه. دا نظر چې «تارخ د سـترو کسـانو سـوانح ده» د اولسـمې پيړۍ په شروع کـې يـوه مشـهوره وجيـزه وه. يوازې لـس کاله دمخه يـوه وتـلي امريکايي مورخ خپـل همـکاران د «تاريخـي لوبغـاړو پـه عمومي وژلـو» سره تومتي کړل پـه دې چې د

---

1 . The bad king John theorey of history

۲ . د سپارټا د نهمې پېړۍ ق.م مقنن.(م) Lycurgus.

۳ . ۵۵۹ ق.م د يونان عالم او مقنن (م). Solon.

۴ . (۴۶-۱۲۰)، يوناني سوانح ليکونکی او د اخلاقو عالم.(م). Plutarch.

ده پـه فکـر دوی(د اجتماعـي او اقتصادي قوتونو نانځکې) ګنل شـوی وو[1] . د دغه نظر خاوندانـه نـن ورځ د هغـه په باب یـو څه محبوب ښـکاره کېږي خو وروسـته له یو څه پلټنـې پـه دغـه باب مـا د پېغلـې وج ووډ[2] د یوه کتـاب په مقدمـه کې یوه ډېـره معاصره اعلی وینـا وموندلـه، هغه لیکي:

«ماتـه د افـرادو پـه حیث د انسـانانو سـلوک نظر د ډلو او طبقانو سـلوک تـه ډېر په زړه پـورې دی. تاریـخ هـم په همدغه تعصـب او هم په بل سره لیـکل کیدلی شي. دانه ډېـر او نـه کم تېرایسـتونکی دی. دغه کتاب... یو کوښـښ دی چـې واضحه شي دغو کسـانو څنګـه احسـاس وکـړ او ولې یې پـه خپل تخمین سره هغسـې وکـړه لکه څنګه چې یې وکـړه»[3].

دا ښـه صریحـه وینـا ده او څنګه چـې پېغلـه وج وو ډېره محبوبه لیکوالـه ده، یقین دی چـې ډېـر خلق هغسـې سـوچ کـوي، لکه دایې چـې کـوي. د مثال په توګـه، ډاکټر راوس وایـي چـې د ایلزابتـې سیسـتم څکـه ړنګ شـو چـې لومـړی چیمز[4] پـه هغه نه پوهېـده او د انګلسـتان د اولسـمې پېـړۍ انقـلاب د دوو لومړنیـو سـټورات پاچایانـو د حماقـت ل املـه یوه«تصادفي» پېښـه وه[5]. حتی سرجیمـز نیل چې تر ډاکټـر راوس ډېر سـخت ګیـر او دقیـق مـورخ دی کله کله هڅه کـوي چې نظر دې ته چـې شرح کړي د تیـودور[6] پاچایـي د کـوم مقصد او اصـل له پـاره وه د ملکې ایلزابتـې سـتاینه ډېره کوي. سرایسـایه برلیـن، پـه هغـې مقالـې کـې چـې ما همـدا اوس تـرې اقتبـاس وکـړ په دې ډېـر اندیښـمن دی، چـې مورخـان بـه چنګیز خان، یـا هټلر د بدو کسـانو پـه نامه ثبت

۱ . امریکایي تاریخي مجله، ۱۷۱، لمبر ۱، (جنوري، ۱۹۱۵)، مخ ۲۷۰.

2 . C. r. Wedg Wood.

۳ . سی، وي،وج، ووډ، د پاچا سوله(۱۹۵۵)، مخ ۱۷.

۴ د سکاټ لینډ پاچا.(م).. james I.

۵ . اس.ایـل.راوس، د ایلزابتـې انګلسـتان (۱۹۵۰)، مخونـه ۲۶۱-۳۸۲. دا بـه انصاف وي چې دې تـه اشـاره وشي چـې ښـاغلی راوس پـه یـوې ړومبـۍ مقالې کـې دا تـور ولګاوه پـه « هغو مورخانـو چـې دوی فکـر کـوي بور بوناتو ونه شـو کولی وروسـته لـه ۱۸۷۰ څخه په فرانسـې کـې پاچایـي بیا تاسیس کړي، څکـه چې پنځم هنري لـه یوه واړه سـپین بیـرغ سره زیاته علاقه لرلـه»(د یـوې دورې پای، ۱۹۴۹، مخ ۲۷۵)، شـاید ده دغسـې شـخصي تشریحات د انګلیس د تاریخ د پاره سـاتلې وي.

6 . Sir James Neal.

نـه کـړي[1] کلـه چـې موږ اوسـنيو وختونو تـه را ګرځـو، د بد کنګ جـان او نيکې ملې بـس نظـر مخصوصاً رواج پيـدا کوي. دا ډېره اسـانه ده چې کمونـزم د «کارل مارکس د دمـاغ محصـول» و بلـل شي (زه دا ګل د يـوه معاصر سـهمدار له متحـد المال مکتوب څخـه شـکوم) نظـر دې تـه چـې د هغه منبـع او خصوصيـت تحليل شي، د بلشـويک انقـلاب دوهـم نيکـولای[2] حماقـت يا د جرمنـي طلا ته منسـوبه شي، نظـر دې ته چې د هغـه ژورې اجتماعـي ريښـې مطالعـه شي او د دغـه قـرن دواړه جهـاني جنګونـه د دوهـم ويلهلـم[3] او هټلـر د فردي بحث نتيجـه وګڼله شي نظر دې ته چـې د بين المللي مناسـباتو په سيسـتم کـې د رنګېدلو ژورې ريښـې وپلټلې شي.

د پېغلـې وج ووډ وينـا دوه فرضيـې سره يـو ځای کوي. لومړۍ فرضيـه دا ده چې د افـرادو په حيث د انسـانانو سـلوک د دوی له هغه سـلوک سره چې يـې د ډلو او طبقاتو د غړيـو پـه حيـث کـوي، سره بېـل دي، او مـورخ تـه اجازه ده چې په خپلې خوښـې سره يـوه غـوره کـړي او پـرې بحث وکـړي. دوهمه فرضيـه دا ده چې د افـرادو په حيث د انسـانانو د سـلوک مطالعـه د دوی د اعمالـو د شـعوري محرکاتـو لـه مطالعـې څخه متشکله ده.

وروسـته لـه هغـه څـه چـې مـې رومبـی وويـل، لازمـه نـه بـولم چـې پـه لومړۍ فرضيـې نـور زيـار وباسـم. داسـې نـه ده چـې د يـوه فرد پـه حيث د انسـان نظـر، نظر وهغـه تـه چـې دی يـې د يـوې ډلې د يـوه غړي په حيـث لري، لـږ و ډېر تېرايسـتونکی دی. اصـلاً د دواړو تـر منـځ د توپير د پيـدا کولو په لور هڅه تېراسـتونکې ده. د تعريف لـه مخـې فـرد ديـوې جامعې يـا له يـوې جامعـې څخه زيـات ډلـه ورت وايـه شي، يا طبقـه يـا ملـت، يـا قبيلـه يـا نـور څـه – غـړی دی. رومبنـي ژونـد پوهـان پـه دې قانع وو چـې د مرغانـو، حيواناتـو او د قفـس د ماهيانـو، د ښېښـه يـې کوټـو، ماهايانـو او نمايـشي صندقونـو، ماهيانـو د انواعو تصنيـف وکړي او په دې پسـې ونـه ګرځي چې ژونـد موجـود لـه خپـل محيـط سره د ارتبـاط له مخـې مطالعه کـړی. اجتماعـي علوم ممکـن نـن ورځ هـم له خپلـې ابتدايي مرحلې څخـه پوره وتلـی نه وي. ځينې کسـان د روحياتـو او سوسـيولوجي تـر منـځ لومړی د فـرد د علم او دوهم د جامعـې د علم په

---

1 . Tudor.

۲ . (۱۸۶۸-۱۹۱۸)، د روسيې امپراتوري.(م). Nicholas.

3 . Wilhelm.

حیث په فرق قابل دی. د سایکا او جزم[۱] نوم په هغه نظر ایښودل شوی دی چې وايي ټول اجتماعي مسایل په پای کې د فردي انسان د سلوک و تحلیل ته تبدیل کېدونکي دي. خو د روحیاتو هغه عالمان چې ونه شي کړای د فرد اجتماعي محیط مطالعه کړي، چندان به ترقي ونه کړي[۲] د بیو ګرافي او تاریخ ترمنځ فرق کول چې یو یې انسان د فرد او بل یې انسان د یوه کل د جزء په حیث مطالعه کوي او د دې نظریې وړاندې کول چې وايي ښه بیوګرافي بد تاریخ جوړوي تېر ایستونکی دی. اکټن یو وخت ویل:

«د تاریخ په باب هیڅ څیز د انسان نظر ته دومره ډېره غلطي او بې انصافي نه پېښوي لکه چې هغه علاقه یې پېښوي، کومه چې د فردي خصوصیاتو له امله پیدا کېږي»[۳]. خو دغه تمیز هم غیر حقیقي دی. زه دا هم نه غواړم چې د ویکتوریا د عصر د هغه متل و شاته پناه یوسم چې جي، ایم. ینګ[٤] د خپل تالیف د ویکتوریا د وختو انګلستان - د عنوان په مخ راوړی دی: «مزدوران د خلکو په باب غږېږي، او اشرف له څېزونو نه بحث کوي»[۵]. ځینې بیو ګرافي ګانې له تاریخ سره

---

1 . Psychologism.

۲ . . سره د دې هم د روحیاتو عصري پوهان په دغې اشتباه محکوم شوي دي: « د روحیاتو عالمان د یوې ډلې په حیث، فرد د نه په اجتماعي ژوندي سیستم ک د یوه واحد په حیث تر مطالعې لاندې نیولې نه دی». بلکې دی یې د یو مشخص انسان په حیث تر مطالعې لاندې نیولی دی چې دی په هغه وخت کې د اجتماعي سیستمونو د تشکیلولو د پاره مخ په وړاندې روان و. په دې ډول، دوی هغه خاص مفهوم په کافي ډول په حساب کې نه دی نیولی، په کومو کې چې د دوی کټه ګوري ګاني مجردې وې». (پروفیسر ټال کوټ پارسنز مقدمه د ماکس ویر) په (د اجتماعي او اقتصادي تشکیلاتو تیوري، ۱۹۴۷، مخ ۲۷).

۳ . کورنۍ او خارجي مجله، جنوري ۱۸۶۳، مخ ۲۱۹.

4 . G. M. Young.

۵ . دا فکر لومړی هر برت ی.ښنسر په خپل اثر - دسوسیولوجي مطالعه - کې وړاندې کړ. (دوهم څپرکی). که په عمومي ډول ته غواړې د چا ذهن د استعداد تخمین وکړېته تر دې په بل هیڅ صورت په ښه ډول کولی نه شې چې د هغه په صحبت کې د اشخاصو په باب د هغه د کلیاتو تناسب مشاهده کړې. د افرادو په باب څومره ساده حقایق په هغو حقایقو سره عوض شوي دي، چې د انسانانو او څېزونو له متعددو تجاربو څخه ایستل شوی او خلاصه شوی دی، په دې ډول کله چې تاسو د ډېرو انسانانو تخمین وکړ تاسې به یو څو متشتت کسان وموسی چې هغوی به د انساني چارو تر بیوګرافي نظر نه زیات نور څه په نظر کې ونه نیسي.

جـدي مرسـته کـوي. زما په خپلې سـاحې کـې د ایزک ډویچر[۱] د سـتالین او تراتسـکي بیوګـرافي ګانـې یـې وتـلي مثالونه دي. نـوروې بیوګـرافي ګانـې د تاریخـي ناولونو په څېـر ادبیاتـو پـورې تعلق نیسـي. پروفیسر ټریوروپـر[۲] لیکـي: «د لیټن سـټراچي[۳] په نزد تاریخـي مسـایل یـوازې او تل د فردي سـلوک او فردي غرابت مسـایل وو.... دی هیڅ په دې پلټنې پسـې نه شـو چې د تاریخي مسـایلو، د علم سیاسـت او د جامعې مسایلو د پـاره ځـواب ووایـي او یا یـې حتی پوښـتنه وکړي»[۴].

هیڅـوک مجبـور نـه دی چـې تاریـخ ولیکي او یـا یې ولـولي، کېـدای شي چې د مـاضي پـه بـاب ډېـر اعلـی کتابونـه ولیکل شي چـې هغـه دې تاریـخ نه وي. خـو زما پـه فکـر مـوږ د رواج لـه مخـې د دې اسـتحقاق لـرو لکـه څنګـه چـې زه یـې پـه دغو لیکچرونـو کـې پشـنهاد کوم چـې د «تاریـخ» کلمه په جامعـې کې د انسـان د ماضي د پلټنـې د عملیـې د پاره تخصیـص کړو.

دوهـم ټکـی یعنـې دا چې تاریخ له دې پلټنـې سره سرو کار لري چـې افراد دوولی پـه خپـل تخمیـن سره هغسـې وکړه، لکـه څنګه چـې یې وکړه، پـه اول سر کـې نهایت عجـب بریښـي او زه ګـمان کـوم چـې پیغلـه وج ووډ د نـورو معقولـو خلکو په شـان، هغـه څـه نـه عملي کـوي، چـې تبلیغ یې کـوي. او که یـې کوي نـو هغه به حتماً کوم ډېـر عجـب تاریـخ لیکي. نـن ورخ هر څـوک په دې پوهېږي چې انسـانان تل یا شـاید حتـی د عـادت لـه مخـې د هغـو محرکاتـو له مخې عمـل نه کـوي، چـې دوی په هغو پـوره اګاه وي او یـا دوی دې تـه تیـار وي چـې په هغـو اعتراف وکړي. په غیر شـعوري یـا پـه پټـو محرکاتـو ځان نـه پوهـول یقیناً داسـې مثال لـري چې یـو څوک بـه په خپل کار پسـې ځي او یـوه سـترګه بـه یې قصـداً تړلې وي. خـو د ځینـو خلکو پـه فکر دا هغـه څـه دي چـې بایـد مورخان یې وکـړي. د مطلب ټکـی دا دی، تر هغو چې تاسـې پـه دې قانـع یـی چـې د کنګ جـان بـدي د ده په حـرص، حماقت یا جاه طلبـي کې ده چـې غوښـتل یـې د ظالم رول ولوبوي، تاسـې د فـردي خاصیتو په ژبـه ګړېږئ، چې د وړکتـون د هلکانـو پـه تاریـخ کې د فهـم وړ دی، خو کلـه که مو په دغسـې ویل شروع

۱ . پولنډی عالم او بیوګرافي لیکونکی.(م). Isacc Deutcher.

2 . Trevor Roper.

۳ . (۱۸۸۰ - ۱۹۳۲). انګلیس مصنف او سوانح لیکونکی .(م). Lyttom Strachey.

۴ . تریور روپر، تاریخي مقالې(۱۹۵۷)، مخ ۲۸۱.

وکړه چې کنګ جان د هغو شتمنو د منافعو یو غیر شعوري الت و، کوم چې د ده مخالف وو چې فیوډالي بارونان په واک شي، تاسې به نه یوازې د کنګ جان د بدۍ یوه ډېره پېچلې او سفسطه یي نظریه وړاندې کړې وي، بلکې تاسې به ظاهراً داسې نظریه هم وړاندې کړې وي، چې تاریخي وقایع د افرادو په شعوري اعمالو سره نه تاکل کېږي، بلکې په هغو سترو خارجي قوتونو سره تاکل کېږي، چې د دوی غیر شعوري اراده هم اداره کوي. واضحه ده چې دا نظریه درسته نه ده. تر هغه ځایه چې په ما اړه لري، زه نه په اسماني قدرت عقیده لرم، نه په جهاني روح، نه په معلوم تقدیر او نه په هر هغو مجرداتو چې کله کله داسې ګڼل کېږي چې هغوی د پېښو جریان ادراه کوي او په دې باب زه د د مارکس لاندنې تبصره بې له شرط او قیده تائیدوم:

«تاریخ هیڅ نه کوي، هغه ډېره شتمني هیڅ نه لري، هیڅ جنګونه نه کوي، بلکې په خپله انسان، حقیقي ژوندی انسان دی چې هر څه کوي، تصرف کوي او جنګ کوي»[٥]. زه په دغې مسئلې دوه تبصرې لرم. یوه یې هم د تاریخ په کوم مجر نظر بنا ده او دواړه خالصې په تجربې مشاهداتو بنا دي. لومړۍ تبصره مې دا ده، چې تاریخ تر ډېره حده د عددونو موضوع ده. کارلایل[٦] دغه اسفناکه وینا کړې وه چې «تاریخ د سترو کسانو بیو ګرافي ده). خو د ده په ډېر ستر او فصیح تألیف کې له ده څخه واورئ:

«بربنډتوب، صالحه تعدي او ولږه په پنځه ویشتو میلیونو زړونو درنه تمامېږي، د فرانسې په انقلاب کې لومړني خوځوونکي همدغه وو، نه زخمي شوی غرورونه، یا د فلسفې مدافعو وکیلانو، شتمنو دکاندارانو، اطرافي اشرافو نقیضې شوې فلسفې، د همدغو مثال به په همدغسې ټولو انقلابونو او ټولو ملکونو کې وي»[٧].

یا لکه څنګه چې لینن وایي: «سیاست هلته شروع کېږي، چېرته چې تودې وي، نه په هغه ځای کې چېرته چې په زرګونو وي، بلکې هلته چې په میلیونو وي یعنې هلته چې جدي سیاست شروع کېږي»[٨]. د کارلایل او لینن میلیونونه د افرادو

---

٥ . مارکس انګلز، GESAMTAUSGABE مخ ٦٢٥.

٦ . (١٧٩٥-١٨٨١)، سکاټ لینډی مورخ او مقاله لیکونکی.(م). Thomas Carlyle.

٧ . کارلایل، د فرانسې انقلاب.

٨ . لینن، متخب اثار، مخ ٢٩٥.

میلیونونـه وو. د دوی پـه بـاب هیڅ شـی غیـر شـخصي نـه وو. کلـه کلـه پـه دغسـې مسئلې بحـث کـول پـه دې تمام شي چې نـه نوم توب له غیر شـخصي تـوب سره ګډ شي. خلـق لـه خلـق تـوب او افـراد لـه فردتـوب څخـه پـه دې بل څـه نه کېـږي، چې زمـوږ د دوی نومونه نه پېژنو. د ښـاغلي ایلیټ «پراخ غیر شـخصي قوتونـه» هغه افرادو چـې کلـه ریندن[1] چې تر هغـه لیا زړور او سـپین ویونکی محافظـه کار و، ورته «بینومه کشـیف خلـق»[2] وایـي. دغـه بی نومـه میلیونونـه هغه افـراد دي څـوک چـې لږودېر په غیـر شـعوري ډول او په ګډه سره اجتماعي قوت تشـکیلوي. مؤرخ بـه په عادي حالت کـې دې تـه اړ نـه وي چـې یـو ځانګـړی نـاراض کلـی، یا یو ځانګـړی نـاراض کرونده ګـر پـه حسـاب کې ونیـسي. خو پـه میلیونو نـاراض کرونده ګـر، په زرګونـو کلیو کې داسـې عامـل کېـږي چـې هیڅ مـورخ به ترې سـترګې پټې نه کـړي. هغـه دلایل چې جونـز لـه واده کولـو څخـه ویـروي، مورخ تـه به تر هغـه په زړه پـورې نـه وي، چې تر څـو همغـه دلایـل د جونز د نسـل په زرګونـو نـور افـرادو ویـروي او د واده په عمومي میـزان کـې پـوره لږوالـی راولي. پـه دغـه حال کې به دا پېښـه پـه تاریخي لحـاظ مهمه وي. دا هـم نـه ښـایي چـې دغه بې لطفـه وینا موږ اندیښـمن کړي چـې وایي نهضتونه د اقلیتونـو لـه خـوا شروع کېـږي. ټـول مؤثـر نهضتونـه یـو څو مـشران او کثیـر پیروان لـري. خـو د دې معنـی دا نـه ده چې کـثرت د هغو د بریالیتـوب د پاره اسـاسي نه دی. اعـداد په تاریـخ کې اهمیـت لري.

زمـا دوهمه تبصره تر ړومبنۍ نه هم حتی ښـه مشـهوده ده. د تفکـر د ډېرو مختلفو مکتبونـو لیکـوالان پـه دې موافق دي چې د انسـاني افرادو د اعمالو نتېجـې زیاتره هغه نـه دي چـې یـې عمـل کوونکـی یـا بـل کـوم فـرد پـه ارزو کـې وي او یـا یـې پـه هغه نیـت عمـل کـړی وي. یـو عیسـوي عقیده لـري چې فـرد چې پـه شـعوري ډول سره د خپلـو مقاصـدو د پـاره عمل کوي، پـه حقیقت کې د خـدای د مقصد یو غیر شـعوري نماینـده دی. د ماندیـوال[3] «شـخصي ګناهونه، عمومي ګټې» د همدغه کشـف لومړنی

---

١ . (١٦٠٩ - ١٦٧۴). انګلیسي مورخ،(م).. Clarendon.

٢ . کله ریندن، د هابس دلی وی ټن په کتاب کې د کلیسا او دولت په مقابل کې د خطراتو او اشتباهاتو یوه لنډه سروې (٦١٦٧) ، مخ ٣٢٠.

٣ . (١٦٧٠-١٧٣٣)، هالینډی اسقف.(م) Bernard Mandeville.ً

او عمـدلً پـه ظاهر کې مهمله او نقیضه بریښـوونکې افاده ده. د ادم سـمت[١]، پټ لاس او د هیـګل[٢] د «عقـل زرنګـي» چـې افـراد هغه تـه د عمل د پاره پـه لاره برابـره وي سره لـه دې چـې افـراد بـه پـه خپل فکر د خپلو شـخصي مقاصـدو د اجـرا د پـاره کار کوي دومـره واضـح دی، چـې اقتباس تـه یې حاجت نه شـته.

مارکـس د خپـل (د سـیاسي اقتصـاد انتقـاد) نومـي تألیـف پـه سریـزه کـې لیکي: «انسـانان د خپلو تولیدي وسـایلو په اجتماعي تولید کې په معینو او ضروري مناسـباتو کـې سره داخلېـږي، چـې د هغوی له ارادې څخه مسـتقل وي»[٣]. په جنګ او سـوله کې وایـي او جملـې پـه سر کې د ادم سـمت د فکر انعکاس کوي: انسـان په شـعوري ډول د ځـان د پـاره ژونـد کـوي، خو د بشریـت د مهمو عالمـي مقاصدو په حصـول کې یو غیر شـعوري الت دی[٤].

قصـه چـې لنـډه کـړو، کـه څـه هـم دمخـه تـر دې ښـه اوږده شـوې ده پروفیـسر بټرفیلـډ تـه غـوږ کېـږدئ. «د تاریخـي پېښـو په ماهیـت کې داسـې یو څه موجـود دی چـې د تاریـخ سـیر په داسـې لاره کـږوي، چې انسـان به یې هیـڅ ارزو نـه وي کړې». لـه ۱۹۱۴ څخـه را هیسـې، وروسـته لـه سـلو کالونـو څخه چـې واړه محـلي جنګونه پکـې شـوي وو، مـوږ دوه لـوی جهاني جنګونه ولیـدل. د دې حادثې د قبـول وړ شرح بـه دا نـه وي، چې وویل شي چې نظر د نونسـمې پېړۍ په درې وروسـتیو پنځوویشـتو کالونـو کـې پـه دغـه وخـت کې ډېـرو افـرادو د جنـګ مطالبـه کولـه او لـږو یې سـوله غوښتله. د دې قبـول مشـکل دی چـې وویـل شي چـې کـوم چـا د ۱۹۳۰ څخـه تـر ۱۹۴۰ پـورې د لسـو کالونـو د لـوی کسـاد ارزو لرلـه او یا یـې اراده ورته کـړې وه. خو سره لـه دې دا کسـاد بـې لـه کـوم شـک او تردیـد څخـه د افـرادو اعمالـو منځ تـه راوړ او هـر یـوه پـه شـعوري ډول بېل هـدف تعقیـب کاوه. د فرد د نیت او د هغـه د عمل د نتایجـو تـر منـځ د توپیر تشـخیص هم تـل باید د اینـده مورخ د پـاره ټال نه شـی. لاج[٥]

---

١ . (۱۷۲۳ - ۱۷۹۰)، سکاټ لینډي سیاسي اقتصاد پوه. (م) Adam Smit
٢ . (۱۷۷۰ - ۱۸۳۱)، جرمني فیلسوف. (م) G.W.F.Hegel.
٣ . ـ۱۸۲۸-۱۹۱۰) روسي ناول لیکونکی. (م). Leo Tolstoy.
۴ . تولستوی، جنګ او سوله، لومړی فصل.
۵ . ایچ، ټرفیلډ، انګلیس او د هغه تاریخ(۱۹۴۴)،

د ۱۹۱۷ په مارچ کې دوډرووېلسن[1] په باب ولیکل: «نیت یې دا نه دی، چې جنګ ته لاړ شي، خو زما په فکر چې واقعات به یې په هغه لور بوځي[2].

دا نظر ټولو شواهدو په خلاف دی چې وویل شي تاریخ به په دغو اساساتو ولیکل شي یعنې د انساني نیتونو د تشریحاتو په قرار یا د هغو محرکاتو د شرح په قرار چې په خپله عاملان به یې ورکوي، یا په دې سره چې ولې یې په خپل تخمین سره هغسې وکړه، لکه څنګه چې یې وکړه.

د تاریخ حقایق، په واقع کې د افرادو په باب حقایق دي. خو دا حقایق د افرادو د هغو اعمالو په باب نه دي، چې په مجرد ډول سره اجرا شوي وي. داسې هم دا حقایق د هغو محرکاتو حقیقي وي یا خیالي په باب نه دي، چې افراد خیال کوي، چې ګواکې دوی دا عمل د هغو له مخې کړی دی. دا حقایق د افرادو د مناسباتو په باب دي، چې دوی یې په جامعه کې یو تر بله سره لري او همدا اوس راز د هغو اجتماعي قوتونو په باب دي، چې د افرادو له اعمالو څخه نتایج راوباسي چې زیاتره یې له هغو نتایجو څخه مختلف او یا کله کله د هغو په ضد وي، چې افرادو یې ورته نیت کړی وي.

د کالنګ ووډ د تاریخ نظر چې ما په تیر لیکچر کې شرح کړ، یوه جدي غلطي هغه فرضیه ده چې د هغه په اساس د عمل شا ته فکر، چې باید مورخ یې په پلټلو موظف وي، د فردي عامل فکر ګڼل شوی دی. هغه څه چې مورخ یې باید وپلټي، دا دي چې د عمل وشاته څه شی پروت دی. او د دې له پاره به ممکن د فردي او ځانګړي عمل کوونکي شعوري فکر یا محرک، کاملاً نا مربوط وي.

ښایي دلته اوس په تاریخ کې د یاغي او د مخالف رول په باب یو څه ووایم، د جامعې په مقابل کې د یاغي په حیث دیوه فرد عمومي تصویر کښل په واقع کې د فرد او جامعې تر منځ د یوه غلط ضدیت رواجول دي. داسې جامعه نه شته چې ګرد سره دې متجانسه وي. هره جامعه د اجتماعي مخالفتونو یوه صحنه ده او هغه افراد چې د موجودې واکمنۍ په مقابل کې قیام کوي، هغومره د هغې جامعې

---

1 . Lodge.

۲ .(۱۸۵۶-۱۹۲۴). د امریکا د متحده ایالاتونو اته ویشتم جمهور رئیس(م) Woodrow Wilson.

محصولات او انعکاسات دی، لکه څومره چې طرفداران يې دي. دوهم ریچرد[١] او ستره کاترینه[٢] د څوارلسمې پېړۍ انګلستان او د اتلسمې پېړۍ روسي د سترو اجتماعي قوتونو ممثلان وو. داسې هم واټ ټېلر[٣] او پوګاچيف[٤] چې وروستی د نیمه غلامۍ د لوی قیام مشر و، د سترو اجتماعي قوتونو تمثیل کاوه. پاچایان او یاغیان یو شان د خپل عصر او هېواد د خاصو شرایطو محصول دی. د واټ ټېلر او پوګاچیف داسې معرفي کول، چې دوی ګواکې د جامعې په مقابل کې یاغي افرادو، له حده زیاته یوه تېر ایستونکی ساده کول دي.

که دوی تش همدا وای، مورخ به د دوی نوم هیڅ نه وای اورېدلی دوی په تاریخ کې خپل رول د خپلو کثیرو طرفدارانو مرهون ګڼي. دوی یا د اجتماعي حوادثو په حیث مهم دي یا هیڅ نه دي. اوس به په لوړه سویه، یو وتلی یاغي فرد پرست د مثال په توګه وښیو. یوازې یو څو کسانو تر نیچې[٥] زیات د خپل عصر او هېواد په ضد په ډېر شدت او افراطي ډول عکس العمل ښودلی دی، سره د دې هم نیچه د اروپایي او په خاص ډول د جرمني جامعې مستقیم محصول دی. دا داسې حادثه ده چې نه به په چین او نه په پیرو کې پېښه شوې وای. نیچې له مرګه یو نسل وروسته نه د ده په عصر کې دا ښکاره شوه چې د اروپا او په تېره بیا د جرمني اجتماعي قوتونه چې دغه فرد یې افاده و، څومره قوي وو، او نیچه د آینده نسل لپاره، نه د خپل معاصر نسل له پاره یو ډېر مهم شخصیت وګرځید.

په تاریخ کې د یاغي رول د ستر کس له رول سره یو څه ورته دی. په دغو وروستیو کالونو کې د تاریخ د ستر کس تیوري –د نیکې بس او ملکې د مکتب خاص مثال – یو څه له رواجه لویدلې ده. یوازې کله کله خپل سر هسکوي. د عمومو د پاره د تاریخ د درسي کتابونو د یوې سلسلې تالیف کوونکی چې له دوهم جهاني جنګ نه وروسته شروع شوی دی، له خپلو لیکوالو څخه وغوښتل «چې د ستر کس د سوانحو په لیکلو سره یوه مهمه تاریخي موضوع پرانیزي».

١ . (١٣٦٧-١٤٠٠) د انګلستان پاچا(م). II Richard.

٢ . (١٧٢٩-١٧٩٦). د روسی امپراتور(م). Catherine the Great.

3 . Wat Taylor.

4 . Pugachev.

5 . (١٨٤۴- ١٩٠٠)، د جرمني فیلسوف(م). F..W. Nietzsche.

ښاغلی ای. جی. پی. ټیلر[1] په خپلې یوې ګوچنۍ مقالې کې موږ ته وویل چې «د معاصرې اروپا تاریخ د دریو پهلوانانو په نامه لیکل کېدلی شي: ناپلیون، بسمارک، اولین»[2]. مګر ده په خپلو نورو جدي لیکنو کې دغسې بې سنجشه تبصره نه ده کړې. په تاریخ کې د سترکس رول څه دی؟ ستر-کس یو فرد دی او څنګه چې دی یو وتلی فرد دی، دی د یوې اجتماعي حادثې یو وتلی اهمیت هم دی. ګیبون ویلي چې «دا یو واضح حقیقت دی چې عصرونه باید د فوق العاده افرادو د پاره مناسب وی، او دا چې د کروموول، اور تز[3] نبوغ به ممکن اوس په نامعلومې کې ورک او ختم شي»[4]. مارکس په خپل د «لویي بوناپارت په اتلسم برومیر» نومي تالیف کې د هغه معکوسه حادثه تشخیص کړله: «په فرانې کې طبقاتي جنګ داسې شرایط خلق کړل، چې د هغو په اثر منځنی (منځنۍ طبقې) ناشولته شخص و کړای شوه د قهرمان په جامعه کې د نازقدم ووهي». که بسمارک په اتلسمې پېړۍ کې زېږېدلی وای څه بې مفهومه تبصره، ځکه چې دی به هغه وخت بسمارک نه وای جرمنی به یې متحد کړی نه وای او هیڅ به ستر شخص شوی نه وای؛ خو دا هم لازمه نه ده چې د تولستوی په شان – یو څوک د سترو کسانو ارزښت کم کړي او هغوی «پسښو ته د نوم ورکولو ټاپې» وګڼي. په دې کې څه شک نه شته چې کله کله د ستر فرد دلمانځلو روش ممکن ناوړه عواقب ولري. د نیچې مافوق -انسان مردود او د نه منلو دی. ماته ښایي د هټلر قضیه یا په شوروي اتحاد کې د «شخصیت د لمانځلو روش» ناوړه عواقب یاد کړم. خو زما مقصد دا نه دی چې د سترو کسانو سترتوب و وړ وښیم. داسې هم نه غواړم په دغه نظر کې شریک شم چې وايي «ستر کسان تل بد کسان وي». هغه نظر چې هیله کوم له رواج نه یې وغورځوم دا دي چې د انسان مقام له تاریخ نه بهر ګڼي او انسانان داسې ویني چې ګواکې دوی د خپل سترتوب په وجه په تاریخ باندې تحمیلوي، داسې لکه چې د قوطیو جیک له نامعلوم ځخه د معجزې په ډول وځي چې د تاریخ رښتینی پر له پسې توب ګډوډ کړي[5]. حتی نن ورځ زه نه پوهېږم چې که موږ د هیګل دغه

۱ . معاصر انګلیسي مورخ.(م) A. J. P.Taylor.

۲ . ای چی پی، ټیلر، له ناپلیون نه تر ستالین پورې(۱۹۵۰) مخ ۷۴.

3 . Retz.

۴ . ګیسون، د روم امپراتورۍ انحطاط او سقوط.

۵ . وی، جی، چایلد، تاریخ، (۱۹۴۷)، مخ ۴۳.

کلاسیکي وینـا بهتره کړای شـو.

د عـصر سـتر کـس هغـه څـوک دی چـې پـه دې قـادر وي د خپـل عـصر اراده په الفاظـو کـې افـاده کـړي، خپل عصر تـه ووايي چـې دغـه یـې اراده ده او اجرايي کړي. هغـه څـه چـط دی یـې کـوي، د ده د عـصر زړه او جوهـر دی. دی خپل عـصر واقعي کـوي[1]. ډاکټـر لیویـس[2] هم، کلـه چې وايي سـتر لیکـوالان «د هغې انسـاني اګاهي په وجـه مهـم دي، چـې دوی یـې رواجـوي»[3]. همدغسـې یو څه پـه نظر کې لري. سـتر کـس تـل یـا د موجـودو قوتونـو نماینـده وي، او یا د هغـه قوتونـو نماینـده وي او یا د هغـو قوتونـو نماینـده وي چې د مسـلط قـوت پر ضد د هغو له تشـکیلولو سره مرسـته کـوي. خـو د تخلیـق او ابتـکار لوړه درجه ښـایي هغو سـترو کسـانو لکه کرومـول، یا لینـن تـه تخصیص شي چې دوی د نویو قوتونو له تشـکیل سره مرسـته وکړه او همدغو قوتونـو دوی سـتر تـوب تـه ورسـول، نه هغو کسـانو ته چې لکـه ناپلیون، یا بسـمارک چې د موجودو قوتونو په شاسـواره شـول او سـترتوب ته پرې ورسـېدل. نه ښـایي موږ هغـه سـتر کیـان هیرو کړو چـې له خپل عصر څخه ډېـر دمخه وو او د دوی سـتر توب یـوازې آینـده نسـلونو وپېژنـد. هغـه څه چې ماتـه اسـاسي معلومېـږي دا دي چې موږ پـه سـتر کس کـې دغسـې یو وتلـی شـخص وپېژنو چـې هغه هـم د تاریخـي عملیې محصـول او نماینـده وي او هـم د اجتماعـي قوتونـو ممثـل او خالق وي، کـوم چې د نـړۍ شـکل او د انسـانانو فکر ته تغییـر ور کوي.

نـو تاریـخ د کلمـې پـه دواړو مفهومونـو سره یعنې هغه پلټنـه چې د مـورخ له خوا کیـږي، او د مـاضي هغـه حقایق چـې دی پکې تحقیق کـوي یوه اجتماعـي عملیه ده، داسـې عملیـه چـې پـه هغـې کـې افـراد د اجتماعـي موجوداتو پـه حیث شـامل دي د جامعـې او فـرد تـر منـځ خیالي ضدیـت له هغـو موانعو څخه غیـر بل څه نـه دي چې زمـوږ پـه لاره کې پـه دې عرض خلق شـوی دی، چې زموږ تفکر ګډوډ کـړي. د مورخ او دهغـه د حقایقـو ترمنـځ د دوه اړخیـزه عمل متقابلـه عملیه کومه چې مـا د ماضي او اوس تـر منـځ مکالمه بللـې ده د ننۍ او پرونۍ جامعې تر منځ مکالمـه ده او د مجردو او ګوښـه شـویو افـرادو تـر منـځ مکالمه نـه ده. تاریـخ د برک خـاردت پـه الفاظو سره

---

١ . د حق فلسفه، انګریزي ترجمه، ١٩٤٢، مخ ٢٩٥.

2 . Dr. F. R. Lewis.

٣ . اف.آر.لیویس، ستره عنعنه(١٩٤٨). مخ ٢٠.

«د هغه څه ثبت دی چې یو عصر یې په بل عصر کې د ثبت کولو لایق مومي»[۱].
ماضي یوازې د اوس په رڼا کې د فهم وړ دی او موږ یوازې د ماضي په رڼا کې په اوس پوره پوهېدلی شو، دا د تاریخ هغه دوه اړخیزه وظیفه ده چې انسان په دې قادروي چې ماضي وپېژني او په اوسنۍ جامعه کې خپل قدرت ډېر کړي.

۱ . جي، برکخاردت، په تاریخ کې او د مورخانو قضاوت(۱۹۵۹) مخ ۱۵۸.

# -۳-

# تاریخ، ساینس او اخلاق

هغـه وخـت چـې ځوانکـی وم، دا مـې زده کـړه چـې د شـکلونو با وجـود، نهنگ ماهـي نـه دی، دې خـبرې په ما اثـر هم وکړ، خو اوس مې د تصنیف دغسـې پوښـتنې تـر پخـوا لـږ خوځـوي او دا خـبره مې هـم بې جهتـه نه ربـړوي چې ما متیقنـوي، چې تاریـخ سـاینس نـه دی. دغـه اصطلاحـي سـوال انگریـزي ژبـې د غرابت په وجـه پیدا شـوی دی. پـه هرې بلـې اروپایي ژبـې کې د «سـاینس» معادله کلمه بې لـه کوم تردید څخـه تاریـخ پـه غېږ کـې نیسي. خو پـه انگریـزي ویونکې نـړۍ کې دغه پوښـتنه یوه اوږده سـابقه لـري او هغـه موضوعـات چـې لـه هغې نه پیـدا کېږي، په تاریـخ کې د میتود د مسـایلو یوه مناسـبه مقدمه تشـکیلوي.

د اتلسـمې پیـړۍ پـه پای کـې، یعنې هغـه وخت چې سـاینس هم د جهـان په باره کـې د انسـان د معرفـت پـه بـاب او هم د هغـه د طبیعي خواصـو د معرفت پـه باب، په ډېرو موفقیت سره مرسـتې کړې وې، داسـې پوښـتنې شروع شـولې، چې ایا ساینس به د جامعـې پـه بـاب هم د هغـه پوهه زیاته کـړي او که نـه. د اجتماعي علومـو ومفهوم، چې په هغو کې تاریخ هم شـامل و، د نونسـمې پیړۍ په دوران کې ورو ورو انکشـاف وکـړ او هغـه میتـود چـې په هغـه سره سـاینس د طبیعـت نړۍ څېړلـه، بشري چـارو د مطالعـې د پـاره هـم پـه کار ولویـد. د دغه عـصر په لومـړۍ برخې کې د نیوټـن[1] عنعنه

---

١ .. (١٦۴٢ - ١٧٢٧) انلگلیس فیلسوف او ریاضيٍ پوه.(م) Issac Newaton>ً

مسلطه شوله. جامعه د طبیعت د نړۍ په څېر د یوه میکانزم په حیث وګڼل شوه. د هر برټ سپنسر[1] د یوه اثر عنوان د اجتماعي ساکنو اجسامو بحث[2] چې په ۱۸۵۱ کې خپور شو، تر اوسه هم یادېږي. برتراندرسل چې په دغې عنعنې کې روزل شوی و، وروسته یې دغه عصر را یاد کړ او هیله یې وکړه چې یو وخت به «د انساني سلوک ریاضیات دومره دقیق وي لکه څومره چې د ماشومانو نور یا ضیات دي»[3]. وروسته بیا ډاروین[4] بل علمي انقلاب راوست او اجتماعي پوهانو چې له بیالوجۍ څخه تقلید کاوه، په داسې تفکر پیل وکړ، چې جامعه د یوه عضویت په حیث وګني. خو د ډاروینی انقلاب رښتنی اهمیت په دې کې دی چې داروین څه وخت چې د هغه په څه تکمیل کولو پسې شو کوم چې (لایل)[5] لا ړومبی په جیولوجي کې شروع کړی و، تاریخ یې په ساینس کې حساب کړ. ساینس نور نو له هغه څیز سره سروکار نه لاره چې ساکن او بې زمان[6] و، بلکې د تحول او انکشاف له عملیې سره یې علاقه پیدا کړله. په ساینس کې تکامل، په تاریخ کې ترقي تائیده او تکمیله کړه.

سره له دې هم داسې څه پېښ نه شول چې د تاریخي میتود استقرا یې نظریه کومه چې زه په لومړي لیکچر کې پرې وغږېدم، واړوي، یعنې دا چې لومړی خپل حقایق را غونډ کړی، بیا یې توجهه وکړئ. بې له څه ګروېږ نه داسې وګڼله شوله، چې د ساینس میتود هم همدغه دی. دا هغه نظر و، چې (بری) لکه چې ۱۹۰۳ کال په جنوري کې د خپل افتتاحي لیکچر په وروستۍ برخې کې تاریخ په حیث«د یوه ساینس، نه لږو نه ډېر» تعریف کړ، په نظر کې لاره. خود(بری) له افتتاحي لیکچر نه وروسته پنځوسو کالونو کې د تاریخ د دغه نظر په ضد سخت عکس العمل وښودل شو. کالنګ ووډ، څه وخت چې د ۱۹۳۰ څخه تر ۱۹۴۰ پورې په لسو

---

۱ .(۱۸۲۰-۱۹۰۳). انګلیس فیلسوف. Herbert Spencer.

2 . Sociel Statics .

۳ . بی.رسل له حافظي نه تشریحات(۱۹۵۸) مخ ۲۰.

۴ .(۱۷۹۷-۱۸۷۵) انګلیسي طبیعي عالم(م). Charles R. Darwin.

۵ .(۱۷۹۷-۱۸۷۵) انګلیسي جیولوجي پوه(م). Charles Lyell.

۶ . ان تر دې نږدې وختو یعنې ۱۸۷۴ کې براډلي ساینس له تاریخ څخه داسې پیل کړ چې هغه(ساینس) کوم زمان ته د باندې او (لا زوال) نه بحث کوي.(ایچ. براډلي، غونډې شوې مقالې، ۱۹۳۵، مخ ۳۶).

کالونـو کـې لیکنـې کولې، په خـاص ډول زیـار کاږه چې د طبیعت نـړۍ چې د علمي پلټنـې موضـوع ده او د تاریخ د نـړۍ ترمنځ یوه صریحه کرښـه وکاږي.

پـه دغـه عصر کـې د (بـرۍ) مقوله، یـوازې کلـه کله هغه د هـم د تمسـخر په ډول راوړلـه کېدلـه. خـو مورخـان هغـه وخت موفـق نه شـول دیته پـام وکړي چـې خپله په سـاینس کـې ژور انقـلاب راغلـی دی او دغه انقلاب ښـيي چـې د (برۍ) نظـر تر هغو چـې مـوږ خیـال کاوه، کـه څـه هـم د غلـط دلیـل له پـاره، ډېـر سـم و. هغـه څه چې (لایـل) د جیولوجـي لـه پاره وکـړل او د (ډاروین) د بیولوجي د پاره هغه اوس دا سـترو نومـي یعنـې د هغه سـاینس د پاره وشـول، چـې وايي کاینات هغسـې چـې اوس دي، څنگـه چې پیـدا شـوي دي. اوسـني فزیـک پوهـان، مـوږ تـه تـل وايي چـې هغه څه چـې دوی یـې پلټـي، حقایـق نه دي، بلکـې واقعـات دي. دا چې مورخ نظر تېرو سـلو کالونـو تـه اوس د سـاینس پـه نـړۍ کې ډېـره ارامـي او اشـنایي حس کوي ښـه دلایل لري.

راځـئ چـې لومـړی د قوانینـو په مفهـوم یو نظـر واچوو. په اتلسـمې او نونسـمې پېـړۍ کې، پوهانو داسـې گڼله چـې د طبیعت قوانین د نیوټن د حرکـت قوانین، جانبي قانـون، د بایـل قانـون[1]، د تکامـل قانـون او داسـې نـور -لوڅ شـوي او پـه قطعي ډول تثبیـت شـوي دي او د یـوه سـاینس پـوه وظیفه دا ده، چې د اسـتقرا په عملیـې سره له د مشـاهده شـویو حقایقو څخه دغسـې نور قوانین لـوڅ او تثبیت کـړي. د «قانون» کلمه لـه گالیلیـو[2] او نیوټـن نـه مـوږ ته په داسـې حال کـې چې د افتخـار لاره یـې وهلې ده راغلـې ده. د جامعـې پوهانـو چې په شـعوري یا غیر شـعوري ډول سره هڅه کوله چې خپلـو مطالعاتـو تـه هم سـاینسي حیثیـت ورکـړي، همدغسـې کلمات اسـتعمال کړل او پخپلـه پـه دې متیقیـن شـول چـې دوی په همغـې لارې روان دي. داسـې ښـکاري چـې سـیاسي اقتصـاد پوهـان پـه دغه ډگر کـې د گرشـم پـه قانـون[3] او د بازار پـه باب

---

۱ . . Robert Boyle (۱۶۲۷-۱۶۹۱) برتانیایـي طبیعـي فیلسـوف. هغـه قانـون چـې د ده په نامه مشـهور شـوی دا دی چـې پـه ثابت حرارت کـې د هر غاز د یـوې ټاکلې انـدازې حجم، له هغه فشـار سره معکـوس نسـبت لري، چې پـه هغـه واردوي.(م)

۲ . Galileo (۱۵۶۴-۱۶۴۲) ایټالیایي عالم.(م).

۳ . د دغه قانون واضح سرتاماس گرشـم و، دی د پیسـو د کم ارزښـته کېدلو تحقیق نه دې نتیجې تـه رسـېدلی و چـې « خرابې پیسـې تـل ښـې پیسـې لـه دوران نـه کاږي». څه وخت چې کم ارزښـت پیسـې او ښـې پیسـې په دوران کې وي، خلق هڅه کوي چې ښـې پیسـې ذخیره کړي

د ادم سـمت پـه قوانینـو سره تـر نورو ړومبـی وي. (بـرک)[1] د«تجارت قوانینـو ته چې د طبیعـت قوانیـن دي او پـه نتېجـه کې اسـماني قوانیـن دي»[2] التـماس وکـړ. مالتوس د نفوسـو قانون وایسـت، لاسـال د اجورو اوسـپنین قانـون وضع کړ.

مارکـس پـه خپـل تألیـف، (پانګـه) کـې ښـکاري چـې مدعـي وي چـې ده«د معـاصرې جامعـې د حرکـت اقتصادي قانون» برسـیره کـړی وي. بکل[3] د تمـدن تاریخ پـه وروسـتیو کلماتـو کـې داسـې عقیده ښـکاره کړله چـې د بـشري واقعاتو پـه جریان کـې «يـوه ځلانـده پـر نسـیپ نفـوذ کړی چـې عالمـي او نـه کړېدونکـی نظم لـري». دا اصطـلاح نـن ورځ دومـره زړه معلومېږي، لکـه څومـره چـې فـرضي ښـکاري، خو د فزیکـي عـالم او د جامعـې عـالم دواړو تـه تقریبـاً يـو شـان زړه او له رواجـه لویدلې ښـکاري. يـو کال دمخـه تر هغه چـې (بری) خپـل افتتاحي لیکچـر اوراوه، د فرانسـې يـوه ریـاضي پوه، هنري پوان[4] کـره يو ووړ کتاب په نامه(سـاینس او فرضیـه) خپور کړ.

دغـه تألیـف په علمـي تفکر کې انقلاب راوسـت. د پـوان کره لوی تیـس دا و چې هغـه عمومـي قضیـې[5] چې سـاینس پوهانـو ایسـتلې دي او چېرتـه چې هغـه د ژبې د اسـتعمال پـه باب یوازې تعریفات او یا پټ کنونشـنونه او مقالې نـه دي، فرضیې دي او هغـه پـه دې غـرض طرح شـوې دي چې تفکـر نور هم پـې قطعي او متشـکل کړي او پخپلـه د تعدیـل، تحقیـق او تردید تابـع دی. دا ټول اوس لکه يو عـادي څیز ګرځېدلی دی. د نیوټـن لا چـې «فرضیې تغییر نه کوي» نن ورځ تشـه ښـکارېږي. سـاینس پوهان او پـه تېـره بیـا اجتماعـي سـاینس پوهـان، کـه څـه هـم تـر اوسـه د پخوانیـو وختو په

---

او کـم ارزښـته پیسـې پـه پـور ادا کړي. په دې حسـاب د وخت پـه تېرېدلو سره هغه پیسـې چې ډېـرې لـرې د منلو وړ وي، په دوران کې لوېږي او د ټولو پیسـو د تجارتي مبادلې ارزښـت ټاکي او هغـه پیسـې چـې ډېرې زیاتې د منلـو وړ وي، ورو ورو له دوران څخه لوېږي او قیمتي پیسـو پـه حیث د نورو کارو د پاره اسـتعمالېږي.(م)

۱ . (۱۷۵۹-۱۷۹۶). انګلیسی سیاس او لیکوال(م). Edmond Burke.

۲ . . د ایدمونډبرک په اثارو کې (۱۸۴۶) ۱۷ مخ، د قحطۍ په هکله افکار او تفصیلات(۱۹۵۷). د بـرک اسـتنتاج دا و چـې دا د«حکومـت، د حکومـت پـه حیـث، یـا حتی دښـمن د دښـمن په حیث. پـه واک کـې نه ده چـې غریبانو ته هغه ضروریـات ور تهیه کړي، کوم چې لوی څښتـن یـې خوښ کـړي. چې له هغـوی څخه يې وسـپموي.

۳ . (۱۸۲۱-۱۸۶۲) انګلیس مورخ(م). Henry Buckle.

۴ (۱۸۵۴-۱۹۱۲).(م) Heni Poincare.

۵ . Propositoin .

خاطر، د چا خبره لـه قوانينو نـه خبرې كـوي، دوی پـه هغه مفهـوم د هغو پـه وجود قايـل نـه دي، لكـه څنگـه چې سـاينس پوهان په اتلسـمې او نونسـمې پيـړۍ كې پرې معتقـد وو. اوس دا منـل شـوې ده چې سـاينس پوهان كشـفيات كـوي او نوی معرفت حاصلـوي، خـو دا كار د دقيقـو او جامعـو قوانينـو په تأسـيس سـهر نه كـوي، بلكې د داسـې فرضيـو په ايسـتلو سره يې كـوي، چې هغـه د نوي تحقيـق د پـاره لاره پرانيزي. د سـاينسي ميتـود په باب، پـه يوه درسي معياري كتـاب كې دوه امريكايي فيلسـوفانو د سـاينس ميتود «اساسـاً دايروي » بيـان كړی دی.

«مـوږ تجـربي موادو ته متوسـل كېـږو چې د پرنسـيبونو د پاره شـواهد حاصل كړو تجـربي مواد(حقايـق) گڼل شـوي دي او موږ تجـربي مواد همدغو پرنسـيبونو له مخې غـوره كوو، تحليـل كوو او تعبيـر كوو»[1].

د دايـروي پـه ځـای شـايد د «د دوه اړخيـز» كلمـه غـوره او بهـتره وای، ځكـه چې نتيجـه دا نـه كېـږي، چـې هغـه پخواني ځـای ته رجـوع وشي، بلكـې د نويو كشـفياتو د پـاره د وړانـدې تـگ وشي او دا د پرنسـيبونو ،حقايقـو او د تيـورۍ او عمـل ترمنځ د متقابلـې او دوه اړخيـزې عمليې لـه لارې كېـږي. ټول تفكـرات د ځينو مخكيبو فرضيو منـل لازمـه كـوي چې هغه پـه مشـاهداتو بنـا وي، او دغه مشـاهدات ممكنـوي، مگر كيـدای شي چـې د همدغـه تفكـر په رڼا كې په هغـه بيا نظر وشي. دغـه فرضيې ممكن پـه ځينـو قرينـو كې او د ځينو هدفونو د پاره سـمې او د اعبـار وړ وي او ممكن په نورو كې نـه وي.

پـه ټولـو حالاتو كې ازموينه تجـربي ازموينه ده يعنې دا چې هغـه كولی شي د نويو بصيرتونـو د پـاره ور پرانيځـي او زمـوږ پـه علم كې زياتـې راولي او كه نـه. دروترفورد[2] ميتودونـه د هغـه يـو وتلـی همكار او شـاگر په دې تـازه وختونو كې داسـې شرح كړل. «ده سـخته تلوسـه لرلـه چې پـوه شي د زوی پديـدو څنگه عمل كاوه، په داسـې مفهوم سره چـې يـو څـوک غواړي پـه دې وغږېدلـی شي چې په اشـپز خانې كې څـه كېږي. زه فكـر نـه كـوم چـې ده د يوې تشريـح د ميندلو د پاره له كلاسـيكي طريقـې څخه كار اخيسـت داسـې چـې ځينـې اسـاسي قواعـد د تيورۍ لـه مخې تطبيـق كـړي. تر هغو

---

۱ . ايم.ار.كوهن او ای. منطق او علمي ميتود مقدمه(۱۹۳۴) مخ ۵۹٦.

۲ .(۱۸۷۱) انگليس فزيک پوه.(م) E. Rutherford.

چې په دې پوهېده چې څه څيز پيښېږي، دی قانع و»[۱].

دا وينا د مورخ له حال سره په مساوي ډول سر خوري داسې مورخ چې د اساسي قوانينو د ميندلو له پاره يې پلټنه پرې ايښې وي، او په دې قانع وي، چې معلومه کړي، څېزونه څنګه عمل کوي.

د هغو فرضيو حال، چې مورخ يې د پلټلو په عمليې کې استعمالوي، د هغو فرضيو له حال سره چې ساينس پوه يې استعمالوي، ډېر ورته معلومېږي. د پروټستانزم[۲] او سرمايه داري د اصل د مناسبت تر منځ د ماکس ويبر[۳] هغه مشهور تشخيص د مثال په توګه په نظر کې ونيسي.

نن ورځ به هيڅوک دغه مناسباتو ته قانون ونه وايي، که څه هم په اولو وختو کې، ممکن همدغسې ګڼل شوی وای. په حقيقت کې دا يوه فرضيه ده؛ خو دغې فرضيې بې له شک او ترديد څخه د همدغو دوارو نهضتونو په باب زموږ فهم ښه پراخ کړی دی، که څه هم چې د پلټلو په جريان کې چې هغې تحريک کړی دی، په خپله تعديل شو ې ده. په همدغې جملې کې د مارکس يوې وينا ته نظر وکړئ:«لاسي ژرنده له فيوډالي لارد سره جامعه جوړوي، بخاري ژرنده له صناعتي سرمايه دار سره جامعه جوړوي[٤].

د عصري اصطلاح له مخې، دا کوم قانون نه دی، که څه هم مارکس ممکن همدغسې ادعا ورته کړې وای، مګر دا يوه نتيجه ناکه فرضيه ده چې د نورې پلټنې او تازه معرفت په لور لاره پرانيځي. دغسې فرضيې د تفکر حتمي الې ګڼلې کېږي د جرمني د شلمې پېړۍ د لومړنيو کالونو مشهور اقتصاد پوه، ورنرسومبارت[٥] په داسې يوه «نارام احساس» اعتراف وکړ کوم چې ده ته وخت پيدا شوی و، چې مارکسيزم يې پرې ايښی و، ده وليکل:

څه وخت چې موږ هغه ارام فارمولونه بايلو چې تر اوسه د موجوديت په پېچلي توب کې زموږ لارښوونکی وو، موږ تر هغو چې يوه نوې لاره مومو او يا

---

۱. سر چارلز ايلس د ټرنيټي مجله کې (کيمبرج، لينټ ټرم، ۱۹۶۰)، مخ ۱۴ ييي.

2. Protestannism.

3. Max Weber.

۴. مارکس – انګلز، Gesamtausgabe. مخ ۱۷۹.

5. Werner Sombart.

لامبو کول زده کوو، داسې حسوو، چې ګواکې د حقایقو په بحر کې ډوبېږو»[۱].
په دورونو د تاریخ د ویشلو مشاجره، له همدغسې نوع څخه ده. په دورونو سره د تاریخ ویشل، کوم حقیقت نه دی، بلکې یوه ضروري فرضیه یا د فکر اله ده او تر هغو د اعتبار وړ وي، چې روښول کوي او د خپل اعتبار له پاره په تعبیر اتکا کوي.
هغه مورخان چې په دې خبرې سره وران دي، چې منځنۍ پېړۍ څه وخت شروع کېږي، په حقیقت کې د ځینو پېښو په تعبیرونو کې، سره مخالفت دي. دا مسئله د حقیقت کومه مسئله نه ده، خو له بلې خوا بې مفهومه هم نه ده. د تاریخ ویشل په جغرافیایي سیمو سره هم په همغسې اندازې حقیقت نه دی، بلکې یوه فرضیه ده. د اروپایي تاریخ اصطلاح، ممکن په ځینو قرینو کې د اعتبار وړ او مفیده وي، په ځینو نورو کې، ممکن تېرایستونکی او خطا وي. ډېر مورخان، روسیه د اروپا یوه برخه ګڼي، نور یې په کلکه ردوي. د مورخ تعصب د هغې فرضیې له مخې معلوم کېدلی او قضاوت پرې کېدلی شي، چې دی یې غوره کوي او تطبیق کوي د اجتماعي مطالعاتو د میتودونو په باب، زه دلته یوه عمومي فتوا ارومرو را نقلوم، ځکه چې دا د هغه ستر اجتماعي عالم فتوا ده چې په خپله د یوه طبیعي ساینس پوه په حیث روزل شوی و. جارج سورل، د مخه تر دې چې په څلویښت کلنۍ کې، د جامعې په باب، په لیکلو پیل وکړي، د یوه انجینیر په حیث کار کاوه.

ده په دغه ضرورت ټینګار کاوه، چې په یوه خاص موقعیت کې، خاص عناصر ګوښه کړي، که څه هم دا عمل له حد نه زیات، د ساده کولو خطر ولري. دی لیکي:

«یو څوک باید د خپلې لارې په حس کولو سره دمخه ولاړ شي. یو څوک باید احتمالي او نیمګړې فرضیې و ازمایي او په موقتي تخمینونو قانع اوسي چې د متصاعد سمون د پاره ورتل خلاص پرېږدي»[۲]. دغه تفکر د نونسمې پېړۍ له فکر سره ډېر توپیر لاره. په هغه وخت کې، ساینس پوهان او مورخان لکه اکټن دغسې ورځې ته سترګې په لار وو، چې د مشهود شویو حقایقو په ټولولو سره، د علم یو جامع هیئت تأسیس کړي، داسې چې هغه ټول جنجالي مسئلې یو وار د تل له

۱ . ورنرسومبارت، د سرمایه دارۍ د اصل جوهر، (انګلیس ترجمه، ۱۹۱۵ مخ ۳۵۴.
۲ . جي.سورل. (۱۹۱۹)، مخ ۲۷۹ . Matceriaux du, une theorie du proletariat.

پـاره حـل کـړي. خو پـه دې وختو کې، سـاینس پوهـان او مورخـان دواړه تـر هغه ډېره معتدلـه هیلـه پـه خیال کې سـاتي او غـواړي له یـوې جزیـي او ناقصـې فرضیې څخه وبلـې تـه، پـه متصاعـد ډول دمخـه ولاړ شي او حقایق د هغـو په تعبیرولو سره ګوښـه کـړي. هغـه لارې او میتودونـه چـې دوی یـې د دغسـې عمل له پـاره غوره کـوي ما ته اساسـاً مختلف ښکاري.

پـه لومـړي لیکچـر کې، مـا د پروفیـسر بره کلـف دا تبـصره اقتباس کـړې وه، چې تاریـخ «هیـڅ حقیقـي نه، بلکـې د منل شـویو قضاوتونو یو لـړ دی». کله چـې ما دغه لیکچرونـه برابـرول، د دغـه پوهنتون(کیمـبرج) یـوه فزیـک پـوه دبي.بي.سي. بـه یوې خپرونـې کـې د علمـي حقیقـت[1] تعریـف داسـې وکړ، چـې هغه « یـو بیـان دی چې د متخصصانـو لـه خـوا د عمومـو په محـضر کـې منـل شـوی وي»[2]. دا دواړه فارمولونه یـو هـم قانـع کوونکی نـه دی او زه به هغـه وخت خپل دلایـل راوړم، کـوم وخت چې د افاقیـت پـه مسئله بحـث کـوم. خـو مهمـه دا ده چې ولیدل شـوه یـوه مـورخ او یوه فزیـک پـوه لـه یوه بل نه جـلا عین مسئله تقریباً په عیـن کلماتو کې تر قاعـدې لاندې راوستله.

سره لـه دې هـم مشـابهتونه او قیاسـونه د بـې احتیاطـو د پـاره د دام او تلک په څېر وي او زه غـواړم پـه هغـو دلایلـو پـه ډېـر درناوي سـوچ وکړم، چـې وایي که څـه هم د ریـاضي او طبیعـي ساینسـونو او یـا د همدغو کتـه ګوریو د ننه د مختلفو ساینسـونو تر منـځ اختلافـات قوي دي، د همدغو ساینسـونو او تاریخ ترمنځ یو اسـاسي فرق کښـل کېـدلـی شي. او دا فـرق سـړی تېرباسـي چـې کـه تاریـخ یا همـداراز نـور تش پـه نامه اجتماعـي علـوم د سـاینس په نامه یـاد کړل شي. دغـه اعتراضات چې څه یـې تر نورو ډېر مقنـع دي، په لنـډ ډول دا دي:

۱ . تاریـخ یـوازې لـه خـاص، بـې جـوړې او سـیاینس لـه عمومـي څخـه بحث کوي.

۲ . له تاریخ څخه درسونه او عبرتونه نه اخیستل کېږي.

۳ . تاریخ پیش ګویي کولی نه شي.

---

1 . Scientific truth.

۲ . داکتر جي، زمان، د لستو په مجله کې اګست ۱۸، ۱۹۶۰.

۴ . تاریخ لزوما عندي وي، په دې چې انسان خپل ځان مشاهده کوي.

۵ . تاریخ د ساینس په خلاف، د دین او اخلاق مسایل احتوا کوي. زه به زیار وکاږم، چې هر اعتراض بېل بېل تر بحث لاندې ونیسم.

لومړی دا چې ویل کېږي، تاریخ له بېجوړې، خاص او ساینس له عمومي او عالمي شخه بحث کوي. شاید دا نظر له ارستو څخه شروع شوی وي. ارستو په دې فکر و، چې شعریات تر تاریخ نه «ډېر فلسفي» او «ډېر جدي، دی» په دې چې شعریات له عمومي حقیقت او تاریخ له خصوصي حقیقت څخه بحث کوي[1]. د کالنګ ووډ په شمول، یو شمېر نور وروستي لیکوالان، د ساینس او تاریخ تر منځ، په همدغه فرق قایل وو. ښکاري چې دا تمیز د یوې غلط فهمۍ په نسج کې نغښتی وي. د هابز[2] مهمه مقوله تر اوسه هم د اعتبار وړ ده. «په نړۍ کې هیڅ څیز غیر له نومونو څخه عالمي نه دي، په دې چې هغه څیزونه چې نومول شوی دی، هر یو یې انفرادي او واحد دی»[3]. دغه حکم یقیناً چې د طبعي ساینسونو په باب سم دی. دوه جیولوجیکي تشکلات، له یوه نوع څخه دوه حیوانات او دوه اتمونه له یوه بل سره هیڅ مطابقت نه کوي همدا راز دوه تاریخي پېښې هم هیڅ سره یو نه وي. خو د تاریخي پېښو په بېجوړېتوب باندې ټینګار کول هغسې فلج کوونکی تاثیر لري، لکه هغه عادي او مبتذله وینا چې مور[4] له اسقف بټلر[5] څخه چې وروستی یو وخت د ژبنیو پوهانو ډېر ښه ایسېده، اخیستی وي:«هر څیز هغه څیز دی، کوم چې دی او بل څیز نه دی». په دې لارې روانیدل سړی زر یو راز فلسفي نیروانا[6] ته رسوي، چې هلته د هیڅ څیز په باب مهم او جدي شی، هیڅ نه شي ویل کېدلی.

د ژبې استعمال، مورخ د ساینس پوه په شان، کلیاتو ته متوجه کوي. د پلې پونځې جنګ او دوهم جهاني جنګ سره بېل وو، او دواړه بې جوړې وو. خو مورخ

---

۱ . شعریات، لسم فصل.

۲ . (۱۵۸۸-۱٦۷۹) انګلیسي فیلسوف.(م) Thomas Hobbes.

۳ . لیوای تن.

۴ . (۱۷۷۹-۱۸۵۲) ایرلینډی شاعر.(م) T. MOORE.

۵ . (۱٦۹۲-۱۷۵۲) انګلیسی دیني عالم.(م). J Butler.

٦ . په عالمي روح کې جذبېدل او فناکېدل.(م). Niravana.

دواړه د جنګ په کلمه يادوي. او يوازې فضل فروشي به په دې اعتراض وکړي. هغه وخت چې ګيبون د اسلام ظهور او د کانستټاين[۱] له خوا د عيسويت تأسيس د انقلابونو[۲] په نامه ياد کړل، ده د دوه بېجوړو او خاصو پيښو په باب تعميم کاوه. اوسني مورخان هم کله چې له انګليسي، روسي، فرانسوي او چيني انقلابونو څخه غږيږي، عين شی کوي. مورخ په حقيقت کې له بيجوړې سره سروکار نه لري، بلکې له هغه عمومي او کلي سره علاقمن دی، چې په بې جوړې کې وي.

له ۱۹۲۰ څخه تر ۱۹۳۰ پورې په لسو کالونو کې د ۱۹۱۴ جنګ د علتونو په باب د مورخانو بحثونه عموماً د دغې فرضيې په اساس کېدل، چې جنګ يا د ډيپلوماتانو د بدې اداري په وجه و، چې دوی په پټه کار کاوه، او عامه ذهنيت نه شو کولای د دوی کنترول کړي او يا په سيمه ييزو واکمنو دولتو باندې د نړۍ د اسفناک ويش له امله و. د ۱۹۳۰ څخه تر ۱۹۴۰ پورې په لسو کالو کې، دا بحثونه په دې فرضيې راوان وو، چې د جنګ علت هغه رقابتونه وو، چې د امپرياليستي قوتونو ترمنځ موجود وو او دا قوتونه د مخ په ځوړې سرمايه دارۍ تر فشار لاندې وو چې غوښتل يې نړۍ په خپلو منځو کې سره وويشي. دغو بحثونو د جنګ د علتونو يا په هر حال، د شلمې پېړۍ په حالاتو کې، د جنګ په باب له کليې او تعميم سره سروکار لاره. مورخ د دې له پاره چې خپل شواهد و ازمويي، پر له پسې کليه استعمالوي. که په دې باب چې ريچرډ[۳] به برج کې شاهزاده ګانه ووژل، شواهد واضح نه وي، مورخ به له ځانه وپوښتي او دا پوښتنه ممکن له شعوري نه زيات غير شعوري وي، چې ايا دا وخت د امرانو عادت وو چې د تخت مهم رقيبان ورک کړي او که څنګه. او د ده حکم به حقاً چې د دغې کليې تر اثر لاندې وی.

د تارخ لوستونکی او ليکونکی يو دايمي تعميم کوونکی دی او د مورخ مشاهده به په نورو تاريخي قرينو باندې، له کومو سره چې دی اشنا دی او يا ممکن د ده عصر وي، تطبيق کوي. څه وخت چې زه د فرانسې انقلاب په نامه د کارلايل تاليف لولم د ده تبصرې په وار ورا تعميموم او په خپلې ساحې کې يې په روسي انقلاب کې تطبيق کوم. د ترور په متعلق يې دغه تبصره واورئ:

---

۱ . (۲۷۲-۳۳۷). د روم امپراتور.(م). Constantine.

۲ . د روم د امپراتورۍ انحطاط او سقوط، فصل شل.

۳ ، د انګلستان پاچا.(م)Richard.

«پـه هغـو ملکونـو کې چې مسـاوي عدالت يـې ليدلـی وي، وحشـتناک دی – نه دومـره پـه هغـو ملکونـو کې غيـر طبيعـي دی، چې يې هيـڅ ليدلی نـه وي».

يا تر هغه ليا مهمه دا:

«د تاسـف ځـای دی، کـه څـه هم ډېر طبيعـي دی، چې د دغه عـصر تاريخ عموماً د هيجـان او عصبانيـت په روحيې سره ليکلی شـوی دی. مبالغه، کرکـه او انګولا و افره ده او پـه عمومي ډول ترګمی حـد نه لري»[1].

دا ده يـوه بلـه تبـصره، مګر دا ځل په شپاړسـمې پېړۍ کې د عـصري دولت د ودې پـه بـاب، د برک خـاردت له خوا:

«څوره چې يو قدرت وروسـته هسـک شـوی وي، هغومره لږ په ځای سـاکن پاتې کېدلـی شـی – لومـړی پـه دې چـې هغو دغـه قدرت خلـق کـړی وي، له نـورو چټکو حرکتونـو سره يـې اموخـت نيولـی وی. او بله دا چـې دوی په خپله بدعـت راوړونکی دی او غـواړي همدغسـې پاتـې شي. دوهم په دې سـبب چې هغه قوتونـه چې د دوی پـه واسـطه يـا هسـک شـوی دی او يـا زبېښـل شـوی دی، يـوازې به پـه نورو شـديدو اعمالو سره اسـتخدام کـړل شي»[2].

دا بـې مفهومـه ده، چـې وويـل شي تعميـم پـه تاريـخ کـې نااشـنا دی. تاريـخ پـه تعميماتـو وده کـوي. لکـه چـې ښـاغلی ايلټـن[3] د کيمـبرج معـاصر تاريخ په يـوه نوي جلـد کـې ليکي:«هغـه څـه چـې مـورخ د تاريخـي حقايقـو لـه ټولوونکي نـه بيلوي، هغـه تعميـم دی»[4]. ښـايې زياتـه کـړې وای، چـې همدغه څه طبيعي سـاينس پـوه، د طبيعـي انواعـو لـه ټولوونکـي نـه او يـا د طبيعـي حيواناتو له سـاتونکي څخـه بيلوي. خـو داسـې ونـه ګڼئ چـې تعميم ګواکې، مـوږ ته اجـازه را کـوي، چې د تاريـخ د پاره داسـې يـوه پراخـه طرحـه جوړه کـړو، چې خاصـې او بېجوړې پېښـې به لـه هغې سره اورمـرو توافـق کـوي. او څنګـه چـې مارکس يو لـه هغو کسـانو څخه دی چـې زياتره د دغـې طـرح پـه جوړولـو يا په هغـې د عقيدې پـه لرلـو سره تومتي شـوی دی، غواړم د لنډولـو پـه غـرض د هغـه د يـوه ليک نه يوه فقـره اقتباس کـړم چـې دی دا موضوع په

---

۱ . د فرانسې د انقلاب تاريخ، ۷ فصل.
۲ . جي. برکخارت، په تاريخ او مورخانو قضاوتونه، ۱۹۵۹، مخ ۳۴.
۳ . معاصر انګليسي مورخ.(م) G. R. Elton.
۴ . د کيمبرج معاصر تاريخ، ۱۹۵۰. مخ ۲۰.

خپل اصلي ځای کې ګوري.

«هغه پېښې چې په حیرتناک ډول سره ورته وي، مګر په یوه مختلف تاریخي محیط کې واقع کېږي، کاملاً غیر مشابه نتایج راوړي. د دغو تکاملاتو، د هر یوه په بېلې بېلې مطالعې او بیا د هغو په پرتله کولو سره، دا اسانه کېږي چې د دغې پدیدې د فهم کلي پیدا شي، خو دا قطعاً امکان نه لري چې دغه فهم د ځینې مشکل کشاء تاریخي- فلسفي تیوري په تطبیق سره حاصل شي کومه چې د هغې ستره ښېګڼه دا ده چې له تاریخ څخه دباندې مقام ولري»[1].

تاریخ د بېجوړې او عمومي ترمنځ له مناسباتو سره سروکار لري. تاسې د یوه مورخ په حیث، ثومره چې دا نه شي کولی، چې حقایق له تعبیر څخه بیل کړی داسې هم دا نه شي کولی چې خاص او عمومي سره جلا کړي او یا یو تر بل دمخه وګڼي».

زما په فکر اوس د دې وخت راغلی دی، چې د تاریخ او سوسیولوجي ترمنځ د مناسباتو په حقله یو څه ووایم. سوسیولوجي، اوس په دوو متقابلو خطرونو اخته ده، له حد نه زیات د نظري کېدلو خطر او له حد نه زیات د تجربي کېدلو خطر لومړنی په عمومي ډول، د جامعې په باب، په مجردو او بې مفهومو تعمیماتو کې د ځان دورکولو خطر دی. ثومره چې تاریخي په غټې(ت) سره غلط دی، هغومره جامعه په عټ(ج) سره غلطه ده. دا خطر هغو کسانو لا نږدې کړی دی، چې غواړي سوسیولوجي ته دا وظیفه وسپاري چې له هغو خاصو او بیجوړو پېښو نه چې تاریخي ثبتې کړې دي د تعمیم خاصه وظیفه اجرا کړي. حتی داسې نظریه هم وړاندې شوې ده چې وایي سوسیولوجي له تاریخ څخه د «قوانینو[2]» د لرلو په وجه

---

۱ . مارکس او انګلز، اثار د (روسي چاپ) مخ ۴۷۸. هغه لیک چې له هغه نه دا فقره نقل شوې ده، په ۱۸۷۷ کې په روسي مجلې کې راوتلې ده. داسې ښکاري چې پروفیسر پاپر، هغه وینا چې دی یې د هستوریزم مرکزي غلطي بولي مارکس ته منسوبېږي. دا هغه عقیده ده چې وایي تاریخي تمایلات یا میلانونه کېدلی شي چې یوازې له عالمي قوانینو نه سمدلاسه وایستل شي. دا بس هغه څه دي چې مارکس ترې منکر دی.

۲ . داسې ښکاري چې دا د پروفیسر پاپر نظر وي. (خلاصه جامعه، دوهم چاپ، ۱۹۵۲، مخ ۳۲۲). له بده مرغه دی دی د سوسیولوجۍ د قانون مثال راوړي: چېرته چې د فکر ازادۍ او د افکارو د مبادلې ازادۍ ،په حقوقي موسسو او هغو موسسو په موثر ساتل کېږي. چې د مباحثې د خپرېدلو تضمین کوي، هلته به علمي ترقي وي دا لیکنه په ۱۹۴۲، یا ۱۹۴۳ کې شوې وه او ښکاره ده چې د لیکلو محرک یې هغه نظر و چې وایي غربي دموکراسۍ به د

بیل دی.

هغـه بـل خطر کارل منهایم[1] ذکر کـړی دی. ده دا خطر نږدې سـل کاله ړومبی ذکر کـړی او اوس هـم تـر زیاته حـده تطبیقیږي او هغـه دا چې سوسـیولوجي«د اجتماعي بیـا توافـق پـه یـو لـړ تخنیکـي مسئلو ویشـل شـوي دي»[2]. سوسـیو لوجـې لـه هغـو تاریخـي جامعـو نـه بحث کـوي چې هـره یـوه یـې بېجـوړې ده او د خاصـو تاریخي ړومبینـو پېښـو او شرایطـو له خوا جوړه شـوې ده. خو که کوښـښ وشي چې له تعمیم کولـو او توجیهـه کولـو نـه ډډه وشي، ځـان یـوازې د شـمېرلو او تحلیـل کولـو تش په نامه«تخنیکـي» مسئلو ته محـدود کړل شي، انسـان به یـوازې د یـوې دریدلې جامعې یـو غیـر شـعوري مدافع ګرځیدلـی وي. کـه دا وي چې سوسـیولوجي، د مطالعې یو ګټـور ډګـر کیـږي، باید د تاریخ په شـان، د خـاص او عمومي له مناسـباتو سره سروکار ولـري. داسـې هم حتمی ده چې فعال او ډینامیک شـی یعنـې د درېدلې جامعې(ځکه چـې داسـې جامعـه هیڅ وجود نـه لري، مطالعـه نه وي، بلکـې د اجتماعـي تحول او انکشـاف مطالعـه وګرځـي. نـور نـو غـواړم دومـره ووایم چې څومـره تاریخ نـور هم سوسـیولوجي کیـږي، او یـا څومـره چې سوسـیولوجي نوره هـم تاریخـي ګرځي، د دواړو لـه پـاره ښـه ده. پرېـږدی چې د دواړو تر منـځ، سرحدونه د دوه اړخیـز ترافیک د پـاره خلاص او پـراخ وي.

د تعمیـم بلـه مسئله، زما له بلې پوښـتنې سره نـږدې ارتباط لـري. د تعمیم په باب رښـتینی ټکـی دا دی، چـې مـوږ په هغه سره زیار باسـو لـه تاریخ څخه زده کـول وکړو او لـه یـو لـړ پېښـو څخـه اخیسـتل شـوی درس او عـبرت پـه یو لړ نـورو پېښـو تطبیق کـړو. هغـه وخـت چې مـوږ تعمیم کـوو، مـوږ په شـعوري یا غیـر شـعوري ډول سره زیـار باسـو چې همدغـه عمل اجرا کړو. هغه کسـان چې چې تعمیـم ردوي او په دې ټینګار کـوي، چـې تاریخ یـوازې له خاص او بېجـوړې څخه بحث کـوي، منطقاً هغه کسـان دي، چـې وایـي لـه تاریخ نه هیڅ شـی نـه زده کیږي. خـو دا چې وایي انسـانان

---

خپلـو موسسـاتي ترتیباتـو پـه برکـت سره د علمي ترقي پـه سر کې واقـع وي. دا نظر وروسـته د هغـو ترقیاتـو پـه وجـه چې شـوروي اتحاد کـې واقع شـوی دی. یا رد شـوی یا ډېر مقید شـوی دی. دا نظـر حتـی د اعتبـار وړ تعمیـم هم نـه دی، قانون خـو نه دی.

1 . Karl Mannheim.

۲ . ک. مهایم، ایدیالوجي او یو ټوپیا، انګلیسي ترجمه، ۱۹۳۶، مخ ۲۲۸.

لــه تاریــخ څخــه هیــڅ شــی نــه زده کوي، پــه ډېــرو قابــل مشــاهده حقایقــو سره نقض کېــږي. بلــه هیــڅ تجربــه بــه تــر ډېــ دومــره عمومي نــه وي. پــه ۱۹۱۹ کــې زه د پاریس د ســولې پــه کنفرانــس کــې د برتانیــا د هیئــت د یــه کمکي غړي پــه حیث شــامل وم. د هیئــت هــر غــړی پــه دې عقیــده وو، چــې مــوږ د ویانــا لــه کانګرس نــه چې ســل کاله ړومبــی د اروپــا وروســتی ډېــر ســتر کانګرس و یو څه زده کولی شــو. یو کپتان و بســتر[1] نومــي شــخص چــې هغــه وخــت د وزارت مامــور و او اوس سرچارلــز و بســتراو یــو مشــهور مــورخ دی، پــه یوې مقالې کــې موږ ته د تاریخ درســونه وښــودل. دوه یې لا تر اوســه زمــا پــه یــاد کې پاتــې دي. یو یــې دا دی چــې کله د اروپا نقشــه بیا کښــله کېږي، د حــق ارادیــت د اصــل هیــرول، خطرنــاک دی. بــل یــې دا و چــې پــه باطلــه دانۍ کې د پټــو ســندونو اچــول خطرنــاک دي ځکــه چې د هغــو محتویات بــه د کــوم بل هیئت پــټ سرویــس حتــماً په بیه واخــلي. د تاریخ دغه درســونه، مــوږ ته لکه انجیل شــول او زمــوږ پــه کړو یې ســخت اثر درلــود. دا مثال تازه او جــزي دی. خو مشــکله نه ده، چې پــه نسبتاً لېــرې تاریــخ کې، د لیــا لېرې تاریــخ د درســونو تاثیر وښــودل شي. هر څوک چــې پــه روم بانــدې د لرغونــې یونــان له تاثیــر نه خــبر وي. خو زه پــه دې باور نــه لرم، چــې کــه کــوم مورخ زیــار ایســتلی وي، چــې د هغو درســونو یــو دقیق تحلیــل وکړي، کــوم چــې رومیانــو د لرغوني یونان لــه تاریخ څخه زده کــړی وي، یا پــه دې عقیده وي چــې دوی څــه زده کــړي دي. د هغو درســونو او عبرتونو معاینه کول، ممکن ښــه نتایج ولــري، چې په لویدیځې اروپا کې په اولســمې، اتلســمې او نونســمې پېړۍ کــې د زاړه انجیــل لــه تاریــخ څخه اخیســتل شــوي دي. لــه دې نه پــه پرته پــه بل ډول د انګلســتان د پوریټــان انقــلاب[2] پــوره واضح نــه شي، او د غوره کســانو مفهوم د عصري نشــنلزم په هســکېدو کــې یو مهــم عامل دی د لرغونې تربیې مهر، په نونســمه پېړۍ کې، د ســترې برتانیــا پــه حاکمــې طبقې ډېــر واضح و. ګــروتې، چې ذکر یــې ړومبی شــوی دی، اتن تــه یــې د نوې دموکراســۍ د یــوه مثال په حیث اشــاره کــړې وه. زه یې هیلــه کوم چې د پراخــو او مهمــو عبرتونو هغســې مطالعه وګورم، چې وښــیي د روم د امپراتورۍ تاریخ،

1 Captain Webster.

۲ . Puritan Revolution ، د انګلســتان د پروټســټانو د ګونــد د هغــو غــړو نهضــت چــې د دوی فکــر د کلیســا هغــه اصلاحات چــې د ملکې ایلیز ابتــې تر مشرتابــه لاندې شــوي وو، نیمګړې دي، بایــد بــې ځایــه مذهبي رســوم ګــرد سره نــه وي.(م)

د برتانیایـې امپراتورۍ جوړوونکو ته درسـونه ښـودلي دي. زما په خاصې سـاحې کې، د فرانسـې د انقلاب د ۱۸۴۸ انقلابونو، او ۱۸۷۱ د پاریس د کمیون درسـونو د روسـیې پـه انقـلاب جوړونکو سـخت اثر کړی و او حتی سـرې ویلی شي، چـې د هغو ذهنونه یـې اشـغال کـړي وو. خو زه به هغه قیـد را یاد کړم چې د تاریـخ دوه اړخیز خصوصیت تحمیـل کـړی دی. له تاریخ څخه درس او عبرت اخیسـتل هیڅکله سـاده او یو اړخیزه عمـل نـه دی. د مـاضي پـه رڼا کې د حـاضر په بـاب زرده کـړه کـول، د دې معنی لري چـې د حـاضر پـه رڼـا کـې د ماضي پـه باب هـم زړه کـړه کېـږي. د تاریخ وظیفـه دا ده چـې د مـاضي او حـاضر پـه باب عمیـق فهم د هغـوی د یوه تر بلـه مناسـباتو له لارې توسـعه او ډېره کړي.

زمـا دریـم ټکی، پـه تاریخ کې د پیشـګویۍ رول دی. ویل کېږي چې لـه تاریخ نه، هیـڅ درس نـه اخیسـتل کېږي په دې چـې تاریخ، د سـاینس په خلاف، د اینـده په باب پیشـګویي کولـی نـه شي. دا مسـئله د غلـط فهمۍ په نسـج کـې نغښـتې ده. لکه چې مـو ولیـدل، سـاینس پوهـان، نور نـو هغومره تلوسـه نه لري، چـې د طبیعـت د قوانینو پـه بـاب وغږېږي، لکـه څومره چې دمخه پـرې کړېدل. د ساینسـونو، هغه تـش د نامه قوانیـن چـې زمـوږ عـادي ژونـد متأثره کـوي، په حقیقـت کـې د تمایلاتو بیانونـه دي، داسـې بیانونـه چـې وایـي کـه ټول شـیان په مسـاوي حـال یـا لابراتـواري شرایطو کې وي، څـه شـیان بـه پیښ شـي، دوی د دغې پیشـګویۍ ادعا نه کوي، چې په مشـخصو او خاصـو حالاتـو کېو بـه څه پیښ شي. د جاذبـې قانون دا نه ثابتـوي چې هغه خاصه مڼـه بـه مځکې تـه ولوېږي. یـو څوک یې ممکـن په هوا کې پـه ټوکرۍ کـې ونیسي. د نـور قانـون چـې وایي وړانګه په سـمه لیکه حرکـت کوي، دا نـه ثابتوي چـې د نور یوه خاصـه وړانګـه بـه کږه نـه شي او یا کـوم دخالـت کوونکی عاملـه به یې ټیټه نـه کړي. خـو د دې معنـا نـه ورکوي چـې دغه قوانین بې ارزښـته دي او یا د پرنسـیپ له مخې د اعتبـار وړ نـه دي. مـوږ ته ویل کېږي چـې عصري فزیکي تیورۍ د پېښـو له احتمالاتو څخـه چـې واقـع کېـږي، بحث کـوي. سـاینس نن ورځ تـر پخوا نـه زیـات هڅه لري چـې هېـر نه کـړي چې استقرا د منطق له مخـې یـوازې احتمالاتو یـا معقولې عقیدې تـه منتهـي کېـږي او هڅه کوي چـې خپل احکام یـا د عمومي قاعدو یا لارښـوونکو په حیـث وګڼـي چې صحت یـې یوازې په یوه خـاص عمل کې ازمویـل کېدلی شي. لکه

ځنګه چې کانت[۱] وايي: «د ساينس (وظيفه) پيشګويي او د پيشګويي وظيفه (عمل) دی»[۲]. په تاريخ کې د پيشګويۍ مسئلې په باب کلي په هغه فرق ده چې د عمومي او خاص، د عالمې او بېجوړې ترمنځ موجود وي. لکه ځنګه مو چې وليدل، مورخ مجبور دی چې تعميم وکړي او د تعميم په کولو سره، د اينده عمل له پاره عمومي لارښودنې تهيه کړي، داسې لارښوونې چې که څه هم خاصې پيشګويۍ ګانې نه دي او هم سمې او ګټورې دي. خو دی نه شي کولای، د خاصو پيشګويي وکړي، په دې چې خاصه پېښه بېجوړې ده او د تصادف عنصر پکې دخالت کوي.

دغه تميز چې فيلسوف ځوروي، يو عادي شخص ته پوره واضح دی. که په يوه ښوونځي کې دوه يا درې واړه شری ونيسي، تاسې دغې نتېجې ته رسېږی، چې دغه رنځ به خپور شي. دغه پيشګويي، که يې په دغه نامه ياد کړئ، له پخوانيو تجاربو څخه په تعميم بنا ده، او د عمل له پاره سم او ګټور لارښوونکی دی. خو تاسې دغه خاصه پيشګويي کولی نه شی، چې (چارلز) يا (ميری) به شری ونيسي. مورخ هم په همدغه ترتيب دمخه ځي. خلک له مورخ څخه دا هيله نه کوي چې پيش ګويي وکړي، چې بله مياشت به په روريتانيا[۳] کې انقلاب وشي. هغه قسم استنتاج چې دوی به يې د کولو خيال ولري، څه به يې دروريتانيا د واقعاتو په خاصې پوهې او څه به يې د تاريخ په مطالعې بنا وي، او دا استنتاج دا دی، چې په روريتانيا کې شرايط دا سې دي، چې ممکن په نږدې اينده کې هلته انقلاب راولي، په دې شرط چې څوک يې شروع کړي. يا ممکن د حکومت له خوا يې يو څوک وکړي او د پېښېدلو مخه يې ونيسي. دا استنتاج ممکن له تخميناتو سره ملګری وي، تخمينات به څه د نورو انقلابونو په قياس او په هغې رويې بنا وي، چې د وګړو مختلفې ډلې به يې د انقلاب په باب غوره کوي. دا پيشګويي چې که غواړی په دغه نامه يې ياد کړئ، يوازې د بېجوړو او خاصو پېښو د واقع کېدولو په صورت کې، چې د هغو پيشګويي کېدلی نه شي، تحقق موندلی شي. خو دا د دې معنا نه ورکوي، چې هغه نتايج چې د اينده په باب له تاريخ څخه اخيستل کېږي،

---

١ . (۱۷۹۸-۱۸۵۷) فرانسوی فيلسوف(م). A. Comte.

٢ . Course de philosophie positive اصل عبارت په فرانسې کې دا دی.، مخ، ۵۱،(science d ou prevoyance : prevoyance d ou action.).

٣ . د يوه خيالي ملک نوم.(م) Ruritania.

بې ارزښته دي، یا دا چې هغه مشروط اعتبار نه لري، کوم چې د عمل له پاره د یوه لارښوونکي په حیث او په دې باب چې وقایع څنګه پېښېږي زموږ د معرفت له پاره د یوه کلي په حیث کار کوي.

زه نه غواړم دا نظر وړاندې کړم چې د اجتماعي عالم او یا مورخ نتایج په دقیق توب کې د فزیکي عالم له نتایجو سره جوړه کېدلی شي او یا دا چې د هغو لږ دقیق توب د اجتماعي علومو د بېرته پاتې توب په وجه دی. انسان تر هغه څه نه چې موږ ته معلوم دي، د هر نظر له مخې زیات پېچلی طبعي واحد دی. د هغه د کړنو او سلوک مطالعه موږ په داسې مشکلاتو اړوي، چې په نوعیت کې له هغو څخه بېل دي، چې فزیکي ساینس پوه ور سره مخ کېږي. یوازې هغه څه چې غواړم تثبیت یې کړم، دا دی چې د دوی غایې او طریقې اساساً یو له بل سره ورته دي.

زما څلورم ټکی، چې غواړم دلته یې ذکر کړم، تر نورو ډېر مقنع بحث دی او د اجتماعي علومو، د تاریخ په شمول او فزیکي علومو تر منځ، د بیلتون د کرښې کښل دي. دا هغه بحث دی، چې په اجتماعي علومو کې، فاعل او موضوع دواړه له یو نوع څخه دي او یو په بل باندې متقابل اثر او عمل کوي. انسانان په طبعي واحدونو کې نه یوازې تر نورو ډېر پېچلي او تحول منونکي دي، بلکې دوی باید د نورو انسانانو له خوا څخه مطالعه شي، نه د نورو انواعو د مستقیلو مشاهدینو له خوا. دلته انسان د حیاتي ساینسونو په خلاف، نور نو په دې قانع نه دی، چې یوازې خپل جوړښت او عکس العملونه مطالعه کړي. سوسیولوجي پوه، اقتصاد پوه او یا مورخ دې ته اړ دی، چې د انساني کړو په دغسې شکلونو کې ننوځي چېرته چې د هغه اراده فعاله ده او دا معلومه کړي چې انسانان چې د ده د مطالعې موضوع ده، ولې د دغسې عمل کولو لپاره اراده کوي، لکه څنګه یې چې کوي. د مشاهد او هغه چا ترمنځ چې تر مشاهدې لاندې نیول کېږي، دغسې یو نسبت تاسیس کوي، چې یوازې تاریخ او اجتماعي علومو ته خاص دی. د مورخ د نظر ټکی په قاطع ډول، په هرې هغې مشاهدې کې ننوځي کوم چې دی یې کوي. تاریخ ټول په نسبیت سره کښل کېږي، کارل منهایم وایي چې: «حتی هغه کټه ګوری ګانې، په کومو کې چې تجارب ټول شوي، منظم شوي او په یوه خاص صنف کې اچول

شـوي دي، د مشـاهد د اجتماعـي موقـف په قرار تغییـر کوي»[۱].

دا یـوازې سـمه نـه ده چـې د اجتماعي سـاینس پـوه تعصـب لزوماً د هغـه په ټولو شـواهدو کـې دخالـت کوي. دا هم سـمه ده چې، د مشـاهدې عملیه هغـه څه چې تر مشـاهدې لانـدې نیـول کېږي، متاثـر او تعدیل کـوي او دا په دوو مختلفـو طریقو سره واقـع کېدلـی شي. هغه انسـانان د کومو چې سـلوک تر مطالعې لاندې نیـول کېږي او پیشـګویي یـې پـه باب کېـږي، ممکن تر پخـوا، د هغـو عواقبو په پیشـګویۍ سره خبر شي، چـې د هغـو بـه ښـه نـه ایسي. نـو دوی بـه پـه دې راضي شي، چـې خپل عمل تعدیـل کـړي. پـه دې حـال کې به پیشـګویي، که څه هم چې د تحلیل په سـم اسـاس بنـا وي نتیجـه ور نـه کـړي. یو دلیل چـې ولې په هغـو خلکو کې چې تاریخي شـعور یـې قـوي دی، تاریـخ یوازې کلـه کله ځان تکـراروي دا دی، چې د ډرامې شـخصیتونه پـه دوهـم نمایش کـې، د لومـړي نمایش له نتیجې نـه خـبر وي او دا خبرتیـا د دوی عمل متاثـر کوي[۲].

بولشـویکان پـه دې پـوه وو چـې د فرانسـې انقـلاب پـه ناپلیـون واوښـت. دوی ویرېـدل چـې ممکـن د دوی انقـلاب هم په همدغسـې یو کـس ختم شي. نـو دوی په تراتسـکي بـې اعتبـاره وو، پـه دې چـې دی د هغـوی پـه مشرانو کـې تر ټولـو زیات یو ناپلیـون تـه ورتـه معلومېده. دوی په سـټالین اعتبار وکـړ، ځکه چې هغه تـر ټولو لږ یوه ناپلیـون تـه مشـابه و. خو دغه عمـل ممکن په معکوس سـمت هـم روان شي. اقتصاد پـوه، د راتلونکـي اقتصـاد چټـک انکشـاف[۳] یـا ناڅاپـه تنزیـل[۴] پیشـګویي کـوي او دا پیشـګویي د موجودو اقتصـادي حالاتو په علمي تحلیل سره کـوي. که د ده صلاحیت ډېـر او دلیـل یې قـوي وي، ممکن د دغسـې حادثې په پیشـګویۍ سره خدمت وکړي. د سـیاس عـالم، یعنـې هغـه څـوک چـې د تاریخـي مشـاهدو پـه قـوت سره دا عقیده پیـاوړې کـوي، چـې د مطلقیت[۵] عمـر لنـډ وي، ممکن د مطلـق العنان په چپـه کیدلو کـې کومـک وکړي، هر څـوک د انتخاباتي مبارزو پـه دوران کې د کاندیدانو په سـلوک

---

۱ . ک. منهایم، ایډیالوجي او یوټوپیا(۱۹۳۶)، مخ ۱۳۰.

۲ . . دا بحث د مولـف پـه تالیـف، د بلشـویک انقـلاب ۱۹۱۷، ۱۹۲۳، مـخ ۴۲.کې پـې اوږد شـوی دی.

3 . Boom.

4 . Slump.

5 . Despotism.

پـوه وي، دوی د خپـل بري پیشـګویي کـوي او په دې کې یـې ارادي مقصد دا وي چې د پیشـوګويۍ احتـمال لا پسـې ډېـر کـړي. يو ځوک پـه دې فکـر کېږي، چـې اقتصاد پوهـان، سیاسـت پوهـان او مورخان چې کله پیشـګویي پیلوي، کله کله غیر شـعوري هیلـه تحریـک کوي، چې د پیشـګويۍ تحقـق چټک کـړي. د دغو پیچلـو ارتباطاتو په بـاب، هغـه څـه چې ممکن پـه مصـون ډول وویـل شي دا دی چـې د مشـاهد او هغه څـه ترمنځ او د مـورخ چـې تـر مشـاهدې لاندې نیـول کېـږي، د اجتماعي عـالـم او د هغه د مفروضاتـو[1] ترمنـځ او د مـورخ او د هغـه د حقایقـو ترمنـځ، متقابل عمـل پر له پسـې دی او پـه مـداوم ډول تغییـر کـوي. ښـکاري چـې دغـه خصوصیـت د تاریخ او اجتماعـي علومـو یـوه بېلوونکې نښـه وي. ښـایي دلتـه دغه یادونـه وکړم چـې په دغو وروسـتيو کالونـو کـې، د فزیک ځینـې پوهان د خپل علـم په باب داسـې غږېدلي دي، چـې ښـکاري دوی د طبعـي کايناتو او د مورخ د جهان ترمنځ د لا زیات مشـابهت نظر وړانـدې کوي.

لومـړی دا چـې ویـل کېـږي د دوی نتایـج د شـک یـا نامعیـن تـوب[2] پـه اصل کې نغښـتي دي. پـه بـل لیکچر کې زه پـه تاریخ کې د تش پـه نامه جبر د ماهیـت او حدود پـه بـاب وغږېـږم. خـو دا چې ایـا د معـاصر فزیک نامعیـن تـوب د کايناتو پـه ماهیت کـې واقـع دی، یـا هغـه تش زمـوږ د موجـود ناقص علـم یوه نښـه ده(دا ټکی تر اوسـه هـم تـر بحـث لانـدې دی) زه به په هغه کې د مهمو مشـابهتونو او قیاسـونو د کشـفولو پـه بـاب زمـوږ په قابلیـت سره د تاریخي پیشـګويۍ ګانـو د کولو له پاره همغه شـکونه ښـکاره کـړم لکـه چې یـو څو کالـه وړمبـی ځینـو احساسـاتي علاقمنو کوښښ کاوه چـې پـه هغه کې داسـې ثبوت ومومي چـې ګواکې په کايناتـو کـې ازاده اراده عملیات کـوي. بلـه دا چـې مـوږ تـه ویل کېـږي، چې په عـصري فزیک کـې د مـکان فاصله او د وخـت انقضـا داسـې پیمانـې او انـدازې دي، چـې د مشـاهد حرکت کولو پسـې اړه لـري. پـه عـصري فزیک کې، ټولـې پیمانې ذاتي تغییر ونـه مني او دا ممکنـه نه ده چې د «مشـاهد» او هغـه څیـز تر منځ، چې تر مشـاهدې لانـدې نیول کېـږي، دواړه یا فاعل او موضـوع د مشـاهدې پـه اخـري نتیجې کـې داخلېږي. خو په داسـې حـال کې چې دا تشریحـات پـه ډېـر لـږ تغییـر سره د مـورخ او د هغه د مشـاهداتو د موضـوع په باب

---

1 . data.
2 . Indeterminacy.

تطبیـق مومـي، زه پـه دې قانع نه یم چـې د دغو مناسـباتو جوهر په کـوم واقعي مفهوم سره د هغـو مناسـباتو له ماهیت سره د مقایسـې وړ دی، کوم چـې د فزیک پوه او د هغه د کایناتـو پـه بـاب موجود دی، که څه هم زه د پرنسـیپ له مخـې د دې علاقمن یم چې هغـه اختلافـا کـوم چـې د مورخ طریقه د سـاینس پوه لـه طریقې نه بېلوي، کـم یې کړم نـه دا چـې زیـات یـې کـړم. دا به بـې فایـدې وي چې کوښـښ وشي دغـه اختلافات د ناقصو مشـابهتونو په اسـتناد لېـرې کړل شي.

خـو زمـا په فکر، کله چې دا مناسـبه ده چې د مطالعې په موضـوع کې د اجتماعي عـالم یـا مورخ مشـمولیت د فزیکـي عالم له مشـمولیت سره توپیر لري او هغه مسـایل چـې د فاعـل او موضـوع د مناسـبت په واسـطه پیـدا کېږي، تـر هغو پـه لایتناهي ډول پیچلـې دي. دا د موضـوع اخـر نـه دی. د علـم پـه بـاب، لرغـوني نظریـات چـې پـه اوولسـمې، اتلسـمې او نونسـمې پېړۍ کـې مروج وو، ټـول په دغه قیاس بنـا وو، چې د معلـوم کوونکـي فاعـل او د معلومـې شـوې موضـوع ترمنځ قـوي دوه گـون توب[1] موجود دی.

سره لـه دې هـم عملیـه درک شـوله، هغـه نمونه چـې د فیلسـوفانو له خـوا طرحه شـوله، ویې ښـودله، چې فاعل او موضوع، انسـان او بهرنۍ نړۍ، سره ویشـل شـوي دي او بېل دي. دا د سـاینس د ظهور او انکشـاف یو سـتر عصر و. د پیشـقدمانو جهان بینـۍ علمـي نظریـات تر ډېـرې انـدازې متاثـره کړل. انسـان د بهرنـۍ نړۍ پـه ضد په ډېـر شـدت سره وښـودل شـو. ده له دغې نړۍ سره داسـې پـه کلکه پنجـه ورکړله، لکه څنگـه چـې یـې له کـوم نـه رام کېدونکـی او قوي دښـمن سره پنجه ورکـړې وي. نه رام کېدونکـی پـه دې چـې په هغه پوهېدل مشـکل و، قوي دښـمن پـه دې چې په هغه تحکـم سـخت و. خـو د عـصري سـاینس پـه انکشـاف سره دغـه جهـان بینـۍ هم په انقـلابي ډول سره تغییـر وموند.

پـه اوس وختونـو کـې یـو سـاینس پـوه د طبیعـت د قوتونو په بـاب ډېر لږ داسـې فکـر کـوي، چـې د هغو په ضـد مبارزه وکـړي، بلکـې دوی دا قوتونه داسـې گڼي چې ور سره همـکاري وکـړي او د خپلـو مقصدونـو لـه پـاره یې امـاده کـړي. د علم قدیمي نظریـات نـور نـو لـه نوي علـم او په تېـره بیا د فزیـک له علـم سره سر نه خـوري؛ نو د

1 . Dichotomy.

حیرانی ځای نه دی چې فیلسوفانو په تېرو پنځوسو کالونو کې په هغو انتقادونه شروع کړي دي او د دې پېژندنې یې هم شروع کړې دي، چې د علم عملیه فاعل او موضوع یو له بله نه په شدید ډول نه بېلوي، بلکې د دوی تر منځ د متقابل مناسبت او یو په بل اتکا ته په یو څه حد قایل دي. دا د اجتماعي علومو له پاره نهایت اهمیت لري. اوس غواړم دا دلیل وړاندې کړم چې چې اجتماعي علوم په کلي ډول سره د علم له هرې هغې تیورۍ سره چې د فاعل او موضوع ترمنځ په کلک بېلتون قایل دی، هیڅ سر نه خوري، په دې چې په اجتماعي علومو کې همغه انسان هم د فاعل او هم د موضوع، هم د محقق او هم د هغه شیز په حیث چې تر تحقیق لاندې نیول کېږي، شامل دی.

سوسیولوجۍ په خپل دغه زیار سره چې د ځان د پاره د نظریاتو یو منسجم هیئت تأسیس کړي، په حقه سره یوه ښانگه پرانیستلې او د علم سوسیولوجي یې نومولې ده، خو دا زیار تر اوسه ډېر وړاندې تللی نه دی، په دغه غټ دلیل چې سوسیو لوجي په دې قناعت کړی دی چې د علم د عنعني نظریې د قفس دننه حرکت وکړي. که فیلسوفان لومړی د عصري فزیک ساینس تر تاثیر لاندې او اوس د عصري اجتماعي علومو تر تاثیر لاندې، په دې شروع کوي چې له دغه قفس نه ووځي او د علمي عملیو له پاره، یوه نوې عصري طرحه جوړه کړي، نه دا چې یوه کهال شعور باندې د مفروضاتو د اثر د توپ زاړه بلیار د هغه زړه طرحه وښیي، دا د اجتماعي علومو او په تېره بیا د تاریخ د پاره یو ډېر نیک فال دی. دا ټکی ښایسته د اهمیت وړ دی او زه به هغه وخت بیا ور ته وگرځم، چې غواړم په تاریخ کې د افاقیت مفهوم په باب بحث وکړم.

په پای کې، مگر نه په لږ اهمیت سره، مجبور یم په هغه نظر بحث وکړم، چې وایي تاریخ څنگه چې د مذهب او اخلاقو له مسایلو سره ډېر نږدې ارتباط لري، په عمومي ډول له ساینس او حتی له نورو اجتماعي علومو نه بېل دی او توپیر ترې لري. له مذهب سره به د تاریخ د مناسبت په باب یوازې دومره وگړېږم، څومره چې لازمه ده خپل دریځ څرگند کړم. جدي منسجم کېدل له دې سره موافق دي چې په کوم خدای عقیده ولرلای شي، داسې خدای چې کاینات یې خلق کړي او نظم یې ورکړی دی. خو دا په دغسې یوه خدای د عقیدې له لرلو سره موافق

نـه دی چـې پـه خپلـه اراده غواړي د یوه سـتوري د حرکـت لار واړوي، یا خسـوف ټال کـړي. یـا دکاینـاتي لوبې قاعدو ته تغییـر ورکړي. پـه همدغه ډول، کله کله داسـې نظر وړانـدې کېـږي چـې یو جـدي مورخ ممکـن په داسـې خـدای عقیده ولـري چې هغه پـه عمومـي ډول د تاریـخ سیر ته نظم او مفهوم ورکـړی وي، که څه هم دی بـه د زاړه انجیـل رقمـي پـه خـدای بانـدې عقیده کولـی نه شي چـې هغه بـه د مالیکاتـو[1] په ژلو کـې مداخلـه کـوي یـا به په خـبرو کې غولول کـوي او غواړي د جوشـوا[2] د لښـکرو په ګټـه د ورځـې سـاعتونو اوږده کړي.

داسـې هـم دی د خاصـو تارخي پېښـو د تشریح په غـرض له خدای څخه مرسـته نـه غـواړي. روحـاني پـلار دی، ارسـې[3] په یـوه تـازه کتاب کې زیـار ایسـتلی چې دغه تمیز واضـح کړي.

«د یـوه محصـل لـه پـاره دا کافي نـه ده چې پـه تاریخ کې هرې پوښـتنې ته داسـې ځـواب ورکـړي چـې دا د خـدای کار و. تـر هغو چـې موږ دومـره وړاندې تلـلي نه یو چـې دنیایـي پېښـې او بـشري ډرامـه مرتبه کـړو، نه ښـایي پراخـې ملاحظې میـدان ته کړو»[4].

د دغـه نظـر غرابـت پـه دې کـې دی، چـې معلومېږي مذهـب د قطعـو د جیک په حیـث ګڼـل کېـږي او هغه د حقیقتاً مهمو چالونو د پاره سـاتل کېـږي او د بلې طریقې د پـاره نـه را ایسـتل کېـږي. کارل بـارت[5] د لوتـر مذهـب عـالم تر هغـه لا ښـه کار وکړ چـې د اسـماني او دنیایـي تاریـخ ترمنځ یې پـوره بیلتون اعـلام کړ او دنیایـي تاریخ یې دنیایـي ځنګلو ته وسـپاره.

پروفیـسر، بټرفیلـډ چـې که زه یـې په خبرو وپوهېـږم، څه وخت چـې د «تخنیکي» تاریـخ پـه باب بحـث کوي، همدغسـې یو څه پـه نظر کې لـري. تخینکـي تاریخ هغه

۱ . د سوریې د ملک یو پخوانی چپاولګر کوچیانی قوم.(م) Amalekites.

۲ . د موس (ع) جانشین چ اسرائیلیان یې کانان ته سوق کړل.(م) Joshua.

3 . M. C. D Arcy.

۴ . . ایم،سی.ډ، ارسې، د تاریخ مفهوم: د نیایي او مقدس (۱۹۵۹)، مخ پولي بیسو (د یونان مورخ) تر هغه دمخه دا نظر ښکاره کړی و: چېرته چې کېدی شی د پېښو علت معلوم کړل شي، نه ښایي یو څوک خدایانو ته مراجعه وکړي، (اقتباس د کی. فان فرتز، لرغوني مهال کې د مخلوط اساسي قانون نظر، نیویارک، ۱۹۵۴، مخ ۳۹۰.

۵ . Kari Barth.

يواځينی تاريخ دی چې ممکن تاسې او موږ به يې تل وليکو او يا دا چې ده پخپله به تل ليکلی وي. خو د دغه عجب عنوان په استعمال سره، دی دغه حق د ځان کوي، چې د خاصانو يا خدايي تاريخ باندې عقيده ولري، چې له هغه سره به پاتې موږ او تاسې سروکار نه لرو. د بردیایف[۱]، نيبور[۲] او ماري ټين[۳] په شان ليکوال تاريخ ته په يوه مستقل حال قايل دي، خو په دې ټينګ دي چې د تاريخ غايه يا انجام له تاريخ څخه بهر واقع دی. شخصاً زه نه شم کولای د تاريخ کليت کوم فوق تاريخي قوت سره پخلا وښيم په کوم چې د هغه اهميت او مفهوم تړلی دی، فرق نه کوي چې دا قوت د غوره شويو خلکو خدای وي، عيسايي خدای وی، د کوم رب النوع پټ شوی لاس وي، يا د هيګل جهاني روح وي. د دغو ليکچرونو د مقصد له پاره، زه داسې فرض کوم چې مورخ بايد دغه مسئله بې له دې چې د ماشين خدای[٤] ته رجوع وکړي، حل کړي، داسې چې تاريخ داسې يوه لوبه ده، چې د چا خبره جيک نه لري.

له اخلاقو سره د تاريخ مناسب ډېر پېچلي دي او په دغه باب چې تر اوسه څه بحث شوی دی، د څو مبهماتو په جه ناقص دی. نن ورځ يوازې کله کله ضرور وي چې په دې بحث وشي چې له مورخ نه دا تقاضا نه کېږي چې د خپل داستان د شخصيتونو په شخصي ژوندانه اخلاقي قضاوتونه صادر کړي. د مورخ او هغه چا نظرونه، چې په اخلاقي اصولو ولاړ وي، کاملاً يو نه وي. اتم هنري، ممکن بدمېړه او ښه پاچا تېر شوی وي، خو مورخ د ده لومړني صفت په باب يوازې هغه وخت علاقه ښکاره کوي چې تاريخي پېښې يې متاثره کړې وې. که د هغو اخلاقي غيبونو په عمومي عيبونو په عمومي پېښو دومره لږ څرګند اثر کړی وي، لکه چې د دوهم هنري عيبونو کړی دی، مورخ ته نه ښايي د هغو په باب ځان سرګردان کړي. دا حکم د بدو او ښو صفتونو په باب يو شان صدق کوي.

---

1 . Berdyaev.

۲ .(د عقيده او تاريخ د کتاب مولف) نيويارک . ۱۹۴۹ . A. R, Niebuhr.

3 . Maritain.

۴ . اشاره و هغه کلاسيکي عمل ته ده چې ه سختو مصيتونو کې به د مشکل د حل د پاره رب النوع له ماشن نه ايستل کېده.(م) deus ex machine.

روایت دی چې پاستور[1] او انشټاین[2] دواړه په شخصي ژوندانه کې بېجوړې او حتی لکه ولیان متقي وو. خو داسې وګڼئ چې دوی بې وفا مېړونه، یا ظالم پلرونه یا یې بې پرنسپه اخلاقي ملګري وو، نو ایا د دوی د تاریخي کارنامو اهمیت به تر هغو لږ وي، کوم چې اوس دی؟ مورخ اساساً له دغسې کارنامو سره سروکار لري.

روایت دی چې سټالین پر خپلې دوهمې ماینې ظلم او زیاتی کړی دی، خو زه د شوروي پېښو د مورخ په حیث دا احساس دومره نه لرم، چې هغه په نظر کې ونیسم. دا د دې معنا نه لري چې شخصي اخلاق اهمیت نه لري، یا دا چې د اخلاقیاتو تاریخ د تاریخ یوه روا برخه نه ګڼله کېږي. خو مورخ داسې نه کوي چې په یوې خوا تاو شي او د هغو افرادو په شخصي ژوندانه اخلاقي قضاوتونه صادر کړي، چې د ده د کتابونو په مخ ښکاره کېږي. دی نور څه وظایف په مخ کې لري.

تر هغه لیا جدي ابهام په عمومي اعمالو باندې د قضاوت په مسئلې پیدا کېږي. د مورخ په دغې وظیفې عقیده چې په هغو افرادو چې د ده په ډارمې کې ظاهرېږي، اخلاقي قضاوتونه صادر شي، یوه اوږده سابقه لري. خو دا عقیده هیڅکله دومره قوي نه وه، لکه څومره چې په نونسمې پېړۍ کې په برتانیې کې وه. دا هغه وخت و چې دا عقیده هم د هغه عصر د اخلاقي تمایلاتو او هم د فردیت د لمانځلو د اصل له خوا تقویه شوې وه.

روزبیري[3] ویل چې هغه څه چې انګلستان هڅه لري پرې پوه شي دا دي چې ناپلیون په رښتیا«یو ښه شخص[4]» و که نه. اکټن له کرې ټن[5] سره په لیکونو کې اعلام کړه چې د اخلاقي اصولو ثبات، د تاریخ د صلاحیت، حیثیت او انتفاعیت راز او سر دی. دی مدعي شو چې تاریخ «د منازعاتو حکمو د سیاح لارښوونکی او د هغه اخلاقي معیار حامي وګرځوي چې د ځمکې او د مذهب قوتونه تل په دې هڅه کې دي، چې هغه وزېبښي»[6]. دا نظریه د اکټن په هغې تصوفي عقیدې بنا ده چې کومه چې ده د تاریخي حقایقو په افاقیت او علویت لرله. د دغې نظریې له

۱ . (۱۸۲۲-۱۸۹۵)، فرانسوي ساینس پوه.(م).L. Pasteur

۲ . ۱۸۷۹، جرمنی فزیک پوه. (م) .A. Einstein

3 . Rosebery.

۴ . روزبیری، ناپلیون: وروستۍ مرحله، مخ ۳۶۴.

5 . Creighton.

۶ . د بین المللي چارو سروي، ۱۹۳۵، مخ ۳.

مخې، لـه يـو مورخ نـه ظاهـراً دا تقاضا کېږي او ده تـه دا حـق ورکول کېږي، چې د تاريـخ پـه نامـه چې تاريخ يـو راز فـوق تاريخي اختيـار ورکول کېږي. په هغـو افرادو او اخلاقـي قضاوتونـه صـادر کـړي، چـې پـه تاريخي پېښـو کې ښـکاره کېږي. اوس هـم دا نظـر کلـه کله په غيـر متوقعه شـکلونو کې سر هسـکوي. پروفيسر ټآيـن بی[7] په ۱۹۳۵ کـې پـه حبشسـتان باندې د موسـوليني حمله د يوې«ارادي شـخص گنـاه»[8] په حيث بيـان کړله.

سرايسـايه برليـن، پـه هغـې مقالـې کې چـې پخوا يـې ذکر وشـو، په کلکـه اصرار کـوي چـې دا د مـورخ وظيفـه ده چې «په شـارلمان، يـا ناپليون، يا چنگيز خـان يا هټلر او يـا هـم سـتالين بانـدې د دوی د بـې رحمانه قتلونو بـه باب قضاوتونـه وکړي»[9].

پروفيـسر نوولـز دا نظر پـه کافي اندازه ترټلی دی. ده پـه خپل افتتاحي ليکچر کې د موټلـی[10] د دوهـم فليپ تقبيح اقتباس کـړې ده:«که چېرې هلته بدۍ گانـې وي.... له کومـو څخـه چـې دی خلاص و، دا له دې امله ده چې انسـاني طبيعـت د دې ايجازه نه ورکـوي، چـې پـه بدۍ کې هم کمال ته رسيدل وشي». دا سـې هـم ده د کنگ جان په بـاب د سـټبز[11] وينـا را يـاده کړې ده: «په هـر هغه جرم سره کثيف شـوی و، کوم چې يو انسـان رسـوا کولـی شي». په افرادو بانـدې د داخـلي قضاوتونو هغه مثالونـه دي، چې مـورخ يـې د د اعلامولـو صلاحيـت نه لري. «مـورخ قاضي نـه دی، پـه دار ځړوونکی قـاضي خـو بالـکل نـه دی»[12]. خـو کروسـې هم په دغـه باب يوه ښـه فقره لـري، چې

---

۷ . اکټن، تاريخي مقالې او مطالعات(۱۹۰۷)، مخ ۵۰۵.

۸ . انگليسی معاصر مورخ. (م) A.Toynbee.

۹ . ای.برلين، تاريخي ختميت، مخونه ۷۷-۷۶. د سرايسـايه برلين دا روش هغه نظر را يادوېچې د نونوسـمې پېړۍ هغه سرسـخت محافظـه کار حقـوق پوه فتز جيمز سـټيفن ښـکاره کړی و: د جـزا قانـون پـه دې ډول پـه دغـه اصـل وړانـدې درومـي چې وايـي پـه اخلاقي لحاظ دا سـه ده چـې لـه مجرمانـو نـه دې کرکـه وشي.... دا بالـکل لازمـه ده چـې لـه مجرمانو نـه د ې کرکه وشـی دومـره سـختې جزاگانـې دې پـه دوی حوالـه شي چ هغه کرکې پـه کې افـاده شي او هغه دې تـر هغـو حـق پـه جانب او روا وښـوولی شي چـې د عمومـو د افادې کولـو او تظمين کولو وسـايل يو طبيعي سـالم احسـاس تشـويق کولی او را ښـودلی شی.(انگلسـتان د جزايي قانون تاريـخ، ۱۸۳۸، مخونـه ۸۱-۸۲. دا فقـره دا بل.رډزينـو ويـچ، په سرجيمز سـټيفن نومي تاليف کـې اقتبـاس شـوې ده، (۱۹۵۷، مخ ۳۰).

۱۰ . هاليدي مورخ(م) John L. Motley.

۱۱ .(۱۸۲۵-۱۹۰۱) انگليس اسقف او مورخ.(م) Milliam Stubbs.

۱۲ . دی. نوولز، مورخ او سجيه، ۱۹۵۵، مخونه، ۵۴، ۱۲، ۱۹.

غـوارم دلته یې ذکـر وکړم.

«تهمـت هغـه سـتر اختـلاف لـه یـاده بـاسي چـې زمـوږ محکمې)قضایـي وي یا اخلاقـي» د نـن ورځـې محکمـې دي او هغـه د ژوندیو، فعالو او خطرناکو اشـخاصو د پـاره بېجـوړې شـوې دي، په داسـې حال کې چې نور اشـخاص پخـوا د خپلو وختونو پـه محکمـو کـې حـاضر شـوي دي او دوی دوه ځلـې مقصر یـا تبرئه کېدلـی نه شي. دوی پـه هیـڅ محکمې کې مسـئول کیدلی نـه شي، په دې چې دوی یـوازې د تاریخ تر قضـاوت لانـدې راتللـی شي، او کـوم بل قضاوت پـرې کېدلی نـه شي، مګر هغه چې د دوی د کار پـه روح کـې ننوځـي او پېژني یې. هغه کسـان چې د تاریـخ د شرح کولو پـه بهانـه د قاضیانـو په حیث نندارە جوړوي، دلتـه محکومول کوي او هلتـه تبرئه کول کـوي او دا پـه دې دلیـل چـې د دوی په فکـر دا د تاریـخ دفتـر دی.... دوی په عمومي او کلي ډول لـه تاریخـي مفهـوم نه بې بهـرې دي»[۱].

کـه څـوک، پـه دغـه حکم انتقـاد کوي چـې دا زمـوږ کار نـه دی، چې پـه هټلر، یا سټالین او یـا کـه مـو خوښـه وي په سـناتور مکارتـي بانـدې اخلاقي قضـاوت صادر کـړو، پـه دغه علـت چې دوی زمـوږ د زیاترو معـاصر دی او په دغه علت چې په سـل ګونـو زرو هغـه کسـان چـې په مسـتقیم یـا غیـر مسـتقیم ډول د دوی لـه اعمالو څخه متـضرر شـوي دي، تـر اوسـه ژونـدي دي او پـه دغـه حالت چـې د همدغـو دلایلو له مخـې متشـکله ده چـې مـوږ د مورخینو په حیـث دوی تـر مطالعې لاندې نیسـو او له نـورو هغـو اسـتعدادونو څخـه ځانونه محـروم کړو چـې هغه بـه ممکن موږ تـه اجازه را کـړي چې د هغـو پـه اعمالـو بانـدې قضاوتونـه صـادر کـړو، دا د معاصر مـورخ د مشـکلونو یـو مشـکل، یـا که ووایـم ډېر لوی مشـکل دی. خـو نن ورځ څـوک کولای شي د شـارلمان یـا ناپلیـون، د ګناهونـو په تقبیـح سره فایـده وچته کړي؟

نـور راځـئ چې دا نظـر رد کړو چې مورخ په دار ځړوونکی قـاضي بولي او تر هغه مشـکل، بلکـې ګټـور بحث ته مخـه وکړو یعنې هغه بحـث ته چې اخلاقـي قضاوتونه افرادونـه صادرېـږي، بلکـې د مـاضي په پېښـو، موسسـو او سیاسـتونو صادرېـږي. دا د مـورخ ډېـر مهـم قضاوتونـه دي. هغـه کسـان چـې د افرادو پـه اخلاقـي محکومولو سـخت ټینګار کـوي، پـه حقیقت کې پـه غیـر شـعوري ډول سره د ډلـو او جوامعو له

---

۱ . بي. کروسی، تاریخ د ازادۍ د داستان په حیث، انګلیسي ترجمه، ۱۹۴۱، مخ ۴۷.

پـاره دا دلیـل پیـدا کوي، چـې ګواکې دوی پـه جرم کې لاس نـه لاره.

فرانسـې مـورخ لیفـي بـور[1] په دې لټه کـې و چې د فرانسـې انقلاب لـه بدبختیو او د ناپلیـوني جنګونـو لـه وینـو تویولـو څخـه تبرئه کړي نـو یې هغه ته منسـوب کـړه «د یـوه جـنرال دکتاتـورۍ ته .... چې د هغـه مزاج .... په سـولې او اعتدال کـې ارام پاتې کېدلـی نـه شـو»[2]. جرمنیان، نـن ورځ د هټلـر د فـردي شرارت تقبیح ته ځکه ښـه وايي چـې د مـورخ اخلاقـي قضاوت پـه هغې جامعې ونـه شي کومې چې هټلـر تولید کړی دی. روسـان، انګلیسـتان، امریکایـان په سـټالین، نیـوال چمبرلین، یا مـکارتي باندې د شـخص حملـو پـه کولـو لاسـونه سر یـو کوي، چـې په خپلـو ډله ییـزو بدو کـړو پرده وغـوړوي. بر سـېره پـر دې، په افرادو باندې سـتایونکي اخلاقـي قضاوتونه هم هغومره تېـر ایسـتونکي او مـضر دي، څومـره چې د افـرادو اخلاقي تقبیـح دي. دا معرفت چې ځینـې غـلام لرونکـی افراد ظـالم وو، پر له پسـې د یـوې بهانې په حیث اسـتعمالېږي، چـې د غلامـۍ د یـوې اخلاقي مؤسسـې په حیث محکومـه نه شي.

ماکـس ویـبر د«بـې څښـتنه غلامـۍ چـې هلتـه سرمایـه دارۍ د کارګر یا پـوروړي لاس وپښـې تـړي» یادونـه کـوي او پـه حقـه سره دلیـل وړاندې کـوي چـې مـورخ باید خپـل قضاوتونـه پـه هغـې موسسـې صادر کـړي، چې هغـه یې خلق کـړې دی، نه په افـرادو بانـدې[3]. مـورخ د دې له پاره د قضاوت په مسـند کېني چـې واحد شرقي مطلق العنـان قضـاوت صـادر کـړي، خو لـه ده څخـه دا تقاضا هم نـه کېږي چـې دی دې د مثـال پـه ډول د شرقـي مطلقیـت او د پریکلیس د اتن د وختو موسسـو ترمنځ بې اعتنا او بـې طرفـه پاتـې شي. دی بـه پـه انفـرادي غلام سـاتونکو بانـدې قضاوت نـه کوي، مګـر دا رویـه یـې له دې څخـه منع کوي چې د غلامـۍ جامعه محکومه نـه کړي. لکه څنګـه چـې مـو ولیـدل، تاریخـي حقایـق د توجیه فرضیـه، تر څه حـده پخوا تـر پخوا منـي او تاریخـي توجیهـات تـل اخلاقـي قضاوتونـه په غېږ کـې نیسي. کـه دا حکم په ښـو بېطرفـو الفاظو کـې افـاده کـړو، ارزښي قضاوتونه به یـې وبولو.

خـو سره لـه دې هـم دا یـوازې زمـوږ د مشـکلاتو شروع ده، تاریـخ د مبـارزې یوه عملیـه ده. پـه دې عملیـې کـې نتایـج چې که مـوږ ور ته ښـه ووایو باید د ځینـو ډلو له

---

1 . Lefebvre.

۲ . جلد ۱۴، ناپلین، مخ ۵۸. Peuples et civilisations.

۳ . دا فقره د ماکس وېبر: مقالې په سوسیولوجي څخه اقتباس شوې ده.(۱۹۴۷)، مخ ۵۸.

خوا په مستقیم یا غیر مستقیم زیاتره په مستقیم ډول د نورو ډلو په زیان حاصلېږي. بایلونکی تاوان ګالي. رنځ او عذاب په تاریخ کې یوه عادي او مانوس شیز دی. د تاریخ هره ستره دوره هم تلفات او هم فتوحات لري. دا یوه ډېره پېچلې مسئله ده، په دې چې موږ داسې کوم معیار نه لرو، چې په هغه سره وکولی شو د ځینو کسانو ډېره ګټه د نورو د قربانیو په مقابل کې اندازه کړو. سره له دې هم باید یو میزان وشي. دا یوازې د تاریخ مسئله نه ده، په عادي ژوندانه کې، موږ زیاتره لږ تاوان او لږه بدي مرجحه بولو، یا هغه شریر عمل کوو چې فایده مو ترې په نظر کې نیولې وي.

موږ دا ضرورت په خوله نه وایو، مګر عمل مو همدغسې وي. په تاریخ کې دا مسئله کله کله د «پرمختګ قیمت» یا د «انقلاب قیمت» تر عنوان لاندې تر بحث لاندې راځي. خو دا تر ایستونکې ده. څنګه چې بیکن په یوې مقالې کې: د ابداعاتو په باب وایي، «د یوه سرسخت عادت ساتل هومره ګران کار دی، لکه د یوه ابداع».د حقاظت قیمت په محرومو خلکو هغومره دروند لوېږي، لکه چې دا ابداع قیمت په هغو درونډوي چې له امتیازاتو څخه محرومېږي. دا نظر چې د ځینو ګټه د نورو عذاب روا کوي، په هر حکومت کې په ضمني ډول موجود دی، او هغومره د محافظه کارۍ نظر دی، څومره چې افراطي دی. داکتر جانسن لږ شرارت د موجودو بې عدالتیو د حفاظت له پاره روا وباله:

«دا ښه ده چې ځینې بدمرغه وي، تر دې چې هیڅوک نیکمرغه نه وي، چېرته چې د مساواتو په عمومي وضح کې به دا حال وي»[1].

خو د افراطي تحول په مهالونو کې دا مسئله په ډراماتیکي ډول سره ښکاره کېږي او په دغه وخت کې موږ ته ډېره اسانه وي، چې د هغو په مقابل کې د مورخ سلوک مطالعه کړو.

راځئ چې د ۱۷۸۰ او ۱۸۷۰ کالونو تر منځ د لویې برتانیا د صناعتي کېدلو

---

۱ . بوزول د ډاکټر جانسن ژوند(۱۷۷٦)، د ایوري مین چاپ مخ ۲۰. دلته د سپین ویلو ښېګڼه شته، برکخارت(په مورخانو او تاریخ باندې قضاوت مخ ۸۵). د ترقۍ د قربانیو په «په غلیو شویو زګیرویو» چې دوی قاعده(Paraatueri)نه په پرته نور څه نه غوښتل، اوښکې تویوي خو پخپله د لرغوني رژیم(ancient regime) د قربانو د زګیرویو په باب غلی دی چې قاعده تاً یې د ساتلو هیڅ شیز نه لرل.

کېږي را واخلو . هر مورخ به صناعتي انقلاب ممکن بې له کومې مباحثې، یو ستر او مترقي کارنامه وګڼي. دی به دا هم بیان کړي، چې کرونده ګر څنګه له ځمکو نه وایستل شول، کارګران څنګه په غیر صحي فابریکو او کوډلو کې تخته شول او کوچنیان څنګه استثمار شول. دوی ممکن ووايي چې د سیستم په کار کې، ناوړې استفادې وشولې او ځینې استخدام کوونکي تر نورو ډېر بې رحم وو. دی ممکن د بشر د خوښوونکي او زړه سواندي وجدان د تدریجي ودې په باب یو څه غوړې او نرمې خبرې هم وکړې، دا هغه وخت چې سیستم یو ځل بیخ ونیو او مستقر شو. خو دی به ممکن بیا بې له دې چې ووايې داسې وګڼې چې په اولو مرحلو کې یو څه جبر او استثمار د صناعتي کېدلو یوه حتمي برخه ده. ما تر اوسه داسې مورخ لیدلی نه دی، چې ویلي یې وي چې د همدغه قیمت په وجه به دا ښه وای چې د پرمختګ مخه نیوله شوې وای او په صناعتي کولو لاس پورې شوی نه وای. که داسې کوم مورخ موجود هم وي بې له کوم شکه به د چسټرټن[1] او بیلک[2] په مکتب پورې اړه ولري او هیڅ جدي مورخ په جدي سترګه ورته ونه ګوري.

دا مثال زما له پاره په خاص ډول په زړه پورې دی، په دې چې زه هیله کوم زر به د شوروي روسیې په تاریخ کې د کروندګرو د راټولولو او ډله ییز کولو[3] مسئله د صناعتي کولو د قیمت د یوې برخې په حیث تر بحث لاندې ونیسم.[4] په دې ښه پوهېږم چې که زه د برتانیا د صناعتي انقلاب د مورخانو د مثال په تعقیب، که څه هم د ډله ییز کولو ناوړې خواوې او وحشتونه بد وګڼم؛ خو په خپله عملیه د صناعتي کولو د سیاست د یوه ضروري او مطلوب قیمت یوه برخه وګڼم، زه به د شکاکیت په تور او د شریرو ښیزونو په اغماض تومتي شم. مورخان د اروپایانو له خوا په نونسمې پېړۍ کې د اسیا او افریقا استعمار په دې دلیل نالیدلی ګڼي چې دغه عمل نه یوازې د جهان په اقتصاد فوري تاثیرونه وکړل، بلکې په خپله د هغو لویو وچو د ېرته پاتې ولسونو له پاره یې په اوږدمهاله کې نتایج او ګټې لرلې. سره

1 . Chesterton.

2 . Belloc.

3 . Collectivisation.

۴ . دا مسئله اوس پروفیسر کارد، آر، دبليو. دی ویس (R. W. Davies) په مرسته په یوه نوي تألیف کې تر بحث لاندې نیولې ده. د تألیف نوم دی. د یو پلان شوي اقتصاد اساسات، ۱۹۲٦-۱۹۲۹.

لـه تولـو خبرو، ویـل کېږي، چې هندوسـتان د برتانیـا د حاکمیت ماشـوم دی. عصري چیـن د نونسـمې پېـړۍ د لویدیـځ امپریلـزم محصـول دی، او روسي انقـلاب هم پرې اثـر کـړی دی. له بـده مرغه د چیـن کارگرانو چې په سـاحلي بندري اروپایي -ځښـتنو فابریکـو کـې، یـا د جنـوبي افریقـا په کانـو کې او یـا یې لومـړي نړیوال جنگ کې، په لویدیځـې جبهـې کـې زحمت گالـه، ژوندي پاتې نه شـول چې د چین انقـلاب گټه او ثمـر ووینـي. څـوک چې قیمت تادیـه کوي، یوازې کلـه کله کولی شي، چـې گټه ترې وچتـه کـړي. د انگلز یوه مشـهوره فقره دلتـه راوړم:

«تاریـخ تـر ټولـو الهـو نه ډېر بـې رحمه الهـه ده. دا الهـه خپل مظفرانه موټـر د مړو اجسـامو پـه خریـو تېـروي او دا کار نـه یـوازې پـه جنگ کـې کـوي، بلکې په «سـوله ییـز» اقتصـادي انکشـاف کـې یې هم کـوي. مـوږ نارینه او ښـځینه له بده مرغـه دومره احمقـان یـو چـې مـوږ د حقیقـي ترقـۍ د پـاره هیـڅ زړه نـه کوو، تـر څو چـې د هغو غذابونـو لـه خـوا مجبـور نه شـو، کوم چـې له حسـاب نه وتـلي وي»[1].

دایـوان کارا مـازوف[2] د مخالفت مشـهور حرکـت د قهرمانۍ یوه اشـتباه ده. موږ په جامعـې کـې زږېـدلي یـو، موږ پـه تاریخ کـې زږېدلي یو. داسـې یوه شـیبه هیڅ نشـته چـې مـوږ تـه پـه جامعې کـې د ننوتلو ټکټ په دغسـې اختیـار راکړه شي چـې موږ یې یـا ومنـو یـا رد کـړو. د غـذاب او درد پـه باب، مـورخ د الهیاتو تـر عالم نه زیـات قاطع ځـواب نـه لـري. دی هـم د کم زیـان او ډېرې گټـې په تیسـس ډډه کوي.

نـو ایـا دا حقیقـت چې مورخ څنگه چې د سـاینس پـوه په خلاف د خپلـو موادو د ماهیت له امله، د اخلاقي قضاوت په دغسـې مسـایلو کې نغښـتی دی، د دې معنی نه ورکـوي چـې تاریـخ د ارزښـت کـوم فوق-تاریخي معیار ته تسـلیم کېږي؟ زمـا په فکر چـې نـه تسـلیمېږي. راځئ چې دا وگڼـو چې مجرد مفهومونـه لکه «خیـر» او «شر» او د هغـوی پسـې نـور سفسطه یي انکشـاف، د تاریـخ له چـوکاټ څخه بهـر واقع دي، خـو سره لـه دې هم، دغه مجـردات، د تاریخي او خلاقیاتو په مطالعه کې هغسـې رول لوبـوي، لکـه چې د ریـاضي او منطق فارمولونه یې د فزیک په سـاینس کـې لوبوي. دا د تفکـر حتمـي کټه گـورۍ گانې دي. خـو دوی تر هغو چې مشـخص محتویات ورنه

---

۱ . فریدریک انگلز، لیکونه ۱۸۴۶-۱۸۹۵، (۱۹۳۴) مخ ۱۰.

2 . Ivan Karamazov.

کېږه شي، لـه مفهـوم نه عاري دی او تطبيق يې ناشـونی. تاسـې ممکن بل مسـتعار نوم غـوره وګڼـی، خـو هغـه اخلاقـي مفهومونه چـې موږ يې پـه تاريخ يـا ورځنـي ژوندانه کـې تطبيـق کوو، د هغـو چکونو په څـير دي، چې په بانـک کې باندې ورکـول کېږي، دا چکونـه هـم چاپه شـوې او هم ليکل شـوې برخه لري.

چـاپ شـوې برخـه يـې د ازادۍ، مسـاوات، عدالـت او ډموکراسـۍ پـه شـان لـه مجـردو الفاظـو څخـه جـوړه ده، دا اسـاسي کټـه ګورۍ ګانـې دي؛ خو چـک تر هغو کـوم ارزښـت نه لـري، چې پـرې ليکنه نه وي شـوې، ځکـه همدغه ليکنـې معلوموي چـې مـوږ څومـره ازادي د چـا د پاره غـواړو. هغه طريقـه چې په هغـې سره موږ وخت پـه وخـت خپل چک ډکو، د تاريخ يوه مسـئله ده. هغه عمليه چې پـه هغې سره مجردو اخلاقـي مفهومونو ته، مشـخص تاريخي محتويات ورکول کېـږي، يوه تاريخي عمليه ګڼلـه کېږي. پـه حقيقـت کې زمـوږ اخلاقـي قضاوتونـه په يـوې مفکوره ييـز چوکاټ کـې دننـه، چې هغه پـه خپله د تاريـخ تخليـق دی، جوړېږي.

د اخلاقي مسـايلو په باب د معاصر بين المللي دعوا مشـهور او مروج شـکل هغه بحـث دی چـې د ازادۍ او ډموکراسـۍ پـه بـاب يـې رقيـب او نقيض مدعيـان په خپل منـځ کـې سره لـري. مفهومونه عالمـي او مجرد دي. خـو هغه محتويات چـې په هغو کـې ايښـودل کېـږي، د تاريـخ پـه جريـان کـې يې لـه يوه ځـای نه و بـل ځای تـه او له يـوه مهال نـه و بل مهـال ته تحول کـړی دی.

د هغـوی د هـرې علمـي مسـئلې تطبيـق، يـوازې د تاريـخ پـه ژبه پوهيـدل کيدلی او پـرې بحث کيدلـی شي. اوس بـه لـږ څه يـو غير مشـهور مثـال راواخلو. کوښـښ شـوی چـې د اقتصـادي علمـي تنظيم مفهـوم، د يـوه افاقـي او غيـر متنازع فيـه معيار پـه حيث اسـتعمال شي چـې د هغـه پـه وسـيله د اقتصـادي سياسـتونو مرغوبيـت تر ازموينې لاندې راتلی شي او قضاوت پرې ممکنيدلی شي. خو دا کوښـښ سمدلاسـه ناکامېږي. هغه تيـوري پوهان چې د لرغونـې اقتصاد په قوانينو روزل شـوي دي، پلان جـوړول د پرنسـيپ لـه مخې محکومـوي او هغه په بيا تنظيم شـويو اقتصـادي عمليو کـې يـو غيـر علمـي او غير عقـلي مداخله شـمېري. د مثال پـه ډول پـلان جوړوونکی د نـرخ د سياسـت پـه باب لـه دې څخه غـاړه غړوي، چـې د عرضې او تقاضـا د قانون پيـروي وکـړي او نرخونـه پـه پـلان جوړولو کې هيـڅ عقـلي او علمي اسـاس لرلی نه

شي.

بې له شکه دا به سمه وي چې پلان جوړوونکی زیاتره په غیر عقلي او احمقانه ډول کار کوي. خو هغه محک چې په هغه سره په دوی قضاوت کېدلی شي، د لرغوني اقتصاد هغه زوړ «اقتصادي بیا علمي تنظیم» نه دی. زه په خپله له معکوس استدلال سره ډېره زړه سواندي لرم او وایم چې دا هغه نه کنترول شوی او نامنظم شوی اقتصادي لیسه فر[1] و چې اساساً غیر علمي و. پلان جوړول هغه کوښښ دی، چې په هغه سره په دغسې عملیې کې «اقتصادي تنظیمیت» مروج کېدلی شي. خو هغه یوازېنی ټکی چې غواړم اوس یې ووایم دا دی چې ممکنه نه ده چې یو مجرد او فوق-تاریخي معیار وضح شي او په هغه سره په تاریخي اعمالو قضاوت وشي. په دغسې یو معیار کې دواړه خواوې حتماً هغه مشخص محتویات موندلی شي کوم چې د دوی له تاریخي حالاتو او هیلو سره موزون وي.

دا د هغو کسانو حقیقي حکم دی چې غواړي یو داسې فوق - تاریخي معیار ساز کړي چې د هغه په رڼا کې په تاریخي پېښو یا موسسو قضاوت صادر شي، فرق نه کوي چې دا معیار له اسماني قدرت څخه منبع اخلي، کوم چې د دین عالمانو ایستلی دی، یا له کوم مسکون عقل یا طبیعت څخه منبع اخلي کوم چې دتنور او د نهضت د دورې فیلسوفانو وضح کړی وي. خبره په دې کې نه ده چې د همدغه معیار په تطبیق کې نیمګړتیاوې پېښېږي، یا په خپله په معیار کې نواقص موجود دي. خبره په دې کې ده د دغسې یو معیار د جوړولو په لور هڅه او کوښښ کول غیر تاریخي دي او د تاریخ اصلي جوهر نقضوي. داسې معیار د هغو مسایلو له پاره چې یو مورخ د خپل تخصص په وجه مجبور دی د هغو په باب پر له پسې پوښتنې وکړي، یو جدمي ځواب تهیه کوي. هغه مورخ چې د دغو پوښتنو په مقابل کې پخوا تر پخوا ځوابونه قبلوي، داسې مثال لري لکه چې سترګې پټې په کار شروع کوي او له خپل تخصص څخه سترګې پټوي او ردوي یې.

تاریخ یو حرکت دی او حرکت پرتله کول غواړي. همدغه علت دی، چې مورخان هڅه کوي، چې خپل اخلاقي قضاوتونه په مقایسوي الفاظو کې لکه(ښه

---

۱ د افرادو په اعمالو مخصوصاً تجارتي اعمالو کې د حکومت مداخله نه کول(م). Laissez faire.

او (بـد). دا هغـه کوښښـونه دي چې په هغو سره مختلفې جامعې، یـا تاریخي حوادث تعریـف کېـږي او دا د کـوم مطلـق معیـار په ژبـه نه کېږي، بلکـې د یوه او بـل په رابطې سره کېـږي. برسـېره پـر دې کلـه چـې مـوږ دغـه مفـروض مطلـق او اضـافي تاریخـي ارزښـتونه تـر کتنـې لاندې نیسـو، دې نتېجې ته رسـېږو، چـې دوی هم پـه واقع کې په تاریـخ کـې رېښـې لـري. دیوه خاص ارزښـت یـا مفهوم ظهـور په یـوه معین زمـان او مـکان کـې د زمـان او مـکان په تاریخـي شرایطـو سره شرح کېږي. د فرضیـې د مطلقو مفاهیمـو لکـه برابـري، ازادي، عدالـت او طبیعي قوانینو عملي محتویـات له یو عنصر نـه و بـل عنـصر ته او لـه یوه براعظـم نه وبل براعظـم ته تحول کـوي. هره ډلـه ځان ته خـاص ارزښـتونه لـري، چې رېښـې یې پـه تاریخ کـې پرتې دي.

هـره ډلـه د بېگانـه او ناموزونـو ارزښـتونو لـه مداخلـې نـه ځـان سـاتي او هغـه په زشـتو نومونـو یادوي، لکـه بورژوا، سرمایـه دار، یا غیر دیموکراتیـک او مطلق العنان او یـا تـر هغـه نور هم پسـې زشـت لکه غیـر انگلیسي او غیر امریکایـي. مطلـق معیار یا ارزښـت چـې لـه جامعې او تاریـخ نه مجرد او سـوا وي، هغومره وهـم او غیر واقعیت دی، څومـره چـې یـو مجرد فرد دی. جـدي مورخ هغه څوک دی چې د ټولو ارزښـتونو تاریخـي خصوصیـت پېژني، نه هغـه مورخ د خپلو ارزښـتونو له پاره لـه تاریخ نه بهر د کـوم افاقیـت ادعـا کوي. هغـه عقاید موږ یـې پیروي کـوو او د قضاوت هغـه معیارونه چـې مـوږ یې طرح کـوو، د تاریخ یـوه برخـه ده او هغومره د تاریخي تحقیـق تابع دي، څومـره چـې د بشري سـلوک هـر اړخیـز د تحقیـق تابـع دی. نـن ورځ یـوازې یو څو ساینسـونه او تـر ټولـو لـږ اجتماعـي ساینسـونه، د پـوره ازادۍ ادعا وکړي. خـو تاریخ لـه ځـان څخـه دبانـدې په داسـې کـوم شي اسـاسي اتکا نـه لري چـې هغه به لـه کوم سـاینس څخه بېـل کړي.

اوس بـه د دغـې ادعـا پـه بـاب، چې تاریـخ دې په ساینسـونو کې حسـاب شي، د خپلـو وینـاوو لنډیـز وړانـدې کړم. د سـاینس کلمـه، لا پخوا تـر دې د علـم بېلې بېلې څانگـې پـه غېږ کـې نیسي او له دومره ډېـرو مختلفو طریقو او تخنیکونـو نه کار اخلي، چـې ښـکاري بـار د هغو کسـانو پـه اوږو زیاتـوي، چـې غـواړي تاریخ له سـاینس نه وبـاسي، نـه د هغـو کسـانو په اوږو چـې غـواړي تاریخ پکې شـامل کړي. مهمـه دا ده چـې د بیـرون شـمېرلو دلایـل یـې د سـاینس پوهانو له خـوا څخه نـه وړانـدې کېږي،

چې مورخان له خپلې غوره ډلې څخه بهر کړي، بلکې د مورخانو او فیلسوفانو له خوا وړاندې کېږي چې هڅه لري، تاریخ د ادبیاتو یوه څانگه ثابته کړي.

د بشري علومو او ساینس ترمنځ دا مناقشه د هغه پخواني وېش تعصب ښيي چې په هغو سره داسې فرض شوې وه، چې بشري علوم د حاکمې طبقې پراخ ثقافت تمثیلوي او ساینس د تخنیک پوهانو مهارت افاده کوي. د «بشریات او بشري» الفاظ په خپله په همدغې قرینې کې د همدغه وخت د تعصب بقایا دي. او دغه حقیقت چې د ساینس او تاریخ تر منځ ضدیت له بلې هرې ژبې نه غیر یوازې په انگریزي کې مفهوم لري، ښيي چې دغه تعصب یوازې خاص خصوصیت لري. زما لوی اعتراض چې تاریخ په ساینس کې ونه شمېرل شي دا دی چې دغه انکار د تش په نامه «دوه ثقافتونو»تر منځ درز حق په جانب ښيي او دایمي کوي یې. دغه درز پخپله د همدغه زاړه تعصب محصول دی، چې د بریتانیایي جامعې په ساختمان، چې هغه پخپله په ماضي پورې اړه لري بنا دی. زه په خپله په دې قانع نه یم چې هغه درز چې مورخ له جیالوجي پوه نه بېلوي، له هغه درز څخه چې جیالوجي پوه له فزیک پوه څخه بېلوي، ډېر ژور او د نه پېښېدلو دی. خو زما په فکر هغه طریقه چې په هغې سره درز ورک شي، دا نه ده مورخانو ته دې ابتدایي ساینس وښودل شي، یا ساینس پوهانو ته ابتدایي تاریخ وښودل شي. دا یوه کږه لاره ده، چې کاږه تفکر پرې روان کړي یو. ساینس پوهان په خپله دغسې سلوک نه کوي. ما هیڅ اورېدلي نه دي، چې انجینرانو ته دې سپارښتنه شوې وي چې د نبات پېژندنې په ابتدايي صنفونو کې دې درس ووایي.

یو علاج چې زه یې غواړم پیشنهاد کړم دا دی چې د خپل تاریخ معیار هسک کړو، یا که زه ز ړه کولی وشم ووایم چې خپل تاریخ نور هم علمي کړو، او له هغو کسانو څخه چې تاریخ تعقبوي، جدي غوښتنې وکړو. تاریخ په دغه پوهنتون(کیمرج) کې د یوه اکاډمیک دسپلین په حیث کله کله د هغو له خوا چې لرغوني علوم له حده گران او ساینس ډېر جدي مومي، د یوه ډېر اسان مضمون پ حیث گڼل کېږي. یو نظر غواړم چې په دغو لیکچرونو کې یې ښکاره کړم دا دی چې تاریخ تر لرغونو علومو ډېر مشکل او د هر ساینس په څېر یو جدي مضمون دی، خو دا علاج په خپله په مورخانو کې چې څه کوي، د یوې قوي عقیدې لرل

لازموي. سرچارلزسنو، په همدغې موضوع کې په یوه تازه لکچر کې یو مطلب ښکاره کړ او دا هغه وخت چې ده د ساینس پوه«عجولانه» خوش بیني له «غلی شوی اواز» او «ضد اجتماعي احساس» سره مقایسه کړ او هغه یې «ادبي روشنفکر» ونوموه[1].

ځینې مورخان او زیاتره هغه کسان چې د تاریخ په باب لیکنې کوي، بې له دې چې مورخان وي، د همدغو «ادبي روشنفکرانو» په نوع پورې اړه لري. دوی په دې بوخت دي او وايي چې تاریخ ساینس نه دی او په دغه تبلیغ لګیا دی چې تاریخ هیڅ شی کولی نه شي او دغه څه باید هیڅ ونه کړي او دغسې باید وي او دوی د تاریخ د سترو موفقیتونو د پاره وخت نه لري.

بله چاره چې هغه درز پرې پټ شي دا دی چې د ساینس پوه او مورخ د غایو د مطابقت او عینیت تر منځ لا ژور فهم زیات شي او دا د هغې وار په وار زیاتېدونکې علاقې د نوي ارزښت تمثیل کوي چې د ساینس د فلسفې او د تاریخ په باب ښودله کېږي. ساینس پوهان، اجتماعي ساینس پوهان او مورخان ټول د همغې یوې مطالعې په مختلفو اړخونو بوخت دي او هغه دا چې د هغه محیط په باب د انسان فهم او حاکمیت زیات کړي. د فزیک پوه، جیولوجي پوه، روحیات پوه او مورخ ړومبنۍ فرضیې او طریقې په تفصیل کې سره پراخ توپیر لري او زه نه غواړم ځان هغې فرضیې ته منسوب وبولم چې مورخ د دې د پاره چې نور هم علمي شي، باید د فزیک پوه طریقې ګام په ګام او ډېرې نږدې تعقیب کړي. مګر مورخ او فزیک پوه د تشریح لټولو په اساسي مقصد او د سوال او ځواب په اساسي طرز عمل کې سره متحد او یو دی. د بل هر ساینس پوه په څېر، مورخ هم داسې یو حیوان دی چې پرلپسې پوښتي«ولې؟»په بل لیکچر کې به هغه طریقې وڅېړم په کومو سره چې دی د ولې سوال طرح کوي، او بیا زیار باسي چې ځواب ورته ووايي.

---

۱ . اس.پی، سنو، دوه ثقافتونه او علمي انقلاب (۱۹۵۹)، مخونه، ۴-۸.

-۴-

# په تاریخ کې علت موندنه

کـه شـیدې پـه جـام کې وزوښـولې شي، سر کـوي، زه نـه پوهېـږم او هیڅکله مې نـه دي غوښـتي چـې پـوه شـم ولې دغسـې کېږي؛ خـو که مې څـوک ټینګ کـړي، نو ممکـن د سر کولـو حادثـه د شـیدو په خاصیـت پورې تړلـې وګڼم چې ممکن درسـته بـه وي خـو هیـڅ څیـز نـه شرح کـوي، خو بیـا زه کـوم طبیعي سـاینس پـوه نه یـم. په همـدې توګـه یو څـوک کولی شي د ماضي د پېښـو په بـاب لیکنې او لوسـتنې وکړي، بې لـه دې چـې وغـواړي پـه دې پوه شي، هغه ولې پېښـېږي، یـا په دې قانـع وي چې ووايـي دوهـم نړیـوال جنګ په دې پېښ شـو چې هټلر جنګ غوښـته. دا هم سـمه ده، مګـر هیـڅ څیـز نـه شرح کوي. پـه دغه صورت کـې دی بایـد دا غلطي ونـه کړي چې ځـان مورخ یـا د تاریخ محصـل وګڼي.

د تاریـخ مطالعـه د علتونـو مطالعـه ده. څنګه چې مې د ړومبي لیکچـر په آخر کې وویـل، مـورخ پر له پسـې پوښـتې چـې (ولې؟) او تـر هغو چـې دی د ځـواب په امید وي، ارام کولـی نـه شي. سـتر مورخ-یـا باید تـر هغه په پراخـه توګه ووایم- سـتر مفکر - هغـه څـوک دی چـې د نویـو څیزونو یا نویـو قرینو په بـاب د (ولې؟) پوښـتنه کوي.

هیرودوتـس، د تاریـخ پـلار ، د خپـل اثـر پـه مقدمې کې خپـل مقصد داسـې بیان کـړ چـې هغـه د یونانیانـو او بربریانـو د کړنـو د خاطـرو سـاتل،«او پـه تېره بیـا د هر بل څیـز نـه عـلاه، د دوی د یو تـر بله جنګ کولو، علت ښـوول دی». ده پـه لرغوني یونان

کې يـوازې يو څو نـوي شـاګردان او طرفدارانو موندل حتی توسیدايد[1] پـه دې تومتي شـوی دی چـې ده د علـت موندنـې کوم واضح مفهـوم نه لاره[2]، خو په اتلسـمې پېړۍ کـې څـه وخـت چـې د عـصري تاریـخ لکنـې تـاداو کېښـودل شـو مونتکيو[3] پـه خپل اثـر، د رومانيانـو د سـترتوب علتونـه او د هغوی د ظهـور او انحطاط په بـاب تفکرات، دا اصـل د يـوه ګرزوونکـي تکـي پـه حيـث وښـوده چې«عمومـي علتونـه، اخلاقي يا فزيکـي موجـود دی چـې پـه هـرې پاچايۍ کې عمـل کوي، هسـکوي يې، سـاتي يې او ړنګـوي يـې» او يـا دا چـې «هـر څه چـې پېښـېږي د همدغـو علتونو تابـع دي». يو څـو کاله وروسـته، ده په خپـل بل تألیـف، روح القوانين کې همدغه مفکوره منکشـف او تعميـم کـړه. دا بـې مفهومه ده چـې فرض شي، «ټـول هغه معلولو نه کـوم چې موږ يـې پـه جهان کـې وينو، وړانده قسـمت خلق کړی دی». انسـانان «د خپلـو تخيلاتو په وسـيله په بې جوړې ډول اداره شـوی نه» وو. د دوی سـلوک ځينې قوانين يا پرنسـيپونه تعقيـب کـړل چـې د «اشـياو لـه طبيعـت»[4] څخـه پيـدا شـوی و. لـه هغـه نه وروسـته تقريبـاً پـه دوه سـوو کالونو کې مورخان او د تاريخ فيلسـوفان په دې سـخت وو چـې د بـشر مـاضي تجارت متشـکل کـړی او دا کار د هغو تاريخي پيښـو د علتونـو او قوانينو پـه کشـفولو سره سرتـه ورسـوي چې دغـه پېښـې اداره کوي. علتونـه او قوانيـن کله په اقتصـادي او کلـه پـه روحيـاتي. خو دا منل شـوې نظريـه وه چې تاريخ د ماضي پېښـو د علـت او معلـول پـه يوه منظم لړ او تسلسـل کې ترتيبـول وو. ولټير دائـرة المعارف د تاريـخ پـه بـاب پـه يوې مقالې کـې وليکل چې«کـه ته له دې نه پـه پرته چـې د امو دريا او سردريـا پـه غـاړو کـې يـو د بل پر پـه ځای راغـی بل څه مـوږ ته ويلی نـه شي، هغه مـوږ تـه څـه ګټـه لري؟» پـه دغو وروسـتيو کالونو کـې دغه شـکل څه اوښـتی دی. په دغـو وختونـو کـې، د هغـو دليلونو په اسـاس چـې زه په تېـر ليکچر کې پـرې وغږېدم نـور ن ومـوږ لـه تاريخـي «قوانينـو» څخه نـه غږېږو. حتـی د «علت» کلمه هـم يو څه لـه فيشـن لويدلـې ده. يـو علت يـې هغه فلسـفي ابهامات دي، چـې نه غـواړم دلته يې وسـپړم. بـل علـت يـې له معينيت يـا جبر سره د هغه مفـروض ارتبـاط دی، چې اوس

1 . Thucydides.

۲ . فرانسي حقوق پوه او فيلسوف(م) Montesquieu.

۳ . روح. القوانين، مقدمه او نوموړی فصل.

۴ .(۱۶۹۴-۱۷۷۸). فرانيسی فيلسوف او مؤلف.(م) F. M.A. Voltair

بـه پـرې بحـث وکـړم. نـو ځینـې خلـک اوس پـه تاریخ کـې لـه «علت» څخـه خبرې نـه کـوي، بلکـې لـه «تشریح» یـا «تعبیر» یـا «د موقعیـت له منطـق» یا د «پېښـو داخلي منطـق» (دا ددایسـی کلـمات دي) څخـه غږېږي او علیتـي میتود «ولې پېښـه شـوه؟» غـوره کـوي، کـه څه هم دا روش حتماً دا پوښـتنه چې څنګه پیښـه شـوه، لـه ځانه سره لـري او مـوږ بیرته د (ولې؟) پوښـتنې تـه بیایي.

نـور کسـان د علت د مختلفو اقسـامو ترمنځ فرق کوي لکه تخنیکـي، بیالوجیکي روحیـاتي او نـور – او تاریخـي علـت ځـان ته بېله نـوع بولي. کـه څه هم دغـه فرقونه تـر یـوې درجـې د اعتبـار وړ دي، دا بـه ډېـره مفیـده وي چـې د موجود مقصد لـه پاره پـه هغـه څـه ټینـګار وشي چې د علـت په ټولـو انواعو کې مشـترک وي، نـه دا چې یو تـر بلـه یـې سره بیلـوي. زه په خپلـه پـه دې راضي یم چـې د «علت» کلمه پـه عمومي مفهـوم سره اسـتعمال کـړم او دغه نو خـاص تعبیرونه هیـر و ګنم.

اوس بـه پـر دې پوښـتنې پیـل وکـړو چـې یو مـورخ هغـه وخت چـې مجبور شي واقعاتـو تـه علتونـه منسـوب کړي، پـه عمل کـې څه کـوي، د مـورخ د میتـود لومړنی خصوصیـت دا دی چـې ممکـن دی همغې یوې پېښـې ته په مشـترک ډول څو علتونه منسـوب کـړي. د اقتصـاد عالم، مارشـال یو وخت لیـکلي وو چې «خلـق باید په هرې ممکنـې وسـېلې سره د یـو علت له نظـر نیولو نه خـبر دار کړل شي.... بـې له دې چې نـور علتونـه په نظـر کې ونیول شي کـوم چې د هغوی تاثیـرات پرې وارد شـوي دي»[1].

د ازموینـې کاندیـد کـه د دغـې پوښتنې پـه ځـواب کـې چـې «پـه ۱۹۱۷ کـې ولې په روسـیې کـې انقـلاب پېښ شـو؟» یـوازې یـو علت و وایـه دی بـه نیکمرغـه وي که په اخـري درجه هـم کامیاب شي.

مـورخ د علتونـو پـر کـثرت بحـث کـوي. کـه لـه ده څخه وغوښـتل شـول چې د بولشـویکي انقـلاب علتونـه بیـان کـړي، ممکن دی دغـه علتونـه ونوموي: د روسـیې پـر لـه پسـې نظامـي ماتـې، د جنګ تـر فشـار لانـدې د روسـیې د اقتصاد سـقوط، د بولشـویکانو تاثیـر نـاک تبلیغ، د زراعتي مسـئلې په بـاب د تـزاري د حکومت ناکامی، د پیـترو ګـراد پـه فابریکو کې د اسـتمثار شـویو او زبېښـل شـویو کارګرو تمرکـز، دغه حقیقـت چـې لینـن پوهېـده چـې څـه کـوي او پـه هغـې بلـې خوا کـې بـل هیڅوک نپوهېـده او لنـډه دا چې د اقتصادي، سـیاسي، مفکوره یي او شـخصي علتونو د اتفاقي

[1] . د الفرید مارشال یادګارونه، دای،سی. پیګوچاپ.(۱۹۲۵)، مخ ۴۲۸.

او بې ترتيبو علتونو مجموعه او د لنډې او اوږدې مودې علتونه.

خو دا موږ سمدلاسه د مورخ د میتود دوهم خصوصیت ته نږدې کوي. هغه کاندید چې زموږ د پوښتنې په ځواب کې په دې قانع او راضي اوسي چې د روسيې د انقلاب په باب یو درجن علتونه یو په بل پسې بیان کړي او همدغسې يې پرېږدي، ممکن په دوهمه درجه کامیاب شي، او یوازې کله کله به په لومړۍ درجه کامیاب شي، د ممتحینو حکم ممکن دا وي «ښه خبیر مګر غیر مبتکر». حقیقي مورخ څه وخت چې د خپل تألیف د علتونو له لست سره مخامخ شي، د وظیفې په لحظ به ممکن ځان مجبور ووینې چې په علتونو کې نظم پیدا کړي، د علتونو سلسله مراتب تثبیت کړي او د یوه بل په نسبت د هغوی مناسبت وټاکي، ممکن دا فیصله وکړي، چې کوم علت یا د علتونو کومه نوع باید«په وروستۍ مراجعه کې» یا «په نهایي تحلیل کې» (د مؤرخانو مطلوب اصطلاحات) نهایي علت، یا د علتونو علت وګڼل شي. د موضوع په باب دا داه خپله توجیهه ده. مورخ په هغو علتونو نوم ګټي چې دی يې مومي. ګیبن د رومن د امپراتورۍ هسکېدل او ړنګېدل د بربریت او مذهب کامیابۍ ته منسوب وګڼل. د نونسمې پېړۍ د انګلیسي وګ مورخانو د برتانیا قوت او شتمني د سیاسي موسساتو انکشاف پورې په کومو کې چې د اساسي ازادۍ پرنسیپونه مضمر وو، منسوب کړل. نن ورځ ګیبن او د نونسمې پېړۍ انګلیسي مورخان له موده لویدلي ښکاري په دې چې دوی اقتصادي علتونه چې معاصر مورخان يې تر نورو علتونو دمخه بولي، هیر کړي دي. هر تاریخي بحث د علتونو د ړومبیتوب پر مسئلې څرخېږي.

هنري پواین کره، په هغه اثر کې چې ما په لومړي لکچر کې ترې اقتباس کړی، ویلي چې ساینس په عین وخت کې «د تنوع او پیچلتوب» او د «اتحاد او ساده توب» په لور پر مخ ځي او دغه دوه ګونه او په ظاهر کې متناقضه، عملیه د علم یو ضروري شرط دی[1]. د تاریخ په باب دغه حکم هم لږ صدق نه کوي. مورخ د خپلې څېړنې په پراخولو او ژورولو سره پر له پسې د «ولې» پوښتنې د پاره ډېر ډېر ځوابونه چمتو کوي. په دغو نږدې کالونو کې، د اقتصادي، اجتماعي، ثقافتي او حقوقي تاریخ، د سیاسي تاریخ پیچلتوب او د روحیات او احصائیو د نویو تخنیکونو

---

۱ . هنري پواین کره، ساینس او فرضیه(۱۹۰۲)، مخونه ۲۰۲-۲۰۳.

په باب خو لا نوي بصیرتونه پرېږدي. زموږ د ځوابونو شمېر زیات او میدان ښه پراخ کړی دی. څه وخت چې برتر اندرسل مشاهده کړه «په ساینس هر پرمختګ موږ له ساده متحدو شکلونو څخه چې لومړی د سابقې او نتېجې په زیات تفاوت کې مشاهده کېږي د سابقو هغې دوام لرونکې پراخې دایرې ته بیایي چې د مرتبطو په حیث پېژندل کېږي»[۱] ده په تاریخ کې حالت په سمه توګه څرګند کړی دی. خو مورخ د دې له پاره چې د ځوابونو زیات شمېر ساده کړي، یو ځواب د بل ځواب تابع وګرځوي او د پېښو او مشخصو علتونو په ګډوډۍ کې نظم او اتحاد راولي. «یو خدای، یو قانون، یو عنصر او یوه لیرې اسماني پېښه» یا د «کوم ستر تعمیم له پاره چې د یوه شخص د روزل کېدو د فریاد غمه به یو ځل وخوري»[۲]. د هنریادمز لټه-دا تول اوس د له موده لویدلو ټوکو په شان ښکاري، خو حقیقت دا دی چې مورخ باید د علتونو په ساده کولو او هم د هغوی په ډېرولو سره کار وکړي. تاریخ د ساینس په څېر، د همدغې دوه ګونې او په ظاهر کې نقبضې، عملیې له لارې پر مخ درومي.

دلته باید زړه نازړه د پاره په خوا وګرځم چې پر دوو مزه ناکو موانعو بحث وکړم کوم چې زموږ په لارې باندې ایستل شوي دي، یو یې «په تاریخ کې معینیت» یا د «هیګل شرارت» نومېږي او بل یې «په تاریخ کې تصادف، یا د کلیو پاتراپزه» نومېږي. لومړی باید په دې باب یو څه ووایم چې دوی څنګه دلته ځای شوي دي. پروفیسر کارل پاپر د ۱۹۳۰ څخه تر ۱۹۴۰ پورې په لسو کلونو په ویانا کې په ساینس کې د نوي نظر په باب یو دروند کتاب ولیکه(په دغو وختونو کې دغه کتاب په انګریزي کې د علمي تحقیق منطق په نامه ترجمه شوی دی)، د جنګ په دوران کې یې دوه نور کتابونه په انګریزي ولیکل چې تر هغه ډېر مشهور دي او هغه دا دي: خلاصه جامعه او غلیمان یې او د هستوریزم فقر.[۳] د اکتابونه هم د هیګل پر ضد د عکس العمل د نوي جذباتي نفوذ په وجه لیکل شوي دي او هم د هغه یو څه کاواکه مارکسیزم پر ضد کښل شوي دي، چې د ۱۹۳۰ څخه تر ۱۹۴۰ پورې

۱ . پی . برتر اندرسل، تصوف او منطق (۱۹۱۸)، مخ ۱۸۸.

۲ . د هنري آدمنر روزنه(بوستون، ۱۹۲۸)، مخ ۲۲۴.

۳ . د هستوریزم فقر، اومړی په ۱۹۵۷ کې د کتاب په شکل په ویانا کې خپور شو، مګر دغه کتاب له هغو مقالو څخه جوړ دی چې لومړی په ۱۹۴۴ او ۱۹۴۵ کې خپرې شوې دي.

په لسو کالونو کې د برتانیایي چپیانو عقلاني فضا وه. دوه عمده هدفونه یې د هیگل او مارکس د تاریخ هغه ادعا شوې جبري فلسفې دي چې ده دواړه د «هستهوریسزم»[۱] په کرښته نامه عنوان کې دي.

په ۱۹۵۴ کال کې سرایسایه برلین د تاریخي حتمیت په نامه مقاله خپره کړه. ده د افلاطون په ضد انتقاد له قلم څخه وغورځوه او دغه ممکن د اکسفورډ د موسسې د هغې پخوانۍ ستنې له پاره د یو څه پاتې شوي احترام له مخې وي،[۲] مگر د بحث په حکم کې یې علاوه کړله چې د مارکس او هیگل «هستهوریسیزم» په دې اعتراض وړ دی چې په علتي میتود سره د انساني کړنو شرحه دانسان د ازادې ارادې د انکار مفهوم لري. مورخان زړوروي چې له خپلو فرضي وجایبو څخه (چې ما په اخرني لیکچر کې پرې بحث وکړ) غاړه وغړوي او هغه دا چې د تاریخ په شارلمانانو، ناپلیونانو او ستالینانو باندې اخلاقي محکومیت صادر کړي. خو سرایسایه برلین په حقه سره یو محبوب لیکوال دی او اثار یې ډېر لوستونکي لري.

په تېرو پنځو یا شپږو کلونو کې په دغه هېواد (برتانیا) او د امریکې په متحده ایالتونو کې تقریباً هر چا چې د تاریخ په باب کومه مقاله لیکلې ده او یا یې په کوم تاریخي اثر جدي نقد کړی دی، په هیگل، مارکس او معینیت یې د انتقاد سپک

---

۱ . ما د هستوریزم د لفظ له استعمال څخه ډډه کړې ده. یوازط مې په یوه یا دوه ځایونو کې راوړی دی، چې هلته دقیق توب ضروري نه و، علت یې دا دی چې د پروفیسر پاپر لیکنو چې ډېر لوستونکي یې لرلي دي، دغه اصطلاح له دقیق او مشخص مفهوم څخه خالي کړې ده. د اصطلاحاتو د تعریف په باب دایمي ټینگار فضل فروشي ده، خو یو څوک باید په دې پوه وي چې له څه شیز نه بحث کوي او پروفیسر پاپر (هستهوریزم) د همه گیر لفظ په حیث د تاریخ په باب دهغه نظر د پاره راوړی چې د ده ښه نه ایسي. په دغه تعریف کې داسې نظرونه هم شامل دي، چې څه یې زما په فکر سم دي او نور یې نن ورځ مورخانو ته جدي نه ښکاري ځنگه چې دی (د هستهوریزم فقر، مخ ۳) اعتراف کوي دی د هستهوریست هغه دلایل اختراغ کوي چې کوم بل معلوم هستهوریست نه دي استعمال کړي. د ده په لیکنو کې هستهوریزم هغه نظریات احتوا کوي چې هم تاریخ په ساینس کې جذبوي او هم دواړه یو تر بله په واضح ډول سره بېلوي. په (خلاصه جامعه کې) هیگل چې له پیش گویي کولو څخه ډډه کړې ده، د هستهوریزم د ستر ملا په حیث ښودل شوی دی. د هستهوریزم فقر په تالیف کې هستهوریزم داسې تعریف شوی دی لکه «د اجتماعي ساینسونو هغه میتود چې تاریخي پیش گویي خپل عمده مقصد گڼي».

۲ . په افلاتون باندې د لومړي فاشت تور لومړی د اکسفورډ د یوه شخص آر.ایچ.کراسین له خوا په یو لړ برو د کاستهونو کې لگول شوي وو. کراس بین، افلاتون، نن ورځ (۱۹۳۷).

او بې پروا ښتکونه وار کړي دي او په تاریخ کې یې د تصادف د رول د تشریح په باب د ناکامۍ بې مفهومۍ ته اشاره کړې ده. دا به ممکن بې انصافي وي چې سر ایسایه برلین دې د خپلو شاګردانو له پاره مسئول وګڼل شي. حتی کله چې دی نا مفهومات هم وایي، په دغسې جذابه توګه یې افاده کوي، چې زموږ پام ځانته کوي. شاګردان نامفهومات تکراروي، مګر نه شي کولی چې جذاب یې کړي. په هر حال په دغو ټولو کې څه نوی شی نه شته. چارلز کنګزلې[1] چې زموږ د معاصر تاریخ د سلطنتي پروفیسرانو ډېر وتلی پروفیسر نه دی او په غالب ګمان چې د هیګل اثار به یې هیڅ لوستلي نه وي او له مارکس څخه به یې لا اوریدلي هم نه وي، په ۱۸٦۰ کې په خپل افتتاحیه لیکچر کې د انسان«د خپلې هستۍ د قوانینو د ماتولو له مرموز قوت» څخه خبرې وکړلې او دا یې د ثبوت په حیث مثال راوړ چې په تاریخ کې هیڅ «حتمي سلسله» موجوده کېدلی نه شي.[2] خو له ښه مرغه موږ چارلز کنګزلې هیر کړی دی. او دا پروفیسر پاپر او سرایسایه برلین دی چې دواړو په دغه ملک کې دغه مړاس د فمچینې په زور نیم ژوندی کړی دی. نو اوس یو څه صبر لازم دی چې دغه ګډوډي ایسته شي.

لومړی به پر معینیت وګږېږم او هغه هیله به کوم چې په غیر متنازع فیه ډول تعریف کړم او دغسې عقیده به یې وګڼم چې هر څه چې واقع کېږي، علت یا علتونه لري او په بل ډول به واقع شوي نه وای، تر هغو چې په علت یا علتونو کې کوم شی مختلف شوی نه وای.[3] معینیت یوازې د تاریخ نه، بلکې د ټول انساني سلوک مسئله ده. هغه بشر چې کړنې یې علت نه لري او دې ډول هغه ټاکل شوې نه دي، دومره مجرې دي لکه څوره چې فرد له جامعې څخه بهر وي، په کوم چې موږ په رومبني لیکچر کې وغږېدو. د پروفیسر پاپر اعتراف چې«په انساني چارو کې هر څه کېدونکي وي»[4] یا بې معنا او یا دروغ دي.

---

۱ . ۱۷۷۵-۱۸۱۹ انګلیس ناول لیکونکی او مورخ.(م) C . Jingsley.

۲ . چارلز کنګزلي، د ساینس دقیق حدود چې په تاریخ تطبیق کېږي، ۱۸٦۰ مخ ۲۲.

۳ . معینیت ... دا معنی لري... چې، مفروضات چې څنګه دي، هغسې وي، هر څه چې پېښېږي په قطعي ډول پېښېږي او مختلف کېدلی نه شي. که دغې عقیدې شی کېدلی شي، یوازې دا معنا ولري، چې که مفروضات مختلف وای(اس.ډبلیو. الیکزاندر، ارنست کایرر ته تقدیم شوې مقالې ۱۹۳٦، مخ ۱۸.

۴ . کې .آر. پاپر، خلاصه جامعه(دوهم چاپ، ۱۹۵۲)، مخ ۱۹۷.

په عـادي ژوندانـه کـې هیڅـوک په دغه اعـتراف عقیـده نه لـري او یا پـرې عقیده کولـی نـه شي. دا قاعـده چې هـر شیز یو علـت لري، زموږ د اسـتعداد هغـه شرط دی چې په هغـه سره پـه هغو شیزونـو پوهېږو چې زمـوږ شـاوخوا کـې واقع کېږي[۱]. د کفـکا[۲] د داسـتانونو خپـه کی رقمـه کیفیت په هغه حقیقـت کې پـروت دی، چې وايي هـر څـه چې واقع کېږي، واضح علـت، یا داسـې کوم علت نـه لري چې هغـه دې د ټاکلـو وړ وي او دا د انسـاني شـخصیت د هغـې کاملـې تجزیې لامل گرځـي، چې په داسـې گڼـې بنا دی، چـې وقایع علتونه لـري او د دغو علتونو کافي شـمېر د معلومولو وړ دی چـې د انسـان پـه ذهن کـې د ماضي او حـاضرې زمانې یوه طرحه جـوړه کړي، داسـې چـې هغـه په کافي اندازه منسـجمه وي تر څـو د وگړو له پاره لارښـود وگرځي.

ورځنـی عـادي ژونـد به ناممکـن وي چې تر څو یو څوک دغسـې ونـه گڼي چې انسـاني سـلوک او کـردار پـه علتونـو سره ټـاکل کېږي او دغـه علتونـه په اصـل کې د معلومېـدو وړ دي. یـو وخـت خلکـو دا کفـر گاڼه چـې د طبیعي حادثو پـه علتونو کې تحقیـق وکـړي او د هغـو اداره یـې واضحـاً د اسـماني ارادې په واک کې گڼلـه. د دغې تشریـح پـه مقابل کـې د سرایسـایه برلیـن، اعتراض چـې انسـانان ولې هغـه اعمال تر سره کـوي، چـې کـوي یـې، پـه دغه دلیل چـې دغـه اعـمال د انسـانانو د ارادې زېږنده دي، د همغـو مفکـورو پـه نظم پورې اړه لري او ممکن دا ښـکاره کـړي، چې اجتماعي علـوم نـن ورځ د انکشـاف په هغه پړاو کـې دي، چې یو وخت طبیعي علـوم وو، یعنې هغـه وخـت چې دغسـې دلایل د هغو پـه ضـد راوړل کېدل.

اوس بـه وگـورو چـې موږ پـه ورځنـي ژوندانه کـې دغه مسـئله څنگه وینـو. هغه وخـت چـې تاسـې پـه خپلـو ورځنیـو چارو پسـې ځـي، تاسـې د عـادت لـه مخې له (سـمت) سره مخامـخ کېږي. پـه روغبـړ کې له هغه څخـه د هوا یا د پوهنځـي او یا هم د پوهنتـون د حـال پـه بـاب صمیمي مگر بـې مقصده پوښـتنه کوي. دی هـم په مقابل کـې د هـوا یـا د نورو چارو پـه باب صمیمي مگر بـې مقصده ځواب وايي. خو داسـې وگڼـئ چـې (سـمت) کومه ورځ د دغسـې عـادي او صمیمي ځواب پر ځای ستاسـې

---

۱ . (د علیت قانون پـه مـوږ بانـدې د جهـان لـه خوا تحمیل شـوی نـه دی، بلکې ممکـن زموږ دپـاره هغـه ډېـره اسـانه طریقـه وي چـې پـه هغې سره مـوږ له جهـان سره ځانتـه وفـق ور کوو) چي.رویـف. لـه فزیـک څخـه و اجتماعـي ساینسـونو تـه بالیتمـور، ۱۹۲۹، مـخ ۵۲.

۲ . Kafka

د شخصي صورت يا اخلاقو په باب يوه ډېره تنده او ترخه خبره وکړه. ايا تاسې به خپلې اوږې وښوروئ او هغه به د (سمت) د ارادې د ازادۍ او يا د دغه حقيقت چې په انساني چارو کې هر څه کېدونکی دی، يو قانع کوونکی اثبات وموميږ؟ گمان مې نه شي. برخلاف تاسې ممکن دغسې يو څه ووايی: «بېچاره سمت! تاسې خبر يی چې پلار يې په عقلي روغتون کې مړشو»، «بې چاره سمت! له ماينې سره به يې بيا حال تريخ شوی وي». په بل عبارت، تاسې به زيار وباسی چې د سمت په ظاهر کې يې د سلوک علت تشخيص کړی او په دې عقيده به ټينگ اوسی چې د هغه سلوک ارومرو علت لري.

خو زه په دې ويره کې يم چې تاسې به په دې وضعې سره د سرايسايه برلين قهر وغضب ځان ته جلب کړی، ځکه چې دی ممکن سخته گيله وکړي، چې تاسې د سمت د سلوک په باب د علت موندلو په کوښښ سره د مارکس او هيگل د معينيت فرضيه منلې ده، او له دغه مسئوليت څخه مو غاړه غړولې ده چې په سمت د يوه اواره او بې تربيې حکم وکړئ؛ خو په عادي ژوندانه کې هيڅ څوک دغسې فکر نه کوي او دا هم نه فرض کوي معينيت او يا اخلاقي مسئوليت په خطر کې دی. په حقيقي ژوندانه کې د ازدې ارادې او معينيت په باب منطقي معمی نه شته. داسې هم نه ده چې ځينې انساني اعمال ازاد او څه يې ټاکل شوي دي. حقيقت دا دی چې ټول انساني اعمال د هغه نظر له مخې چې تاسې ورته گورئ، هم ازاد او هم ټاکل شوي دي. عملي مسئله بيا هم بېله ده. د سمت عمل علت يا يو شمېر علتونه لري، خو تر هغه ځايه چې هغه د کوم خارجي اجبار معلول نه و، بلکې د هغه د خپل شخصيت د اجبار زېږنده و، دی په اخلاقي لحاظ مسئول گڼل کېږي، ځکه چې د اجتماعي ژوند شرط دا دی چې طبيعي بالغ انسانان د خپل شخصيت اخلاقي مسئولان دي. دا چې تاسې به سمت په دې خاصه مسئله کې مسئول وگڼی، هغه ستاسې په عملي قضاوت پوې اړه لري. که تاسې يې مسئول گڼی، معنی يې دا نه کېږي چې تاسې به د ده عمل بې علته گڼی: علت او اخلاقي مسئوليت دوه مختلف انواع دي، په دغو نږدې وختونو کې په دغه پوهنتون (کيمبرج) کې د جرم پېژندنې يوه موسسه افتتاح شوې ده. زه باور لرم چې هر هغه چاته به چې د جرم د علتونو په تحقيق بوخت دي، دا فکر را نه شي چې دوی

متعهد شول چې دا به نو د مجرم د اخلاقي مسئولیت د انکار سبب شي.

اوس به یو مورخ په نظر کې ونیسو. د یو عادي انسان په څېر، دی په دغسې عقیدې دی چې انساني اعمال علتونه لري او هغه معلوم کېدلی شي. تاریخ به د ورځني ژوندانه په څېر ناممکن شي، چې که دغسې فرضیه ونه منله شي. دا د مورخ خاصه وظیفه ده دغه علتونه وسپړي او لوڅ یې کړي. ممکن دغسې فکر وشي چې دغه به دی د انساني سلوک په معین شوي اړخ کې په خاص ډول علاقمن کړي، خو دی د ازادې ارادې نه ردوي. مگر هغه غیر منطقي اساس یې ردوي چې وایي ازاد اعمال علت نه لري. داسې هم د حتمیت مسئله دی نه ربړوي. مورخان د نورو خلکو غوندې، کله کله په ادبي ژبه افاده کوي او «حتمي» کلمه استعمالوي، مگر مقصد یې ترې دا وي چې د عواملو اتحاد یوه لور ته د یوه شخص توقع په شدت سره پیاوړې کوي. په دغو وختونو کې ما خپل تاریخ د دغې ربړوونکې کلمې د پاره ولټوه او ځانته د روغتیا پوره تصدیق ورکولی نه شم.

په یوې فقرې کې مې کښلي وو، چې د ۱۹۱۷ له انقلاب څخه وروسته د بولشویکانو او ارتودکسي کلیسا ترمنځ نښته (حتمي) وه. بې له شکه معقوله به دا وای چې د هغه په ځای «بې نهایت محتمل» راغلی وای. خو ایازه به عفو شم که ووایم دغه سمون ماته یوڅه کتابي معلومېږي؟ مورخان په عمل کې داسې نه گڼي چې وقایع پخوا له دې چ پېښ شي، حتمي وي. دوی زیاتره په نورو لارو چارو بحث کوي، چې د داستان تمثیل کوونکو ته خلاصیې وي. دوی دغه بحث د دغې فرضیې په اساس کوي چې اختیار او د انتخاب حق دوی ته خلاص وو، که څه هم مورخان په سمه لار درومي چې دوی تشریح کوي چې په پای کې ولې د عمل دغه لاره غوره شوله، او هغه بله غوره نه شوله. په تاریخ کې هیڅ شی حتمي نه دی، مگر په هغه صوري مفهوم سره چې دغه شی که په بل ډول پېښ شوی وای، باید د هغه رومبني علتونه مختلف وای. زه د یوه مورخ په حیث دې ته پوره اماده یم چې د «حتمي»، «اجتناب ناپذیر»، «غیر قابل فرار» او «د چاره نه لرونکی» له کلماتو نه غیر خپل مطالب افاده کړم. ژوند به لا ډېر یکنواخت(یولوری) شي. خو راځئ چې هغه شاعرانو او د طبیعت نه اخوا پوهانو ته ورپرېږدو.

د حتمیت غه تور دومره وچ او بې مقصوده ښکاري او هم هغه قوي شدت

چې په هغه سره دغه تومت په دې نړدې کالونو کې تعقیب شوی دی، دومره وچ بشکاره کېږي چې زما په فکر حتمي ده چې د هغو شاته د پټو سوایقو او محرکاتو له پاره لټون وکړو. زما په ګمان چې د هغو لویه منبع هغه ده چې زه به یې (ممکن -وای) فکري مکتب یا بلکې جذمي په نامه یاد کړم. دا یوازې په معاصر تاریخ پورې اختصاص لري. ما تېر کال دلته په کیمبرج کې یو عنوان ولید چې د کومې ټولنې له خوا اعلان شوی وو: « د روسیې انقلاب حتمي و؟» زه باور لرم چې دا به یو جدي بحث و. خو که تاسې د دغه عنوان اعلان ولولئ « د ګلونو جنګ حتمي و؟» تاسې به سمدلاسه د کومې ټوکې ګمان پرې وکړی. مورخ د نور مان فتحې او د امریکې د ازادۍ د جنګ داسې ذکر کوي چې لکه د هغو وقوع حتمي و، د مورخ وظیفه اوس دا ده چې شرح کړي چې څه پېښ شول او ولې پېښ شول. هیڅ څوک به یې جبري ونه بولي او په دې به یې تومتي نه کړي چې ولې ونه شو کولی هغه لارې چارې او امکانات ولټوي چې ممکن فاتح ویلیم[1] او یا د امریکې یاغیان مغلوب شوي وای. سره له دې هم څه وخت چې زه د روسي انقلاب په باب همدغسې لیکنه کوم - یعنې په هغې مناسبې طریقې سره چې د مورخ له پاره خلاصه ده-منقدان پر ما نیوکې کوي. نیوکې دا دي چې وایي زما له لیکنو څخه دا راوځي چې د واقعاتو شرح داسې شوې ده چې لکه د هغو وقوع حتمي وو، او په دې بریالی شوی نه یم چې هغه نور څېزونه وڅېړم چې ممکن پېښ شوي وای. ویل کېږي چې فرض کړو ستالي پن[2] کافي وخت لرلای چې د ځمکو اصلاحات یې پوره کړي وای، یا روسیه په جنګ کې شامله شوې نه وای، ممکن انقلاب به پیښ شوی نه وای. یا فرض کړئ چې د کرنسکي[3] حکومت د هغه جبران کړی وای او د انقلاب مشري د منشویکانو یا اجتماعي انقلابیونو لاس ته ورغلې وای، او د بولشویکانو لاس ترې لنډ وای. په نظري لحاظ دغه فرضیې تصور کېدونکی دی او یو څوک کولی شي د تاریخ د «ممکن -وای» له طرفدارانو سره د ننه په یوه سالون کې تا لوبې وکړي.

---

۱ . . ۱۰۲۷-۱۰۸۷، د انګلستان پاچا.(م) .William the Conquerer

۲ . ۱۸٦۲-۱۹۱۱، له ۱۹۰٦ - ۱۹۱۱ پورې د روسیې صدر اعظم.(م). P.Stolypin

۳ . د بولشویکي انقلاب نه دمخه په ۱۹۱۷ کې د روسیې د موقتي حکومت صدر اعظم.(م) .A. Kereensky

دا فرضيې په معينيت پورې هيڅ تړاو نه لري، ځکه چې جبري به يوازې دغه ځواب ووايي چې د دې له پاره چې دغه شيان پېښ شوي واى، بايد د هغو علتونه هم مختلف شوي واى. داسې فرضيې په تاريخ پورې هيڅ اړه نه لري. مقصد دا دى چې نن ورځ هيڅ څوک په کلکه نه غواړي چې يا د نورمان فتحې يا د امريکې د ازادۍ نتايج معکوس کړي او يا د دغو پېښو په مقابل کې شديد اعتراضونه وکړي، هيڅ څوک په دې اعتراض نه کوي چې مورخ هغه تمام شوى فصل ګڼي. خو داسې خلک ډېر دي چې په مستقيم يا غير مستقيم ډول د بولشويکي انقلاب له نتايجو څخه زيانمن شوي دي، يا تر اوسه هم د هغو له ليرې نتايجو څخه وېره لري او غواړي چې د هغه په ضد اعتراضونه وکړي. کله چې دوى بيا تاريخ لولي د دوى اعتراض د دې سبب شي چې خپل تخيل د ټولو هغو موافقو څيزونو په باب چې ممکن پېښ شوى واى، ياغي پرېږدى او هم د دې سبب شي چې ځان له مورخ نه مرور کړى يعنې له هغه چا سره چې ارامي سره په خپل کار بوخت دى او غواړي د دې شرح وکړي چې دغه شيان ولې پېښ شول او هغه موافق خيالونه ولې ناتکميل پاتې شول. د معاصر تاريخ مشکل دا دى چې خلکو ته هغه وخت په ياد وي چې د عمل د ټولو انتخابونو له پاره ور خلاص و او دا ورته مشکله وي چې د مورخ رويه يعنې د چا له پاره چې د هغوى اختيار د اجرا شوى څيز[1] له مخې تړلى وي، غوره کړى. دا يو پاک، جذباتي او غير تاريخي عکس العمل دى. خو د «تاريخ حتميت» د فرضيې دوکتورين په ضد يې د دغې مبارزې د پاره د سون ډېر مواد غونډ کړي دي. راځئ چې له دغه بنديز نه ځان د تل له پاره ازاد کړو.

د انتقاد هغه بله منبع د کليوپاترا دپزې مشهوره سخته معمى ده. دا هغه تيوري ده چې وايي تاريخ په عمومي ډول د حادثاتو يو فصل، يا د پېښو يو لړ دى، چې تصادفي پېښو ټاکلى دى او يوازې ډېرو تصادفي علتونو ته منسوب کېدلى شي. د اکټيوم[2] د جنګ نتيجه د هغو علتونو په وجه نه ده، چې مورخان يې په مشترک ډول طرحه کوي، بلکې له کليو پاترا سره د انتوني د مين کېدلو په وجه ده. کله چې

---

1 . Fait acompli

2 . The Battle of Actium.

بجازت[1] د نقرس د رنځ د حملې له امله په منځنۍ اروپا باندې له دانګلو نه پاتې شو، ګيبن دا نظريه اظهار کړه چې «يو تند و تريخ خوی چې د يوه شخص په يوه واحد نسج حواله شي، ممکن د ملتونو د بدبختۍ مانع شي، يا يې وځنډوي کړي»[2].

کله چې په ۱۹۲۰ کې د يونان اليکزاندر پاچا د يوې کورنۍ شادي له چيچلو نه مړ شو دغې پېښې يو لړ حوادث را منځ ته کړل چې سرونستن چرچيل داسې تبصره پرې وکړه: « د دغې شادۍ په چيچلو سره د يوه ميليون څلورمه برخه اشخاص مړه شول.[3]» اوس بيا د تراتسکي هغه تبصره را واخلئ چې ده د هغې تبې په باب کړې چې ده ته د ايليو د ښکار په وخت کې پېښه شوې وه او دې يې له زيناويف[4]، کامنيف[5] او ستالين سره د ۱۹۲۳ په مني کې د جګړې په يوه ډېر حساس وخت کې له کار نه وغورځوه: «يو څوک کولی شي د جنګ يا انقلاب پيش بيني وکړي، مګر دا ممکنه نه ده چې په مني کې د وحشي ايليو د ښکار سفر پايلې پيش بني کړي[6].

لومړی خيز چې بايد واضح شي دا دی، چې دغه مسئله د معينيت له مسئلې سره هيڅ اړه نه لري. له کليو پاترا سره د انتوني مسحور کېدل يا د بجازت د نقرس حمله يا د تراتسکی سره لرې، هغومره په عليتي ډول سره ټاکل شوي وو، لکه څومره چې يوه بله پېښه کېږي. دا د کليو پاترا د ښکلا بې لزومه سپکاوی دی چې وويل شي د انتوني مسحور کېدل هيڅ علت نه لري. د ښځې د ښکلا او د نارينه د مسحورېدو تر منځ ارتباط د علت او معلول له هغوډېرو منظمو سلسلو څخه دي چې په ورځني ژوندانه کې د مشاهدې وړ دي. دغه تش په نامه تصادفات په تاريخ کې د علت او معلول يوه سلسله تمثيلوي، داسې چې هغه سلسله ويجاړوي چې مورخ تر هر څه ړومبی په تحقيق بوخت دی. او يا د چا خبره ور سره تصادم کوي.

---

1 . Bajazet.

۲ . د روم د امپراتورۍ انحطاط او سقوط، فصل.

۳ . ونستن چرچيل ، جهاني بحران، نتايج يې(۱۹۲۹)، مخ ۳۸.

۴ . (۱۸۸۳-۱۹۳۶). د روسيې بولشويکي مشر. G . Zinoviev.

۵ . (۱۸۸۳-۱۹۳۶). د روسيې بولشويکي مشر B. Kamenev.

۶ . ليون تراتسکی، زما ژوند(انګريزي ترجمه، ۱۹۳۰) مخ ۴۲۵.

(بـرى) بالـکل پـه درسـته سره د «دوو یلو کړیو یو لـه تصادم»[1] څخـه ګرېږي.

سرایسـایه برلیـن د خپلـې مقالـې-تاریخـي حتمیـت پـه سر کـې کله چـې د برنارد برنسـن[2] د مقالـې د تاریـخ تصادفي نظر سـتاینه کوي یـو له هغو کسـانو څخه دی چې پـه دغـه مفهـوم سره تصادف د علتـي تعیین له نشـته والي سره یو او مخلـوط ګڼي خو لـه دغـه مغشوشـیت نه عـلاوه، موږ بلـه حقیقي مسـئله په مخ کـې لرو. پـه تاریخ کې یـو ځـوک څنګه د علـت او معلول یو منسـجم لړ کشـفولی شي، موږ څنګـه په تاریخ کـې مفهـوم موندلـی شـو، په داسـې حـال کې چـې هـر شـېبه د دې امکان شـته چې زمـوږ لـړ وشـلېږي، یـا کـوږ شي او دا کار د یوه بـل او زموږ لـه نظره د یـوه نامربوط لړ له خـوا شي؟

دلتـه بـه یـوه شـیبه مکث وکـړو چې پـه تاریـخ کـې د تصـادف درول په دغـه تازه پـراخ تېنګار غـور وکـړو. پولي بیوس شـاید لومړنـی مـورخ وي چې په دغـه باب یې خپـل ذهـن په منظم ډول مشـغول کـړی، دوي او ګیبن د هغه علت زر لـوڅ کړ. ده دغه نظریـه وړانـدې کـړه چـې «یونانیان وروسـته لـه دې چې ملک یـې په یـوه ولایت بدل شـو، د روم فتوحـات یـې د جمهوریت بخت ته منسـوب کړل، نه د هغه ښـېګڼې ته»[3]. ناسـیتوس[4] چـې هغـه هـم د خپل هېـواد د انحطـاط د وخت مـورخ و، یو بـل لرغونی مـورخ و چـې د تصـادف په باب یې دغسـې پـراخ تفکرات وکـړل. د برتانیایـې لیکوالو پـه تاریخ کـې د تصـادف د اهمیت نـوی تېنګار لـه هغـه وخـت څخـه شروع کېږي چـې د وېرې او بـې ثباتـۍ حال پـه دوی راغلـی دی او دغه حال د موجـودې پېړۍ په شروع سره محسـوس شـوی او له ۱۹۱۴ څخه وروسـته ښـه واضح او مشخص شوی دی. داسـې بریښـي چـې (بـرى) لومړنـی مـورخ دی چـې دغه حال تـه یې لـه اوږدې

---

۱ . پـه دغـه بـاب د (برى) د اسـتدلال د پاره مراجعه وکـړی د ترقۍ فکر تـه ۱۹۲۰ مخونه، ۳۰۳-۳۰۴.

2 . Bernard Berenson.

۳ . د روم امپراتـوري انحطـاط او سـقوط، فصـل ۳۸. د دغـې خبرې یادونـه د خنـدا وړ ده چې وروسـته لـه دې چـې د رومیانـو له خـوا فتح شـول، د تاریخي (ممکـن – وای) یعنـي د مغلو یو شـویو د مطلـوب تسـلیت پـه لوبـې پـورې ونښـتل. دوی ځانونو تـه ډاډګیرنـه ورکولـه چې که سـتر سـکندر پـه ځوانۍ کې مړ شـوی نـه وای، «ده به غـرب فتح کـړی وای، او روم بـه د یونان د پاچایانـو تابـع وای». (کې،ڤـان، فرتـز، په لرغوني مهال کـې د مخلوط اساسـي قانون نظریه، نیویـارک، ۱۹۵۴، مخ ۳۹۵.

۴ . د پخواني روم مورخ.(م) P.C. Tacitus.

مـودې وروسـته پـام کـړی وي. ده پـه ۱۹۰۹ کـې پـه يوې مقالې کـې (په تاريـخ کې د ډارونـزم) پـه بـاب د «چانـس د وقـوع عصر» تـه پـام وگرځوه چې هغـه په زياتـه اندازه پـه اجتماعـي تکامـل کـې د واقعاتو لـه تعينولـو سره کومک کـوي. پـه ۱۹۱٦ کې يې يـوه بلـه مقالـه ـ(د کليوپـا تراپزه)[5] همدغـې موضوع تـه وقف کړه.

اچ.ای.فـشر پـه فقـره کـې چـې ړومبـی تـرې اقتبـاس شـوی خپلـه سرگيچـي له دويمـې جگـړې نه وروسـته د لـبرالي خوبونو د ناکامـۍ په باب منعکسـوي او له خپلو لوسـتونکو څخه غوښـتنه کـوي، چې په تاريـخ کې «د احتـمال او نه لېدونکـې لوبه»[6] وپېـژني. پـه دغـه ملـک کـې د تاريـخ د تيـورۍ دغه شـهرت چـې هغـه د تصادفاتو يو فصـل دی، پـه فرانسـې کـې د فيلسـوفانو د يـوه مکتـب له ظهـور سره تصـادف کوي. فيلسـوفان يې داسـې تبليغ کوي او زه د سارتر[7] مشـهور :L . Etre et neant اقتباس کوم - چـې وجـود «نـه علـت، نه دليل او نـه ضرورت» لري. په جرمني کـې ميانکی – هغه پـوخ او مجـرب مـورخ چـې موږ دمخـه د هغـه يادونـه کـړې ده. د ژوندانه په ورسـتيو پړاوونـو کـې پـه تاريخ کې د تصـادف په رول معتقد شـو. رانگ کې يې پـه دې ملامت کـړ چـې ده ولـې هغـه تـه کافي توجه نـه ده کـړې. ده له دوهـم جنگ نه وروسـته ملي مصيبتونـه يـو لـړ تصادفاتـو ته منسـوب وگڼـل: د قيصر تکبر، د وايـمار جمهوريت د رئيـس پـه حيـث د هنډنبرگ انتخاب، د هټلر ځوروونکي سـجيه او داسـې نـور. دا نور څـه نـه دي د يـو سـتر مـورخ د ذهن افـلاس دی چې د خپل هېـواد د بدبختيو تر فشـار لانـدې داسـې شـوی دی.[8] پـه يـوې ډلـې، يـا يـوه ملت کـې چـې د تاريخي پېښـو په لحـاظ مـخ پـر ځوړ وي او د هسـکېدو په لـور روان نـه وي، هغه تيـورۍ گانې چې په

---

5 . دواړه مقالې د (بری) په غوره مقالو کې بيا چاپې شوې دي.۱۹۳-، د بری په نظريو کېږ.

٦ . د دې نقـرې دپـاره وگـورئ: مـخ ۴۳ .(پورتـه). د ټايـن بي په تاليـف(د تاريخ مطالعـه) کې د (فـشر) د قاعـدې اقتبـاس پوهـر غلط قهمـي څرگنـدوي. دی د هغـه تصادف په مطلـق قدرت بانـدې«د معـاصر غـرب د عقيـدې»د محصول په حيـث گڼي چې لـه فريې(توليد کړ). د لسـيه فـر تيـوري پوهانـو پـه تصادف بانـدې عقيده نه لرلـه بلکې دوی بـه هغه پټ شـوي لاس عقيده لرلـه چې د انسـانانو په مختلفو سـلوکونو بانـدې يې بښ انتظامات تحميل کـړل او د فشر تبصره د ليسـه فـر لبرالـزم محصـول نـه و، بلکـې د ۱۹۲۰ او ۱۹۴۰ کلونـو تـر منځ د هغـه سـقوط محصول و.

۷ . J.P. Sartre . . د فرانـې معاصر فيلسوف او ليکوال.(م)

۸ . مربـوط عبـارت د بليـو. ټـارک پـه هغې مقدمې کـې اقتباس کـړی دی چـې ده د اف. ميانکی بـه ماليياولزم بانـدې ليکلـی وه، مخونـه ۳۵-۳٦.

تاریـخ کـې د بـې علتـه عمل او تصـادف په لـور تېنگار کـوی - غلبه پیـدا کوي.

دا نظریـه چـې د امتحـان ټـول نتایـج لاتـري دي، په هغو شـاګردانو کې ډېـر رواج مومـي چـې پـه اخري درجـه کامیاب شـوي دي. خو د یـوې عقیدې د منابعو سـپړل د هغـې ورکـول نـه دي. مـوږ لا هم باید دا کشـف کړو چـې د کلیـو پاترا پـزه د تاریخ په مخونـو کـې څه کوي. داسـې ښـکاري چې مونتسـکیو لومړنی شـخص وي چې زیار یـې ایسـتلی دی چـې د دغـې مداخلې په ضد د تاریـخ له قوانینو څخه دفـاع وکړي. ده د رومیانـو د سـترتوب او انحطـاط پـه تالیف کې داسـې عقیده ښـکاره کړه چـې: «که د یـو جنـګ د تصـادفي نتیجې په څېـر، یو دولـت یوه خاص علـت تباه کـړی وي، هلته بـه یـو عمومـی علت موجود وي، چې د دې سـبب شـوی چې دغه دولـت دې په یوې جګـړې کې سـقوط وکړي». مارکسـتان هم د دې مسـئلې په اړه مشـکل لـري، مارکس یـوازې یـوه پـلا پر هغـې لیکنه کـړې او هغه یې هـم په یـوه لیک کې:

« کـه د تصـادف لـه پـاره پکـې ځـای نـه وي، جهـاني تاریـخ بـه ډېـر تصـوفي خصوصیـت غـوره کړي. دا طبعي ده چـې تصادف پخپله د انکشـاف د عمومي میلان یـوه برخـه ګرځـي او د تصـادف پـه نـورو بڼـو سره جبرانېږي؛ خـو تسریـع او تاخیر په دغسـې بـې علتـه اعمالو پورې مربـوط وي، چې د افـرادو د یوه خوځښـت د شروع په سر کـې وي، د «تصـادفي» خصوصیـت مشـمول وي»[1].

مارکـس پـه دغـه ډول سره په تاریخ کې د تصـادف له پاره تر دریـو عنوانونو لاندې عذرونـه تقدیـم کـړل. لومـړی دا چـې دا چنـدان مهمـه نـه ده، دا د تاریـخ سـیر (سریع کـوي) یـا یـې «ځنډوي» مګر لـه هغه نه داسـې اسـتنباط کېږي چـې په انقـلابي ډول سره یـې نـه اړوي. دوهـم دا چـې یو تصادف په بـل سره جبران کېږي، چـې په پای کې تصـادف ځـان لـه مینځه وبـاسي. دریـم دا چې تصادف مخصوصـاً د افرادو په سـجیه کـې تبارز کـوي.[2] تراتسـکي د بـې علتـه اعمالـو د جبرانولـو او د ځـان د محـو کولو تیـوري په یوه سـاده قیـاس سره پیـاوړې کړه.

«ټولـه تاریخـي عملیـه د تصادف لـه لارې د تاریخـي قانون انکسـار دی. موږ به د بیالوجي پـه ژبه وویلی شـو چـې تاریخي قانـون د تصادفاتـو په طبیعـي انتخاب سره

---

۱ . مرکس، انګلز، غوره اثار، روسي چاپ، مخ ۱۰۸ .

۲ . د تولسـتوی پـه نظر تصـادف له نبوغ سره مسـاوي دی او دواړه د انسـان د ناتوانۍ هغه افادې دي چـې نـه شي کولـی پـه نهایي علتونـو پـوه شي، جنګ او سـله ، لومړۍ برخه.

تحقق مومي».[۱]

زه په دې اعتراف کوم چې دغه تیوري ماته قناعت ښبونکې نه ښکاري. په تاریخ کې د تصادف رول په دغو روځو کې د هغو کسانو له خوا چې علاقمن دي اهمیت یې زیات کړی، په جدیت سره په مبالغه یې ډول یا دېري. خو تصادف وجود لري او چې وویل شي هغه یوازې چټکتیا یا یواځې ځنډ را منځ ته کوي، اړول نه کوي، له الفاظو سره لوبې کول دي. داسې هم زه کوم دلیل نه وینم چې متقاعد شم د کومې تصادفي پېښې مثلاً د څلورو پنځوسو کالونو په عمر د لینن پخوا تر وخته مړینه به له یوې بلې تصادفي پیښې سره په داسې ډول جبران شي چې د تاریخي عملي میزان به بېرته پر ځای کړي. دا هم په هغې اندازې سمه نظریه ده چې وویل شي په تاریخ کې تصادفي پېښه یوزاې زموږ د ناپوهۍ اندازه ده، یعنې یوازې دیوه داسې شیز نوم دی چې موږ پرې پوهېدلی نه شو.[۲]

په دې کې څه شک نه شته چې کله کله دغسې هم پېښېږي. سیارات د «گرځیدونکو» په نامه یادشول او دا هغه وخت چې داسې فرض شوې وه چې دوی په اسمان کې په نامنظم او اتفاقي ډول حرکت کوي او د دوی حرکت لا هغه وخت معلوم شوی نه وو.

یو شی په سوء تصادف سره تشریحول هغه اسانه طریقه ده چې په هغې سره یو شخص غواړي د هغه علت د لټولو له سترې کېدونکې وظیفې څخه ځان وژغوري. کله چې ما ته یو څوک وایي چې تاریخ د اتفاقي او تصادفي کړنو یو فصل دی، زه په هغه د عقلاني لټې، یا د ښکته عقلاني حیاتیت گمان کوم. د جدي مورخانو په نزد دا یو مشترک تمرین دی چې وایي هغه څه چې تر اوسه پورې د یوه تصادف په حیث گڼل کېده، اتفاق بیخي نه و، بلکې د هغه تشریح په عقلي ډول بالکل کېدلی شي او هغه د واقعاتو په پراخې طرحې او ترتیب کې په مهم ډول سره ځایېدلی شي. خو دا زموږ د پوښتې پوره ځواب نه را کوي. اتفاقي حادثه یوازې داسې یو شی نه دی، چې موږ پرې پوهېدلی نه شو. زه په دې عقیده

---

۱ . تراتسکی، زما ژوند، ۱۹۳۰، مخ ۴۲۲.

۲ . تولستوی په دغه نظر و: موږ مجبور یو چې د غیر عقلي پېښو د تشریح په حیث موږ بېرته په قسمت ولویږو یعنې دا چې هغه وقایع چې د هغو په عقلیت موږ نه پوهېږو. جنگ او سوله، اول فصل.

یـم چـې پـه تاریخ کـې بایـد داتفاقـي حادثې د مسـئلې حـل د مفکـورو په یـوه کاملاً مختلف نظـم کې ولټـول شي.

پـه یـوه ړومبـي پـړاو کې مو ولیـدل چې تاریـخ د مورخ له خـوا د حقایقـو په غوره کولـو او ترتیبولـو سره شروع کېـږي، تـر څو پـر تاریخي حقایقو بـدل شي. ټول حقایق تاریخـي حقایـق نـه دي، خـو د تاریخي او غیـر تاریخي حقایقـو تر منځ توپیـر دایمي او وچ کلـک نـه دی. د چـا خبره، هر حقیقـت ممکن د تاریخي حقیقت مقـام ته ترفیع وکـړي یـوازې دومـره چـې د هغـه مربوطیـت او اهمیـت وښـودل شي؛ نـو اوس وینو چـې د علتونـو د میندلـو لـه پـاره د مـورخ پـه روش کې یـو راز ورتـه عملیـه کار کوي. علتونـو تـه د مورخ مناسـبت هغه دوه گونـی او متقابل خصوصیت لـري، چې د مورخ مناسـبت یـې د هغـه له حقایقو سره لـري. علتونه د هغه د تاریخـي عملیې توجیه ټاکي او د هغـه توجیـه د هغه د علتونو نسـبي اهمیت، تعبیر شـیره او جوهر تشـکیلوي، دا په تاریـخ کـې د تصـادف د مسـئلې له پـاره یـوه کلي برابروي. د کلیـو پاترا د پزې شـکل، د بجازت د نقرس حملـه، د شـادي چیچنـه چـې الکزانـدر پاچا یـې مړ کـړ او د لینن مړینـه هغـه تصادفـات وو چـې د تاریـخ جریان یـې واړاوه. په دې کې څه فایده نه شـته چـې هغـه ایسـته شـوی وښـودل شي او یـا په یـوه یا بـل ډول داسـې بهانـه وشي چې هغـو تاثیـر نـه لاره. له بلې خـوا، تر هغـه ځایه چې هغه تصـادفي پېښـې وې، د تاریخ پـه هیـڅ عقل توجیـه، تعبیـر او د مـورخ د مهمو علتونو په سلسـله مراتب کـې ننوتلی نـه شي. پروفیـسر پاپـر او پروفیـسر برلیـن زه د دوی د دغه مکتب د ډېـرو وتلیو ممثلینو پـه حیـث یـو ځـل بیـا ذکر کـوم –فرض کـړئ چې پـه تاریخـي جریـان کې د مـورخ د اهمیـت موندلـو زیـار او لـه هغه څخـه د نتایجو ایسـتنه، د هغـه زیار په څېـر دی چې مقصـد یـې د یـوه متناسـب قرینه لرونکـي نظم تـه «تجربې ټولـه برخـه» تحویلول دي او پـه تاریـخ کـې د تصادف وجود دغسـې هـر زیار ناکامـوي خو هیڅ عاقـل مورخ به دغسـې یـو غـټ خیـالي او عجیب څیز ته مـلا ونه تـړي چې د «تجربې ټولـه برخه» پکـې شـامله کـړي. دی نـه شي کولـی چې حتـی د خپل تاریـخ د یوې انتخاب شـوې برخـې یـا اړخ پـه بـاب د حقایقـو یـوه کوچنـی جـز احاطـه کـړي. د مـورخ جهـان، د سـاینس پـوه د جهـان په څېر د یو حقیقـي جهان تصویري نقل دی، بلکـې هغه د کار د هغـه مـوډل په شـان دی، چـې دی پـر دې قادرولري چـې لېږودېر یې په موثـر ډول سره

وپېژني او حاکميت پرې وي. مورخ د ماضي له تجربې يا د ماضي د هغې اندازې له تجربې څخه چې ودې ته ميسره ده هغه برخه تقطير او چاڼ کوي چې دی يې درک کوي چې د عقل تشريح او تعبير تابع کېدلی شي او له هغه څخه داسې نتايج وباسي چې د عمل له پاره لارښوونکی وگرځي. په دغو وختونو کې يو عامه خوښوونکی ليکوال، څه وخت چې د ساينس د کارنامو په باب غږېده، د انساني ذهن د کار په باب يې داسې تبصره وکړه، ذهن چې څه وخت د مشاهده شويو حقايقو په خيرن جوال کې لټول، غوره کول او ټوټې کول کوي. له مشاهده شويو مرتبطو حقايقو څخه يو ځای يوه طرحه جوړوي، نامربوطات ردوي، تر هغو چې د علم يو منطقي او عقلي کوځی ځای يې اوبدلی وي[1]. زه په خپله په څه قيد سره د بې جهته عنديت د خطراتو په مقابل کې دا د هغه تصوير په څېر منم چې د مورخ ذهن پکې کار کوي.

دا طرز عمل ممکن فيلسوفان او حتی ځينې مورخان حيران کړي او ټکان ورکړي، خو د عادي کسانو له پاره چې د ژوندانه په عملي چارو پسې ځي، دغه طرز عمل پوره اشنا دی. يو مثال به راوړم. جونز چې له کومې مېلمستيا څخه چې له عادي اندازې څخه زيات الکول يې څښلي دي، په يوه گړندي(موټر) کې بېرته را ځي، د گړندي برکونه يې ناقص دي او په يوه وړانده گوټ کې رابن سن چې د سگرټو د پلورلو له پاره له سرک څخه تېرېږي وهي، رابن سن مري. وروسته له دې چې ټول حقايق را غونډ شوي دي، موږ مثلاً د محلي پوليسو په مرکز کې غونډېږو چې د دغې پېښې د علتونو په باب تحقيق وکړو. ايا دغه پېښه د موټر وان د نيمه مخمور حالت له امله وه چې په دغه حال کې به مسئله جنايي وگرځي؟ که دغه د ناقصو برکونو په وجه وه، چې په دغه حال کې به گراج والا ته چې يوه هفته دمخه يې موټر چيک کړی و، يو څه وويل شي؟ يا دغه د وړ انده گوټ په وجه وه چې په دغه حال کې به د سړکونو له واکمنو څخه وغوښتل شي چې موضوع ته پام وکړي؟ کله چې موږ پر دغو عملي مسئلو بحث کوو، دوه نوميالي مهذبه اشخاص- نومونه به يې نه اخلم- خونې ته ننوځي او په ډېر فصاحت او ټينگار موږ ته وايي، که چېرې په هغه ماښام د رابن سن سگرټ خلاص شوی نه وای، دی به له سرک څخه نه تېرېده او مړ شوی به نه وای؛ نو د سگرټو له پاره د رابن سن ميل،

۱ . ال، پال. د انسان امحا ۱۹۴۴، مخ ۱۴۷.

د ده د مرګ علت شو او هر هغه تحقیق چې دغه علت هیروي یوازې به د وخت ضایع وي او هر څه نتایج چې ترې ایستل کېږي، بې مفهوم او بېهوده به وي. ښه، موږ څنګه کوو؟ همدا چې موږ وکولی شو د همدغه فصاحت سلاست مات کړو، دواړو میلمنو ته په نرمه، مګر په کلکه سره دوره لاړ ښیو او دروازه ساتونکي ته وایو چې په هیڅ وجه بیا د ننوتلو اجازه ور نه کړي او موږ خپل تحقیق ته دوام ورکوو، خو موږ د مداخله کوونکو له پاره څه ځوابونه لرو؟

په دې کې څه شک نه شته چې رابن سن مړ شو، ځکه چې ده سګرټ څکول. هر هغه څه چې په تاریخ کې د تصادف او احتمال طرفداران یې وایي پوره درست او منطقي دي. دا هغه قسم سخت زړی منطق دی، چې موږ یې په (الس په عجبستان کې) او (دائیني له لارې) مومو. مګر په داسې حال کې چې زه د اکسفورډ د پوهې دغو پخو مثالونو ته په خپلې ستاینې کې نه تسلیمېږم، زه دا غوره ګڼم چې په یوې بېلې برخې کې د خپل منطق مختلف روښونه خوندي وساتم. د ډاج سن[1] روش تارخي روش نه دي.

نو تاریخ د تاریخ اهمیت په لحاظ، د غوره کولو یوه عملیه ده. د ټالکات پارسن عبارتونه به دلته یو ځل بیا را نقل کړو: «تاریخ د واقعیت په لور، نه یوازې د در کې بلکې د علتي جهتونو یو انتخابي سیستم دی». داسې چې مورخ د حقایقو د لایتناهي له بحر څخه هغه حقایق غوره کوي، چې د هغه مقصد د پاره اهمیت لري، داسې هم دی د علت او معلول له متعددو سلسلو څخه یوازې هغه سلسله راباسي چې په تاریخي لحاظ مهمه وي. د تاریخي اهمیت معیار د ده هغه قابلیت دی چې د خپل عقلي تشریح او تعبیر په چوکاټ کې دننه متوافق کوي. د علت او معلول نورې سلسلې، باید د تصادفاتو په حیث مستردې شي، نه په دغه لحاظ چې د علت او معلول ترمنځ مناسبت مختلف دی، بلکې په دغه لحاظ چې پخپله سلسله نامربوطه وي. مورخ په هغه سره هیڅ څیز نه شي کولی. هغه نه د عقلي تعبیر تابع دی او نه د ماضي یا اینده له پاره کوم مفهوم لري. دا رښتیا ده چې د کلیو پاترا پزی، یا د بجازت نقرس، یا د لیکز اندر پاچا دی چیچنې، یا د لینن مړینې،

1 . C.L D.odgson .، ۳۲-۱۸۹ . انګلیسي لیکوال او ریاضي پوه، لاندې دوه کتابونه خوندې کېسې او نکلونه لري او ادبي ارزښت یې زیات دی او د ده تألیفات دي.

یـا د رایـن  سـن سـګرټ څکولـو نتایج لـرل. خو د یـوې عمومـي قضیې په حیـث، دا بـې مفهومـه ده چـې وویل شي چـې جنرالان ځکـه جنګونه بایلي چې دوی په ښـکلو مینېـږي، یـا جنګونـه لـه دې املـه واقـع کېږي، چـې پاچایان پـه کور کې شـادي ګانې سـاتي، یـا خلـک پـه سرکونـو کې لانـدې کېـږي او مـري، پـه دې چې دو ی سـګرټ څکـوي. کـه لـه بلې خوا تاسـې یـوه عادي سـړي تـه ووایی چې رابن سـن پـه دې مړ شـو چـې ډریـور مخمـور و، یا لـه دې امله چـې بریکونـو کار ونه کـړ، یا لـه دې امله چـې سرک یـووړ ګـوت لاره، دا بـه ده تـه پـوره مفهـوم لرونکـې او عقلي تعبیـر معلوم شي، کـه دی وغـواړي ښـه مشـخص وغږېـږي، دی بـه لا حتـی ووایـي چـې یـوازې همدغـه او نه د راین سـن د سـګرټ څکولـو هڅه د راین سـن د مړینې «حقیقي» علت و. داسـې هـم کـه تاسـې د تاریخ محصل تـه ووایی چـې د ۱۹۲۰ په لسـو کالونو کې پـه شـوروي اتحـاد کې مبـارزې د صناعتي کولـو د انـدازې، یا د هغې ښـې طریقې په بـاب وي چـې کرونـده ګـر تشـویق کـړي چـې د ښـارونو د مړولـو له پـاره غلـې دانې وکـړي، یـا په دغـه باب وي چـې مخالفو مشرانو شـخصي ادعـا ګانـې تعقیبولې، دی به داسـې احسـاس وکـړي چې دا تشریحـات په عقـلي او تاریخي لحاظ مهـم دي، په دې چـې پـه نـورو تاریخـي حالاتـو کې بـه هم تطبیـق ومومـي او هغه د هغـه څه چې واقـع شـول، «حقیقـي» علتونـه دي، په دغه مفهوم چـې د لینن پخوا لـه وخته تصادفي مړینـه، کـوم علت کېدلـی نه شي. کـه د همدغو څیزونو پـه باب، دی سـوچ ته مجبور شي، دی بـه لا ممکـن د هیـګل ډېر اقتباس شـوی، مګر غلط تعبیـر ، چې اصلاً د حق د فلسـفې پـه سریـزه کې یـې ذکر کـړی دی، هم ور پـه زړه کړي «هغه چـې عقلي دي، حقیقـي دي؛ هغـه چې حقیقـي دي، عقلي دي».

اوس به د یوې شـیبې له پاره بیا د رابن سـن د غمجنې پېښـې علتونو ته وروګرځو. مـوږ د دې څـه مشـکل نـه لاره چې ځینې علتونه یـې عقلي او «حقیقـي» وو او څه یې غیـر عقـلي او تصـادفي وو، خـو مـوږ دغه تمیـز په کـوم معیـار سره وکړ؟ د اسـتدلال ملکـه پـه طبعـي ډول، د کـوم مقصـد پـه لـور فعالیـت کـوي. روشـنفکران ان کله کله ممکـن د سـاعت تیـري لـه پاره اسـتدلال وکـړي، یـا فکر وکـړي چې اسـتدلال کوي. خـو پـه عمومي ډول انسـانان، یوه هـدف د پاره اسـتدلال کوي او کله چـې موږ ځینې تشریحـات عقـلي وپېژنـدل، او نـور مو عقلي ونه پېژنـدل، زما په فکر چـې موږ د هغو

تشریحاتو ترمینځ چې د یوه هدف د پاره استخدامېږي، په یو فرق قایلېږو.

د هغې مسئلې په اړه چې بحث پرې کېږي، دا فرضیه مفهوم لرونکې ده، چې د ډریورانو د الکولو د مصرف لږ کول، یا د برکونو په باب لا زیات کنترول ایښودل، یا په سرکونو کې سمون راوستل، ممکن د ترافیکي پېښو شمېر لږ کړي، خو دا هیڅ مفهوم نه لري، چې فرض وشي چې ترافیکي پېښې به په دې لږې شي، چې خلق له سګرټ څکولو څخه منع کړل شي. د هغه معیار و چې په هغه سره موږ خپل فرق وکړو. دا په تاریخ کې د علتونو له پاره زموږ د روش په باب هم تطبیق مومي. دلته هم موږ د عقلي او تصادفي پېښو ترمنځ، په فرق قایل کېږو. څنګه چې علتونه په نورو هېوادونو، نورو عنصرونو او نورو شرایطو کې هم په قوي ډول تطبیق مومي، هغه و مفیدو تعمیماتو ته منتشي کېږي، او عبرتونه او درسونه ترې زده کېدلی شي، دوی زموږ د فهم د پراخه کولو او ژور کولو د هدف په لور، خدمت کوي.[1]

له تصادفي پېښو څخه تعمیم جوړېدلی نه شي او څنګه چې دوی د کلمې په ټوله معنی، بېجوړې او خاص دی، له هغوی څخه عبرتونه او درسونه نه اخیستل کېږي او نتایج هم ترې نه اخیستل کېږي، دلته باید زه یو بل ټکی هم ذکر کړم. د یوه هدف په لور، همدغه خاص او مشخص نظر دی، چې په تاریخ کې د علیت د مطالعې له پاره موږ ته کلي په لاس راکوي، او دغه لزوماً له ځانه سره د ارزش قضاوتونه لري. لکه څنګه چې مو په تېر لیکچر کې ولیدل. تعبیر په تاریخ کې تل د ارزښت له قضاوتونو سره تړلی دی، او علیت له تعبیر سره تړلی دی. د میانکی په الفاظو -ستر میانکی یا د ۱۹۲۰ د لسو کالونو میانکی «په تاریخ کې د علیتونو د پاره لټون.... ممکن نه دی، مګر هغه وخت چې ارزښتونو د پاره لټون واقع دی»[2].

---

۱ . پروفیسر پاپر، یوه شیبه په دغه ټکي ښویېږي خو لیدلی یې نه شي، په داسې حال کې چې ده ګڼلی ده، چې د تعبیرونو کثرت چې په اساسي لحاظ د دواړو د دلالت او اختیاریت په سویې وي(هر هغه څه چې دغه دوه اصطلاحت یې په واقعي ډوله ښکاره کوي، دی په یوه ناخونک کې اضافه کوي چې یو څه به یې له نورو څخه د دوی د انتفاعیت په وجه بیل شي او د دغه اهمیت وړ دی(ده ټورسیزم فقره، مخ ۱۵۱). دا د اهمیت یو ټکی نه دی، بلکې ډېر مهم ټکی یې دی، چې ثابتوي چې «هـ ټوررسیزم» دا اصطلاح په کومو مفهومونو سره، سره له ټولو خبرو دومره خوار نه دی.

۲ .، ۱۹۲۸، ترجمه اف. ستون د تاریخ اقسام، ۱۹۵۷، مخونه ۲٦۸، ۲۷۳ . Kausalitaten und

او هغه څه رایادوي چې ما ړومبی د تاریخ د دوه ګوني او متقابلې وظیفې په باب ویلي دي او هغه دا چې د اوس په رڼا کې د ماضي په باب او د ماضي په رڼا کې د اوس په باب زموږ فهم ډېر او پراخ کړي. هر هغه څه چې د کلیو پاترا له پزې سره دا نتون د مسحور کیدلو په څیر ونه شي کړای له دغه دوه ګون مقصد سره مرسته وکړي، د مورخ له نظره مړ او بې حاصل دی.

اوس د دغه وخت را رسېدلی چې اقرار وکړم، چې ما یو څه چل کړی دی. د هغه احساس به تاسې ته مشکل نه وي او څنګه چې زه په څو ځایونو کې دغه چل په دې قادر کړی یم چې خپلې خبرې ساده او لنډې کړم، تاسې ممکن په هغو سترګې پټې کړې وي او هغه مو د اختصار یو اسان جز ګڼلی وي. تر اوسه ما پر له پسې د «ماضي او اوس» اسانه افاده استعمال کړې ده، خو لکه چې تاسې ټول پوهېږی، حاضره زمانه، د ماضي او اینده ترمنځ، د تصوري ویشونکی لیک په حیث، له یوه تصوري وجود څخه اضافه کوم شی نه دی. د اوسنۍ زمانې په یادولو سره، ما د وخت د یوه بل بعد په بحث کې، په مخفي ډول شامل کړی دی. زما په فکر دا به اسانه وي چې وښوودل شي چې څنګه چې ماضي او حاضره زمانه د وخت د هغه یوه ټاکلی طول یوه برخه تشکلوي، ماضي او اینده په باب علاقه او تعلق ښودل یو له بل سره تړلی دی. د تاریخ نه ړومبی او تاریخ وختونو تر منځ د ویش په کرښې هغه وخت پښه اړول -کېږي، چې خلک نور نو یوازې په حضره کې ژوند کول ترک کوي او د خپلې ماضي او آینده په باب په شعوري ډول یو راز علاقمن کېږي.

تاریخ د عنعنې په نقلولو سره شروع کېږي او عنعنه له ماضي څخه و استقبال ته د عادتونو او درسونو د انتقال معنی لري. د ماضي پېښې د اینده نسلونو د فایدې د پاره خوندي کېږي. هالندي مورخ هویزنګا[1] وایي چې «تاریخي تفکر همیش غایي[2] وي»[3] سرچارلزسنو په دغو وختو کې دواترفورد[4] په باب يې سوج ووهې، په

---

.werte der Geschichte

۱ .J. Huizinga .

۲ . د وروستیو او غایي علتونو اصل او فلسفه.(م) Teleological.

۳ . جي،هویزنکا، تر جمه په د تاریخ اقسام، کي د اف، سټرن چاپ۱۹۵۷ ، مخ ۲۹۳.

۴ . برتانیایي فزیک پوه(م). E. Rutherford.

خپلـو هڅوکـو کـې د اسـتقبال فکر درلـود.[۱] زه گـمان کوم چې ښـه مورخـان، چې که د هغـو پـه بـاب فکـر وکړي، یادونـه کړې په خپلـو هڅوکو کې د اسـتقبال فکـر لري. د (ولـۍ؟) له پوښـتنې نه عـلاوه، مورخ تـل پوښـتي«کوم پلو؟».

۱ . د بالدون عصر، د حان مومند چاپ ۱۹۶۰، مخ ۲۴۶.

## -۵-

# تاریخ د ترقۍ په حیث

غوارم خپله وینا د هغې فقرې په نقلولو سره شروع کړم چې پروفیسر پایک، دیرش کاله رومبی، په اکسفورډ کې، د معاصر تاریخ د سلطنتي پروفیسر په حیث، په افتتاحي لیکچر کې اظهار کړې وه:

«په تاریخ کې د تاویل کولو څخه دومره ژورې ولې لري چې تر څو د ماضي په باب یو تعمیري نظرونه لرو، موږ یا تصوف[1] یا شکاکیت او بدبینۍ[2] ته کش کېږو»[3]. تصوف زما په فکر هغه نظر ته ویل کېږي چې د تاریخ مفهوم له جامعې نه چېرته بهر-د الهیاتو یا د اخرت په قلمرونو کې لټوي. دا د دغسې لیکوالو، لکه بردایف، نیور، یاټاین يي[4] نظر دی. د شکاکیت فلسفه هغه نظر تمثیلوي، چې یې مثالونه ما څو ځله راوړې دي. د دغه نظر په قرار، تاریخ هیڅ مفهوم نه لري، یا سم

1 . F . Powicke.

۲ . اصلاً د کلبیونو فلسفې ته وايي. دا د لرغوني یونان له فلسفي مکتبونو څخه هغه مکت دی چې موسس یې انتی تینس و او په داسې اصل بنا و چې لفتونه دبد دی، د انسانانو طبیعت شه اړخ نه لري، دغه مکتب د انسان د طبیعت په نسبت په بدبینۍ او شکاکۍ باندې قایل دی، او د ریشخند وړ عیبونه یې لټوي.(م) Cynicism.

۳ . اف.پایک، معاصر مورخان، او د تاریخ مطالعه،۱۹۵۵، مخ ۱۷۴ .

۴ . لکه چې ټاین يي په پوره بري سره اعتراف کوي: تاریخ د ادبیاتو په قلمره کې ننوځي. (مدنیت د ازموینې په حال کې د، ۱۹۴۸، مقدمه).

او ناسـم مفهومونـه په مسـاوي ډول لري، یا دغسـې مفهـوم لري چې مـوږ یې په خپل واک او اختیـار ورتـه ټاکـو. دا د تاریـخ هغه نظرونـه دي چې نن ورځ ډېـر عام دي. خو زه یـې بـې زړه نـازړه په کلکـه ردوم. دا تردید مـوږ ته هغه عجبه، مگـر دلالت کوونکې افـاده، را پرېـږدي: «د مـاضي پـه بـاب یـو تعمیـري نظـر». څنگه چـې زه داسـې کومه وسـیله نـه لـرم چـې پوه شـم پروفیسر پایـک د دغـې افادې د اسـتعمال پـه وخت کې، څـه شـی په فکـر کـې لاره، زه بـه زیار وباسـم چې خپـل تاویل په کـې ولولم.

د اسیا د پخوانیـو مدنیتونو په څېـر د روم او یونان مدنیت اساساً غیر تاریخي وو. لکـه څنگـه چې مو ړومبـی ولیدل، هېرودوتـس د تاریخ د پلار په حیـث، یوازې یو څو پیـروان لـرل او د پخوانـۍ زماني لیکوالو په عمومي ډول، د ماضي او اسـتقبال دواړو په بـاب، لـږ علاقمـن وو. توسـدایدز، په دغـې عقیدې و، چـې پخوا له هغو پېښـو څخه چـې ده بیـان کـړې، مهـم شـی هیـڅ واقـع شـوی نـه و او د دغـه احتمال نه شـته چې هیـڅ مهمـه پېښـه دې وشي. لوکرې شـیس[1]، د اسـتقبال په بـاب خپله بـې اعتنایي، له خپلـې هغـې بـې اعتنایې څخه وښـودله چـې ده د مـاضي په بـاب لرله.«فکـر وکړی، چـې څنگـه، زموږ لـه پیدا کېدو څخـه ړومبی، د ابـدي وخت پخـواني عصرونه، زموږ لـه علاقـې نـه بهـر دي. دا هغه هینـداره ده، چـې طبیعت یې مـوږ ته زموږ لـه مړینې نه وروسـته د اینـده عصر له پـاره نیسي».[2]

شـعري الهاماتـو، د لا څلانـده اینـده پـه بـاب، ماضي و طلایـي عصر تـه د رجوع شـکل غـوره کـړ، دا هغـه دوراني نظریـه ده چـې د طبیعـت په عملیـو کې یـې، د تاریخ عملیـې جـذب کـړې. تاریـخ هیـڅ پلـو تـه نـه خوځېد، ځکـه چې پـه مـاضي کې څه مفهوم نه و، داسـې هم په مسـاوي ډول، په اسـتقبال کې څه مفهوم نه و. یوازې ورجل[3] یعنـې چـا چـې پـه خپل څلـور واړه قطعه شـعر کې و طلایـي عصر ته رجـوع په عرض لرغونـې بڼـه ورکـړې ده، یوه شـیبه په خپـل کتاب اینايد[4] کـې په دې تحریک شـوی دی چـې لـه دوراني مفهوم څخـه بهـر شي.(Imperium sine dedi) دا یـو ډېر لرغونی فکر و چـې وروسـته یـې ورجـل ته د نیمه عیسـوي پیغمـبر حیثیت ور پـه برخه کـړ.

---

۱ . ۹٦-۵۵ ق م. ړومبی شاعر، (م) <Lucretius

۲ . د اشیاوو طبیعت، مخونه، ۹۹۲-۹۹۵.

۳ . Virgil .p.، ۱۹-۷۰ م. رومي شاعر.(م)

4 . II Aeneid.

دا بیا یهودان او لـه هغـوی نـه وروسـته عیسـویان وو، چې تاریـخ ته یې یـو پوره نـوی عـصر ور پـه برخه کـړ. دوی د تاریـخ له پاره هـدف ټاکي، چې تاریخـي عملیه د هغـه پـه لـور مخ پـه حرکـت وه دا د تاریخ غایي نظـر دی. تاریـخ په دغـه ډول، مفهوم او مقصـد وموند، خـو دنیا یـې خصوصیت یـې بایلـود. د تاریخ وهدف ته رسـیدل په اتوماتیکـي ډول د تاریـخ د ختمېدلـو معنـا پیـد کړلـه. تاریـخ پـه خپله د بـشر د جود په مقابـل کـې د لـوی ښـتن دفـاع او گرځیـد. دغـه تاریخ هغه نظـر و، چې پـه منځنیو پېړیـو کـې عمومـي رنسـانس[۱] د عقـل د لومړیتـوب او د دغسـې جهـان پخوانـی نظر ژونـدی کـړ، چـې مرکـز یې انسـان و، خـو د اینده پـه باب یـې د پخوانـی بدبینی نظر پـه ځـای د خـوش بینـی هغـه نظـر ځـای کـړ چـې د یهـوي –نـصراني عنعنـې څخه راوتلـی و. وخـت، چـې وخـت و، ورانوونکـی و، اوس دوسـت او ودانوونکـی شـو. د هـوراس[۲] د بیکـن[۳] لـه (Veritas temporis filla) سره پرلتـه کـړئ. د تنـور د دورې د عقـل اصـل پیروانـو[٤]، یعنې هغه کسـان، چـې د عصري تاریـخ لیکنې مؤسسـان وو، د یهـودي عیسـویت غایـي نظره[٥] وسـاته. مگر غایه یـې ورته دنیایـي کړله، په دغـه ډول، دوی وکـړی شـوه چـې پـه خپلـه د تاریخـي عملیـې عقلي خصوصیـت بېرتـه ژوندی کـړي. تاریـخ د مځکې په سر انسـانانو د دارایـی د مقصود و کمال تـه ترقي وگرځېده.

گیـبن چې د تنـور د دورې تـر ټولـو سـتر مـورخ و، د خپلـې موضوع لـه ماهیت څخـه ونـه وېرېده، چـې هغه ثبت کـوي، کوم چې یې نوملی و «هغه ښـه ایسـیدونکې نتېجـه چـې د جهـان هـر عصر دانسـاني نـژاد حقیقي شـتني، سـعادت، علم او شـاید نیکـی ډېـرې کـړي او لا یـې ډېـروي»[٦]. د ترقـی د لمانځنـې آییـن، هغـه وخـت خپل

۱ . Theodicy. په بل عبارت، تودوسي، د خدای په عدل عقیده لرل.(م)

۲ . Renaissance. پـه اروپـا کـې د منځنیـو پېړیو او معـاصرې دورې تر منځ انتقالي جنبش چې پـه هغـه کـې د پخوانـی دورې بېرتـه ژوندي کېـدل و(م).

۳ . ۱۵٦۱-۱٦۲٦. انگلیس فیلسوف، سیاستمدار او مصنف.(م) F. Bacom

4 . Rationalists.

5 Telological.

٦ . گیـبن، د روم د امپراتـوری انحطـاط او سـقوط، فصـل ۳۸. د دغـه انحراف موقـع د لویدیځ د امپراتـوری سـقوط و. یو منقـد د ټایمز ادبي ضمیمه(۱۹٦۰/نومبر/۱۸) کې په دغسـې حال کې چې دغـه فقـره را اخلـی، وایـي چـې نیوهېـرې گیبین پـه هغه اعتقـاد لره که نـه. البتـه چې هغه لاره، د یـو لیکـوال نظریـه پـه زیات احتـمال د هغه د عصر انعـکاس کوي، په کـوم کې چې دی ژونـد کـوي، نـه د هغه شي چـې دی د هغه په باب لیکنه کـوي. دا هغه حقیقـت دی چې د دغه

هسک ته ورسېد، څه وخت چې د برتانيې شتمني، قوت او په ځان اعتماد خپل هسک ته ورسېد او برتانيايي ليکوالان او مورخان د دغسې لمانځنې او آيين تر ټولو ډېر جدي طرفداران شول. دغه حادثه دومره روښانه ده چې د مثالونو راوړلو ته يې اړتيا نه شته. يوازې ضرور گڼم چې يوه يا دوه فقرې راوړم چې وښيم تر دغو نږدې وختونو پورې په ترقۍ عقيده لرل زموږ د ټولو تفکراتو د اصلي شرط او فرضيې[1] په حيث پاتې وه. اکټن، د کيمبرج د معاصر تاريخ د پروژې په باب د ۱۸۹۶ په رپورټ کې چې ما يې په لومړني ليکچر کې ذکر کړی دی، تاريخ «يو مترقي ساينس» بللی دی. د تاريخ په لومړي جلد کې يې وليکل چې «موږ مجبور يو د علمي فرضيې په حيث د کوم په اساس چې بايد تاريخ وليکل شي، په انساني چارو کې ترقي فرض کړو». ډامپير چې د همدغه تاريخ په وروستي جلد کې، چې په ۱۹۱۰ کې خپور شو، بې له کوم زړه نازړه توب نه دا احساس وکړ چې راتلونکي عصرونه به د طبيعت د منابعو په باب د انساني قوت د ودې او د نژاد هوساينې له پاره يې له هغو څخه د معقول استعمال هيڅ حد ونه پېژني[2]. نظر و هغه ته چې اوس به يې ووايم، مناسبه بولم اعتراف وکړم چې دا هغه فضا وه په کومې کې چې زه پخپله تربيه شوم او زه بې له قوم قيد او شرط نه د برتراندرسل، يعني د هغه چا په الفاظو کې چې نيم نسل له ما نه دمخه و، شريک کېږم چې وايي: «زه د ويکټورريايي خوش بينۍ په معراج کې لوی شوم او ... د هيلې او اسرې هغه څه له ما سره پاتې دي چې هغه وخت ډېر اسان و»[3].

په ۱۹۲۰ کې، څه وخت چې (بري) خپل کتاب د ترقۍ مفکوره وليکله، يوه لې سړه او تياره فضالا دمخه خوره شوې وه. ده مسلط فېشن ته د اطاعت له مخې د دغې فضا ملامتي په «هغو نظري کسانو، چې په روسيې کې يې د اوسني ترور حکومت تأسيس کړی دی» واچوله، که څه هم ده لا تر اوسه ترقي د«غربي مدنيت

منقد په ليکنې کې ښه واضح دی، په دې چې دی غواړيد شلمې پېړۍ د منځ شکاکيت و هغه ليکوال ته راجع او انتقال کړي چې د اتلسمې پېړۍ په اخر کې يې ژوند کاوه.

1 . Postulate.

۲ . د کيمبرج معاصر تاريخ، منبع، مولفيت او توليد يې (۱۹۰۷) مخ ۱۳، د کمبرج معاصر تاريخ.

۳ . بې رسل، له حافظې نه خاطرات، ۱۹۵۶، مخ ۱۷.

د ژونـدې کوونکـي او داره کوونکـې مفکـورې»[1] په حيـث بيانوله له هغه وروسـته دغه نغمه غلې شـوله.

روايـت دی چـې د روسـيې لومـړی نيکـولای په يـوه فرمـان سره د «ترقـی» د لفظ اسـتعمال منع کـړی و. پـه دغـو وختونـو کـې، د لويديځـې اروپـا او حتـی د متحـده ايالاتـو فيلسـوفانو او مورخانو، لـه ډېرې مودې وروسـته، له هغه سره موافقـه کړې ده. د تـر قـی فرضيـه باطلـه ګڼـل شـوې ده. د لويـدځ د مخ پـه ځوړې تـوب افـاده دومره اشـنا شـوې ده چـې نـور نو د د قـول نقلولو تـه کوم احتيـاج پاتې نه دی. خـو پر چيغو وهلـو سر بېـره، څـه شـی واقعـاً پېښ شـوی دی؟ د ذهنيـت دغه جـاري څپـه د چا له خـوا تشـکيله شـوې ده؟ هغـه بله ورځ مې سـخت ټکان وخـوړ چې زما په فکـر د برتر اندرسـل پـه يوازېنـی تبـصرې مخامـخ شـوم چې د طبقـاتي يو شـديد حس را برسـيره کـوي «پـه کلي ډول، نـن ورځ په جهان کې، نظر سـل ړومبيـو کالونو ته ډېره لـږه ازادي موجوده ده»[2].

د ازادۍ د ميچلـو لـه پـاره کومـه انـدازه نـه لـرم او پـه دې نـه پوهېـږم چـې د څـو کسـانو لـږه ازادي د ډېـرو کسـانو لـه ډېـرې ازادۍ سره څنګـه موازنـه کړم. خـو د ميچ پـه هـر معيـار چې وي د رسـل وينا بيخـي غيـر واقعـي بـولم، د ای.جی،پی.ټيلر هغه خوښـوونکې خـبرې چـې دی يـې کلـه کلـه د اکسـفورډ په علمـي ژوند کې کـوي، تر نـورو ډېـرې په زړه پـورې دي. دی وايي چـې د مدنيت د مخ پـه ځوړوالی ټولې خبرې دا «معنـی لـري چـې د پوهنتـون پروفيسرانو بـه په کور کې مـزدوران لـرل او اوس دوی پـه خپـل منځ کې کوي»[3]. په دې کې شـک نه شـته چـې د پروفيسرانـو کالي مينځل به د پخوانيـو خانګـي مزدورانـو لـه پاره بـه د ترقـۍ يـوه علامه وي.

پـه افريقـې کې، د سـپين پوسـتو د لوړتـوب بايلل، چـې د امپراتـورۍ وفـاداران[4]، اروپايـي نـژاده جمهوريـت غوښـتونکي افريقايـان[5] او د طـلا او مسـو په اسـهامو کې د پانګـې سـهمداران زورور وي، نـور تـه ممکـن ترقـي وي. د ترقـۍ د دغـې مسئلې

---

۱ . جي، بي ، برى، د ترقۍ مفکوره ۱۹۲۰، مخونه ۷-۸.

۲ . بې.رسل له حاقظې نه خاطرات، ۱۹۵۶، مخ ۱۲۴ .

۳ . ابزور، جون، ۲۱، ۱۹۵۹ .

4 . Empire.

5 . Africaner Republicans.

په باب، زه هیڅ دلیل نه وینم چې بس د همدغه حقیقت په بنا[1] د ۱۹۵۰ د لسو کلونو قضاوت د ۱۸۹۰ د لسو کلونو په قضاوت، غوره وګڼم، یا د انګلیسي ویونکو قضاوت د اسیا، روسیې او افریقا په قضاوت مرجح وبولم او یا د منځنۍ روشنفکرې طبقې قضاوت د سرک د سړي په قضاوت، چې د ښاغلي میکمیلن[2] په قول یې تر اوسه دومره ښه ژوند نه دی لرلی، ښه بولم. راځئ چې د یوې شیبې له پاره دغه قضاوت وروسته وغورځوو چې موږ د ترقۍ په عصر کې ژوند کوو یا د انحاطاط او لږ څه په ځیر سره وګورو چې د ترقۍ په مفهوم کې څه شیان مضمر دي. څه فرضیې یې شاته واقع دي او دغه فرضیې تر کومه حده غیر قابل دفاع ګرځېدلې دي. تر هر څه ړومبی غواړم، د ترقۍ او تکامل په حلقه مغشوش کوونکي افکار لېرې کړم. د تنور د دورې مفکرانو ظاهراً دوه نقیضې نظریې غوره کړې وې. دوی په دې لټه کې وو، چې د طبیعت په جهان کې د انسان مقام تثبیت کړي او دفاع یې وکړي. د تاریخ قوانین، د طبیعت له قوانینو سره برابر وګڼل شول. له بلې خوا، دوی په ترقۍ معتقد وو. خو د دې له پاره چې طبیعت د مترقۍ په حیث وګڼل شو، داسې چې د یوه هدف په لور په مخ ته، څه دلیل موجود وو؟ هیګل دغه مشکل داسې رفع کړ چې تاریخ یې چې مترقي و، له طبیعت څخه یې مترقي نه و، پوره بېل کړ. ډاروینې انقلاب داسې وبرېښېد چې د تکامل او ترقۍ په برابر ګڼلو سره یې ټول مغشوشات له منځه یوړل. سره له ټولو خبرو، طبیعت د تاریخ په څېر مترقي وګرځېد؛ خو دغه حال د یوې مهمې غلط فهمۍ له پاره لاره هواره کړله. او هغه دا چې بیالوجیکي توارث چې د تکامل سرچینه وه، له اجتماعي اکتساب سره چې په تاریخ کې د ترقۍ منبع وه، یوه او مغشوشه وګڼله شوله . توپیر ښکاره او اشنا دی. یو اروپایي ماشوم په یوې چینایي کورنۍ کې واچوی، ماشوم به په سپین پوټکي سره لوی شي، مګر په چینایي ژبه به ګړېږي. د انساجو رنګ یو بیالوجیکي توارث دی او ژبه اجتماعي اکتساب دی چې د انسان د دماغ له لارې انتقال کوي. تکامل، باید په زرګونو او یا په میلیونو کالونو اندازه شي.

له لیکل شوي تاریخ نه را په دې خوا په انسان کې د اندازې وړ کوم بیالوجیکي تحول پېښ شوی نه دی. د اکتساب له لارې ترقۍ په نسلونو کې اندازه کېدلی شي.

1 . Ipso facto.
2 . H. Mac Millan.

د عقلي موجود په حيث، د انسان جوهر دا دی چې دی خپل قوي استعدادونه د پخوانيو نسلونو د تجاربو په غونډولو سره منکشف کوي. ويل کېږي چې معاصر انسانان تر خپل ۵۰۰۰ کلنی سلف څخه زيات مغز او يا د تفکر ذاتي استعداد ډېره برخه نه لري. مگر په خپلې زده کړې او تجاربو کې د تېرو نسلونو د تجاربو په يو ځای کولو سره، د ده د تفکر تاثير پخوا نه څو ځله ډېر شوی دی. د اکتسابي خصوصيتونو انتقال چې بيالوجي پوهان يې ردوي، د اجتماعي ترقی اصل اساس گڼل کېږي. تاريخ له يو نسل نه و بل ته د اکتسابي مهارتونو په انتقال سره ترقي ده.

دوهمه دا چې موږ دې ته اړه نه يو او بايد دغسې ونه گڼو چې ترقي ټاکلی اغاز يا انجام لري. دغه عقيده چې نظر پنځوسو کالونو ته اوس لږه رواج لري چې مدنيت د نيل په دوره کې په ۴۰۰۰ ق.م کې اختراع شوی دی، نظر هغه نيټه ليک ته چې د جهان تخليق په ۴۰۰۴ ق.م. کې گڼي، نن ورځ لږ د اعتبار وړ ده. مدنيت چې موږ د هغه شروع د خپلې ترقی د فرضيې له پاره د اغاز ټکی حسابوو، يقيناً کومه اختراع نه دی، بلکې د انکشاف يوه وړه لايتناهي تدريجي عمليه ده. چې ممکن يو وخت بل وخت به پکې حيرانوونکي ځيزونه او جهشونه شوي وي. موږ ته نه ښايي چې په دغې مسئلې ځان وربړوو چې ترقي يا مدنيت څه وخت شروع شوی دی. د ترقی يو ټاکلی انجام فرضيې له پاره ډېره مهم اشتباهات را پيدا کړي دي. هيگل په حقه په دې محکوم شوی دی چې د ترقی انجام يې د پروس په پاچايی کې مشاهده کړی دی. دا ظاهراً د ده د اغرق آميز تاويل نتيجه ده چې وايي پيشگويي يو ناممکن امر دی. مگر د هيگل گوږوالی، د وکټوريا د عصر نامتو مورخ، درگ بي ارنولډ[1] وساته. د د معاصر تاريخ د پاچايي پروفيسر په حيث په ۱۸۴۱ کال کې خپل افتتاحي ليکچر کې وويل چې معاصر تاريخ به د بشر په تاريخ کې وروستی پړاو وي. ده وويل چې: «داسې ښکاري چې دا وخت د پوره کېدلو علامه وي، داسې چې له هغه وروسته به د ماضي تاريخ هيڅ نه وي»[2].

د مارکس دغه پيشگويي چې پرولتاريايي انقلاب به غير طبقاتي جامعه منځ ته راوړي په اخلاقي او منطقي لحاظ لږ تر اعتراض لاندې راځي، خو د تاريخ د انجام فرضيه د اخرت کړی لري چې ويل يې د الهياتو عالم ته ډېر مناسب دی، نه

1 . The Arnold of rugby.

۲ . تي.ارنولډ. د معاصر تاريخ د مطالعې په باب افتتاحي ليکچر ۱۸۴۱ مخ ۳۸.

یـوه مـورخ تـه او دا هغې اشـتباه تـه منتهي کېږي چې هـدف له تاریخ نـه دباندې ګڼي. پـه دې کـې څـه شـک نـه شـته چې یـو معیـن انجـام د بـشري ذهـن د پـاره انجذابات لـري او د ازادۍ لـور تـه د اکټـن د تاریـخ د ارش الهام د یوې نـه انجامېدونکې ترقۍ پـه حیـث، سـوړ او مبهم ښـکاري خـو که څوک وغـواړي چـې د ترقۍ فرضیـه محفوظه وسـاتي، زمـا پـه فکـر دی بایـد دې تـه تیـار وي چې هغـه داسـې عملیه وګڼـي چې د پرلپسـې عصرونـو تقاضاګانـې او شرایط خپل مشـخص محتویات داخل کـړي او دا د اکټـن د هغه تیسـس معنـی ده چې وایي تاریخ یـوازې د ترقۍ ثبت نـه بلکې یو «مترقي سـاینس» دی، او یـا کـه مـو خوښـه وي تاریـخ د کلمـې پـه دواړو مفهومو نـو سره – د پېښـو د جریـان پـه حیث او د همدغو پېښـو د ثبت پـه حیث مترقـي دی. راځئ چې پـه تاریـخ کـې د اکټـن د ازادۍ د مـخ کې تګ افـاده را پـه زړه کړو:

«دا د تـر فشـار لانـدې ضعیـف د متحدو کوښښـونو په اثـر ده چـې د زور او پر له پسـې بـې عدالتۍ د سـلطنت په مقابل کې مقاومـت کېږي چې د څلورو سـوو کالونو پـه چټـک تحول مګر تدریجي ترقۍ کې ازادي خوندي شـوې، سـاتل شـوې او پراخه شـوې او په پـای کې پوهېدل شـوې ده[1].

اکټـن، تاریـخ وګاڼـه چې د ترقۍ په حیث د همدغو پېښـو ثبـت وي. دواړه عملیې اوړه پـه اوړه پـه مـخ درومـي. [2]فیلسـوف (براډلي) په دغسـې عصر کې چـې له تکامل نـه د قیاسـونو او شـباهتونو راوړل رواج لاره، وایـي چـې «د مذهبـي عقیـدې د پـاره د تکامل انجام، په هغه قسـم ښـودل شـوی دی چې .... لا دمخه ښـکاره شـوی دی»[3]. د مـورخ لـه پـاره د ترقـۍ انجـام دمخـه ظاهـر شـوی نـه دی. دا هغـه څـه دي چـې لا تـر اوسـه پـه لایتناهـي ډول لیـرې دي او یوازې هغـه وخت چې مـوږ وړانـدې درومو نښـانې یـې په نظر کـې راځـي. دا د هغه اهمیت نه کمـوي. قطب ښـوونکی یو قیمتي او پـه واقعیـت کـې یـو حتمـي لارښـودونکی دی، مګـر د لارې نقشـه نـه ده. د تاریخ محتویـات یـوازې هغـه وخـت تحقق موندلـی شي چې مـوږ یې تجربـه کوو.

زمـا دریـم ټکـی دا دی چې هیـڅ عاقل انسـان په دغسـې ترقي معتقـد کیدلی نه

---

۱ . اکټن د معاصر تاریخ په اړه لکچرونه، ۱۹۰٦، مخ ۵۱.

۲ . کـې. منهایـم د انسـان اداره چـې تاریـخ ته تشـکیل ورکوي، د هغـه له اسـتعداد سره چې پرې پوهېږي، مربـوط ګڼي.

۳ . اف.اچ.براډلي، اخلاقي مطالعات ۱۸۷٦، مخ ۲۹۳.

شي چې یـه یوه سـم سـیده کرښـې پـه مخ ځـئ او په خپـل مدامـت کـې کوږوالی او ماتوالـی نـه منـي، داسـې چې حتی یو ډېر شـدید بیرته تـګ هم د همدغـې مفکورې د پـاره مهلـک نـه وي. دا واضحه ده چـې هم د بېرته تـګ او هم د وړانـدې تګ عصرونه شـته دي. برسیره پـر دې به سـمه نـه وي چې فـرض شي چې ترقـي به له بېرتـه تګ نه وروسـته لـه همغـه ټکي او یـا د هغې لیکې پـه اوږدو شروع شي. د هیګل یـا د مارکس درې یـا څلـور مدنیتونـه، د ټاین بـې وویش مدنیتونـه، د مدنیـت د دوراني ژوند تیوری چـې لـه ظهـور، انحطاط او سـقوط څخه به تېرېږي، دغه نقشـې په خپـل ذات کې بې مفهومـه دي. خـو دا د هغه مشـاهده شـوي حقیقت علامـې دی، چې هغه کوښښـونه چـې د مدنیتونـو د پـر مـخ بیولو لـه پـاره ضروري دي، په یـو ځای کې محـوه کېږي او پـه بـل ځـای کې وروسـته لـه سره شروع کېږي، داسـې چې هـر هغه ترقـي کومه چې مـوږ یـې په تاریـخ کـې مشـاهده کولـی شـو، یقیناً چـې نه امـکان او نـه په زمـان کې دایمـي وي. کـه زه تارریـخ پـه قوانینـو ایسـتلو سره عادي اوسـم، یـو قانون بـه دا وي، چـې یـوه ډلـه - هـر څه نـوم چې پـرې ږدي، طبقـه ورتـه وایي، یـا ملت، یـا لویه وچه یـا مدنیـت - هغـه ستاسـې خوښـه کومه چـې په یو عـصر کـې د مدنیت په مـخ بیولو کـې سـتر مهـم لـري، ګمان نـه کېږي چـې به بـل عصر کې به مشـابه سـهم ولـري. د دې ښـکاره علـت دا دی چـې دغه ډله بـه د پخواني عصر په عنعنو، ګټـو او ایډیالوجي ګانـو کـې دومـره عرقـه وي چې وبه نـه شي کولـی د بل عـصر تقاضاګانـو او شرایطو سره ځـان متواقـف کـړي[1] نو داسـې به پېښـه شي چې هغه څـه چې د یوې ډلـې د پاره دانحطـاط دوره وي، د بلـې د پاره بـه د یـوه نـوي پـه مخ تګ ظهـور وي. ترقـي د ټولو لـه پـاره د مسـاوي او همزمـاني ترقـۍ معنـا نه لري او دغسـې معنـی ورکولـی شي. دا مهمـه ده چـې د انحطاطو د دغو وروسـتیو ورځـو تقریباً ټول پیغمبران، زموږ شـکاکان یعنـې هغـه څوک چـې په تاریخ کـې هیڅ مفهوم نـه وینـي او ترقي مړه ګڼـي، د جهان

---

۱ . د دغـې حـال د بیـان د پـاره وګـوری د ار. اس. لنـد، علم د څـه شي دپاره وګـورئ. د ار. اس، لینـد، علـم د څـه شي د پـاره؟ (نیویـارک، ۱۹۳۹). مـخ ۸۸. «زمـوږ د ثقافت بدایـان ډېر کله د مـاضي پـه لـور -یعنـې د خپـل د شـدت او قـوت د وخت په لـور ګـوري او اینده خطـا ګڼي او ورسـته مقاومـت کـوي. احتمال شـته چې د ټوټه کېدلو او نسـبي قوت د بایللو پـه وړاندې تللي پـړاو کـې ټـول ثقافت ممکـن د یوه بایللي طلایـي عصر په لور مخ په شـا وګوري، پـه داې حال کـې چـې ژونـد به په سسـتۍ او کهـالي کې په حـاضره کې تېـرې. . .»

پـه هغـې برخـې او د جامعـې پـه هغـې طبقـې اړه لري چې په څو نسـلونو کـې يې د مدنيـت پـه مـخ تگ کې سـتر او قـوي رول پـه موفـق ډول لوبولـی دی. د دوی له پاره دا کومـه ډاډگيرنـه نـه ده چـې ورتـه ووايـل شي چې هغـه رول کـوم چـې د دوی ډلې په ماضـي کـې لوبولـی دی او نـورو ته بـه منتقل کـړل شي. تاريـخ چې واضحـاً په دوی بانـدې يـو نـاوړه چـال تللـی دی، د دوی په نـزد کومه مفهـوم لرونکـې او عقلي عمليه کيدلـی نـه شي. خـو کـه موږ مجبور اوسـو چې د ترقۍ فرضيه وسـاتو زما پـه فکر بايد د ماتـې ليکې حـالات ومنو.

پـه پـای کـې پـه هغې مسـئلې بحث کـوم چـې وايـي د ترقۍ اسـاسي محتـوی د تاريخـي عمـل په ارتباط سره، څه شـی دی. هغه خلـق چې مبارزه کـوي، مثلاً غواړي ټولـو تـه مـدني حقوق ور په برخـه کړي، يا د جـزا تعاملات اصلاح کړي، يا د شـتمنۍ يـا نـژاد د غيـر مسـاواتونه له مينځـه يوسي، پـه شـعوري ډول سره زيار بـاسي چې بس همدغـه شـيان وکـړي. دوی په شـعوري ډول، هڅه نه کـوي چې «ترقي وکـړي»، کوم تاريخـي «قانـون» يـا «فرضيـې» يا ترقي تـه تحقق ورکـړي. دا مورخ دی چـې د هغوی پـه اعمالـو کـې د ترقۍ خپلـه فرضيه تطبيق کـوي او د هغـوی اعمال د ترقـۍ په حيث تفسـيروي. خـو دا د ترقـۍ مفهـوم لـه اعتبـار څخـه نـه غورځـوي. خوښ يـم چې په دغـه ټکـي کـې له ايسـايه برليـن سره ځـان موافق وينـم چـې وايي«ترقـي او ارتجاع که څـه هـم دغـه الفاظ شـايد ډېـر غلط اسـتعمال شـوي وي، پوچ مفاهيـم نـه دي»[1] دا د تاريـخ يـوه ړومبـۍ فرضيـه ده چې انسـان د خپلو اسـلافو لـه تجاربو سره د اسـتفادې کولـو قـدرت لري(داسـې نـه ده چـې دی ارومـرو اسـتفاده کـوي) او ترقـي پـه تاريـخ کـې، بـر خـلاف د کامل په طبيعت کې، د اکتسـابي شـتمنيو په انتقال اسـتناد لـري. دا شـتمني هـم مـادي ملکيتونه په ځان کې شـامل گڼـي او هم هغـه اسـتعدادونه په ځان کـې شـامل لـري، چـې پـه هغـو سره د يو چـا محيـط اړوي، تـرې گټه اخـلي او پرې حاکميـت کـوي. دغـه دواړه عوامـل، پـه حقيقت کـې يو له بـل سره نـږدې ارتباط لري او پـه يـو بـل باندې عمـل او تاثير کوي. مارکس انسـاني کارتـه د ټولې ماڼۍ د اسـاس پـه حيـث قايـل دی. دغـه قاعـده هغه وخـت د منلـو وړ ښـکاريږي، چې کـه «کار» ته پـه کافي انـدازه پـراخ مفهـوم ورکړل شي. خـو د منابعو تـش غونډول به گټـور ثابت نه

۱ . فورن افيرز(مجله)، ۳۸، لمبر ۳، جون/۱۹۵۰، مخ ۳۸۲.

شي مګر پـه هغـه وخت کـې چې هغـه له ځـان سره نـه يـوازې متکاثـف تخنيکي او اجتماعـي علـم او تجربه ملګـرې ولري، بلکې په پـراخ مفهوم سره، د انسـان په محيط بانـدې اضافـه شـوی حاکميت هـم ورسره مـل وي. زما پـه فکر حاضر وخـت کې، به يـوازې يو شـمېر کسـان د مـادي منابعـو او علمي پوهـې او په تخنيکي مفهـوم سره په محيـط بانـدې د حاکميـت د ترقـۍ د حقيقت په باب شـک وکـړي. مګر د هغـه څه په بـاب چـې پوښـتنې راوانـې دي، دا دی چې ايا په شـلمې پېړۍ کې زمـوږ د جامعې په تنظيمولـو يـا پـه اجتماعـي محيط بانـدې، مـلي وي که بيـن المللي، پـه حاکميت کې کومـه ترقـي شـوې ده، کـه نـه، يادا چې مـوږ په واضـح ډول د شـا په لور تلـلي نه يو؟ ايـا د اجتماعـي موجود په حيث، انسـاني تکامـل، د تکنالوجي له ترقي نـه په خطرناک ډول بېرتـه پاتې شـوی نه دی؟

هغـه علامـې چـې د دغې پوښـتنې سـبب کېـږي، واضحـې دي. خـو سره له دې هـم زه ګـمان کـوم چـې پوښـتنه پـه سـمه توګه شـوې نـه ده. تاريـخ ډېـر ګرځوونکی ټکـی لرلـی دی، چـې پـه هغـو کـې مشرتابه او ابتـکار له يـوې ډلـې او د نـړۍ له يوې برخـې نـه و بلـې ته انتقـال کـړی دی. د عـصري دولت د ظهـور دوره او لـه مديترانې نه وغـربي اروپـا ته د قـوت د مرکز انتقال او د فرانسـې انقلاب يې ښـکاره عصري مثالونه دي. داسـې دورې تـل د قـوت ګډلو د پاره د مبارزو او شـديدو خيزونـو وختونه نه وي. زړې واکمنـۍ ضعيفيـږي، زړې علامـۍ ورکيـږي. د جاه طالبيـو او خپګانونو له ترخه تصـادم نـه نـوی نظـام را وځـي. زمـا په فکـر، مـوږ اوس له دغسـې يـوې دورې څخه تېرېـږو. مـا تـه دغـه تش غير حقيقي ښـکاري چـې ووايـل شي د اجتماعي تشـکيلاتو د مسـايلو پـه بـاب، زمـوږ فهـم، يـا د همدغـه فهـم پـه رڼـا کـې د جامعـې په تشـکيل کولـو کـې زمـوږ حسـن نيت، مـخ په بېرتـه تللـی دی. پـه واقـع کـې زه بايد پـه زړور تـوب سره ووايـم چـې هغـه ډېـر شـوی دی. داسـې نه ده چـې زمـوږ اسـتعدادونه کم شـوي، يـا زمـوږ اخلاقـي صنفونو انحطـاط کـړی دی. مګـر د براعظمونـو، ملتونو او طبقاتـو د قـوت د انـډول د انتقـال له املـه، د مبارزې او جهشـونو دور چې مـوږ ور نه تېرېـږو، پـه دغـو اسـتعدادونو او خاصيتونـو باندې فشـار ډېر کـړی او د مثبتـو کارنامو لـه پـاره يـې د هغـوی تاثيـر محـدود او عقيم کـړی دی. په دغسـې حال کې چـې زه نه غـواړم پـه لويدځـې نړۍ کـې د ترقـۍ د عقيـدې په مقابل کې، د تېرو پنځوسـو کالونو

د چیلنجونو قوت لړ وښیم، زه لا تر اوسه پر دې قانع نه یم، چې په تاریخ کې ترقي پای ته رسېدلې ده. خو که تاسې د ترقۍ پر محتوا په ما نور هم فشار راوړی، ګمان کوم چې زه به دغسې یو څه ځواب ویلی وشم. په تاریخ کې د ترقۍ ټاکلی او واضح تعریف کېدونکي هدف نظریه، چې زیاتره د نونسمې پېړۍ د مفکرانو له خوا ړاندې شوې ده، وچه او نه تطبیق کېدونکې ثابته شوې ده. په ترقۍ عقیده کول، په کومې یوې اوتوماتیکې حتمي عملیې د عقیدې کولو معنی نه لري، بلکې هغه د بشري استعدادونو په یو مترقي انکشاف عقیده لرل دي. ترقي یو مجرد لفظ دی او مشخص هدفونه کوم چې بشر یې وخت په وخت تعقیبوي، د تاریخ له سیر څخه را پیدا کېږي، نه له هغه نوه بهر له کومې منبع څخه.

زه د انسان په کمال د ځمکې په سر په اینده جنت عقیده نه لرم. تر هغه حده له اعالمانو او متصوفانو سره چې وایي کمال په تاریخ کې غیر قابل تحقیق دی، موافق یم مګر زه به د نامحدودې ترقۍ په امکان راضي اوسم. داسې ترقي چې د هیڅ حدونو چې موږ ور ته ولړو، او ویې لیدلای شو، تابع به نه وي او دغه ترقي به د هغو هدفونو په لور وي، چې یوازې هغه وخت چې موږ ور ته نږدې کېږو، تعریف کېدلی به شي او هغو صحت او اعتبار به هغو ته د رسیدلو په عملیې کې ثابت او مشهود کیدلی شي. زه په دې نه پوهېږم چې د ترقي د دغسې مفهوم نه پرته جامعه څنګه پاتې کېدلی شي. هره مهذبه جامعه تر اوسه نازیږېدل شویو نسلونو په خاطر، له ژوندي نسل نه قرباني غواړي. د اینده بهتره جهان په نامه سره، د دغو قربانیو روا شمېرل، د هغو روا شمېرلو دنیایي مثنی ده چې د کوم اسماني مقصد له پاره به کېده. د (بری) په الفاظو سره «د راتلونکي نسل د پاره د وظیفې مسئولیت د ترقۍ د مفکورې مستقیمه نتیجه ده» ممکن دې ته څه اړه نه وي چې د دغې وظیفې د حقانیت دلیل وړاندې شي. که ور ته اړه وي، زه بله لاره نه وینم چې په حقه یې وښیم

دا مې نو اوس، په تاریخ کې د افاقیت مشهورې معضلې ته نږدې کوي، دغه کلمه په خپل ذات کې تېرایستونکې او پوښتنه غوښتونکې ده. ما دمخه په یو لیکچر کې لیکلی و، چې اجتماعي علوم، د تاریخ په شمول، کولی نه شي د علم له دغسې نظر سره روغه جوړه وکړي، چې فاعل او موضوع یو له بل نه بیولي، د مشاهد او

هغـه شي تـر منـځ چې تـر مشـاهدې لاندې نيـول کېږي، په کلـک بيلتون قايـل وي. مـوږ دغسـې يـوې نـوې طرحـې تـه اړيو، چـې د هغـوی تـر منـځ د متقابل نسـبت او متقابـل عمـل د پېچلـې عمليـې پـه اهميت او قدر ښـه پـوه شـو. د تاريخ ټـول حقايق افاقـي کېدلـی نـه شي، پـه دې چـې هغـه يـوازې د هغـه اهميـت پـه وجه چـې مورخ يـې ورتـه پـه برخـه کـوي، تاريخي حقايـق ګرځي. کـه مـوږ لا هم مروجـې اصطلاح اسـتعمال کـړو، پـه تاريـخ کـې افاقيـت د حقايقو کـوم افاقيت نـه شي کېدلـی، بلکې يـوزاې د نسـبت يعنـې د حقيقـت او تاويـل تـر منـځ او د مـاضي، حـاضر او اسـتقبال ترمنـځ د نسـبت افاقيـت کيدلـی شي. لازمـه نـه بـولم هغـه دلايـل بيـا ذکـر کـړم چې مـا هغـه کوښـښ غيـر تاريخي ښـوولی و، چـې د هغه پـه وسـيله تاريخي وقعـات او ارزښـت د يـوه مطلـق معيـار له مخې سـنجول کېږي، داسـې معيار چې هغـه له تاريخ نـه بهـر او مسـتقل وي. مګـر د دغه مطلق حقيقت [۱] مفهـوم هم د تاريخ لـه جهان او يا زمـا په فکر د سـاينس لـه جهان سره موزون او مناسـب نه دی. کيدلـی شي چې يوازې د تاريخـي دنيـا يـو ډېر سـاده قسـم، يا مطلقاً درسـت او يـا مطلقاً غلط، وښـوول شي. کـوم مـورخ چې د خپل سـلف حکـم محکوم کوي، پـه طبيعي ډول يـې د مطلق غلط پـه ډول نـه محکومـوي. بلکـې هغه يا غيـر کافي، يا يـو اړخيز، يا تېر ايسـتونکی بولي، او يـا يـې د دغسـې نظر محصـول بولي چې د نويو شـواهدو په اسـاس يې زوړ شـوی او نامربـوط ښـيي. کـه وويل شي چې د روسـيې انقـلاب، په دې پيښ شـو چې دوهم نيکـولای احمـق و، او لينـن نابغـه و، دا به يـوه پوره تېرايسـونکې وييـا وی. سره له دې هـم مطلقـاً غلط وتـه ويلی نه شـو.

راځـئ چـې د رابـن سـن، د غمجنـې مړينې پيښـې ته يو ځـل بيا وګرځـو. د هغې پيښـې پـه بـاب زمـوږ د تحقيـق مقصـد دا نـه و، چې مـوږ خپـل حقايق درسـت کړو. پـه حقايقـو کـې څه شـک او خـبره نه وه. خـبره په دې کـې وه، چې د حقيقـي يا مهمو حقايقـو يعنـې لـه هغو سره چې مـوږ علاقمـن وو، او د تصادفي حقايقو تـر منځ يعنې کـوم چې مـوږ کولـی شـو يـا ناليدلـی وګڼـو، توپيـر وکـړو. دغـه توپيـر کول مـوږ ته مشـکل نـه و، پـه دې چـې زمـوږ معيار يـا اهميـت ازموينـه، او زمـوږ د افاقيـت بنياد، ښـکاره وو او هغـه دا وو چـې بايـد لـه مقصـد سره، کـوم چې موږ پـه نظر کـې لاره،

---

۱. Absolute truth.

ارتبـاط ولـري، يعنـې په سـرکونو کې د تلفاتو شـمېر لږ کـړي. خو مورخ، پـه دې برخه کـې تـر تحقيق کوونکـي نه لږ يک مرغـه دی، په دې چې د وروسـتی ټاکلـی او یوازې هـدف دا دی چـې د ترافيکـي پېښـو د تلفاتو شـمېر لږ کـړي. مورخ هم خپـل د تاویل پـه وظيفـه کـې، د دې لـه پاره چـې د مهمـو او تصادفي پېښـو تر منځ توپير وکـړي، د اهميـت يـو معيـار تـه، چـې هغه يـې د افاقيـت معيـار هـم دی، اړه لـري. دی هم دغه معيـار يـوازې خپـل هـدف تـه چـې دی يـې په نظـر کـې لـري، د ارتبـاط په لړلـو سره ميندلـی شي. مگـر دغـه لزومـاً مـخ پـه تکامل هـدف دی، ځکـه چې د مـاضي مخ په تکامـل تاويـل، د تاريـخ يـوه ضروري وظيفـه ه. هغـه عنعنـي فرضيه، چـې بايد تحول تـل د يـوه ثابـت او تحول نـه منونکی شي پـه ارتبـاط سره شرحه شي، د مـورخ تجربې څخه مغايـره ده.

پروفيسر بټرفيلـد، ممکـن د هغـه فکـر لـه مخـې چې غـوارې پـه ضمنـي ډول، د ځـان د پـاره دغسـې يوه سـاحه وټاکي چې نـور مورخان يې پـيروي کولو تـه اړ نه وي، وايـي، «يوازنـې مطلـق، تحـول دی»[1]. پـه تاريـخ کې مطلق پـه ماضي کې داسـې کوم شـی نـه دی، چـې مـوږ له هغـه ځايـه شروع کوو. داسـې هم هغـه په حـاضر کې کوم شـی نـه دی، ځکـه چې ټول حـاضر تفکـرات لزوماً نسبي دي. دا تر اوسـه هم ناقص دی او د کيدلـو پـه جريـان کـې دی-داسـې يو شـی چـې په مـاضي کې مـوږ د هغه په لـور، خوځيـږو چـې هغـه يـوازې هغه وخـت ځان ته يو شـکل غـوره کـوي. د کوم په لـور چـې موږ خوځيـږو او څه وخت چـې خوځېږو، د هغـه په رڼا کې مـوږ، ورو ورو د مـاضي پـه باب، خپـل تاويل ته شـکل ورکوو. دا دهغې مذهبي افسـاني وشـاته چې د تاريـخ مفهـوم بـه د محشر پـه ورځ ښـکاره شي، دنيايـي حقيقـت دی. زمـوږ معيار داسـې کـوم مطلـق نـه دی، چې هغه به د سـکون پـه مفهـوم سره، د پرون، نـن او د تل د پـاره يـو راز وي. دغسـې مطلـق د تاريـخ له ماهيـت سره گرد سره متناقـض دي. خو دا زمـوږ د مـاضي د تغبيـر پـه باب يو مطلـق دی. دغه مطلق د نسبي نظريـې رد کوي، چـې وايـي دغـه تاويـل د هغـه بل تاويـل په څېر ښـه دی، يـا دا چې هر تاويـل په خپل

---

۱ . اچ. بټرفيلد، درگ د تاريخ تعبير، ۱۹۳۱، مخ ۵۸. داد ای. فان مارتن د انسـان سوسـيولوجي، انگريـزي ترجمـه ۱۹۴۵،) لـه مفصلې وينا سره پرتله کـړئ: رکود او حرکت سـکون او ډناميک هغـه کتـه گـوري گانـې دي، چې پـه هغـو سره د تاريـخ د پـاره سوسـيولوجيکي ميتـود شروع کيږي.

زمان او مکان کې ښه دی او دغسې یو محک تهیه کوي چې یوه ورځ به د هغه په واسطه د ماضي د تاویل په باب قضاوت وشي. په تاریخ کې د همدغه مسیر د احساس په وجه ده، چې موږ د ماضي پېښې په نظم کې راولو، او تعبیر یې کوو. دا د مورخ وظیفه ده. د سیاس، اقتصاد پوه او اجتماعي مصلح وظیفه بیا دا ده، چې د همدغه مسیر د احساس په وجه انساني اثر چې په حاضره زمانه کې ازادې او متشکلې کړي. خو عملیه، په خپل ذات کې، مترقي او دینامیکي پاتې کېږي او څنګه چې موږ په مخ درومو، زموږ د تاویل او د ماضي په باب زموږ د تاویل احساس پر له پسې تعدیل او تکامل مني.

هیګل خپل مطلق د جهاني روح په جامعه کې ونغښت او د دې په ځای چې د تاریخ مسیر د اینده په لور یوه هدف ته طرح کړي، داسې اساسي غلطي یې وکړله، چې هغه په اوس کې حتمي کړی. ده په ماضي کې د پر له پسې تکامل عملیه وپېژندله، خو د هغه وجود ته په اینده کې قایل نه شواو ترې منکر شو. هغو کسانو چې له هیګل نه وروسته، د تاریخ د ماهیت په باب ژور فکرونه کړي دي، په هغو کې یې د ماضي او اینده یو ترکیب مشاهده کړی دی. تاکویل[1]، که څه هم چې ځان یې د خپل عصر له مذهبي روش څخه ګرد سره ازاد کولی ونه شو او خپل مطلق ته په ډېره محدوده محتوی قایل شو، سره له دې هم د موضوع په ماهیت پوه وو، وروسته له دې چې د عالمي او دایمي حادثې په حیث، مساوات له انکشاف څخه وغږید، خپلو خبرو ته یې داسې دوام ورکړ:

«که زموږ د عصر اشخاص ترغیب شي چې د مساوات تدریجي او مترقي انکشاف یو وار د خپل تاریخ د ماضي او اینده په باب ووینې، دغه یوازنی کشف به دغه انکشاف ته د دوی د رب او څښتن د ارادې سپېڅلی خصوصیت ور کړي»[2].

کیدلی شي چې پر دغې ناتمامې شوې موضوع یو مهم فصل ولیکل شي. مارکس، چې د هیګل په څېر، د اینده د لیدلو په باب یو څه احتیاط کاوه او یوازې له دې سره علاقمن و، چې د خپلو تعلیماتو ریښه د ماضي په تاریخ کې ټینګه کړي، د خپلې موضوع د ماهیت له امله، مجبور و چې د خپلې بې طبقاتي جامعې

---

۱ . ۱۸۰۵-۱۸۵۹ . فرانسوي سیاس او سیاسي لیکوال.(م) A. CH. Tocqueville.

۲ . ای.تاک ویلر، په امریکا کې دموکراسی ته مقدمه.

مطلق د آینده په لور طرح کړی(بری) د ترقۍ مفکروه لږ څه بې لطفه بیان کړه، مګر مقصد واضحاً همغه و. د ده په فکر، د ترقۍ مفکوره«یوه تیوري ده چې د ماضي د ترکیب او د اینده پیشګویي مشموله ده»[1]. نامیر په دغسې عبارتونو چې په ارادي ډول ظاهراً نقیض دی او هغه په معمولي ډول، په ډېرو افرادو مثالونو کې تمثیل کوي وایي چې مورخان «د ماضي تصور کوي او اینده په یاد لري»[2] یوازې اینده، د ماضي د تاویل د پاره کلي برابرولی شي او یوازې په همدغه مفهوم سره ده چې موږ په تاریخ کې له نهایي افاقیت څخه غږېدلی شو. دغه سمدلاسه، د تاریخ حقانیت او شرحه ده چې ماضي په اینده او اینده پر ماضي رڼا اچوي.

نو په دغه حال کې لکه چې موږ مورخ د افاقي کېدو له پاره ستایو او یا وایو چې یو مورخ نظر و بل ته ډېر افاقي دی، زموږ مطلب او منظور څه دی؟ واضحه ده چې دا یوازې په دې نه ده چې مورخ خپل حقایق درست او سم تهیه کوي، بلکې په دې ده چې دی د سم او درستو حقایقو انتخاب کوي. کله چې موږ یو مورخ ته افاقي وایو، زما په فکر موږ دوه شیزونه کوو: لومړی دا چې موږ وایو چې دی دغسې استعداد لري چې په تاریخ او جامعې کې د خپل محدودېدا و نظر له موقف څخه هیک هېرې. دا هغسې استعداد دی، چې لکه څنګه چې ما په یوه رومبي لیکچر کې پرې نظر اظهار کړی و، څه یې د هغه په خپل استعداد اړه لري، چې په هغه حال کې د خپل شمولیت حد اندازه وپېژني. په بل عبارت د پوره افاقیت ناممکن توب وپېژني. دوهمه دا چې موږ له هغه څخه دغسې مفهوم اخلو چې مورخ دغسې استعداد لري چې اینده په باب خپل دید او نظر په داسې ډول طرحه کړی چې و ده ته د ماضي په باب ډېر دوام لرونکی او ژور نظر او بصیرت وربښي، داسې چې د ده دغه بصیرت د هغو مورخانو تر بصیرت نه لیا ډېر ژور او دوام دار وي، چې د هغوی نظر د دوی موجود موقف محدود کړی وي. نن ورځ به هیڅ مورخ د اکټن د هغه اعتماد انعکاس ونه کړي چې هغه د «نهایي تاریخ» په اینده لاره. خو ځیني مورخان داسې تاریخ لیکي چې تر نورو هم ډېر پایږي او هم د همدغه افاقي او نهایي خصوصیت ډېره برخه لري. دوی هغه مورخان دي چې د

۱ . جي، بي، یوي، د ترقۍ مفکوره، ۱۹۲۰، مخ ۵.
۲ . ال.بي، نامیر، تخالفات ۱۹۴۲، مخ ۷۰.

ماضي او اينده په باب، د دغسې نظر خاوندان دي چې زه ورته د اوږدې مودې نظر وايم. د ماضي مورخ د افاقيت په لور يوازې هغه وخت تقرب کولی شي چې د اينده د تفاهم په لور تقرب کوي.

نو په دغه حساب کله چې ما په يوه ړومبني ليکچر کې تاريخ د اوس او ماضي تر منځ يوه مکالمه وګڼله، ما بايد هغه د ماضي د پېښو او مترقي ډول د اينده هدفونو د ظهور تر منځ يوه مکالمه ګڼلې واى. د ماضي په باب د مورخ تاويل، د هغه مربوطو او مهمو حقايقو انتخاب، د نويو هدفونو په مترقي ظهور سره تکامل کوي. يو ډېر ساده مثال به دلته راوړم. تر هغو چې داسې ښکاره کېده چې ستر هدف د اساسي ازاديو او سياسي حقوقو انتخاب د نويو هدفونو په مترقي ظهور سره تکامل کوي. يو ډېر ساده مثال به دلته راوړم. تر هغو چې داسې ښکاره کېده چې ستر هدف د اساسي ازاديو او سياسي حقونو تنظيمول و، مورخ د سياسي او اساسي قانون په چوکاټ کې د ننه د ماضي تاويل وکړ. کله چې اقتصادی او اجتماعي هدفونو د اساسي قانون او سياسي هدفونو ځاى ونيو، مورخانو د ماضي اقتصادي او اجتماعي تاويل ته مخه وکړله. شکاک ممکن داسې ادعا وکړي دغه نوى تاويل تر پخواني نه ډېر سم نه دی، او هر تاويل د خپل عصر له پاره سم دی. دی په دغې ادعا سره ممکن حق په جانب وبريښي. سره له دې هم څرنګه چې په انساني انکشاف کې له اقتصادي او اجتماعي هدفونو سره اشتغال د اساسي قانون او سياسي هدفونو اشتغال څخه، د ډېرې پراخې او په مخ تللې مرحلې تمثيل کوي، د تاريخ اقتصادي او اجتماعي تاويل له خاص سياسي تاويل څخه په تاريخ کې يوه په مختللې مرحله ښيي. پخوانی تاويل نه رد کېږي، بلکې هم په نوي کې شاملېږي او هم عوض کېږي. تاريخ ليکنه يو مترقي ساينس دی، په دغه مفهوم چې تاريخ ليکنه د پېښو په مسير کې، چې هغه په خپله مترقي دی، په پر له پسې ډول د ليا پراخېدونکو او ژور کېدونکو بصيرتونو پلټنه کوي. کله چې وايم موږ «ماضي په باب يو تعميري نظر» ته اړه لرو، زما مفهوم بايد تر ې نه همدغه وي. عصري تاريخ ليکنه د تېرو دوو پېړيو په دوران کې په ترقۍ باندې د همدغې دوه ګونې عقيدې په لرلو سره وده کړې ده او له هغې نه په پرته ژوند کولای نه شي، ځکه چې همدغه عقيده د اهميت معيار او د حقيقي او تصادفي تر منځ د هغه توپير

کولـو محـک تهیـه کـوي. گویتـه، د ژوند په وروسـتي پـړاو کې د گـورډ غوټـه[1] یو څه په تنـدۍ پرېکړه:

«هغـه وخـت چـې عصرونه مـخ په ځـوړ وي، ټـول تمایـلات عنـدی وي، خو له بلـې خـوا څه وخت چې د ویـې نوې دورې د پاره شـیان پخېږي، ټـول تمایلات افاقي وي»[2].

هیـڅ څـوک مجبـور نـه دی چې یـا د تاریـخ په اینـده یا د جامعـې په اینـده عقیده ولـري. ممکـن مـوږ جامعه ورانـه او یا په تدریجي فسـاد سره تبـاه شي او تاریخ ممکن د الهیاتـو قلمـرو کـې ننوځـي، یعنـې د انسـاني کارنامـو مطالعه نـه، بلکې د اسـماني مقصـد مطالعـه وگرځـي، یـا د تاریـخ د ادبیاتـو قلمرو تـه ور وگرځي یعنې بـې له کوم مقصـد او معنـی څخه کېسـې او نکلونـه نقل کړي، مگـر دا به هغه تاریخ نـه وي، کوم چـې مـوږ په تېـرو دووسـوو کالونو کـې پېژندلی دی.

سره لـه دې هـم، زه بایـد پر یوه مشـهور او عمومي اعتراض بحث وکـړم. اعتراض پـه هـرې هغې تیـورۍ باندې دی، چـې د تاریخي قضـاوت نهایي محک پـه اینده کې مومـي. ویـل کېـږي چې د دغـې تیورۍ ضمنـي معنـی دا ده چې موفقیـت د قضاوت نهایـي محـک دی او کـه نـه هـر هغه څـه چې دی او هر هغه څـه چې وي، سـم دی. پـه تېـرو دوو سـوو کالونو کـې زیاترو مورخانو یـوازې د یوه لـور او جهت فرضیه منلې وه، پـه کومـې چـې تاریـخ حرکت کـوي، بلکې په شـعوري یـا غیر شـعوري ډول سره پـه دغـې عقیـدې وو، چـې همدغـه جهـت سـم جهـت و او بشر پـرې له بـد څخه و ښـه حـال تـه او له ښـکته څخـه و پورته حال تـه انتقال کـړی دی. مورخ نه یـوازې دغه جهـت پېژندلـی دی، بلکـې تائیـد کړی یـې هـم دی. د اهمیـت او معنی هغـه ازموینه چـې ده د مـاضي پـه بـاب تطبیق کـړې ده، نه یـوازې د هغه مسیر په احسـاس سره و، پـه کـوم چـې تاریـخ حرکـت کاوه، بکلـې په هغـه مسیر کـې د ده د اخلاقي اشـتغال احسـاس هـم و. د «دی» او «بایـد» او د حقیقت او ارزښـت تر منځ مفـروض دوه گون تـوب حـل شـو. دا د خـوش بـاورۍ نظر و، چې پـه اینده بانـدې د قوي ویسـا د عصر

---

۱ . The Gordian Knot . ، د گـور ډغـو ځانلـه کېسـه لـري او دلته په یوه ځانگـړي زړه مور عمل سره د یـوې سـختې مسـئلې حل کول تـرې مـراد دي(م)

۲ . اقتباس د جې، هویزنگاپه. اشخاص او افکارو کې ۱۹۵۹، مخ ۵۰.

محصول و. ویګان[۱]، او لبرالان[۲] هیګیلیان[۳] او مارکسستان[٤]- الهیون[٥] او عقلیون[٦] په همدغه نظر ټینګ او لږ واضح وو.

بې له کومې مبالغې نه، دا د دوه سوو کالونو د پاره د دغې پوښتنې په مقابل کې چې «تاریخ څه ته وايي؟» د یو منل شوي او بلا اعتراض ځواب په څیر ویل کېدلی شو. د هغه په ضد عکس العمل د وېرې او بدبینۍ له حاضر حالت څخه را ولاړ شوی، چې ساحه یې یوازې الهیونو او شکاکانو ته پرې ایښې ده، چې لومړني یې د تاریخ مفهوم له تاریخ نه بهر لټوي، او وروستني یې تاریخ ته په هیڅ مفهوم قایل نه دی. تول په ګډه موږ ته دا ډاډ را کوي او په ډېر ټینګار سره یې را کوي چې د «دی» او «باید» ترمنځ دوه ګون توب مطلق دی او حل کېږي نه او «ارزښتونه» له «حقایقو» څخه ایستل کېدلی نه شي. زما په فکر دغه لار غلطه ده. راځئ چې یو څو مورخان، یا د تاریخ په باب لیکوالان وګورو، چې د دغې پوښتنې په باب دوی څنګه احساس لرلی دی، دغه کسان، موږ لږ د ډېر په اتفاقي ډول غوره کوو.

ګیبن، په خپل داستان کې چې د اسلام د فتوحاتو له پاره کومه ساحه تخصیص کړې ده، په دغو دلایلو سره یې په ځای او حقه ښوولې ده چې «د محمد پیراوان لا تر اوسه هم په ختیځې نړۍ کې مدني او مذهبي اقتدرا په لاس لري». خو په هغه سربېره وايي چې «د عین همغه زحمت به یې له استحقاقه په هغو وحشي ډلو پیرزو شي چې د اومې او دولسمې پېړۍ تر منځ د توران[۷] له ډاګونو نه را ښکته شول». ځکه چې د «بیزانس د تخت عظمت دغه بې نظمه حملې دفع کړلې، او ځان یې وساته».[۸]

دا نامعقوله نه برېښي. تاریخ په عمومي ډول، د هغو پېښو ثبت دی، چې خلکو څه کارونه وکړل، نه دا چې په کولو یې ناکام شول. نو تر دغه حده، حتمي ده

1 . Whigs.
2 . LIBERALS.
3 . Hegelians.
4 . Marxists.
5 . T heologians
6 . Rationalists.

۷ .، د توري بحیرې شمالي سیمې.(م) Scythia.
۸ . ګیبن، د روم د امپراتورۍ، انحطاط او سقوط فصل.

چې تاریخ د موفقیت داستان دی. د پروفیسر ټاني[۱] په عقیده مور «د حتمیت ظاهري بڼه» و هغه موجود نظام ته نه ورکوي چې یې «قوتونه کوم چې موفق شوی دی، لوړوالي ته رسولی دی او هغه یې په شاوهلی دی، چې دوی هغه له منځه وړي دي»[۲] خو ایا په یوه مفهوم سره، همدغه د مورخ د وظیفې جوهر نه دی؟ مورخ باید مخالف قوت لږ ونه ښیي. دی باید موفقیت، چې که له خطراتو سره مخامخ، اسان ونه ښیي. کله کله داسې کېږي، چې په نهایي نتېجو کې، ناکامانو د کامیابانو په څېر ډېر کومک کړی وي. دغه اصلونه هر مورخ ته اشنا دی. خو په عمومي ډول، مورخ له هغو کسانو سره علاقمن دی، چې څه یې اجرا کړي وي، فرق نه کوي، چې دوی غالب یا مغلوب شوي وي. زه د کرکټ په تاریخ کې تخصص نه لرم، مگر د هغه پاڼې په قوي احتمال د هغو کسانو په نومونو سره ښکلی شوی دی، چې سل گونه یې پوره کړي وي، نه دا چې سر یې وهلی وي او له یوه اړخ نه وتلی وي. د هیگل په دغې مشهورې وینا، چې په تاریخ کې «یوازې هغه کسان زموږ نظر جلبوي چې دولت تشکیل کوي»[۳] په حقه اعتراض شوی دی چې، دی د اجتماعي تشکیل یوې بڼې ته په خاص ارزښت قایل کېږي او د کرکجنې دولت – نمانځنې له پاره لاره هواره کوي. خو د پرنسیب له مخې هغه څه چې دی کوښښ کوي ووایي سم دی. او دی د تاریخ او ماقبل التاریخ ترمنځ د توپیر مشهور انعکاس کوي. یوازې هغه خلق چې د خپلې جامعې په تنظیم کولو سره موفق شوي دي، نور نو د لومړنیو وحشیانو په څیر نه دی او په تاریخ کې داخلېږي کارلایل، په خپل اثر (د فرانسې انقلاب) کې پنځلسم لویي[۴] د «جهان عین مجسم بې تمیزۍ» بولي. دغه عبارت د ده ډېر خوښ و، ځکه چې هغه یې په یوې وروستۍ اوږدې فقرې کې ښکلی کړی و.

«دا څه نوی عالمي سرگیچوونکی نهضت دی. د موسساتو، اجتماعي تنظیماتو فردي دماغونو چې یو وخت یې په گډه کار وکړ، اوس په گیچ تصادم کې سره ټکر خوري او ټوکر ټوکر کېږي؟ حتمي او ناگزیر، دا د جهاني بې تمیزۍ انحلال دی

1 Prof R. H. Tawney

۲ . آر. اچ، ټاني. په شپاړسمې پېړۍ کې د مځکو مسئله ۱۹۱۲، مخ ۱۷۷.

۳ . د تاریخ د فلسفې په باب لیکچرونه، انگریزي ترجمه ۱۸۸۴، مخ ۴۰.

۴ . ۱۷۱۰-۱۷۷۴، د فرانسې پاچا(م).

چې په پـای کې زوړ شـوی دی»[۱]

محـک یـو ځـل بیا هـم تاریخـي دی. هغه څه چـې په یوه عـصر کې متوافـق وو، پـه بـل کـې بې تمیزي شـوه او په همدغـه دلیل سره محکومېږي. داسـې ښـکاري چې سر ایسـایه برلیـن، څه وخت چې د فلسـفې مجرداتو له هسـکو څخـه را کوزېږي او په مشـخصو تاریخي حالاتو سـوچ کـوي، دغه نظر ته نـږدې کېږي. ده په هغـې رادیویي وینـا کـې چې د خپلې مقالـې «تاریخي حتمیت» له چاپولو نه وروسـته وکړه بسـمارک یـې سره لـه اخلاقـي نیمګړتیـاوو د یـوه «نابغـه» پـه حیث وستاسـه او هغه یـې په تېرې پېړۍ کـې، د سیاسي قضـاوت د لوړولو صلاحیتونو د سیاسـت چې د یوه سـتر مثال په حیث تعریف کړ او له دغسـې کسـانو لکه د اسـتریا دوهم جوزف[۲]، روبسـپیر[۳] لینن او هټلر سره یې په مقایسـې کې ښـه او غوره وګاڼه. د ده په فکر، وروسـتیو کسـانو ونه شـو کولـی، خپلو مثبتـو هدفونو ته تحقـق ورکړي دغه حکـم، ما ته عجیـب او غریب معلومېـږي. خـو هغه څـه چې اوس مـې علاقمن کوي د قضـاوت معیار دی.

سر ایسـایه برلیـن وایـي چـې بسـمارک پـه هغو مـوادو، په کومـو کې چـې ده کار کاوه، ښـه پوهېـده، او هغـه نـور هغـو مجردو تیوریو پسـې یـووړل، کوم چـې په عمل کـې نـاکام شـول. د دې نتیجـه دا شي چـې «ناکمـي د هغه پـه مقابل کې چـې تر ټولو ښـه کار کـوي.... لـه مقاومـت څخـه را پیـدا کېـږي، او هغـه د کـوم نظـم میتـود، یـا پرنسـیب پـه ګټـه چـې د کلي او عالمـي اعتبـار ادعا کـوي»[٤]. به بـل عبارت، پـه تاریخ کـې د قضـاوت محک هغه «پرنسـیپ چـې د عالمي اعتبـار ادعا کوي» نـه دی، بلکې «هغـه دی چـې تر ټولـو ښـه کار کوي».

دې تـه څـه اړه نه شـته چې وویـل شي دا یوازې هغه وخت نـه دی، چې څه وخت مـاضي تحلیـل کېـږي، مـوږ پـه دغـه محک یعنـې «هغه چـې تر ټولـو ښـه کار کوي» اسـتناد کـوو. کـه چـا در تـه وویـل چـې د دده په فکـر په همدغه اوسـني حـال کې، په یـوه ځانګـړې دولـت کې او د یوه ځانګـړي واکمن تر اداري لانـدې، د لویې برتانیا او د امریکـې د متحـده ایالتونـو اتحادیه مطلوب امر دی، تاسـې بـه وروسره موافقه وکړئ،

۱ . ني کارلایل، د فرانسې انقلاب. ۴ فصل، ۷ فصل.

2 . Josephii.

۳ . ۱۷۵۸ - ۱۷۹۴ . فرانسي انقلابي،(م). Robespaire.

۴ . په بي،بي،سي کې د سیاسي قضاوت، په باب خپرونه، دریم پروګرام. ۱۹۵۷/جون/۱۹ .

چې دا یوه ښه معقوله نظریه ده. که یې خپلو خبرو ته داسې دوام ورکړ، چې د حکومت د یوه شکل په حیث مشروطه پاچایي له جمهوري دیموکراسۍ څخه غوره ده، ممکن تاسې بیا هم ورسره موافقه وکړئ چې دا ښه معقوله ده. خو فرض کړئ چې ده درته وویل چې دی پیشنهاد کوي د دغسې مبارزې له پاره وخت وقف کړئ، چې دواړه مملکوتونه دې د بریتانیا تر تاج لاندې بیا یوه اتحادیه جوړه کړي، ممکن تاسې ور ته ځواب ورکړئ چې دی خپل وخت خوشي عبث کوي. که مو کوښښ وکړ چې علت یې څرگند کړئ، ممکن ور ته ووایئ چې دغه راز مسایل باید په دغسې ډول تر بحث لاندې ونه نیول شي چې هغه د کوم پرنسیپ د عمومي تطبیق په اساس وي، بلکې باید دغسې وي چې په ټاکلو تاریخي شرایطو کې کوم څه موثر وي او کار کوي. تاسې ممکن دغه اساسي گناه هم وکړئ او تاریخ په غټو تورو یاد کړئ او ورته ووایئ چې تاریخ(په غټې تې سره) ستاسې په خلاف دی. د سیاست چې کار دا دی چې نه یوازې د هغه کوم چې د اخلاق او تیورۍ له مخې مطلوب وي، بلکې هغه قوتونه چې په جهان کې هم موجود دي، تر غور او کتنې لاندې ونیسي، داسې هم دا په نظر کې ونیسې چې دغه قوتونه به څنگه د هغو هدفونو د یو څه برخې د تحقق له پاره کوم چې په نظر کې نیول شوی دی، په کار کړل شي.

زموږ هغه سیاسي فیصلې، کومې چې زموږ د تاریخ د تاویل په رڼا کې کیږي، په همدغې روغې جوړې کې رول ریښې لري. هیڅ څیز دومره ډیر غلط نه دی، لکه چې موږ د مطلب کوم مفروض مجرد معیار ساز کړو او د هغه په رڼا کې په ماضي حکم وکړو. راځئ چې د «موفقیت» د کلمې په عوض چې تبعیضي رنگ لري، دغه بې طرفه افاده یعنې «هغه چې تر ټولو ښه کار کوی» په ټوله معنا استعمال کړو. څنگه چې په دغو لیکچرونو کې څو ځایه ما له ایسایه برلین سره دعوی کړې دی، خوښ یم چې دغه وینا، په هر حال، له ده سره د موافقت تر یو څه اندازې پورې پای ته ورسوم.

مگر د «هغه چې تر ټولو ښه کار کوی» د محک منل د هغه تطبیق اسان او بدیهي نه گرځوي. دا داسې یو محک نه دی، چې عاجل حکمونه تحریکوي، یا هغه نظر ته سر ټیټوي چې هر هغه څه چې شته دی، درست دی. په تاریخ کې

بلاربې ناکامۍ ګڼي نامعلومې نه دي. تاريخ هغه څه چې زه يې د «ټال شوې کارنامې» په نامه يادوم، پېژني، ممکن د نن ورځې ظاهري ناکامۍ ګڼې د سبا کارنامو له پاره حياتي مرسته کړې وي - پيغمبران چې له خپل عصر څخه دمخه ظاهر شوي دي. په حقيقت کې، نظر يو مفروض ثابت او کلي پرنسيب ته د دغه محک يوه فايده دا ده چې د هغه په احتمالي تقاضا موږ خپل قضاوت سبا ته ټال کړو او يا د هغو څيزونو په رڼا کې چې لا تر اوسه واقع شوي نه دي، دغه محک تعديل کړو. پرودون[1] چې د مجردو اخلاقي پرنسيبونو په عبارت په ازاد ډول ګړيده دريم ناپليون[2] کودتا يې وروسته له دې چې بريالۍ شوه، ناليدلې وشمېرله. مارکس چې د مجردو اخلاقي پرنسيپونو ترديد کاوه، پرودون يې په دغه ناليدلي توب باندې محکوم کړ. موږ چې وروسته له ډېره وخته په هغه نظر واچوو، په دې موافقه وکړو، چې پرودون غالباً غلط او مارکس په حقه و. د بسمارک کارنامه د تاريخي قضاوت د دغې مسئلې د ازموينې له پاره ډېره ښه مبتدا تهيه کوي. په دغسې حال کې چې زه د سراسيايه برلين مطلق«هغه څه چې تر ټولو ښه کار کوي» منم، زه لا تر اوسه په هغو تنګو او او اوږدمهاله حدودونو تعجب کوم چې دی د هغه د ننه ظاهراً د هغه په تطبيق کولو قانع دی. ايا هغه څه چې بسمارک خلق کړل، په رښتيا ښه کار يې وکړ؟ زما په فکر چې هغه د لويې تباهۍ سبب شو. د دې معنی دا نه ده چې غواړم بسمارک يعنې هغه چا چې د جرمن رايخ[3] جوړ کړ او يا د جرمن ولس يعنې چا چې د دغه رايخ غوښتنه کوله، او په جوړولو کې يې سهم لاره، محکوم کړم. خو د يو مورخ په حيث، زه تر اوسه هم مجبور يم ډېرې پوښتنې وکړم. ايا دغه بعدي تباهي له دغه امله پېښه شوله چې د رايخ په تشکيل کې څه نقض و؟ يا له دې امله پېښه شوله چې په داخلي شرايطو کې کوم چې د رايخ د ظهور سبب شو، کوم شی د دې سبب شو چې هغې متجاوز او خودخواه کړي؟ يا له دې امله چې څه وخت چې رايخ جوړ کړل شو، اروپايي يا جهاني صحنه لا تر هغه دمخه دومره ډکه شوې وه او د موجودو سترو قوتونو په منځ کې د پراخېدلو هڅې دومره قوي شوې وې، چې د يو بل پراخېدونکی ستر قوت ظهور بس د دې کافي وو،

1 . ۱۸۰۹-۱۸۶۵ . فرانسيي سوشلست او مصنف.(م) P.J.Proudhon.
2 ، ۱۸۰۸-۱۸۷۳ . د فرانسې امپراتوري. ۱۸۵۲-۱۸۷۰ . (م) Napoleon.
3 . د جرمني دوهمه امپراتوري، ۱۸۷۱ - ۱۹۱۸ . (م) German Reich.

چې د یو عمومي تصادم سبب شي او ټول سیستم وران ویجاړ کړي؟ دابه غلطه وي چې د وروستۍ فرضیې په اساس، بسمارک یا د جرمن خلق د دغې تباهۍ مسئول او یا کاملاً یوازې مسئول وګڼل شي.

تارې واقعاً نه شي کولای ورستي وانښه ګرم وبولئ. مګر د بسمارک په کارنامو باندې او دا چې هغو څنګه کار وکړ افاقي قضاوت د دغو پوښتنو په مقابل کې د مورخ ځواب ته انتظار باسي او زه په دې باور نه لرم چې دی لا تر اوسه په دغسې موقف کې وي چې هغو ته په قطعي ډول ځواب ورکړل شي. هغه څه چې زه غواړم ووایم دا ده چې د ۱۹۲۰ د لسو کالونو مورخ نظر د ۱۸۸۰ د لسو کلونو مورخ ته ډېر نږدې دی، او د ۲۰۰۰ کال مورخ به تر هغه لا هم نږدې وي. او دا زما هغه نظر تمثیلوي چې افاقیت په تاریخ کې د قضاوت په دغسې کوم ثابت او معین معیار استناد نه کوي او نه یې کولی شي، چې دلته همدغه اوس موجود دی، مګر هغه په دغسې معیار استناد کوي چې په اینده کې پروت دی او د تاریخ د جریان له وړاندې تګ سره تکامل کوي. تاریخ یوازې هغه وخت افاقیت او مفهوم پیدا کولی شي چې د ماضي او اینده تر مینځ یو منسجم او منطقي ارتباط ټینګ کړي.

راځئ چې د حقیقت او ارزښت تر مینځ په دغه مفروض دوه ګون توب یو بل نظر واچوو. ارزښتونو له حقایقو څخه ایستل کیدلی نه شي. دغه حکم نیمایي درست، مګر نیمایي غلط دی. تاسې باید یوازې د ارزښت هغه سیستمونه تر غور لاندې ونیسئ چې په یوه عصر یا کوم هېواد کې مسلط وي تر څو د دغه درک وکړي چې څومره یې د محیط حقایقو جوړ کړی دی.

په یوه دمخني لیکچر کې ما د دغسې ارزښتي کلماتو لکه ازادي، مساوات یا عدالت متحولو مطالبو ته توجه اړولې وه. عیسوي کلیسا د یوې موسسې په حیث را واخلي چې په زیاته اندازه د اخلاقي ارزښتونو له خپرولو سره کار لري. د لومړنۍ دورې د عیسویت ارزښتونه د منځنیو پېړیو په باب د قلمرو[1] له ارزښتونو سره پرتله کړی، یا د منځنیو پېړیو د پاپ د قلمرو ارزښتونو د نونسمې پېړۍ د پروتستانو د کلیسا ګانو له ارزښتونو سره مقایسه کړئ. یا هغه ارزښتونه کوم چې نن ورځ یې مثلاً عیسوي کلیسا په هسپانیې کې خپروي، له هغو ارزښتونو سره مقایسه کړئ،

1 . Papacy.

کـوم چـې د امریـکا پـه متحـده ایالاتونو کـې کلیسـاګانې تبلیغ کـوي. د ارزښـت دغه اختلافـات، د تاریخـي حقیقت له اختلافاتو څخـه راولاړېږي. یا هغـه تاریخي حقایق تـر غـور لانـدې ونیسـی کـوم چـې یـو نیـم سـل کالـه رومبـی د دې سـبب شـو چـې غلامـي یـا نـژادي غیر مسـاوات او یـا د ماشـومانو د کار اسـتثمار منځ تـه راوړي، دغه ټـول یـو وخـت په اخلاقـي لحاظ بې طرف یـا نیک منـل شـوي وو، او اوس په عموي ډول غیـر اخلاقـي ګڼل شـوي دي. دغـه قضیه چې ارزښـتونه له حقایقو څخه ایسـتل کیدلـی نـه شي، یـوه اړخیزه او تېـر ایسـتونکې ده. دالاحد اقـل یو حکـم دی، یا رائځ دغـه حکـم سرچینـه کـړو. حقایـق لـه ارزښـتونو څخـه ایسـتل کېدلـی نـه شي. ددغه حکـم یوه برخه سـمه ده، تېر ایسـتونکی به هـم وي او په دغه لحاظ قیـد او شرط ته اړه لـري. کلـه چـې موږ پـه دغه لټه کـې یو، چې پـه حقایقو پوه شـوو، هغه پوښـتنې چې مـوږ یـې کـوو او هغـه ځوابونـه چې یـې حاصلوو، زمـوږ د ارزښـتونو له سیسـتم سره تحریکېـږي، زمـوږ د محیـط د حقایقو تصویر چې مـوږ یې جوړوو، زموږ د ارزښـتونو لـه خـوا جوړېـږي. مثـلاً د هغو کټـه ګوریـو له خوا چې په هغـو سره مـوږ حقایقو ته نـږدې کېـږو. دغـه تصویر د مهمـو حقایقو لـه جملې څخـه دی، چې یې مـوږ باید په نظـر کـې ولرو ارزښـتونه په حقایقـو کې ننوځي او د هغه یوه اسـاسي برخـه وي. زموږ ارزښـتونه د انسـانانو پـه حیـث زمـوږ د الاتو یوه اسـاسي برخـه ده. دا زمـوږ د ارزښـتونو پـه وسـیلې سره ده چـې مـوږ د هغـه اسـتعداد خاونـد کېـږو چې پـه هغـه سره له خپل محیـط سره توافـق کـوو او پـه خپـل محیط بانـدې دغسـې حاکمیت ګټو، چـې تاریخ یـې د ترقـۍ یـو ثبـت ګرځولی دی. خـو له محیـط سره د انسـان د مبارزې په برجسـته ښـودلو سره، د اعمالـو او ارزښـتونو ترمنځ کاذب تضاد، یـا کاذب انفکاک مه قایموی. ترقـي پـه تاریـخ کـې د حقایقـو او ارزښـتونو د یو تر بلـه تعامـل او د یو بـل د ارتباطا له لارې حاصلـه کیدلـی شي. افاقـي مورخ هغه مـورخ دی چې په همدغـې دوه اړخیزې عملیـې کې ښـه دننـه ور ننوځي.

د «رښـتین توب»[1] د کلمې عادي اسـتعمال دحقایقو او ارزښـتونو د مسـئلې له پاره یـو لارښـود او کلي تهیـه کـوي، دغه کلمه د حقیقت[2] جهان د ارزښـت لـه جهان څخه لیـرې کـوي، او د دواړو لـه عنـاصرو څخه جـوړ دی. دا یـوازې د انګلیسي ژبې خاصه

1 . Truth.

2 Fact.

افـاده نـه ده. په لاتيني ژبو کې د رښـتين تـوب د پاره کلمات د جرمني ژبـې Wahrheit د روسي ژبـې Pravda ټـول دغـه دوه ګـون خصوصيـت لـري. دا به حقيقـت وي چې زه پـه تېـره هفتـه کـې لنـدن تـه ولاړم، خـو ته به پـه عـادي ډول رښـتين توب ورتـه ونه وايـې، ځکـه چـې هغـه ارزښـتي محتويـات نه لـري. له بلـې خـوا، کله چـې د متحد ايالاتـونـو موسسـو پلرونـو دازادۍ پـه اعلاميـې کې هغه مسـلم رښـتين توب ته اشـاره وکړله چې ټول انسـانان مسـاوي خلق شـوي دي، تاسـې ممکن د دې احساس وکړئ، د دغـه حکـم ارزښـتي محتويـات پـه حقيقـي محتوياتو ډېره چـربي کـوي او ممکن په همدغـه لحـاظ د هغـه دغـه حق بانـدې چې دی د رښـتين تـوب په حيـث وګڼل شي، اعـتراض وکـړي. چېرتـه چـې د دغـو دوو قطبونـو تـر منځ د شـمالي قطب له ارزښـته خـالي د حقايقـو او د جنـوبي قطـب ارزښـتي قضاوتونه چې تر اوسـه هم مبـارزه لري چـې ځانونـه پـه حقايقـو تبديـل کـړي. د تاريخي رښـتين توب قلمـرو واقـع دی. لکه څنګـه چـې مـا په لومـړي ليکچر کې وويـل، مورخ د حقيقـت او تاويـل، د حقيقت او ارزښـت ترمينـځ، يو متـوازن موقف لري. دی نـه شي کولی هغه سره بېله کـړي. په يوه ولاړ او سـاکن جهـان کـې، د دې امکان شـته چې تاسـې دې د حقيقت او ارزښـت تر منځ بيلتـون اعـلام کـړی. مګـر تاريخ په يوه سـاکن جهـان کې هيـڅ مفهوم نـه لري. تاريـخ پـه خپـل اصـلي ماهيت کې، تحـول او نهضـت دی او که تاسـې پـه دغې زړې کلمـې انتقادونه لـرئ، نو تاريـخ ترقي ده.

نـو زه پـه پـای کـې، دا اکټـن د ترقـۍ وينـا تـه ګرځـم، چـې د ترقۍ «هغـه علمـي فرضيـه ده چـې د هغـه پـه اسـاس بايـد تاريخ وليـکل شي». که تاسـې وغـواړئ کولی شـی چـې تاريـخ پـه الهياتـو واړوی، په داسـې ډول چې د مـاضي مفهوم، کـوم اضافه تاريـخ يـا فوق-عقـلي قـوت تـه مربوط کـړی. که وغـواړی کولی شـی، چـې تاريخ په ادبياتـو بـدل کړی، داسـې چې هغـه د ماضي په باب، د کېسـو او افسـانو يوه مجموعه وشـمېرې، بې لـه دې چـې مفهـوم او اهميـت ولري. پـه حقيقـي مفهـوم سره، تاريخ يـوازې د هغـو کسـانو لـه خوا ليـکل کيدلـی شي، چـې دوی په خپلـه په تاريـخ کې د جهـت احسـاس کـوي او منـي يـې. دغه عقيـده چې مـوږ له کـوم ځای څخـه راغلي يـو لـه هغـې عقيـدې سره، چې مـوږ چېرتـه روان يو، نـږدې ارتبـاط لري. هغـه جامعه چـې د ترقـۍ پـه بـاب په خپل اسـتعداد بې عقيدې شـوي وې، پـه اينده کې بـه د هغې

ترقـي پـه بـاب زر عـلا ته بايـلي، چې يې په مـاضي باندې لرلـه. لکه څنګـه مې چې د لیکچـر پـه شروع کـې وویـل، د تاريـخ په متعلـق زموږ نظـر د جامعې په بـاب، زموږ د نظـر انعـکاس دی، زه اوس د سر ټکـي ته بېرتـه ګرځم او د جامعې په اینـده او د تاریخ پـه اینـده خپله عقيـده اعلاموم.

# پراخېدونکې غاړې

ښکاري چې هغه مفکوره چې ما په دغو لیکچرونو کې ځای کړې ده داسې چې تاریخ مې دیوې پر له پسې خوځېدونکې عملیې په حیث چې مورخ ورسره خوځېږي، ښوولې ده، پر ما لازمه ګرځوي، چې زموږ په عصر کې د تاریخ او د مؤرخ د دریځ په باب ځینې وروستي سوچونه وړاندې کړم. موږ په دغسې عصر کې زیست کوو، چې د نړۍ د تباهۍ وړاندوینې رواني دي او په موږ ټولو سختې تمامېږي. دغه وړاندوینې البته څه نه دي او ثابت کېدلی او رد کېدلی هم نه شي. خو هغه تر دغې وړاندوینې یقنیي توب موږ له دې څخه نه منع کوي، چې د خپلې اینده په باب پلانونه جوړ کړو، نو زه د خپلې جامعې او اینده په باب خپل بحث اوږدوم او دغه بحث د دغې فرضیې په اساس کوم چې دغه هېواد(برتانیه) یا که دغه هېواد نه وي، د جهان کومه بله برخه به له هغو اتفاقاتو څخه مصئونه پاتې شي، چې موږ ترټې او تاریخ به دوام کوي.

جهان د شملې پېړۍ په نیمایي کې د تحول د عملیې په پنجو کې سخت ګیر دی. دغه تحول، په غالب ګمان، تر هغه بل تحول نه ډېر ژور او پراخ دی کوم چې زموږ په جهان کې وروسته له هغې چې د منځنیو پېړیو یو جهان رنګ شو، او په پنځلسمې او شلمې پېړۍ کې د معاصر جهان تاداو کېښودل شو، پیښ شوی دی. په دې کې څه شک نه شته چې دغه تحول، په نهایت کې د علمي کشفیاتو او اختراعاتو زېږنده دی، داسې چې دهغو د تطبیق ډګر لا هم پراخ دی او انکشافات

په مستقیم یا غیر مستقیم ډول، له هغو شخصه پیدا شوی دی. اجتماعي انقلاب، د دغه تحول خورا څرګند اړخ دی. دغه انقلاب له هغه انقلاب سره د مقایسې وړ دی، چې په پنځلسمې او شپاړسمې پېړۍ کې پېښ شو او دغسې نوې طبقه یې منځ ته راوستله چې لومړی په فاینانس او سوداګرۍ او وروسته په صناعت بنا وه. زموږ د صناعت نوی جوړښت او زموږ د جامعې نوی جوړښت دغومره ډېر پراخ مسایل را دمخه کوي، چې زه نه غواړم دلته پرې بحث وکړم. خو دغه تحول دوه اړخونه لري، چې دواړه یې زما له موضوع سره ډېر نږدې ارتباط لري. یو به یې زه د ژورتیا تحول او بل د جعرافیایي پراختیا تحول وبولم. دلته به په دغو دواړو تحولاتو یو څه رڼا واچوم.

تاریخ هغه وخت شروع کېږي، چې څه وخت انسانانو د زمانې د تېرېدو په باب د طبعي عملیې یعنې د موسمونو د تدویر، یا د بشر د عمر د اوږد والي په اساس سوچ نه کوي، بلکې د یو لړ مشخصو پېښو په اساس پرې فکر کوي، چې انسانان په هغو کې په شعوري ډول داخل وي او پرې تاثیر کولی شي. برکهاردت وایي چې تاریخ «له طبیعت سره مقاطعه ده چې علت یې د شعور ویښتیا ده»[۱] تاریخ د انسان د اوږدې مبارزې داستان دی. دغه داستان د ده د عقل په تمرین سره حاصلېږي او منظور یې دا وي چې انسانان خپل چاپېریال وپېژني او عمل پرې اجرا کړي. مګر اوسنی عصر، دغه مبارزه په انقلابي ډول پراخه کړې ده، انسان اوس په دغه لټه کې دی، چې نه یوازې خپل چاپېریال، بلکې خپل ځان هم وپېژني او په هغه عمل اجرا کړي. دغه حقیقت، د چا خبره، عقل او تاریخ دواړو ته یو نوی بعد ور اضافه کړی دی. اوسنی عصر، د تاریخي ذهنیت له مخې تر هر بل عنصر ډېر ویښ او قوي دی. عصري انسان له ځان نه آګاه او په دغه ډول له تاریخ نه اګاه دی او دغه اګاهي یې بېجوړې ده، دی په مینه او شوق هغه شفق ته بېرته نظر کوي، له کوم څخه چې دی را وتلی دی. هیله او اسره یې ترې نه دا وي، چې د هغې نرۍ رڼاوې به هغه تږمې روښانه کړي په کومو کې چې دی خوځېږي. معکوساً، د هغې لارې په باب، چې د ده د وړاندې اوږده غزېدلې ده، د ده هیلې او تشویشونه د ده بصیرت په دې باره کې چې د ده شاته څه شی واقع دی، چټک کوي. ماضي،

۱ . جي.برکهاردت، د تاریخ په باب تفکرات، ۱۹۵۹، مخ ۳۱.

اوس او اینده ټول د تاریخ په بې انتها کړې کې سره تړلي دي.

د عصري جهان تحول چې د خپل ځان په باب د انسان د شعور له انکشاف څخه متشکل دی، شاید له دکارت[۱] څخه شروع شوی وي. ده د لومړي ځل له پاره د انسان مقام د یوه داسې موجود په حیث تثبیت کړ چې نه یوازې سوچ کولی شي، بلکې د خپل سوچ به باب هم سوچ کولی شي. په دغه ډول انسان په عین وخت کې د تفکر او مشاهدې فاعل او موضوع هم کېدلې شي. خو د اتلسمې پېړۍ تر نیمایي پورې دغه انکشاف پوره واضح نه شو، یعنې تر هغه وخت پورې چې روسو[۲] د انسان د ځان پېژندنې او د ځان اګاهۍ په باب د ژورتیا نوی تل پرانیست، او د طبیعت د جهان او عنعنې مدنیت په باب یې، انسان ته یوه نوې جهان بیني وروبښله. د ټاک ویل په فکر، د فرانسې دا انقلاب خوځوونکې هغه «عقیده وه چې کوم څه چې غوښتل کېدل، دا و چې ساده ابتدایي قواعد چې د انسان د عقل له تمرین او طبعي قانون څخه راوځي، د هغو عنعني عادتونو مغلق ځای ونیسي کوم چې د وخت اجتماعي نظام اداره کوي»[۳]. اکټن، په یوه خطي یادداښت کې ولیکل چې «انسانان تر هغه وخت هیڅکله د حریت په لټه کې نه وو، مګره هغه وخت چې پوه شول چې دوی څه شی غوښتل»[۴]، د اکټن او هیګل په فکر حریت او عقل هیڅ وخت سره بیل نه وو او د فرانسې له انقلاب سره د امریکې انقلاب نښتی و.

«څلور شلې او اوه کاله ړومبی، زمو پلرونو په دغې سترې وچې کې یو ملت جوړ کړ، چې په حریت بنا و او په دغه اصل ګروهیدلی و چې ټول انسانان برابر شته شوي دي»

څنګه چې د لنکلن له خبرو څخه څرګندیږي، دغه یوه بېجوړې پېښه وه، یعنې په تاریخ کې هغه لومړني موقع وه، چې انسانا په شعوري او ارادي ډول سره په یوه ملت کې متشکل شول او وروسته په ارادې او شعوري ډول په دې پسې شول چې نور انسانان هم په همغه قالب کې ور داخل کړي. په اولسمې او اتلسمې پېړۍ کې، انسانان له خپل چاپېریال او د هغه له قوانینو څخه پوره اګاه شوې وو. قوانین

---

۱ . ۱۵۹۶-۱۶۵۰. فرانسې فیلسوف.(م) R. Descartes..

۲ ، ۱۷۱۲-۱۷۷۸، فرانې فیلسوف او مصنف.(م). J.J.Rousseau

۳ . ای. تاک ویل، پخوانی رژیم، لومړی فصل.

۴ . د کیمبرج د پوهنتون کتابخانه، خطي نسخه، ۴۸۷۰.

نـور نـو د یـوه مرموز ځښـتن کوم مورمـوز فرامین نـه وو، بلکې هغه دغسـې قوانین وو چـې انسـان ورتـه تابـع و، او د ده د خپـل لاس جـوړ کـړي قوانیـن وو. په بـل پړاو کې انسـان پـه خپـل چاپیریـال او په خپل ځـان باندې لـه خپل قـوت څخه پوره اګاه شـو. داسـې هـم دی پـه هغـه حـق پوره پوه شـو چـې دغسـې قوانین وبـاسي چـې د هغو د لاندې ژونـد وکړي.

لـه اتلسـمې پېـړۍ څخه و معاصر جهـان ته انتقـال اوږد او تدریجـي و. هیګل او مارکـس د هغـه ممثـل فیلسـوفان وو او دواړو د عیـن شي پـه لـور یو او مشـابه موقف نیولـی دی. د هیـګل موقـف د اسـماني قوانینـو پـه عقیدې کـې ولې لري چـې د عقل پـه قوانینـو سره تبدیـل شـوي دي. د هیـګل جهاني روح پـه کلکه سره په یـوه لاس سره ځښـتن او پـه بـل سره عقـل نیسـې. دی د ادم سـمت[1] انعـکاس کـوي: افـراد «خپلـې منافـع لټـوي: خـو پـه دغـو لټولـو سره یـو نـور څه اجـرا کېـږي چـې د دوی پـه عمل کـې مرکـوز وې کـه څـه هـم د دوی پـه شـعور کې موجـود نـه وي». د جهـان د عقلي مقصـد پـه بـاب، دی لیکي چې انسـانان«این د اسـتدراک پـه عمل کې، لـه هغه څخه دغسـې یـوه موقـع جوړوې چـې خپله هیله تر سره کـړي، چې د هغـې معنی له مقصد څخـه فـرق لـري» دا صرف د منافعـو هم اهنګي ده چې د جرمني فلسـفې پـه ژبه اړول شـوې ده.[2] دسـمت «د پـټ لاس» پـه مقابل کې د هیـګل معادل د «عقـل زیرکي» هغه مشـوره افـاده ده چـې انسـانان دغـه کار تـه بـولي چـې هغـه مقاصـد تـر سره کـړي له کومـو نـه چـې دوی اګاه نه دي خـو سره له دې هم، هیګل د فرانسـې د انقلاب د وختو فیلسـوف و، یعنـې لومړنـی فیلسـوف چـې پـه تاریخـي تحـول او لـه خپـل ځـان نه د انسـان د اګاهـې په انکشـاف کـې، د واقعیت جوهـر او اصل درک کړې. پـه تاریخ کې انکشـاف، د ازادې د مفکـورې پـه لـور د انکشـاف معنی پیـدا کړله. خـو ۱۸۱۵ څخه وروسـته د فرانسـې د انقـلاب الهـام د پخـواني رژیـم د بیا مسـتقرېدلو [3] پـه چوپتیا کې بـې نتېجې شـو. هیګل په سـیاسي لحاظ ډېـر ډارن و. دژوند په وروسـتیو کالونو کې د خپـل عـصر په تاسـیس شـوي نظام کـې له حد نـه زیات ونغښـت او ویې نه شـو کړی

---

۱ .۱۷۲۳-۱۷۹۰. سکاټ لینډي سیاسي اقتصاد پوه.(م) Adam Smith.

۲ . دغه اقباسات د هیګل د تاریخ فلسفې نه شوی دی.

3 . Restoration.

چې په خپلو میتافزیکي قضیو کې مشخص مفهوم ځای کړي. هرزن[1] د هیګل نظریات د «انقلاب الجبر» وبلل، او دغه افاده ډېره موزونه ده. هیګل د موسیقي پارچې او نوټونه تهیه کړل، مګر عملي مفهوم یې ورته ورنه کړ. دغه کار مارکس ته پاتې شو چې د هیګل د الجبري معادلاتو له پاره حساب ولیکي.

مارکس د ادم سمت او هیګل د پیرو په حیث، د جهان له دغسې مفهوم نه شروع وکړله، چې د طبیعت عقلي قوانینو ته نظم ورکړی دی. ده دهیګل په څیر، مګر دغه ځل په عملي او مشخص شکل، د جهان و دغسې مفهوم ته انتقال وکړ، چې په قوانینو سره تنظیمېږي او دغه قوانین د انسان د انقلابي ابتکار په مقابل کې په عقلي عملیې سره پخېږي او تکامل کوي. د مارکس په وروستي ترکیب[2] کې تاریخ د درې شیانو مفهوم لري. دغه شیان له یو بل څخه نه بېلېدونکي دي او ټول یو منطقي او منسجم کل جوړوي او هغه دا دي: د افاقي او بدواً اقتصادي قوانینو له مخې د حوادثو حرکت، په یوې دیالیکتیکي عملیې سره فکري متوافق انکشاف او د طبقاتي مبارزې په شکل چې هغه د انقلاب او تیورۍ او عمل سره پخلا او یو کوي، یو متوافق عمل.

هغه څه چې مارکس یې پیشنهاد کوي، په حقیقت کې د دغو څیزونو ترکیب دی: د افاقي قوانینو او شعوري عمل چې هغه په تمرین او عمل تبدیلوې او هغه چې کله کله چې (که څه هم په غلطه سره) د معینیت[3] او اختیار[4] په نامه یاد شوی دی. مارکس تل د هغو قوانیو په باب لیکنې کوي چې انسانان تر اوسه د هغو تابع وو، خو په خپله ترې نه اګاه نه وو. ده په کراتو دې ته د خلکو پام اړولی دی، کوم چې ده «د غلط شعور» په نامه یاد کړی دی او دغه شعور یې هغو خلکو ته منسوب کړی دی چې د سرمایه دارۍ په اقتصاد او سرمایه دارۍ جامعې کې ګیر او نغښتې دي: «هغه مفهومونه چې د تولید د قوانیو په باب د تولید او تدویر د نماینده ګانو په ذهن کې تشکیل کوی، له حقیقي قوانینو څخه په پراخه پیمانه

1 Herzen.

۲ . په یوه کامل واحد کې د دوو ضدونو ترکیب.(م) Sunthesis.

3 . Determinism.

4 . Voluntarism.

فـرق لـري»[۱] مگـر د مارکـس پـه ليکنـو کـې، د شـعوري انقـلابي عمـل د اجرا لـه پاره واضـح مثالونـه ډېر دي د فويرباخ[۲] په باب د ده مشـهور تيسـس وايي چې:«فيلسـوفانو جهـان يـوازې پـه مختلـف ډول تعبيـر کـړی دی، مگـر مطلـب دا دی چې تعبيـر ورته ورکړل شي» کمونسـت مانيفوسـټو[۳] اعلامـوي چې «پرولټاريا به خپل سـياسي واک نه کار واخـلي چـې بـورژوازي قـدم په قدم لـه پانگې څخه محـروم کـړي او د توليد ټول وسـايل د دولـت پـه لاس کـې متمرکـز کـړي». د لويـي بوناپـارت د اتلسـم برومير[٤] په تاليـف کـې مارکـس له «عقلاني خـود اگاهۍ څخه گرېـږي چې ټول عنعنـي افکار په پېړۍ-قديمـي عمليـې سره منهـدم کـوي». دا د پرولټاريا وظيفه ده چـې د سرمايه دارۍ د جامعـې خطـا شـعور بـه منهدم کـوي او پـه ځای بـه يـې د طبقاتي جامعـې حقيقي شـعور ترويـج کـوي. خـو د ۱۸۴۸ د انقلابونـو ناکامـۍ هغـو انکشـافاتو تـه سـخته څپېـړه ورکـړلـه، چـې څه وخت مارکـس ليکنې کولې پيـښـېدل يې نـږدې معلومېدل، د نونسـمې پيـړۍ وروسـتۍ برخـه د شـتمنۍ او مصئونيـت په قـوي فضا کې تېره شـوه. د شـلمې پيـړۍ په پيـل سره مـوږ د تاريخ اوسـنۍ دورې ته پـه انتقـال شروع وکړله. له هغـه وروسـته نـو د عقـل لومړنۍ وظيفـه دا نـه وه چې يوازې هغـه افاقـي قوانين درک کـړي، کـوم چـې په جامعه کې د انسـان کړه تنظيمـوي. د مارکس په ليکنـو کې (طبقه) کـه څه هم په مشـخص ډول تعريف شـوې نـه وه، په عمومي ډول داسـې افاقي مفهوم لـري چـې په اقتصـادي تحليل سره تثبيـت کېږي. خـو د لينن په ليکنو کـې له (طبقې) نـه پـه «گونـد» باندې ټينـگار کېږي او ورسـتۍ د لومـړني سرقدم او پيشرو تشـکيلوي. پـه هغه کې د طبقاتي شـعور لازمي عنصر داخلـوي. د مارکس پـه نزد«ايډيالوجي» يوه منفـي اصطـلاح يعنـې د جامعـې د سرمايـه داري د نظم د خطا شـعور محصـول گڼله کېـږي. د لينـن پـه ليکنو کـې «ايډيالوجي» يـا بېطرفه يـا مثبته گرځي يعنـې هغه عقيده شي چـې د طبقـاتي اگاه مشرانـو غـوره کسـان[٥] يـې د ولـس او تـودې پـه کارگارو کې تزريـق کـوي چې طبقاتي شـعور لـري. د طقاتي شـعرو قالب ريـزي کول نـور نو کوم اتوماتيکـي عمـل نـه دی، بلکـې يوه وظيفـه ده چې بايـد اجرا شي.

---

۱ . سرمايه، انگليسي ترجمه، مخ ۳۶۹.

2 . Feurbach.

3 . Communism Manifesto.

4 . The Eighteenth Bromaire of louis Binapart.

5 . Elite.

هغـه بـل سـتر مفکـر، چې زمـوږ په عصر کـې یې عقـل ته یو نـوی بعـد وراضافه کـړی دی، فرایـد[1] دی. فرایـد تـر اسـه پـورې یو څـه معمـول ډول شـخصیت غوندې پاتـې دی. دی تربیـت او سـوابقو پـه لحـاظ د نونسـمې پیړۍ لـبرالي فرد پرسـت دی. ده د عـصر مروجـه، مگـر خطـا فرضیـه، بې له کـوم گړوبړ نـه ومنله یعنې چـې د دغې فرضیـې لـه مخـې د فـرد او جامعې تر منځ پـه یو اسـاسي ضدیت باندې قایل شـو. ده انسـانان زیاتـره د بیالوجیکـي واحـد، نه د اجتماعـي واحد په حیث تـر مطالعې لاندې ونیـو. بـه دغه حسـاب ده اجتماعـي چاپیریال یو دغسـې څیـز وگانه چـې تاریخ اعطا کـړی وي او شـکل یـې وراړولـی وي. دغـه تور چـې په خپلـه د فراید په مقابـل کې یو څـه سـم و، د امریکا متحده ایالاتونو د اوسـني نـوي فرادي مکتب[2] پـه مقابل کې پوره صـدق لري.

د دغـه مکتـب پـه اسـاس نـاوړه توافقـات[3] د فـرد پـه طبیعـت کـې نغښـتي دي او د جامعـې پ جوړښـت پـورې څـه اړه نـه لـري. د دغـه اصـل لـه مخې دغـه مکتب د روحیاتـو اسـاسي وظیفـه لـه چاپیریـال سره د فرد پـه تطابق کې گڼـي. په فرایـد باندې هغـه بـل عـام تـور چـې ده په انسـاني چـارو کـې د غیر عقـلي رول[4] پـراخ کـړی دی، گـرد سره غلـط دی. دغـه تـور د انسـاني کـړو د غیـر عقلي او غیـر عقلي ائیـن ترمنځ د گـډوډ شـمېرلو پـه وجـه پیـدا شـوی دی. دا چـې غیر عقـلي ائین نـن ورځ پـه اگریزي ویونکـي جهـان کې شـته دی، لـه بده مرغـه حقیقت لـري. د دغه ائین عمومي شـکل دا دی چـې د عقـلي کارنامـو او ملکانـو تـه په کـم نظر کتل کېږي. دغه نظـر د بدبینۍ او افراطـي محافظـه کارۍ څپـې یـوه برخـه ده چې زه به وروسـته پرې وغږېږم. خو له فرایـد نـه چـې هغه یـو څه ابتدایـي او بې قیده عقل پرسـت ونشـئت نه کـوي. هغه څه چـې فرایـد وکـړل، دا وو چـې زموږ د پوهـې او د پېژندنې حـدود پراخ کـړي او هغه له دغې لارې وکړي چې د انسـاني کړو غیر شـعوري ریښـې او ولې د عقلي او شـعوري تحقیـق لـه پـاره را برسیره کـړي. دا پـه واقعیـت کـې د عقـل د سـاحې پراخـول او د انسـاني قـوت ډېـرول و چې ځان وپېـژني او اداره یې کړي او په دغـه ډول چاپیریال هم

---

1 . Sigmund Freud.
2 . Neo Freudian school.
3 . Maladjustment.
4 . Irrational.

وپېژني او هم یې تنظیم کړي. دا په واقعیت کې د یوې انقلابي او مترقي کارنامې تمثیل کوي. په دې برخه کې فراید د مارکس اثار تکمیل کوي، نقض کوي یې نه. فراید په اوسني جهان پورې اړه لري، په دغه دلیل چې که څه هم د انسان د ثابت او تغییر نه منونکي طبیعت له مفکورې څخه وتښتي، ده د انساني کړو د ریښو او د ژور معرفت له پاره وسایل پیدا کړل او په دغه ډول یې په عقلي عملیو سره د هغه د شعوري اړونې او تغییر له پاره وسایل پیدا کړل.

فراید د مورخ له پاره دوه ګون اهمیت لري. لومړی دا چې فراید د قدیمي اشتباه په تابوت کې وروستی میخ ټک وهلی دی. قدیمي اشتباه دا ده چې هغه خوځوونکي او سوایق چې د هغو په اثر انسانان مدعي وو چې کوم کار یې کړی دی، یا په دغسې عقیدې وو چې عمل یې اجرا کړی دی، په حقیقت ک بېد د دوی د عمل د تشریح له پاره کافي ګڼل کېدل. دغه یو منفي موفقیت او کارنامه چې تر څه حده اهمیت لري که څه هم د هغه ځینو طرفدارانو جدي ادعا چې د روحیاتي – تحلیل په میتودونو سره د تاریخ د سترو کسانو په کړو روښانتیا اچوله کېږي، باید په احتیاط ور ته وکتل شي. د روحیاتي – تحلیل روش د ناروغ په دقیق او څو اړخیز تحقیق بنا لري چې هغه تر تحقیق لاندې نیول کېږي.

تاسې نه شی کولی چې مړی تر تحقیق لاندې ونیسۍ. دوهمه دا چې فراید چې د مارکس اثار پیاوړي کوي، مورخ یې ترغیب کړی دی چې خپل ځان او دریځ او سوایق شاید پټ سواییق تر ازموینې لاندې ونیسي یعنې هغه سواییق چې د ده د موضوع او حقایقو او تعبیر او د ملي او اجتماعي سابقې د انتخاب لارښود شوی دی. دغه انتخاب د ده د نظر کنج، د استقبال تصور او ادراک چې د ده د ماضي ادراک ته شکل و صورت ورکوي، ټاکلی دی. د مارکس او فراید له لیکنو نه وروسته مورخ څه پلمه نه لري، چې خپل ځان د کوم ګوښه شوي فرد په حیث وګڼي، چې له جامعې او تاریخ نه به دباندې واقع وي. دا د ځان د اګاهۍ عصر دی. مورخ په دې پوهیدلی شي او باید پوه شي چې دی څه کوي.

و هغه جهان ته چې ما اوسنی جهان نومولی دی انتقال یعنې نویو ساحو ته د عقل د قوت او وظیفې وسعت لا تر اوسه تکمیل شوی نه دی. دا د انقلابي تحول یوه برخه ده چې شلمه پیړۍ له هغه نه تېرېږي. اوس غواړم د دغه انتقال یو څو

نښې مطالعه کړم.

لومړی بـه لـه اقتصـاد څخـه شروع وکـړم. تـر ۱۹۱۴ پـورې پـه افاقـي اقتصادي قوانینـو عقیـده لرل، چـې د انسـانانو او ملتونو اقتصـادي کړه یې تنظیمول، پـور خو او دورانونـه، د نرخـو ناڅـا یې ښـکته او پـور ته کیـدل،[1] وزګاري، په همدغـو قوانینو سره تړاکل کېـدل. ایـن تـر ۱۹۳۰ په لسـو کالونو کـې، خلکو د «اقتصـادي انـان د ختم» په ویلـو پیـل وکـړ. لـه اقتصـادي انسـان نه مـراد هغـه انسـان و، چې خپلـه ګټه یـې پر له پسـې پـه اقتصـادي قوانینو سره لټوله. له هغه وروسـته د نونسـمې پېړۍ د څو لومړنیو معتقدینـو[2] نـه پرتـه نور نو هیڅچا پـه دغه مفهوم سره پـه اقتصادي قوانینو عقیـده نه لرله. نـن ورځ اقتصـاد، یـا د نظـري معادلاتـو یـو لـړ ګرځېدلـی دی، یـا هغه عمـلي مطالعه شـوې ده، چـې ځینـې خلـک نور خلـک څنګه تر فشـار لانـدې نیسي. دغـه تحول تر ډېـره حـده لـه انفـرادي څخه و پراخـې او جامعـې سرمایـه دارۍ ته د انتقـال محصول دی. تـر هغـو چې د انفرادي متشبث او تجار لاس بر و داسـې نه معلومېده چې څوک دې پـه اقتصـاد کنـټرول ولـري، یـا دې وکولـی شي پـه هغه په مهـم ډول اثر وکـړي، او د غیـر شـخصي قوانینـو او عملیو اشـتباه پـه ځای خونـدي پاتې وه. حتی د انګلسـتان بانـک د خپـل نهایـي اقتـدار پـه ورځو کـې، نه یـوازې د ماهر عامـل او ناظـم په حیث ګڼـل کېـده، بلکې د اقتصادي تمایلاتـو د یوه افاقي او نیمـه اتوماتیک ثبت کوونکي په حیـث هـم ګڼـل کېده. مګر له لیسـه فر اقتصـاد څخه و تنظیم شـوي اقتصاد تـه انتقال دغـه اشـتباه ورکه کړله، فـرق یې نه کاوه چې هغـه د سرمایه دارۍ تنظیم شـوی اقتصاد و، یـا سوسلسـتي اقتصـاد، یا دا چې تنظیـم یې د یوه لـوی او جامع او په نامـه انفرادي سرمایـه دار او یـا شرکتونـو یا د دولت پـه لاس وو.

دا واضحـه شـوله چـې ځینـې خلـک د بعضـو مقصدونـو له پـاره ځینـې پرېکړې کـوي، چـې د تیلـو یـا صابـون بیـه، د عـرضي او تقاضا د کـوم افاقـي قانون پـه مقابل کـې، تغییـر نـه کـوي، هـر څـوک پـه دې پوهېـږي، یا فکـر کوي چـې پوهېـږي، چې وزګاري، د نرخونـو او قیمتونـو د ناڅاپـي ښـکته او پورته تلل، د انسـان د لاس مصنوع دی. حکومتونـه اقـرار او حتـی ادعـا کوي چې دوی یـې په علاج پوهېږي. له لیسـه فر

1 Slumps,

2 . Rip Van  Winkles.

څـه وپـلان جوړولـو، لـه غیر شـعوري څخه د شـعوري او لـه افاقي اقتصـادي قوانینو عقیـده لرلـو څخـه و هغـې عقیـدې ته انتقـال چې انسـان کولـی شي په خپـل عمل د خپـل د اقتصـادي هـدف واکمـن و گرځـي، تکمیـل شـوی دی. اجتماعـي سیاسـت لـه اقتصـادي سیاسـت سره اوږه پـه اوږه روان شـوی دی. پـه حقیقـت کـې اقتصـادي سیاسـت د اجتماعـي سیاسـت یـوه برخـه شـوې ده. اجـازه راکـړئ چـې د کیمـبرج د معـاصر تاریـخ لـه وروسـتي جلد څخه چې پـه ۱۹۱۰ کې چاپ شـوی دی، یـوه ډېره دقیقـه تبـصره را نقـل کړم. دغه تبـصره د دغه یوه لیکـوال ده چې دی به له مارکسـت نه غیـر هـر څـه و، او ممکـن د لینن نـوم یې هیـڅ اوریـدلی نـه وي.

«پـه شـعوري زیـار سره د اجتماعـي اصلاحاتـو پـه امـکان عقیـده لـرل د اروپایي ذهـن مسـلط جریان دی. دغسـې عقیـدې د حریت ځای، چـې هغه د هر څـه د دوا په حیـث یـوه عقیـده گڼـل کېده، ځـای نیولـی دی. په حاضر وخـت کې، د هغـې ترویج هغومـره مهـم او لـه معنـی نـه ډک دی، لکه چـې د فرانسـې انقلاب په هغـه وخت کې د انسـان په حقوقو عقیـده وه».[۱]

نـن ورځ پنځـوس کالـه وروسـته لـه هغـه چـې دغـه فقـره لیـکل شـوې ده او څه بانـدې څلویښـت کالـه وروسـته د روسـیې لـه انقـلاب څخـه او له سـتر کسـاد څخه دېرش کالـه وروسـته، دغـه عقیده پـوره رواج شـوې ده. افاقـي اقتصادي قوانینـو ته له تسـلیمي څخـه کـه څـه هم هغه عقـلي فرض شـوی و، او د انسـان له اداري نـه بهر و، و هغـې عقیـدې تـه انتقال، چې انسـان د خپـل اقتصادي هـدف د تنظیـم او اداره کولو اسـتعداد لـري او هغه په شـعوري عمـل سره اجرا کـوي، زما په فکـر د پرمختگ تمثیل کـوي. دغـه پرمختـگ په انسـاني چـارو کې د عقـل تطبیـق او د ځـان او د چاپیریال د پېژندلـو او پـه هغو د حاکمیت کولو په عرض د انسـان زیات شـوی اسـتعداد ښـیي. زه تیـر یـم، چـې کـه ضرورت وي، دغه پرمختـگ د ترقی په نامـه، چې لـه رواجه لوېدلې کلمـه ده – یـاده کړم.

دلتـه د دې ځـای نـه شـته چـې پـه نـورو ورتـه عملیـو چـې پـه نـورو سـاحو کې فعالیـت کـوي، په تفصیـل سره وغږېږم. لکه څنگـه چې مو ولیدل، حتی سـاینس هم

---

۱ . د کیمـبرج معـاصر تاریـخ، ۱۹۱۰، مـخ ۱۵ . د دغـه فصل مؤلـف اس. لیتـز و. دی د تاریخ د مجلـې د چلوونکـو یـو چلوونکـی او د ملکـي سرویـس کشـنر و.

اوس لـه دې سره دومـره علاقـه نـه لري چـې د طبیعت افاقـي قوانین وڅیـړي او تثبیت يـې کـړي. سـاینس تر هغه زیـات لـه دې سره علاقمن دی چـې کار کوونکـې فرضیې قایمـې کـړي، چـې د هغـو په مرسـته وکولـی شي طبیعـت د خپلـو مقصدونو لـه پاره رام کـړي او د خپـل چاپیریـال بڼـه واړوي. مهمـه يـې لیـا دا ده چې د عقل په شـعوري تمریـن سره انسـان پـه دې پیـل کـړی دی، چې نـه یوازې خپـل چاپیریـال، بلکې خپل ځـان تـه هـم تغییـر ورکـړي. د اتلسـمې پېړۍ په پـای کې مالتـوس، په خپل يـوه دوران جوړوونکـي اثـر کـې، زيار وایسـت چې د نفوسـو افاقـي قوانین تثبیـت کړي.

دغـه قوانیـن د ادم سـمت د بـازار د قوانینـو پـه څېـر، بې لـه دې نه چـې څوک د هغـو لـه عملیې نـه خبر وي، پـه کار لګیـا وو. نـن ورځ هیڅـوک پـه دغسـې قوانینو عقیـده نـه کـوي، مګر د نفوسـو کنټرولـول د عقلي او شـعوري اجتماعي سیاسـت یوه موضـوع ګرځېدلـې ده. مـوږ پـه خپل عـصر کې، پـه انسـاني کوښښـونو سره د بشر د عمـر اوږدول او زمـوږ پـه نفوسـو کې د نسـلونو تر منـځ د موازنې تبدیلـول لیدلي دي. مـوږ د هغـه دارو درملـو نومونـه هـم اورېـدلي دي، چـې پـه شـعوري ډول د دې لپـاره اسـتعمالېږي چـې پـه انسـاني کـړو اثـر ولـري. داسـې مـو هـم د جراحي هغـه عملیه لیدلـې ده، چـې مقصـد يـې دا دی چـې انسـاني خصلت تـه تغییـر ورکـړي. انسـان او چاپیریـال، دواړو تغییـر موندلـی دی، او دواړه زمـوږ پـه مـخ کـې پـه انسـاني زیار سره متغییـر شـوي دي، خـو د دغـو تغییراتـو ډېـر مهم يـې ممکـن دا وي چې د تشـویق او تلقینولـو د عـصري میتودونـو لـه لارې وارد شـوي دي. نـن ورځ د ټولو سـویو مربیون لـه دې سره وار پـه وار ډېـره علاقـه پیـدا کـوي، چې په یوه خـاص شـکل او قالب سره د جامعـې پـه تغییرولـو کـې برخه ولـري او په نوي را هسـکېدونکي نسـل کې دغسـې رویـې، وفـاداري، او نظریـات تزریـق کـړي، چـې د هغـه راز جامعـې لـه پـاره موزون وي. عرفـاني سیاسـت د هـر هغه اجتماعي سیاسـت جـز دی، چې په عقـلي ډول سره طرحـه کېـږي. د عقل لومړنـۍ وظیفه، لکه چې پـه جامعې کې په انسـان باندې تطبیق مومـي، نـور یوازې تحقیق کول نه، بلکې اړول دي. د انسـاني قوت دغه هسـک شـوی شـعور چـې د عقـلي عملیو لـه لارې، د خپلـو اجتماعي، اقتصـادي او سـیاسي چارو تنظیمـول اصـلاح کـړي، زمـا په عقیده د شـلمې پېړۍ د انقـلاب یو ډېر مهـم اړخ دی.

د عقـل دغـه پراختیـا یـوازې د هغـې عملیې یـوه برخه ده چـې ما په یـوه مخکیني

لیکچـر کـې فردي کېـدل نومولې وه. دغه فردي کېـدل د افرادو د مهارتونو، شـغلونو او مواقعـو هغـه ځانګې دي چـې د یوه مخ کـې تلونکی مدنیـت ملازمت دی.

د صناعتـي انقـلاب ډېـره جامعـه او ژوره اجتماعي نتېجه شـاید دا شـوې وي، چې د هغـو کسـانو شـمېر یې په مترقـي ډول ډېر کـړی وي، چې دوی سـوچ کـول زده کوي او عقـل پـه کار اچـوي. پـه لویـې برتانیـې کـې د تدریجي پرمختګ له پـاره زموږ هڅه دا ده، چـې دغـه نهضـت کلـه کلـه پـه مشـکل سره د درک وړ ګرځـي. موږ د یـو قرن د ډېـرې ښـې برخـې پـه دوران کې د لومړني معـارف پـه افتخاراتو قناعت کـړی دی او تر اوسـه هـم د عالمـي لـوړ معـارف په لـور ښـه د مخه یـا زر د مخـه وړاندې تلـلي نه یو، کلـه چـې موږ د جهـان مشري په غاړه لرلـه، دغه حال دومـره تفاوت نـه کاوه. خو اوس حـال ډېـر فـرق کـوي چـې نور پـه ډېـرې چټکـۍ سره تر مـوږ دمخـه کېـږي، هغه هم پـه دغسـې وخـت کـې چـې دغـه ګام هر چېرتـه پـه تخنیکي تحـول سره چټک شـوی دی، پـه دې چـې اجتماعـي انقـلاب او تخنیکـی تحـول سره چټـک شـوی دی، په دې چـې اجتماعـي انقـلاب او تخنیکـي انقـلاب او علمي انقـلاب د هغې یـوې عملیې نه بېلیدونکـي اجزا دي. کـه تاسـې د فـردي کېـدو د عملیـې علمي مثـال غواړی پـه تېرو پنځوسـو یـا شـپېتو کالونو کې پـه تاریخ، یا سـاینس یا کوم خاص سـاینس کـې د هغو فـوق العـاده تخصصونـو هغـه فوق العـاده اضافه شـوې تنوع پـه نظر کـې ونیسي چې همدغـه فـردي کیـدل یـې باعث ګرځي. خـو زه په یـوه بېل ډګـر کې د یـوې عملیې یو ډېـر واضـح مثـال پـه لاس لـرم. له ډېرشـو کالونـو نه ډېـر دمخه یـوه جرمنی عـالم رتبه نظامي افسر چې د شـوروي په سـفر بوخت و، د یو شـوروي افسر یوې روښـانوونکې تبـصرې ته غوږ ونیوه. شـوروي افسر د هـواي قواوو له پیاوړي کیـدو سره سروکار لاره.

«مـوږ روسـان مجبـور یو چې تر اوسـه هـم پـه ابتدایي بشري مـوادو قانع اوسـو. مـوږ مجبوریـو چـې دا لوزوولـو ماشـین د هغـه الوتونکـي (پیلـوټ) پـه رقـم متوافـق کـړو، چـې زمـوږ پـه لاس کـې دی. تـر هغـه حده چـې مـوږ د نوي قسم انسانانو په انکشـاف کـې موفق یـو د موادو تخنیکي اونکشـاف به هـم تکمیـل شي. دواړه عوامل یـو بـل مـشروط او مقیدوي. داسـې نـه شي کیدلی چـې ابتدایي انسـانان دې په پېچلو ماشـینونو کې واچـول شي.[۱]

---

۱ . میونیخ، ۱۹۵۳، مخ ۳۸. Vietejahrshefter fur Zeitgeschichte.

نـن ورځ، يـوازې يـو نسـل وروسـته، مـوږ خبرو يـو چې روسي ماشـينونه نـور نو ابتدايـي نـه دي او په ميليونونو روسي نارينه او ښـځې چې دغه ماشـينونه طرحه کوي، جـوړوي او چلـوي هـم، نـور نـو ابتدايـي نـه دي. د يـوه مـورخ پـه حيـث، زه لـه دې وروسـتۍ حادثـې سره ډېـر علاقمـن يـم. د توليـد اصلاحول[1] د يـوه ليا ډېـر مهم څيز معنـى لـري- د انسـان اصلاحـول. نـن ورځ، د ټـول جهـان پـر مـخ، انسـانان د پيچلو ماشـينونو اسـتعمال زده کـوي او پـه دغه کار سره فکر کـول او له عقل نه اسـتفاده کول زده کـوي. هغـه انقـلاب چـې تـه به يې پـه حقه اجتماعـي انقـلاب وبولـې او زه به يې پـه حـاضره قرينه کې د عقـل پراختيا و نوموم، فقـط اوس شروع کېږي مگـر هغه د دې لـه پـاره چـې د پخواني نسـل لـه حيرانوونکو پر مختگونـه سره قدم په قـدم شي، په ډېر سرعـت سره پـه مـخ ځـي. زمـا په فکـر دا د شـلمې پېـړۍ د انقـلاب د اړخونو يـو ډېر سـتر اړخ دی.

کـه چېـرې زه دلتـه هغـه خطرونـه ذکـر نـه کـړم، او د هغـه رول مبهـم اړخونه چې زمـوږ پـه اوسـني جهـان کـې د عقل د پـاره ټاکل شـوي دي، ونه ښـيم، يقيـن دی چې زمـوږ ځينـې بدبينـان او شـکاکان بـه پـر مـا کلـک انتقادونـه وکـړي. په يـوه مخکيني ليکچـر کـې ماويـلي و، چـې زياتېدونکی فـردي کېدل په هغـه مفهوم سره چـې ما يې بيـان کـړی و، دا معنـی نـه لـري چې هغه بـه اجتماعـي فشـارونه د مطابقـت او متحد الشـکل کيدلـو لـه پـاره ضعيـف کـړي. پـه حقيقـت کـې دا زمـوږ د معاصر جهـان په ظاهـر کـې مهمـل مگـر په معنـی کې درسـت يـا ظاهـراً نقيض حقيقـت دی.

معارف چې د فردي اسـتعدادونو او فرصتونو د پراختيا او په دغه ډول، زياتېدونکي فـردي کېـدول له پاره يـوه ضروري او قوي وسـيله ده. د دې منافعو ډول لـه پاره هم يوه قـوي وسـيله ده چـې اجتماعي مطابقـت پرې پـراخ او عمومي کړي. هغـه تقاضاگانې چـې ډېـر کلـه د مسئولو تلويزيـوني يـا راديويي خپرونـو يا د ليـا مسـئولو مطبوعاتو د پـاره اوربـدل کېـږي، پـه اول سر کـې د ځينـو منفـي پديـدو پـه ضـد وي، چـې د هغو محکومـول اسـان ښـکاري. خو هغـه ډېر زر پـه هغـو تقاضاگانو بدلـې شي چې دغه قـوي وسـايل دې د ودې د تشـويق لـه پـاره اسـتعمال شي او په هغـو سره دې مطلوب

1. هغـه ريفـورم او اصـلاح چـې پـه کار، وخـت او مـوادو کـې د ضايعاتو په حـذف سره ممکن کېـږي.(م) Rationlization.

ذوقونـه او مطلـوب نظريـات تزريـق شي په داې حـال کې چې د مطلوبيـت معيار هغه ذوقونـه او نظريـات دي، چې جامعې منلي وي دغسـې مبارزې، د هغو په لاسـونو کې چـې پراختيـا يې غواړی، هغه شـعوري او عقلي عمليې دي، چې د جامعې د بيا شـکل ورکولـو د پـاره طرحـه کېږي او دغـه کار د يوه مطلوب سـمت پـه لور د انفـرادي غړو د بيـا شـکل ورکولـو له لارې کېږي. نور ښـکاره مثالونه يـې تجارتي اعـلان کوونکي او سـياسي مبلغيـن دي، پـه واقعيت کـې، دغه دوه رولونـه ډېر کله دوه چنـده کېږي. د امريـکا پـه متحده ايالاتونو کـې دغه کار ډېر واضـح او برالا دی، مگر پـه لويې برتانيې لـږ څـه واضـح او برالا دی. گوندونـه او کانديدان تخصصي او کسـبي اعلان کوونکي د خپـل برياليتـوب د پـاره اسـتخدام کـوي. دغه دوه طـرز عملونه، حتی کـه کله کله په رسـمي لحـاظ متمايـز وي، يو له بـل سره ډېر ورتـه وي. تخصصي اعـلان کوونکي او د لويـو گوندونـو د تبليغ د څانگـو امران ډېـر ذکي او هوښـيار خلـک وي. د وظيفو د اجـرا لـه پـاره، دوی لـه ټولـو وسـايلو او منابعو څخـه اسـتفاده کوي؛ خـو عقل څنگه مـو چـې پـه نـورو مثالونـو کې وليـد، يوازې د کشـف له پـاره نه، بلکـې د گټې لـه پاره اسـتعمالېږي پـه سـاکن ډول تـرې اسـتفاده نه کېږي، بلکې پـه ډيناميک او فعـال ډول تـرې کار اخيسـتل کېـږي. تخصـصي اعلان کوونکـي او د مبـارزې منظـمان اصلاً له موجـودو حقايقـو سره دومـره علاقمـن نـه وي. دوی له هغـو څيزونو سره علاقه ښـيي چـې مسـتهلک يـا انتخـاب کوونکـی پرې متقـد وي. داسـې هـم، دوی له هغو پېښـو سره پـه ډېر مهارت تشـويق کړي. سربېـره پر دې، د تودې د روحياتـو مطالعه دوی ته دا ښـوولې ده چـې د دوی د نظـر د منلـو ډېره چټکـه لاره دا ده، چې د مسـتهلک او موکل جذبـاتي او غيـر عقـلي عنصر تـه التماس وکـړي. په دغـه ډول، هغه تصويـر چې موږ ور سره مخامـخ کېـږو، دا کېـږي چـې پـه هغـه سره د صناعـت د ښـتنانو تخصصي غـوره کسـان يـا گونـدي مـشران، د هغـو عقـلي عمليو لـه لارې چـې تر پخوا يـې ډېر انکشـاف کـړی دی، خپـل مقاصد تـر سره کوی او دغو مقاصدو ته د رسـيدو لـه پاره د تـود او واو ولسـونو پـه غير عقلي اصـل[۱] باندې ځانونـه پوهوي او تجـارت پرې کوي. التـماس او رجـوع عقـل تـه نـه وي. التـماس پـه عمومـي ډول پـه هغـو ميتودونو سره مخکـې ځـي چـې اسـاروايلډ[۲] يـې «له عقل نـه لانـدې ضربه» بـولي. ما دغـه تصوير

---

1 . Irrationlism.

۲ . ۱۸۵٦-۱۹۰۰، ايرلينډی شاعر، او ډرامه ليکونکی(م) O,car Wide.

ځکه یو څه څرګند وښود، چې څوک مې په دې تومتي نه کړي چې ګواکې خطر مې کم ښودلی دی[1]. مګر دغه، په پراخه توګه سم دی او په نورو ساحو کې په اسانۍ سره تطبیق کېدلی شي. حاکمه ډله د دې له پاره چې د تودې ذهنیت متشکل او اداره کړي، لړوډېر اجباري اقدامات عملي کوي. دغه میتود تر ځینو نورو نه په دې لا بد معلومېږي، چې په هغه سره له عقل نه ناوړه استفاده کېږي.

د دغه جدي او قوي تور د ځواب له پاره زه یوازې دوه دلیلونه راوړلی شم. لومړی یې هغه اشنا دلیل دی چې د تاریخ په جریان کې چې هره اختراغ، ابداع او هر نوی تخنیک کشف شوی دی، منفي او مثبتې خواو یې لرلې دي. د نوي کشف تاوان او بیه تا یو څوک وګالي. د چاپ له اختراع څخه، نه پوهېږم څومره وروسته و، چې منقدانو وویل چې چاپ د غلطو ذهنیتونو د خپرولو د پاره لاره هواره کوي. نن ورځ دا یوه عادي خبره ده چې په سرکونو باندې د مرګ تلفات د متوټرو اختراع او ظهور ته منسوب ګڼل کېږي او په هغو خواشینۍ ښکاره کېږي. حتی ځینې ساینس پوهان لا د هستوي انرژۍ د تولید له پاره د خپلو طریقو او وسیلو کشف غندي. غلت یې هم هغه ناڅاپي تباهي یادوي چې د هغه په استعمال سره ممکن کېږي او شوې هم ده. خو دغسې اعتراضونه نه پخوا مفید او موثر شوي وو او نه د دې احتمال شته ده چې په اینده کې به مفید شي، چې د نویو اختراغاو او کشفیاتو پرمختګ معطل کړي. د تودې د تبلیغ له پاره چې موږ څه قوتونه او تخنیکونه زده کړي دي، محو کېدلی نه شي. څومره چې د دې امکان نه شته چې په کمې اندازې سره انفرادي دموکراسۍ ته چې جان لاک یې طرفداري کوله، یا لیرالي تیورۍ ته چې یو څه یې د نونسمې پېړۍ په نیمایي کلونو کې په برتانیا کې عملي شوې ده، بېرته رجعت وشي، داسې هم دا ناشونې ده چې د اس او بګۍ یا د لومړي لیسه فر سرمایه دارۍ ته رجوع وشي. مګر حقیقي ځواب دا دی چې دغه بدې ګانې له ځان سره سم کوونکې هم لري. علاج یې د غیر عقلي اصل د ائین په لمانځلو سره په اوسنۍ جامعه کې د عقل د پراخ شوي رول په تردید کې نه دی، بلکې چاره یې د عقل په هغه رول لوبولو کې ده چې شعور ور ته هم له پاس او هم له لاندې نه قوي شي. په داسې وخت کې چې د جامعې په ټولو ساحو کې

---

۱ . د دغسې موضوع د پوره بحث دپاره وګورئ: د مولف اثر، نوي جامعه، ۱۹۵۱، فصل ۴.

زموږ د تخنیکي او علمي انقلاب له امله د عقل متزاید استعمال را بانـدې تحمیل شوی دی، دا کوم خیالي خوب نه دی. دغه مخکې تګ هم، د هر بل ستر تاریخي مخکې تګ په څېر، خپل قیمتونه او تاوانونه لري، چې باید ادا شي او هم خطرونه لري، چې باید مقابله ورسره وشي خو د شکاکانو، مشاجره خوښوونکو او د تباهۍ پېغمبرانو سره سره چې مخصوصاً د هغو هېوادونو په روڼ اندو کې دی، چې د دوی پخوانی ممتاز موقف تباه شوی دی، زه لـه دې نه خجالت نه یم چې هغه په تاریخ کې، د ترقۍ بجوړې مثال ونوموم. زموږ د عصر د پاره ممکن دغه ډېره څرګنده او انقلابي پدیده وي.

د دغه مترقي انقلاب دوهم اړخ لـه کوم نـه چې موږ تېرېږو، د جهان تبدیل شوی شکل دی. د پنځلسمې او شپاړسمې پېړۍ ستر عصر، چې هلته منځنۍ نړۍ پـه پای کې منحل شوه او د معاصر جهان تاداو کېښودل شو. د نویو براعظمونو په کشف سره ښکاره شوه. داسې هم دغه عصر د مدیترانۍ له غاړو نـه د اتلانتیک غاړو تـه د جهان د مرکز په انتقال سره نښاني شو. حتی د فرانسې د انقلاب ووړ قیام او تحول هم جغرافیایي منطقي سلسله پـه دې تعقیب کړله چې له نـوي جهان نه یې دعوت وکړي چې د زاړه جهان موازنه برابره کړي، مګر هغه تحولات چې د شلمې پېړۍ پـه انقلاب سره راغلي دي، نظر هر هغه څه ته چې له شپاړسمې پېړۍ نه را پـه دې خوا پېښ شوي دي، ډېر جامع دي.

لـه څلور سوه کلونو وروسته د جهان د ثقل مرکز په یقیني ډول لـه لویدیځې اروپا نـه کوچ کړی دی. لویدیځه اروپا د انګریزي ویونکي جهان له لیرو برخو سره د شمالي امریکې د لویې وچې ضمیمه ګرځېدلې ده. که ستاسې خوښه وي، دغو ټولو تـه موږ یوه لویه خره او کوټه ویلی شو چې پـه هغې کې متحد ایالاتونه هم د برېښنا کوټ او هم د برېښنا د برج پـه څېر وظیفه اجار کوي. لـه دې سره سره دا یواځیني یا ممکن تر ټولو مهم تغییرونه وي. دا لا واضحه نه ده چې د جهان د ثقل مرکز، پـه انګریزي ویونکي جهان کې به چې لویدځه اروپا یې یوه ضمیمه ده، پاتې وی او یا بـه وروسته لـه ډېره وخته پاتې شي. وایي ښکاري چې د ختیځې اروپا او اسیا لویه وچه د هغو لـه اوږدو سره چې په افریقا کې دی، نن ورځ د جهان په پېښو کې ابتکار ښکاره کوي. نـه تغییرمنونکی شرق، نـن ورځ یوه زړه او وروسته اصطلاح

ګرځېدلې ده.

اوس بـه پـه دې بانـدې چـې پـه اوسـنۍ پېړۍ کې په اسـيا کې څه پېښـې شـوې دي، يـو سرسري نظـر واچـوو. داسـتان پـه ۱۹۰۲ کـې د انګليـسي او جاپان لـه اتحاد کولـو څخـه شروع کېږي، په دغـه اتحاد سره يو اسـيايي هېواد د اروپايي سـترو قوتونو پـه خـوړې او محفوظـې دايـرې کـې ومنل شـو. شـايد دا به هسـې يو تصـادف وګڼل شي چـې جاپـان خپلـه ارتقـا پـه دې خونـدي کړله چې روسـيې تـه يې چيلنـج او ماته ورکـړه او پـه دغـه اقـدام سره يـې د اور هغه لومړنـی بڅرکی بل کړ چې د شـلمې پېړۍ سـتر انقـلاب يـې مشـغل کـړ، د فرانسـې د ۱۷۸۹ او ۱۸۴۸ انقلابونـو پـه اروپـا کـې مقلـدان ومينـدل. د روسـيې د ۱۹۰۵ کال انقـلاب پـه اروپا کې هيڅ انعکاس ونه کړ، مګـر مقلـدان يـې په اسـيا کې ومنـدل. په څور وروسـتيو کالونـو کې په فـارس، ترکيې او چيـن کـې انقلابونه پېښ شـول. دوهم جهـاني جنګ په مشـخص ډول، کوم جهاني جنـګ نـه و، بلکـې هغه يـوه اروپايـي داخلي جګړه وه هغه هم داسـې چـې موږ فرض کـړو چـې دغسـې يـو واحـد لکه اروپـا موجـودو چـې عواقب يې جهـاني و، پـه دغو عواقبـو کـې، پـه ډېرو اسـيايي هېوادونـو کـې د صناعتـي انکشـاف تحريک پـه چين کـې د ضد خارجي احسـاس، د هندي نيشـنلزم او د عرب نيشـنلزم ظهـور و. د ۱۹۱۷ کال روسي انقـلاب يـو بـل او قاطع خوځوونکی شـو. هغـه څه چې دلته مهـم و، دا و چـې مـشران يـې په دې ټينـګ وو چې مقلـدان به يـې په اروپا کـې وموميـ، مګر دغه هيلـې تـر سره نـه شـولې او پـه پـای کې يې مقلـدان په اسيا کـې وموندل. دا اروپا وه چـې «تغيير نـه منونکـي» ګرځېدلې ده. اسـيا په خوځېـدو کـې ده. مورخ لا تر اوسـه پـه دغسـې موقف کـې قرار نـه دی نيولی، چـې د اسـيايي او فريقايي انقلاب وسـعت او اهميـت معلـوم کـړي. مګر پـه ميليونونـو اسـيايي او افريقايي خلکو کـې د عصري تخنيکي او صناعتي عمليو خپرېدل او د معارف او سياسي شـعور شروع کېدل د دغو براعظمونـو مـخ تبديلـوي. پـه دغسـې حـال کې چـې زه آينـده ته ښـه ځيـر کيدلی نه شـم، زه غيـر لـه دې نـه چې د جهـان د تاريـخ په دورنما کې دغه د يـوه مترقي انقلاب پـه حيث وګڼـم، د قضاوت له کـوم بل معيـار خبر نه يم، د جهان اړول شـوی شـکل، چـې د دغـو پېښـو زېږنـده دی لـه خپـل ځـان سره يې د جهـان په پېښـو کې پـه يقيني ډول د دغـه هېـواد (برتانيـا) او په احتـمالي ډول د انګريزي –ويونکی جهـان په وزن کې

یـو نسبي انحطـاط راوړی دی. مګـر نسـبي انحطاط مطلـق انحطاط نـه دی. هغه څه چـې مـا په وېره او وحشـت کـې غورځوي، په اسـیا او افریقا کې د ترقي مـارش نه د یو بلکـې پـه دغـه ملک او شـاید هم نور چېـرې، د غالبو ډولـو هغه تمایـل دی، چې دغو انکشـافاتو تـه یـې ورېنـده او غیر مدرکه سـترګه اړولـې ده. داسـې هم د هغو پـه مقابل کـې د بدګمانـۍ نـه ډکـه لویي او د نرمـې توضع تر منځ یـو مردود سـلوک اختیار کړی دی او د مـاضي پـه فلـج کوونکـې میهن پرسـتي کې غرق شـوی دی.

هغـه څـه چـې ما زموږ د شـلمې پېړۍ پـه انقلاب کـې د عقل پراختیـا نومولې وه، د مـورخ د پـاره خـاص نتایـج او عواقب لـري. په اصل کـې، د عقل د پراختیـا معنی دا کېـږي چـې په تاریخ کې دغسـې ډلې طبقـات، خلـک او براعظمونه ظاهر شـوي دي چـې تـر اوسـه پـورې د تاریـخ لـه دایـرې نه بهـر وو. پـه لومـړني لیکچر کې مـې دغه فکـر وړانـدې کـړی و چـې د منځنیو پېړیـو د مورخانو دغه تمایل چـې د منځنیو پېړیو جامعـې تـه یـې د مذهب لـه عینکو نه کتـلي وو، د دوی منابعو د خـاص څنګه وایي له املـه وه. غـواړم چـې دغـه فکر لږ څـه نور هم واضـح کړم. زمـا په فکر دغه وینا سـمه ده، کـه څـه هـم مبالغـه ورسره ده، چې عیسـایي کلیسـا «منځنیـو پېړیـو یوازنۍ عقلي موسسـه»[1] ده. څنګـه چـې هغـه یوازنۍ تاریخـي موسسـه ده. یوازې همدغه موسسـه د انکشـاف د عقـلي سـیر تابـع وه، چـې د مورخ له پـاره د درکیدلـو او پوهېدلـو وړ وه. کلیسـا دنیایي جامعې ته سروصـورت او تنظیـم ورکاوه، او دنیایي جامعې ځانله عقلي ژونـد نـه لاره. د خلکـو تـوده، د ماقبـل التاریـخ خلکو په څیـر، طبیعت تـه مربوطه وه نـه تاریـخ تـه. عـصري تاریخ هغـه وخـت شروع کېږي چـې خلک پـه زیاته انـدازه په اجتماعـي او سیاسي شـعور کـې ظهـور کـوي او د تاریخـي واحدونو پـه حیث چې مـاضي او اینـده لـري، لـه خپلـو مربوطـو ډولـو نـه اګاه کېـږي، او پـه مکمـل ډول پـه تاریـخ کـې ننوځـي. یـوازې د تېرو دوه سـوو کالونـو په جریان کـې ده، هغه هـم په یو څـو پرمختللـو هېوادونو کې چې اجتماعي، سیاسي او تاریخي شـعور پـه دې شروع کـړې ده، چـې د نفوسـو په اکثریت کې خپور شـي. د لومـړي ځل له پاره یـوازې اوس ممکنـه شـوې ده، چـې د داسـې جهـان تصـور وشي، چـې خلق یـې په ټولـه معنی په تاریـخ کې ننوتلـې وي. دغه خلک نور نو د متسـعمراتي منتظمانو یا انسـان پېژندونکو

---

۱ . اې. فان مارتن، د رنسانس سوسیولوجي (انګریزي ترجمه، ۱۹۴۵)، مخ ۱۸.

د بحـث موضـوع نه، بلکـې د مـورخ د بحث موضوع شـوي دي.

دا زمـوږ د تاريـخ پـه مفهـوم کې يـو انقـلاب دی. په اتلسـمې پېړۍ کـې تاريخ لا هـم د غـوره او خاصـو کسـانو تاريخ و. په نونسـمې پېړۍ کـې برتانيايـي مورخانو دمه پـه دمـه او پـه متنـاوب ډول داسـې مـخ کې تلـل شروع کـړل چـې تاريـخ د ټولې ملي ورې ټولنـې[1] د تاريـخ پـه حيـث وګڼـي. جې.ار. ګريـن[2]، که څـه هم عادي مـورخ و، د انګليـس د ولـس تاريـخ پـه لومـړني تأليـف سره يې نـوم وګاټه. کـه څه هم کـردار له ګفتـار نـه ډېـر وروسـته دی، په شـلمې پېړۍ کې هـر مورخ دغـه نظر ته يـو نظر کوي. زه پـه دغـو نيمګړتيـاوو ډېر زور نه اچوم پـه دې چې زه له خپلو ناکاميـو سره د مورخانو پـه حيـث ډېـره علاقـه لـرم چې ومـو نه شـو کـړای د دغـه ملـک او لويديځـي اروپا نه بهـر د تاريـخ پراخـې غاړې په نظر کې ونيسـو. اکټـن د خپل ۱۸۹۶ کال پـه رپوټ کې عالمـي تاريـخ داسـې وګاڼه«چـې د ټولـو ملکونو له ګـډ تاريخ نـه بيـل دی». ده خپله وينا داسـې اوږده کړه.

«دا (عالمـي تاريـخ) په دغسـې يوې سلسـلې سره خوځېږي چې ملتونـه به هغه ته ثانـوي او فرعـي وي. د دوی (ملتونـو) داسـتان به پـه خپله د دوی په خاطـر بيا نه شي، بلکـې د يـوې لیالوړې سلسـلې تـه د ارتباط او تبعيت(پـه خاطر او) د وخـت او درجې پـه مطابـق چې دوی به د بشر د مشـترکو نيکمرغيو د پاره مرسـته کـوي(و ليکل شي)».[3]

د اکټـن د پـاره پـه دې کـې څـه ګړوبـړ نه و چـې عالمي تاريـخ، څنګه چـې ده يې درک کـړی و، د هـر جـدي مـورخ د پـاره د علاقـې وړ موضـوع ده. مـوږ اوس د دې له پـاره چې پـه دغـه مفهـوم سره د عالمي تاريـخ له پـاره لاره هـواره کړو، څـه کوو؟

پـه دغـو ليکچرونـو کـې مـې نيـت دا نـه و چې پـه دغـه پوهنتـون کـې د تاريخ د تحصيـل پـه اړه څـه ووايـم. خـو اوس د هغـه څه لـه پاره چې کوښښ کوم ويـې وايم دغسـې څرګنـد مثالونـه را پـه لاس شـوي دي، چـې که دغومبسـو ځالې تـه لاس وانه چوم ډارن به ښـکاره شـم. مـوږ په تېرو څلويښـتو کالونو کې، په خپـل تعليمي نصاب کـې د متحـده ايالاتونـو تاريـخ په اساسي ډول ځـای کـړی دی. دغه يو مهـم وړاندې تـګ دی، مګـر دغـه کار لـه خپـل ځـان سره د انګليسي تاريـخ د تنګ نظرۍ خطر يو

---

1 . Community.

2 . J.R. Green.

۳ . د کيمبرج معاصر تاريخ، منبع، مولفيت او توليد يې۱۹۰۷، مخ ۱۴.

څه پیاوړی کړی دی، او دغه خطر لا دمخه تر دې زموږ په تعلیمي نصاب باندې د انګریزي ویونکي جهان د لا برابر خطرناک له تنګ نظرۍ سره د مړه لاس په شان درونډ تمامېده. په دې کې څه شک نه شته چې په تېرو څلور سوو کالونو کې د انګریزي ویونکو جهان تاریخ د تاریخ یو ستر عصر و. خو که دا د عالمي تاریخ د ثقل مرکز او نور هر څه د هغه فروع او محیط وشمېرل شي، دا به د لیرې لید خپه کوونکی تحریف وي. د پوهنتون وظیفه ده، چې دغسې تحریفات سم کړي. ماته دغسې ښکاري چې په دغه پوهنتون کې د معاصر تاریخ مکتب خپله وظیفه تر سره کولی نه شي. په یقین سره دا سمه نه ده چې په هر نوي پوهنتون کې په تاریخ کې د ساینس له کاندید نه دې امتحان واخیستل شي، بې له دې چې ده د انګریزي نه په پرته، بله عصري ژبه په کافي اندازه زده کړې وي. باید موږ دا ځانله اخطار وبولو چې په اکسفورد کې د فلسفې د قدیمي او محترم دسپلین په باب څه پېښ شول او دا هغه وخت و چې د هغه منظمان دې نتیجې ته ورسیدل چې دوی په ساده ورځنۍ انګریزۍ سره په ښه شان په مخ تلی شي. یقیناً دا غلطه ده چې د محصل د پاره داسې اسانتیاوې نه وي چې د هر اروپایي ملک د تاریخ د مطالعې د پاره له داسې کتابونه په پرته نور څه ونه لري. هغه محصل چې د اسیا، افریقا یا د لاتیني امریکا په باب یو څه معلومات لري، اوس لږ چانس لري چې وکولی شي خپل معلومات په همغه مضمون کې چې د ښکلې نونسمې پېړۍ ښکلې جغه په سر لري، ښکاره کړی: «د اروپا پراختیا» له بده مرغه عنوان له محتویاتو سره پوره سر خوري. له محصل نه دا نه غوښتل کېږي چې د هغو ملکونو لکه چین، یا فارس په شان، چې ښه مستند تاریخ لري، حتی یو څه زده کړي. دی باید د دغو ملکونو د هغه وخت حادثات زده کړي، چې اروپایانو زیار ایست چې تسلط پرې ټینګ کړي. ما ته ویل کېږي، چې په دغه پوهنتون (کیمبرج) کې د روسیې، پاریس او چین د تاریخ لیکچرونه د تاریخ د پوهنځي له غړو نه غیر نور څوک ورکوي. د چینایي پروفیسر هغه عقیده چې ده پینځه کاله ړومبی په خپل افتتاحي لیکچر کې اظهار کړې وه، د کیمبرج په مورخانو کې په ګڼو غوږونو لویدلې ده. عقیده دا وه: «نه شي کیدلی چې چین د بشري تاریخ له عمومي جریان څخه د باندې وګڼل شي».[1]

---

۱ . اې.جې. پولي بلینک، د چین تاریخ او دجهان تاریخ ۱۹۵۵، مخ ۳۶.

هغـه تالیـف چې ممکـن په اینده کـې، د یوه ډېر سـتر تاریخي اثر، پـه حیث وګڼل شي، دغسـې یـوه کـس لیـکلي دی چـې هغـه د تاریـخ څانګـې ته منسـوب نـه و او د تاریـخ څانګـې له هغه سره هیڅ مرسـته کړې نـه ده. زما مطلب د ډاکټـر نیډهام[1] تألیف پـه نامـه د «سـاینس او مدنیـت په چین کـې» دی. دا یو هوښـیار کوونکی فکـر دی. ما بایـد دغـه داخـلي زخمونـه عمومـو ته بـرالا کـړی نـه وای، مګر مـا د دغـه حقیقت په بنـا بـرالا کـړل چې فکر کوم د شـلمې پېړۍ پـه نیمایي کې د نـورو برتانیایـي پوهنتونو او پـه عمومـي ډول د برتانیایـي روشـنفکرانو حـال همدغسـې دی. د وکټوریـا د عصر ګوښـه توب پـه باب هغـه زړه کنایه«طوفانونه په رودبار کې، براعظم ګوښـه شـوی» له بـده مرغـه نـن ورځ پـوره صدق کوي. پـه بهرني جهان کې یـو ځل بیا طوفانونه خواره دي، پـه داسـې حـال کې چې موږ پـه انګریزي ویونکـو ملکونو کـې سره غونډېږو او پـه ورځنۍ سـاده ژبـه ځانو تـه وایو چې نـور براعظمونه زمـوږ د مدنیت لـه برکتونو او مواهبـو څخـه په خپل فوق العاده سـلوک سره ګوښـه کېږي، کله کله داسـې ښـکاري چـې ګواکـې زمـوږ د بې کفایتۍ یـا نه اماده تـوب له املـه د جهان له حقیقـي حادثاتو د پوهیدلـو پـه غرض ځان ګوښـه کوو.

د لومـړني لیکچـر پـه اولـو جملـو کـې ما کوښـښ وکـړ چـې د جهان بینـۍ هغه قـوي اختـلاف تـه توجـه جلـب کـړم، چې د شـلمې پېـړۍ نیمایـي کالونه د نونسـمې پېړۍ لـه وروسـتیو کالونو څخه بیلـوي. اوس غـواړم دغه تقاضـا پراخه وښـیم. که زه پـه دې قرینـې کـې د «لـبرال» او «محافظـه کارۍ» کلـمات اسـتعمالوم، دا بـه ډېره زر ښـکاره شي، زه هغـه د برتانیـې د سـیاسي ګوندونـو په مفهـوم سره نه اسـتعمالوم. څه وخـت چـې اکټـن د ترقـۍ په اړه غږېـده، ده د برتانیا د مروجي مفهـوم یعنې د «تدریجي اصالـت»[2] پـه چـوکاټ کـې دننـه په هغه سـوچ نـه کاوه. «انقـلاب، یا څنګـه چې موږ لبرالیـزم وایـو» د ۱۸۸۷ کال هـل مکتـوب څخه یـوه څرګنده اصطـلاح ده.

لـه هغـه نـه لس کاله وروسـته ده د معاصر تاریخ پـه باب په یوه لیکچـر کې وویل: «انقـلاب د معـاصرې ترقـۍ میتـود دی». په یـو بل لیکچر کـې ده د «عمومـي نظریاتو ظهـور چـې مـوږ یې انقـلاب بولـو» څخه خـبرې وکړلې. په یـوه ناچاپ شـوې خطي نسـخه کې داسـې شرح ورکړلـه: «وګ د روغې جوړې له لارې حکومـت وکـړ، لیبرال د

---

1 Dr. Needham,
2 . Gradualism.

افکار و حکومت شروع کوي»[1] د «افکارو حکومت» څخه د اکټن مراد لیبرالزم و او له لیبرالیزم څخه یې مراد انقلاب و. لیبرالزم د اکټن په عمر کې د اجتماعي تحول د ډینامیک په حیث خپل قوت لا صرف کړی نه و. زموږ په عصر کې، د لیبرالیزم بقا یا په جامعه کې هر چېرې محافظه کار گرځیدلی دی. که اکټن ته اوس د مراجعت تبلیغ وشي، دا به مفهوم ونه لري. مگر مورخ له دې سره علاقمن دی چې لومړی د اکټن دریځ معلوم کړي، بیا د هغه دریځ د معاصرو مفکرانو له دریځ سره مقایسه کړي او وروسته دا وڅېړي چې د ده د دریځ کوم عناصر لا تر اوسه هم د اعتبار وړ دي. په دې کې څه شک نشته چې د اکټن نسل له خوش بینۍ او له حده زیات په ځان اعتماد څخه زیانمن شو او د هغه جوړښت ښوئیدونکی ماهیت یې پوره درک نه کړ، چې ده پرې عقیده لرله ، خو دغه نسل دوه شیان لرل او هغو دواړو ته موږ سخت اړ یو: د تحول مفهوم په تاریخ کې د یوه مترقي عامل په حیث او په عقل عقیده لرل د عقل معضلاتو د تفاهم له پاره زموږ د لار ښود په حیث.

را ځئ چې اوس د ۱۹۵۰ کال د لسو کالونو څو اوازونو ته غوږ ونیسو. په یوه ړومبني لیکچر کې ما د سرلویي نامیر د قناعت کلمات ذکر کړل چې په داسې حال کې چې د «مشخصو مسایلو» له پاره د «حل عملي لارې» لټولې کېږي، «پروگرامونه او مفکورې د دواړو گوندونو له خوا هیریږي» او د هغه دغه بیان د «ملي پاخه توب» یوه علامه ده. زه په خپله د یوه فرد او ملت تر منځ د عمر اوږدوالی د داسې مشابهتونو څه علاقمن نه یم او که سره له دې هم مشابهت او قیاس غوښتل کېږي په دغه حال کې بیا دا پوښتنه را منځ ته کېږي، چې ښه څه وخت چې موږ د «پاخه توب» له پړاو نه واوښتو، وروسته ترې نه څه را منځ ته کېږي. هغه څه چې

---

۱ . د دغو عبارتونو لپاره وگورئ: وگوری د اکټن له لیکنو څخه انتخابات(۱۹۱۷)، د معاصر تاریخ په باب لیکچرونه (۱۹۰٦)، مخونه ۴، ۳۲. خطي نسخې، ۴۹۴۹، د کیمرج پوهنتون په کتابخانه کې په ۱۸۸۷ لیک کې چې پورته یا د شو، اکټن «د تغییر نښه دغه بولي: له زاړه څخه و نوي ته د دوگانو (لیبرالانو) تغییر د «وجدان انکشاف په حیث» وجدان دلته ظاهراً د شغور له انکشاف سره تړلی دی. وگورئ: مخ ۱۳۵ ، پورته. او د افکارو د حاکمیت سره، توافق کوي، ستېز هغه معاصر تاریخ په دوو دورونو ویشلی دی چې د فرانسې انقلاب سره یې پیل کړی دی:لومړنی د قوتونو، صلاحیتونو او فامیلونو تاریخ، دوهم یې هغه تاریخ چې هلته افکار د اشکالو او حقوقو ځای نیسي. (دبلیو.سپبز، د منځنیو او معاصر تاریخ په باب اوولس لیکچرونه، دریم چاپ، ۱۹۰۰، مخ ۲۳۹).

ما علاقمن کوي، پرتله کول دي، د علمي او مشخص تر منځ چې ستایل کېږي او د «پروګرامونو او مفکورو» تر منځ چې غندل کېږي او محکومېږي. په مفکره ییزې تیورۍ جوړولو باندې د عملي فعل غوره ګڼې بې له کوم شک نه د محافظه کارۍ نښه ده.

د نامیر په نظر دا د اتلسمې پېړۍ ممثل دی، یعنې د دریم جارج د جلوس انګلستان چې د اکتن د انقلاب او د مفکورو حکومت د قریب الوقوع حملې په مقابل کې اعتراض کوي. خو د هغې پوره محافظه کارۍ اشنا افاده زموږ په عصر کې د پوره تجربې په بڼه ډېره مروجه ده. ډېر مروج شکل یې د پروفیسر ترور-روپر په تبصره کې ښکاره دی. دی وايي چې «کله چې افراطیون چیغې وهي چې فتح یقیناً د دوی ده، معقول محافظه کاران یې پر پزه په سوک وهي». پروفیسر اوک شات دا مروج تجربیت په یوه پېچلې بڼه ښیي. دی وايي چې په خپلو سیاسي موضوعاتو کې موږ «په بې پایان او بې عمق بحر کې سفر کوو» چې هلته «نه د شروع ټکی شته او نه ټاکلی هدف» او هلته زموږ یوازېنی هدف دا دی چې «په یوې اوارې کښتۍ کې ځان د لامبو په حال کې وساتو»[1]. د دې څه ضرورت نه وینم د اوسنیو لیکوالو فهرست پسې ولټوم چې دوی سیاسي «خیال پرستي»[2]، «مهدیت»[3] محکوم کړی دی.

د ژورو افراطي افکارو له پاره چې د جامعې د اینده په باب د هغو اظهار کېږي، دا د کنځلو او ناسزاوو جاري اصطلاحات دي، زه د دې څه زیار هم نه باسم چې په متحده ایالاتونو کې هغه تازه تمایلات چې تر بحث لاندې ونیسم چې محافظه کارۍ ته د تبعیت په برالا اعلامولو کې مورخان او سیاسي مفکران په دغه ملک کې د هغوی تر ملګرو لږ احتیاط کوي. هلته به یوازې تر ټولو وتلي او تر ټولو معتدل امریکایي محافظه کار مورخ پروفیسر ساموئیل موریسن[4] تبصره را نقل کړم، چې ده د ۱۹۵۰ په دسمبر کې د امریکې د تاریخ ټولنې ته په یوه افتتاحي خطاب کې اظهار کړې وه. ده دغه تبصره د یوه عکس العمل په حیث د هغه په ضد کړې

۱ . ایم. اوک شات، سیاسي معارف، (۱۹۵۱، مخ ۲۲.

2 . Utopiansim.

3 . Messianism.

4 . Samul Morison.

وه کوم چې ده د«جیفرسن-جیکسن-اف.ډي. روزولت طرح» بللې وه او د متحده ایالتونو د تاریخ له پاره یې داسې التماس وکړ چې «د یوه معقول محافظه کار له نظره لیکل شوی وي».[1]

خو دا پروفیسر پاپر دی، چې په برتانیا کې یې دغه محطاطه محافظه کاره جهان بینی په ډېر واضح او غیر مصالحتي شکل یو ځل بیا وړاندې کړې ده. دی د نامیر د «پروګرامون او مفکورو» د تردید د انعکاس په ضمن کې په هغو سیاستونو انتقاد کوي چې ادعا لري هدف یې «د یوه ټاکلي پلان په اساس د ټولې جامعې بیا نتظیمول دي». د هغه سپارښتنه کوي چې دی یې «تدریجي پیوند کارۍ» او «په ناغېړۍ سره مطلب ته د رسیدو»[2] له نسبت څخه یو ګام هم نه اخوا کېږي. په یوه ټکي کې، رښتیا زه د پروفیسر پاپر پوره احترام ساتم. دی د عقل قوي مدافع او حامي دی او غیر عقلي اصل ته یې نه په ماضي کې مخه کړې ده او نه په اوس کې. خو که موږ د ده«د اجتماعي تدریجي انجنیري» تعریف ښه مشخص نه دی، موږ ته واضحاً ویل کېږي چې د «هدفونو» انتقاد په کې نشته. هغه محتاط مثالونه کوم چې د هغه د قانوني فعالیتونو لکه د «اساسي قانون ریفورم» او د «د عایداتو د زیات برابر کیدلو په لور تمایل» په باب یې ورکوي، واضحاً ښیي چې مقصد دا دی چې هغه باید د موجودې جامعې په چوکاټ کې د ننه کار او فعالیت وکړي[3] د پروفیسر پاپر د ځیزونو په طرح کې د عقل موقف په حقیقت کې د برتانیې ملکي مامور ته ورته دی. دی به د دې لیاقت لري چې د واکمن حکومت سیاستونه وچلوي او حتی د هغو د ښو کار کولو لپاره د عملي اصلاحاتو په منظور نظریات هم ور کړي، خو د دې حق نه لري، چې د هغو په اساسي ړومبنیو فرضیو، یا نهایي مقاصدو یې ګروېږ وکړي. دا ښه ګټور کار دی. زه هم په خپل وخت کې ملکي مامور وم.

مګر زما په عقیده د موجود نظام فرضیو ته د عقل مادونیت په اوږده موده کې بالکل د نه منلو دی. اکټن هم هغه وخت چې خپله معادله داسې تفسیر کړله چې: انقلاب –لیبرالیزم د افکارو حکومت، د عقل په باب یې همدغسې تفکر کاوه. په انساني چارو کې ترقي، په ساینس کې وي، یا په جامعه یا په تاریخ کې، عموماً د

۱ . امریکایي تاریخي مجله، لمبر،۲، جنوري ۱۹۵۱، مخونه، ۲۷۲-۲۷۳.
۲ . کې. پاپر، د هستوریزم فقر(۱۹۵۷)، مخونه، ٦۷، ۷۴.
۳ . ایضاً مخونه ٦۴، ٦۸.

انسانانو پـه هغسـې زړه ورې امادګۍ سره شـوی دی، چې د کارونـو د اجراء د طریقې پـه بـاب د تدریجـي اصطلاحاتـو د هڅې د پـاره ځانونه محدود کړي، بلکـې د عقل په نامـه سره د موجـودې طریقـې د اجراءاتـو یـا د هغو ښـکاره او پټو فرضیو پـه مقابل کې پـه کـوم چې په هغو اسـتناد کېـږي. اسـاسي مخالفتونه وړانـدې کـړي. زه هغه وخت تـه د امیـد سـترګې لرم چې د انګریـزۍ ویونکي جهان مورخان د سوسـیو لوجسـان او سـیاسي مفکـران د دغـې وظیفې د پـاره همـت او جرئت بېرته تر لاسـه کړي.

مګـر سره لـه دې هـم د انګریـزي ویونکي جهان پـه روڼ اندو او سـیاسي مفکرانو کـې د عقـل د عقیـدې نیمګړتیـا مـا ډېـر نـه اندیښـمنوي، بلکـې د هغـه نافذ او سـاري جهـان پـه بـاب د احسـاس نه لـرل مې ځوروي چـې دایماً پـه حرکت وي. پـه اول نظر کـې دا پـه ظاهـر کې مهمـل او په معنی کې سـم معلومېـږي، ځکه چـې د تحولاتو په بـاب چـې زموږ شـاوخوا روان دي، دومره سـطحي خبرې، ډېرې لږې شـوې دي. خو مهمـه دا ده چـې تحـول نور نـو د یوه موفقیت، یـوې موقع، یا ترقۍ پـه حیث نه، بلکې د وېـرې د یـو څیـز په حیث ګڼل کېـږي. کله چـې زموږ سـیاسي او اقتصـادي پنډتان د تشـخیص نسـخې را کـوي دوی مـوږ تـه د کوم درمـل را کولی نـه شي، بلکې اخطار را کـوي چـې افراطـي او ژورو فکرونـو تـه په بې اعتـمادۍ وګورو، له هر هغـه څه ډډه وکـړو، چـې د انقـلاب بـوی ور کوي او څومـره چې کولی شـو پـه ورو ورو او حتیاط سره پـه مـخ ولاړ شـو، هغـه هـم که چېـرې مخکې تګ حتمـي وي- په دغسـې وخت کـې چـې جهـان خپله څېره پـه دومره چټکـۍ او افراطـي ډول سره اړوي، چـې په تېرو څلـور سـوو کلونـو کې یـې نه بدلـه کړې، مـا ته دا فـوق العـاده وړوندتوب ښـکاري. دغـه واضـح د ډار د پـاره لاره هـواره کـوي، داسـې نه چې جهان شـمول نهضـت به په ځـای ودرېـږي، خـو دغـه ملک یا ممکـن انګریـزي ویونکـي ملکونه بـه د عمومي پر مختـګ تـر شـا وروسـته پاتـې شي او د تېـر عضمـت د خطر په لنډه فکر کې بـه عرق شي، بې لـه دې چـې هیلـه اسره یـا ګیلـه او مانـه ولـري. زه پـه خپله خوش بیـن پاتې کېـږم. کلـه چـې سر لویي نامیر اخطـار را کوي، چې لـه مفکـورو او پروګرامونو څخه ډډه وکـړم او پروفیـسر اوک شـات را تـه وايي چې مـوږ په خاص ډول کـوم پلو ته تللی نـه شـو او مهمـه بـس دا ده چـې ځار واوسـو، چې څوک هیـڅ څوک کښـتۍ ته ټکان ور نـه کـړي او پروفیـسر پاپـر غـواړي چـې په تدریجـي انجنیرۍ سره هغـه زوړ ګران

ټـي. مـوډل پـر سرک وسـاتو او پروفیـسر ټرور-روپـر افراطیـون پـه سـوک سره په غوږ وهـي او پـرو فیسر موریسـن د تاریخ د پـاره التماس کوي، چې به معقـول محافظه کار روح سره ولیکل شي، زه به د دغسـې جهان ښار واوسـم چې په درد او پرېشـانۍ اخته وي او د یـوه سـتر سـاینس پوه په مشـهورو کلمو سره به ځـواب ورکـوم.: « له دې سره سره هم حرکـت کوي».

**«پای»**

# ښکارندوی Index

لانـدې ښـکارندوی د مصنافانـو او موضوعاتـو په بـاب دی، پـه مصنفانو کې هم هغـه ښـوول شـوي، چـې نظريـات يـې په مـتن کې ذکـر شـوي وي، يعنې تـش اعلام نـه دی ټول شـوی.


الف: اکټين، لارډ ۱-۳، ۱۲، ۱۳، ۴۶، ۴۹، ۵۲، ۷۳، ۹۳، ۱۴۳-۱۴۵، ۱۵۳، ۱۷۰، ۱۶۹، ۱۸۹، ۱۹۲-۱۹۴، ۱۹۶.

ادمز، هنري ۱۱۲

ايليټ، ټي، اس ۵۰

التمن، جي ۷۷

انګلز، اف ۹۹

اخلاق په تاريخ کې ۹۲-۱۰۴ (ارزښتي قضاوتونه هم وګورئ)

اعداد په تاريخ کې ۵۶ -۵۸

انشټاين، ای، ۹۲

ارزښتي قضاوتونه ۹۵-۱۰۰، ۹۷-۱۰۲، ۱۵۵، ۱۶۳، ۱۶۵

اوک شات، ام، ۲۱، ۱۹۴-۱۹۷

افاقيت په تاريخ کې ۳-۵، ۲۷-۲۸، ۸۸-۸۹، ۱۴۹-۱۵۴، ۱۶۳.

اپلاتون ۱۱۲-۱۱۳،

ارستو ۷۴،

ب: بیکن، اف، ۹۷، ۱۳۸،
بره کلف، چی، ۱۱، ۷۳،
بارت، کې، ۹۱
بیکر، کې، ۲۰
بایل، ار، ٦۷
بردایف، ان، ۹۱، ۱۳۳،
بسمارک،او،ای،ال، ۴۵، ٦۲، ۱۵۹، ۱٦۱، ۱٦۲،
برنسن، بي، ۱۲۲
برلین، سرآی، ۵۰، ۵۲، ۹۴، ۱۱۳، ۱۱۴، ۱۱٦، ۱۱۷، ۱۲۲،
۱۲۸، ۱۴٦، ۱۵۸، ۱۵۹، ۱٦۰، ۱٦۱.
برنهارد،اچ، ۱۴-۱۷
بوزول، ۹۸،
بکل، اچ، ٦۹
برک خاردت، جې، ۱۸، ۲۴، ۳٦، ٦۴، ۷۷، ۱٦۸،
برادلی، اف، اچ، ۱۴۴
برک، اي، ٦۸
بري، جي، بي، ۱۰، ٦٦-٦۷، ٦۹، ۱۲۲-۱۲۳، ۱۲۹، ۱۴۹، ۱۵۲،
بټرفیلډ، اچ ۱۸، ۴٦، ۴۷، ۵۹، ۹۱، ۱۵۱،
بشري علوم او ساینس ۱۰۴-۱۰٦،
بنتهام، ۳۹
ب: پارسنز، ټي، ۸، ۱۳۰،
پیرانډلو، ال، ۸
پو این کره، اچ، ٦۹، ۱۱۱
پوګاچیف، ٦۱
پاستورال ۹۲
پولي بیوس ۱۲۳
پاپر، کې، ۱۲، ۱۴-۱۱۵، ۱۲۸، ۱۳۲ف، ۱۹۵، ۱۹۷،

پریکلس، ۳۹، ۹٦،
پایک، اف، ۱۳۵، ۱۳٦،
پیش گویي، ۸۲-۸۴،
پرودون، ۱٦۱،
پولي بلینک،ای، ۱۹۱
ت: تاسېټ توس، ۱۲۳
تصادف په تاریخ ۵۲، ۱۲۱-۱۲۷
تکامل، ۱۴۱-۱۴۲
توسیدایدز، ۱۰۷، ۱۳٦،
تاک ویل، ای، ۱۵۲، ۱٦۹،
تولستو۲، ای، ال، ۵۹، ٦۲، ۱۲٦،
تعمیم ۷۴، ۸۰،
تراتسکي، ال ۸٦، ۱۲۱، ۱۲۲، ۱۲٦،
ټاني، آر، ۱۵۷،
ټیلر، ای، جي، پي، ۱۳۴، ۱۳۷-۱۳۸،
تاریخ او مذهب ۸۹- ۹۱، ۱۳۵-۱۳٦،
ټیلیو لوجي، ۱۳۴، ۱۳۷، ۱۳۸،
ټاین بي، اې، جې، ۴۸، ۹۳، ۱۳۵، ۱۴۴،
ټرې ولیین، جې، ام، ۲۲، ۲۲۳، ۴۰، ۴۴،
ټرې ولیین، جې، او، ۲۲،
ټریور – روپر، اچ، ۲٦، ۵۵، ۱۹۴، ۱۹۷،
ج: جانسن، اس، ۹۷،
چ: چې چې رین، جي، ۱۷،
چرچیل، ونستن، ۱۸، ۱۲۱
ح: حقایق، ۳-۲۳، ۵۰، ۷۰، ۱۲۷، ۱۵٦، ۱٦۳-۱٦٦
حتمیت ۱۱۷-۱۱۹
د: دمپیر، ډبلیو، ۱۳۹

ډارسي، ام، سي، ۹۰، ۱۱۳ ف
ډارون، سی، ٦٦، ٦٧
دکارت ۱٦۹
ډویچر، اې، ۵۵
دل دې، ډبلیو ۲۰
ډالنچر، جي فان، ۱۲
ډون، جي، ۳۳
دا ستایفسکي ۳۴،
درسونه د تاریخ، ۸۰ – ۸۲
ډانته، ای، ۳۹
دورونو سره، ویشنه په، ۷۲
ر: روحیات، ۵۴(فرادی هم وگورئ)
رانگ کې، فان، ۳، ۱۸، ۱۲۴
روسو، جی، جی، ۱٦۹
راوس، ای، ال، ۱۸، ۵۲،
رسل، بی، ۴، ٦٦، ۱۱۱، ۱۳۹- ۱۴۰
روزبیری، ۹۳
روترفورد، ۷۰، ۱۳۴
ربښتین توب، په تاریخ کې ۱۵۰، ۱٦۴-۱٦۵
رنځ او عذاب په تاریخ کې ۹۷ – ۱۰۰
س: سوانح لیکنه، ۵۰-۵۱،
سارترافراد ٦۲-٦۴
سکاټ، اس، بي، ۵

سمت، اې، ۵۸، ٦۸، ۱۷۱ -۱۱۷۲، ۱۷۹،
سنو، سرسي، ۱۰۵ ۱۰۵، ۱۳۴
سوشیالوجي، ۵۱،

سومبارت، ډبليو ۷۲
سورل، جي، ۷۲
سپنسر، اچ ٦۵
سترچي، ال، ۱۱-۱۲،
ستبز، ډبليو ۹۴
ستڼ، ای، ۱٦-۱۷
میسرو و ۴۰
شتر يز بمول بمان، چی، ۱۴-۱۷
ف: فشر، اچ، ای، ال، ۴۸، ۱۲۴
فرويد، اس، ۱۷۴، ۱۷٦،
فروډ، جي، ۲۷
فرديت، اصل د، ۳۴-۳۷
فاعل او موضوع ۸۴-۸۹
ق: قوانين، مفکوره په باب ٦۷-۷۲، ۷۸، ۱۷۲، ۱۷۳، ۱٦۷ؤ ۱۷۸
ع: علم، نظريات په باب ٦، ۲۸، ۸۸- ۸۹
عقـل، ۱۰۲، ۱۳۱، ۱۳۲، ۱۷۰-۱۷۲، ۱۷۵، ۱۸۲، ۱۸۵، ۱۸۷، ۱۹٦-۱۹۷،
غ: غير شخصي قوتونه ۵۰- ۵۷
ک: کارلايل، ټي، ۵٦، ۷۷، ۱۵۸،
کله ريندن، لارد ۵۷
کلارک، سرجي ۲-۳، ۵، ۲۴، ۲۷
کلارک، جي، کتسن، ۹
کالنگ وډ، ای ۲۱، ۲۳، ۲٦-۲۷، ٦۰، ٦۷، ۷۴،
کانت، ای ۸۳
کروسې، بي، ۲۰، ۲۱، ۹۴
کفکا، اف ۱۱۵
کنگزلی، سي ۱۱۴

کروسو، رابن سن، ۳۴

ګ: ګیبل، پی ۴۹

ګیبن ۲۷، ۷۵، ۱۱۰، ۱۲۱، ۱۲۳، ۱۳۸، ۱۵۷

ګویته، ۱۵۵

ګروټ، جی ۳۹، ۴۴، ۸۱

ګالیلیو، ٦۸

ګرشم، ٦۸

لاسال، اف ٦۸

لیتز، اس ۱۷۸

لي فیبور، جي ۹٦

لینـن، وی ۵۷، ٦۳، ۱۲٦-۱۲۷، ۱۳۱، ۱۵۰، ۱۵۹، ۱۷۳، ۱۷۴، ۱۷۸

لنکلن، ای، ۱۷۰

لاک، جي، ۴، ۱۸۴

لاییل، سي، ٦٦-٦۷

م: مکالې، ټي، بي، ۲۲

مورلې، جي، ۳٦

مالتوس، ٦۸، ۱۷۹

، ماندیوال، بي، ۵۸

منهایم، کې، ۷۹، ۸۵

ماري تین، ۹۱

مارشلا، اي، ۱۰۹

مارکـس، کـې، ۴۴، ۵۲، ۵٦، ۵۸، ٦۲، ٦۹، ۷۱، ۷۷، ۱۱۲، ۱۱۳، ۱۱۴، ۱۱۷، ۱۲۵، ۱۴۳، ۱۷۰، ۱۷۱، ۱۷۴، ۱۷۵، ۱۷٦، ۱۴۴، ۱۴٦، ۱۵۲، ۱٦۱

مازي ني ۴۵

میانک، اف، ۴۴، ۴۵، ۴٦، ۱۲۴، ۱۳۳

موم سن، ټي ۲۷، ۳۹، ۴۱، ۴۴،

مل، جي... اس، ۳۳
مانتسکیو، ۱۰۸، ۱۲۵
مور، جي، اي، ۷۵
موریس، اس، ۱۹۴، ۱۹۷
ن: نامیر، سرجی ۴۱-۱۴۴، ۱۹۳-۱۹۵، ۱۹۷
نیل، سرجی، ۵۲
نوولز، ۹۴
نیدهام، جي، ۱۹۱
نیوټن، ای، ٦۵، ٦۷-٦۹
نیبور، ار، ۹۱، ۱۳۵
نیچه، اف ۲۸، ٦۱
نامعین توب په فزیک کې ۸۸
نسبیت، ۲۷-۳۲، ۱۴۹-۱۵۰
و: ولټیر ۱۸، ۱۰۸
وبیر، ام ۷۱، ۹٦
وبسټر، سراس ۸۰
وج وډ.وي ۵۱، ۵۳، ۵۵
وګي تعبیرات، ۲۲، ۴٦-۴۷، ۱۱۰
ولسن، ودرو ۵۹
ینګ، جي، ام ۵۲
هـ : هابس، ټي ۷۴
هیرودوتس ۱۰۷، ۱۳٦
هرزن، آی ۱۷۱
هسټوریسزم ۱۱۳، ۱۳۲ف
هوس مین، اې،اي، ٦
هویزنګا، جی، ۱۳۴
هومر، ۵۰

هیګل،جی،اف،ډبلیو ۱۱۲، ۱۱۴، ۱۱۷، ۱۳۱، ۱۴۱-۱۴۴، ۱۵۲، ۱۵۸، ۱۷۰-۱۷۲

ی: یاغیان، ٦١-٦٣

# د اصطلاحاتو فهرست او معنی GlossRY

په متن کې د لاندې رغلو اصطلاحاتو په اړه هڅه شوې ده چې په متن کې د استعمال له مخې تعریف او وپېژندل شي.

| | | |
|---|---|---|
| Absolute | مطلق | هغه چې غیر مقید وی او مستقل وجود لري، د نورو شیزونو او مهال په ارتباط سره د درک وړ نه وي. |
| Antiquarian-ism | لرغون پېژندنه | د قدیمي آثارو د پېژندنې فن. |
| Ancien regime | زوړ نظم، قدیمي رژیم | د فرانسې له انقلاب نه دمخه مهالونه. |
| Archaeology | ارکیالوجي | د کېندنې فن |
| Astronomy | ستورپېژندنه، کاینات پېژندنه | هغه مطالعه چې وايي کاینات لکه څنګه چې دي، څنګه خلق شوي او تکامل یې کړی دی. |
| Boom | ناڅاپي چټک انکشاف | |
| Community | وړه ټولنه | په یوې جامعې کې د خلکو هغه مجموعه چې عقاید، منافع، ژبه او نور یې سره مشترک وي. |
| Chronology | کرونولوژي | نیټه لیک |
| Cynicism | بدبیني، شکاکیت د کلبیونو فلسفه | هغه نظر چې وايي تاریخ هیڅ مفهوم نه لري. |

| Data | مفروضات | قضيي |
|---|---|---|
| Despotism | مطلقيت | |
| determinism | معينيت | ټاکل توب، جبر |
| Dichotomy | دوه ګون توب | پر دوه برخو د يو واحد وېشل |
| Elite | غوره کسان | نوښتګر |
| Facts | شواهد، حقايق | هغه چې وجود او حقيقت لري |
| Feudal barons | اشراف | په برتانيا کې هغه اشراف چې د لارډانو په نامه مخاطب کېدل او د لارډانو په مجلس کې يې د غړيتوب حق لاره. |
| Fait acompli | فت اکمپلي | انجام شوی عمل، اجرای شوی شیز. |
| Gradualism | د تدريج اصالت | |
| Historiogra-phy | د تاريخ لکنې فن | |
| Historicism | هستوريسزم | |

| | | |
|---|---|---|
| Ideology | د افکارو او نظریاتو مجموعه او هیئت | د افکارو او نظریاتو مطالعه یا ساینس |
| Indeterminacy | نامعین توب | بې ثیاتي، شک |
| Ipso facto | اپسو فکټو | د همدغه حقیقت په بنا |
| Iaissez-faire | د عمل ازادي، لیسه فر | د افرادو په اعمالو او مخصوصاً تجارتي او عمالو کې د حکومت نه مداخله کول. |
| Mysticism | تصوف | هغه نظر چې د هغه په قرار د تاریخ مفهوم له تاریخ نه دباندې د الهیاتو یا اخرت په قلمرونو کې وجود لري |
| Messianism | مهدیت | هغه عقیده چې له مخې به یې یو ناجي یو وخت ظهور کوی، عدالت او انصاف به قایموي. |
| nationalism | نیشنلزم | د ملت غوښتنې اصل |
| Niravana | نیروانا | په عالمي روح کې جذبېدل او فنا کېدل |
| Object | موضوع | هغه څه چې مشاهده او کتل کېږي، یا بحث پرې کېږي. |
| Positivism | د مثبت فلسفه | هغه فلسفه چې یوازې مثبت حقایق او د مشاهدې وړ پدیدې پېژني. |
| Positivists | مثبتیون | |
| Postulate | اساسي شرط، فرضیه | هغه څه چې د تعقل او استدلال اساس ګڼل کېږي |

| | | |
|---|---|---|
| Pragmatism | د عمل اصالت | هغه اصل چې د هغه له مخې تاریخ حقایق د عملي نتایجو له مخې تر بحث لاندې نیول کېږي. |
| Pragmatists | د عمل د اصالت طرفداران | |
| proposition | عمومي قضیه | |
| psychologism | سیکالوجزم | هغه نظر چې وايي اجتماعي مسایل بالاخره د فردي سلوک و تحلیل ته منتهي کېږي. |
| Realpolitik | د قدرت سیاست، رییل پالټک | هغه سیاست چې د هغه له مخې د یوه مثلث مادي ستر توب تر هر بل څیز نه مقدم ګڼل کېږي او ملي مقاصد په قوت او زور سره حاصلول غواړي. |
| Raison detat | د وجود دلیل | |
| Renaissance | رنسانس | د بیا نهضت دوره |
| Rationalism | ریشنازم | هغه فلسفه عقل په هر څیز کې نهایي مرجع ده. |
| rationalists | عقلیون | |
| Rationaliza-tion | ریفورم او اصلاح | هغه ریفورم چې په کار، وخت او موادو کې د ضایعاتو په مخنیوي سره ممکنېږي. |
| Slump | ناڅاپي تنزل | |
| Subject | فاعل | انسان چې یوه موضع تر مشاهدې او بحث لاندې نیسي. |
| Synthesis | د ضدینو ترکیب | په یوه کامل واحد کې د دوه ضدوو یعنې د تیسس او انټي تیسس ترکیب. |

| | | |
|---|---|---|
| Teleology | ټیلیولوجي | د وروستیو او غایي علتونو فلسفه |
| Theodicy | تیودای سی | د خدای تعالی له عدالت نه دفاع، په دې باب چې د شر وجود یې مجاز ګرځولی دی. |
| Truth | رښتین توب | حقیقت |
| Universalism | د عالم غوښتنې اصل | هغه نظر چې وایي هغه څه چې ګټه او سود لري، خسیر دي او د نتایجو ګټورتوبد د سم عمل معین کوونکی ګڼل کېږي. |
| Utilitarianism | د ګټې اصالت | هغه نظر چې د یوه څیز کمال او پوره توب یې مطلوب وي. |
| Utopianism خیال پرستي | | هر هغه نظر چې وایي اراده ټولو تجربو، اعمالو یا د جهان په جوړښت کې تر بل هر څه نه قوي عامل وي. |
| voluntarism | اختیار | |

## د ارواښاد پوهاند محمد حسن کاکړ خپاره شوي اثار

۱. په افغانستان کې دولت او ټولنه (د امیر عبدالرحمن خان دوره)
۲. افغانستان (د شوروي یرغل او د افغانانو غبرګون )
۳. د افغانستان په کورني سیاست کي د پرمختګونو یوه څېړنه (۱۸۸۰ ــ ۱۸۹۶)
٤. د افغانستان سیاسي او ډپلوماټیک تاریخ (۱۸٦۳ ــ ۱۹۰۱)
٥. د افغان ـــ شوروي جګړه
٦. د پاچا امان الله واکمنۍ ته یوه نوې کتنه
۷. وطن ته یو سفر (طالبان او اسلامي بنسټپالنه) پښتو او دري
۸. پښتون، افغان، افغانستان
۹. د افغانستان په باب د ژینو جوړه
۱۰. افغان، افغانستان (په هند، فارس او افغانستان کې د دولتونو رامنځته کول)
۱۱. افغان انګلیس دوهمه جګړه
۱۲. رڼا او دفاع (د افغانستان د نفوسو،تاریخ او روانو پېښو په باب لیکنې )
۱۳. دموکراسي په اوسني جهان کې
١٤. د کابل سلطنت بیان

۱۵. زما غوره لیکنې
۱٦. افغانستان په ورستیو پنځو قرنونو کې
۱۷. خاطرې (د یوې دورې لنډ تاریخ)
۱۸. د ثور کودتا د افغانستان د اوږدې بې ثباتۍ پیلامه
۱۹. د ثور کودتا او د هغې ژورې پایلې
۲۰. تاریخ څه ته وايي؟
۲۱. جان سټوراټ مل په ۹۰ دقیقو کې
۲۲. د انسانتوب په اړه د اخلاقپوهنې پرنسیپونه
۲۳. جنګ او زمونږ نړۍ
۲٤. د سقراط، افلاطون، ارسطو، اپیکور او زینو په نظر ښه انسان

یادونه : د پوهاند محمد حسن کاکړ، ژوند او علمي کارونو په اړه د لا ډېر معلوماتو لپاره لاندې ویبپاڼه وګورئ:
www.kakarfoundation.com